دوهم جلد

حکمة البارئ

د بخاري ترجمه او مختصر شرح

حکمتیار

حکمة البارئ

د بخاري ترجمه او مختصر شرح

دوهم جلد

حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

د کتاب پېژندنه:

نوم: حکمة البارئ
دوهم جلد

لیکوال: حکمتیار

بسم الله الرحمٰن الرحيم

د ناشر مقدمه

د خپل مهربان رب حمد او ثناء وايو او د پراخو پېرزوينو ئې شکر اداء کوو چې موږ ته ئې د حکمة البارئ د دوهم ځل چاپ توفيق راپه برخه کړ؛ دا ځل په دوو جلدونو او تر مخکي په ښه قطع او صحافت کي. يقيناً چې د الله تعالی لوري ته بلنه، د اسلام د بريا لپاره فکري او عملي مبارزه؛ له جهل، ظلم او فساد سره مقابله؛ جهل ځپلي ټولني له تيارو ايستل؛ د مظلومانو په څنګ کي ودرېدل او د ظالمانو له منګولو ئې ژغورل؛ هغه ستر او عظيم کار دئ چې الله تعالی خپل لاربښود دين او خپل پيغمبران د همدې لپاره رالېږلي؛ د الله تعالی په وړاندي د دې جهاد مقام ډېر لوړ او اجر ئې ډېر ستر دئ، الله تعالی به دا مبارزين، مبلغين او دعوتګران د هغو مجاهدينو په قطار کي محسوبوي چې خپل سر او مال د الله د دين د غلبې لپاره قرباني کوي.

د ټولو هغو محققينو، ليکوالانو، دعوتګرانو او مبلغينو د زړه له کومي قدرونه کوو چې د دې سنګر په محراب کي په جهاد بوخت دي، له الله تعالی هغوی ته جزيل اجر او مزيد توفيق غواړو. په دې لړ کي د حکمة البارئ مؤلف ته په

ځانګړې توګه د اجر او لا زیات توفیق دعاء کوو چې د صحیح البخاري د ژباړې او شرحې دروند او ستر کار ته ئې ملا تړلې او لومړۍ برخه ئې چاپ ته چمتو کړې، دې کار ته د دې لپاره د یوه ستر او د ستاینې وړ کار په سترګه ګورو چې دا لومړی ځل دئ چې په پښتو ژبې کې د احادیثو ژباړه او شرح په دقیقه توګه وړاندې کېږي، افغانان له دې پلوه له یوې لویې تشې سره مخامخ ول، په پښتو او درې کې د احادیثو د ژباړې او شرحې په اړه د پام وړ کار نه وو شوی، هیله ده د حکمة البارئ په تکمیل سره دا تشه ډکه شي. د دې کتاب د لیکلو او په دې حساس وخت کې د هغه د وړاندې کولو د مبارکې هڅې له زړه قدر کوو او ټولو هغو ورونو ته له الله تعالی اجر غواړو چې په دې ارزښتناك کار کې ئې په یوې او بلې بڼې برخه اخیستې ده.

د حکمة البارئ دا کتاب د حافظ ابوالعباس زین الدین احمد د مختصر صحیح البخاري (التجرید الصریح للجامع الصحیح) پښتو ژباړه او شرحه دئ، إن شاء الله هر لوستونکی به دا یو داسې جامع او په زړه پورې کتاب ومومي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په سنت د پوهېدو تنده به ئې تر ډېره حده رفع شي؛ ټولو افغانانو، علماءو او طالبانو ته ئې د لوستلو او د مدرسو په تعلیمي نصاب کې د هغه د شاملولو سپارښتنه کوو، دا په حقیقت کې د افغان مجاهد او پر خدای مین ولس هغې تلوسې ته مناسب او پر وخت ځواب دئ چې غوښتل ئې د بخاري په څېر د یوه مهم مذهبي کتاب شرح په خپلې مورنۍ ژبې تر لاسه کړي، موږ د مسلمانانو په علمي او فرهنګي زېرمې

کي د دې مهم کتاب زياتونه يو مهم او تاريخي اقدام ګڼو، په ځانګړې توګه اوس چې اسلامي امت په عامه توګه او افغانان په خاصه توګه؛ د نظامي يرغل تر څنګ له سخت او طوفاني فکري او فرهنګي يرغلونو سره مخامخ او له هر لوري تر بريدونو لاندي دي، ځيني د هغوی ملکونه ترې نيسي، ځيني ئې پر دين او مذهب بريدونه کوي، ځيني الحاد خوروي او ځيني اخلاقي فساد، ځيني په پټه ورسره جنګېږي او ځيني په څرګنده توګه، چا د ملا او مدرسې لوري ته جبهه پرانيستې ده او چا د مکتب او مکتبي لوري ته، يو غواړي د امت ځوانان له دين لري او د الحاد او اخلاقي فساد په ګنده ډنډ کي ئې غرق کړي، بل غواړي ملا او طالب په فرعي اختلافي شخړو کي مصروف او له خپل هغه ستر الهي مسئوليت ئې غافل کړي چې د مسلمانانو د يووالي، د الله د حق دين د پلي کولو او د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې په اړه ئې لري. د دغو رنګ رنګ دښمنانو او بېلو بېلو جبهو په وړاندي د هر مؤمن دنده دا ده چې په هر محاذ کي د دښمن مقابلې ته چمتو شي، نه په تود جنګ کي دښمن ته شا کړي او نه په ساړه جنګ کي، هم په توره د دښمن مقابله وکړي او هم په ژبه او قلم؛ سنګر، منبر او دفتر ئې بايد د مبارزې داسي مورچل وي چې د محراب (د حرب ډګر) ښکلی نوم ورسره ښايي. الله تعالی دي ټولو هغو مجاهدينو ته اجر او مزيد توفيق ورکړي چې هم په توره د دښمن مقابله کوي او هم په قلم.

که څه هم له پښتو او فارسي پرته په نورو ژبو؛ مخصوصاً عربي کي د بخاري ډېري ژباړي او شرحي

وړاندي شوې دي خو د دې کتاب ځيني داسي امتيازي ځانګړتياوي دي چي په نورو کتابونو کي نه تر سترګو کيږي، د دې کتاب څو امتيازي ځانګړتياوي دا دي:

- د رواياتو ژباړه ډېره دقيقه، فصيحه او سليسه ده، نه يوازي د هر لفظ ژباړه په بشپړ دقت سره وړاندي کوي بلکي د متن بشپړ مطلب په احتياط او امانت سره او په داسي اسلوب د لوستونکي مخي ته ږدي چي له ابهام او اغماض عاري وي او په آسانۍ سره ئې په مطلب پوه شي.
- د هر روايت متن، سند، ژباړه او شرح ئې زموږ مخي ته ږدي او دا راته واضح کوي چي دا روايت په بخاري کي څو ځلي راغلی، په کومو شمېرو او له کومو توپيرونو سره، دا توپيرونه جدي دي که عادي، د تعارض او تضاد په کچه دي که يوازي د الفاظو په کچه؟ کوم يو ئې د متن، محتوی او الفاظو له مخي ارجح دئ او په کومو دلائلو؟ د إسنادو له پلوه متواتر دئ که مشهور، عزيز يا غريب؟ آيا دا روايت په نورو کتابونو کي هم راغلی که نه؟ آيا داسي روايت په بخاري او نورو کتابو کي شته چي له دې روايت سره تعارض لري؟ که وي نو کوم يو ئې ارجح دئ؟ کوم يو ئې له قرآن سره اړخ لګوي او په قرآن کي د هغه لپاره شاهد مومو؟

هغه روايات په لا ډېر دقت او تفصيل سره څېړل شوي چي فقهاء په کي اختلاف لري، دا روايات په سړه سينه، له تعصب لري او په خالص علمي توګه څېړل شوي او هغه لوري ته ترجيح ورکړی شوې چي د قرآن، روايت او درايت په رڼا کي ئې تله درنه ختلې او دلائل ئې مضبوط دي.

که څه هم دا کتاب د (التجريد الصريح للجامع الصحيح) چي د بخاري مختصر دئ، ژباړه او شرح ده؛ خو په حقيقت کي د بخاري ټول مکرر او غير مکرر روايات په کي څېړل شوي، دا ځکه چي تر هر روايت لاندي هغو رواياتو ته هم اشاره شوې او توپيرونه ئې په ګوته شوي چي په بخاري کي په مکرره توګه راغلي.

په اختلافي مسائلو کي هغه روايات هم د بخاري د رواياتو تر څنګ راوړل شوي چي په بخاري کي نه دي راغلي؛ متن او سند ته په پام سره ارجح روايت او رأيه په ګوته شوې.

په داسي حال کي چي د دې کتاب د ليکلو او په دې حساس وخت کي د هغه د وړاندي کولو د قدرمني هڅي د زړه له تله قدرونه کوو او مؤلف ته ئې له الله تعالى اجر او مزيد توفيق غواړو، دعاء کوو چي الله تعالى هغه ورځ راولي چي زموږ هېواد آزاد وي، د اسلام شين بيرغ په کي رپېږي، قرآن زموږ پر ټولني حاکم وي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت عمل کېږي او د ټولني په فردي او اجتماعي برخو کي د الله تعالى مبارك دين او شريعت د يوازيني برلاسي او لارښود قانون په توګه نافذ وي. و ما ذلك على الله بعزيز

بسم الله الرحمٰن الرحيم

۹ـ د لمانځه د وختونو کتاب

(۱) باب: د لمانځه وختونه او فضيلت ئې

321- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ قَرَأْتُ عَلَى مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الصَّلاَةَ يَوْمًا، فَدَخَلَ عَلَيْهِ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، فَأَخْبَرَهُ أَنَّ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ أَخَّرَ الصَّلاَةَ يَوْمًا وَهْوَ بِالْعِرَاقِ، فَدَخَلَ عَلَيْهِ أَبُو مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيُّ فَقَالَ مَا هَذَا يَا مُغِيرَةُ أَلَيْسَ قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ جِبْرِيلَ نَزَلَ فَصَلَّى، فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قَالَ (بِهَذَا أُمِرْتُ). (بخاري:521).

321- له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي مغيره بن شعبه رضي الله عنه ته چي په عراق کي وو، ورغی، هغه يوه ورځ لمونځ ځنډولی وو، ده ورته وويل: دا څه دي اې مغيره؟ آيا په دې نه پوهېږې چي جبرئيل (عليه السلام) (د لمانځه د وختونو د ټاکلو لپاره) راکوز شو، لمونځ ئې وکړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم لمونځ وکړ، بيا ئې لمونځ وکړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هم لمونځ وکړ، بيا ئې لمونځ وکړ، رسول الله صلى الله عليه

وسلم هم لمونځ وکړ، بيا ئې لمونځ وکړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هم لمونځ وکړ، بيا ئې لمونځ وکړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم لمونځ وکړ، بيا جبريل عليه السلام وويل: پدې مأمور شوى يم. (يعنى دا امر راته شوى چې پدې طريقې سره د لمانځه وختونه دروښيم).

تکرار: 3221، 4007

توپير: په دوو نورو کي دا الفاظ راغلي: نَزَلَ جِبْرِيلُ فَصَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم خَمْسَ صَلَوَاتٍ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا أُمِرْتَ او نَزَلَ جِبْرِيلُ فَأَمَّنِى، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ. يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ. د قرآن له ويناوو داسي معلومېږي چې د لمونځونو اوقات د آيتونو په ترڅ کي ورته ټاکل شوي. د الروم د سورې په دغو دوو آيتونو کي د تسبيح لپاره څلور وخته سحر، ماښام، ماخستن او ماسپښين ذکر شوي:

فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ١٧ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ١٨

نو د الله تسبيح وينه ده کله چې (ماښام) او (ګهيځ) ته ننوځئ او ده ته په آسمانونو او زمکي کي ستاينه ده او (ماخستن) او هغه مهال چې(ماسپښين) ته ننوځئ.

او د طه د سورې په 130 آيت کي د مازديګر د وخت يادونه هم شوې:

فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوبِهَاۖ وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ ١٣٠ طه

نو په هغه څه چې دوى ئې وايي صبر وکړه او له ستايني

سره د خپل رب تسبيح وايه (تر لمر راختو مخکي) او (تر لوېدو ئې مخکي) او (د شپې په يوې برخي کي) تسبيح وايه او د (ورځي په اطراف) کي؛ ښايي چي راضي شې.

دلته د سحر، مازديگر او ماخستن يادونه په صراحت سره شوې او دوو نورو وختونو ته د اطراف النهار په لفظ اشاره شوې. د همدې لپاره د لمانځه پنځه وخته ټاکل شوي.

دا آيتونه په هغو سورتونو کي راغلي چي په مکه کي نازلي شوې؛ أَبُو مَسْعُود الأَنْصَارِي د روايت لومړی راوي د مدينې له انصارو دئ؛ په روايت کي دا وضاحت نه مومو چي جبريل عليه السلام کله راغلی او په کومو وقتونو کي ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي لمونځ کړی؟ که دا کار شوی وي نو په مکه کي او هغه هم د مکي دور په ابتداء کي بايد شوی وي؛ او راوي ئې هم بايد د مکې له لومړيو مسلمانانو وی؛ نه ابو مسعود انصاري.

(٢) باب: لمونځ کفاره ده

322- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنِ الأَعْمَشِ قَالَ حَدَّثَنِي شَقِيقٌ قَالَ سَمِعْتُ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ عُمَرَ- رضي الله عنه- فَقَالَ أَيُّكُمْ يَحْفَظُ قَوْلَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِي الْفِتْنَةِ قُلْتُ أَنَا، كَمَا قَالَهُ. قَالَ إِنَّكَ عَلَيْهِ- أَوْ عَلَيْهَا- لَجَرِىءٌ. قُلْتُ (فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَوَلَدِهِ وَجَارِهِ تُكَفِّرُهَا الصَّلاَةُ وَالصَّوْمُ وَالصَّدَقَةُ وَالأَمْرُ وَالنَّهْىُ). قَالَ لَيْسَ هَذَا أُرِيدُ، وَلَكِنِ الْفِتْنَةُ الَّتِى تَمُوجُ كَمَا يَمُوجُ الْبَحْرُ. قَالَ لَيْسَ عَلَيْكَ مِنْهَا بَأْسٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، إِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا. قَالَ أَيُكْسَرُ أَمْ يُفْتَحُ قَالَ يُكْسَرُ. قَالَ إِذًا لاَ

يُغْلَقَ أَبَدًا. قُلْنَا أَكَانَ عُمَرُ يَعْلَمُ الْبَابَ قَالَ نَعَمْ، كَمَا أَنَّ دُونَ الْغَدِ اللَّيْلَةَ، إِنِّي حَدَّثْتُهُ بِحَدِيثٍ لَيْسَ بِالأَغَالِيطِ. فَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَ حُذَيْفَةَ، فَأَمَرْنَا مَسْرُوقًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ الْبَابُ عُمَرُ. (بخاري:525)

322- له حذيفه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ له عمر رضي الله عنه سره ناست وو چي وئې ويل: له تاسو کوم يوه ته د فتنې په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا په ياد ده؟ حذيفه رضي الله عنه وايي: ما وويل: زه؛ داسي مي په ياد ده لکه چي فرمايلي ئې وو، عمر رضي الله عنه وويل: ته په هغه يا هغې (حديث يا روايت ئې) ډېر جسور يې، ما وويل: د کورنۍ، مال، اولاد او ګاونډي په اړه د سړي فتنه (ګناه) په لمانځه، روژه، صدقه، په نيکۍ امر او له بدۍ نهي سره بخښل کېږي. (دا عبادتونه د هغو ګناهونو کفاره ده). عمر رضي الله عنه وويل: زما مطلب دا ډول فتنه نه ده، زما مطلب هغه فتنه ده چي لکه د سمندر د څپو په څېر څپې وهي، حذيفه رضي الله عنه وويل: تا ته له هغې څه تاوان او زيان نشته؛ اې د مؤمنانو اميره! ستا او هغي فتنې ترمنځ يوه تړل شوې دروازه ده، عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه: دغه دروازه به ماتېږي او که به پرانيستل کېږي؟ حذيفه رضي الله عنه وويل: دا دروازه به ماتېږي، عمر رضي الله عنه وويل: چي داسي ده، نو بيا به هيڅ وخت ونه تړل شي. حذيفه رضي الله عنه ته وويل شول چي آيا عمر رضي الله عنه دغه دروازه پېژندله، يعنی په دې پوهېدو چي لدې مطلب څه دئ؟ حذيفه رضي الله عنه وويل: هو؛ عمر رضي الله عنه پدې داسي پوهېدو لکه له سهار مخکي چي د شپې په وجود پوهېدو، ما داسي حديث ورته بيان کړ چي غلطي او ابهام پکي نه وو. له حذيفه رضي الله

عنه پوښتنه وشوه چي له دغي دروازې مراد څوک وو؟ ده وويل: لدې مراد په خپله عمر رضي الله عنه وو.

تکرار: 1435، 1895، 3586، 7096

توپير: په يوه کي تُكَفِّرُهَا الصَّلاَةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْمَعْرُوفُ، په بل کي تُكَفِّرُهَا الصَّلاَةُ وَالصَّوْمُ وَالصَّدَقَةُ وَالأَمْرُ وَالنَّهْيُ، په يوه کي فَإِنَّهُ إِذَا كُسِرَ لَمْ يُغْلَقْ أَبَدًا، په بل کي ذَاكَ أَجْدَرُ أَنْ لاَ يُغْلَقَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، په بل کي ذَاكَ أَحْرَى أَنْ لاَ يُغْلَقَ، په يوه کي وَإِنَّ دُونَ ذَلِكَ بَابًا مُغْلَقًا، په بل کي بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابٌ مُغْلَقٌ راغلي، ډېر نور توپيرونه هم تر سترګو کېږي، له يوه داسي معلومېږي چي دروازه د عمر رضي الله عنه او فتنو تر منځ ده، له بل بيا په خپله عمر رضي الله عنه همغه دروازه ګڼل شوی!!

دا روايت په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، په صحابه وو کي له حذيفه رضي الله عنه پرته بل چا نه دئ روايت کړی، د قرآن له وينا سره هم اړخ نه لګوي، ځکه قرآن پيغمبر عليه السلام ته فرمايي چي خلکو ته ووايه: زه نه پوهېږم چي له ما سره به څه کېږي او له تاسو سره به څه کېږي. که رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې نه پوهېدو چي الله تعالى به په مستقبل کي څه ورسره کوي نو د بل چا په اړه به څنګه پوهېدو؟! ولي به ئې دا خبره يوازي حذيفه رضي الله عنه ته کوله؟! که عمر رضي الله عنه په دې خبري پوه وو ولي ئې له حذيفه پوښتنه کوله، هغه څنګه پوه شو چي د ده په وژل کېدو سره به د فتنو دروازه پرانيستل شي؟! دا فتنې د عمر رضي الله عنه له شهادت وروسته نه بلکي د عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته

پيل شوې دي. د عثمان رضي الله عنه د خلافت په لومړيو کلونو کي وضعيت په بشپړه توګه همغسي وو لکه د عمر رضي الله عنه په دور کي، او تر هغه ډېر ښه، ډېر فتوحات وشول او اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېدو. که فقهاء هغه روايات چي خبر آحاد ورته وايي او يوازي يو راوي لري په احکامو کي د اعتبار او استناد وړ نه ګڼي، نو په اعتقادي مسائلو کي به څنګه داسي روايات د اعتناء وړ ګڼل کېږي، په ځانګړې توګه هغه خبر آحاد چي د قرآن له ګڼ شمېر څرګندو او قاطع آيتونو سره تعارض لري؟ له الله تعالی پرته بل چا ته د غيب علم منسوبول د قرآن له وينا سره په بشپړه توګه تضاد لري.

323- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَجُلاً أَصَابَ مِنَ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَأَخْبَرَهُ، فَأَنْزَلَ الله (أَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ). فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ الله أَلِي هَذَا قَالَ (لِجَمِيعِ أُمَّتِى كُلِّهِمْ). (بخاري:526)

323- له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي يوه سړي د يوې ښځي د ښکلولو ګناه وکړه، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او پرې خبر ئې کړ، نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: (أَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ: د ورځي په دواړو خواوو (له غرمې مخکي او وروسته) او د شپې په لومړنۍ (ورځي) ته نژدې برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي نېکي، بدي له منځه وړي)، نو هغه سړي وويل: يا رسول الله! آيا دا يوازي زما

لپاره دي؟ وئې فرمايل: (دا زما د ټول امت لپاره دي).
تکرار: 4687

توپير: په يوه کي، فَأَنْزَلَ الله، په بل کي فَأُنْزِلَتْ عَلَيْهِ، په يوه کي لِجَمِيعِ أُمَّتِى كُلِّهِمْ او په بل کي لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِى راغلي.

په دې روايت کي چي په کوم آيت استناد شوی هغه د هود د سورې 14آيت دئ، که دا آيت په خپل ځای کي او د مخکي او وروسته آيتونو په رڼا کي وڅېړئ نو په بشپړه توګه به درته جوته شي چي په دې آيت کي له سيئات مراد تېر ګناهونه نه بلکي هغه بد صفات دي چي لمونځ ئې د اصلاح باعث کېږي، آيتونه داسي دي:

فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١٢ وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ١١٣ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ١١٤ وَٱصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١١٥ هود: 112-115

نو هم ته همغسي استقامت وکړه لکه چي ګمارل شوی يې او هم هغه چي له تا سره ئې يو ځای (خپل رب ته) مخه کړې، او سرغړاوی مه کوئ، يقيناً چي دی د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ، او د ظالمانو په لوري تمايل مه کوئ که نه نو په اور به اخته شئ، په داسي حال کي چي له الله پرته هيڅ اولياء نه لرئ، بيا به مو هيڅوك مرسته ونه کړی شي. او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسي نژدې) د شپې ځيني برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي ښېګڼي بدي له منځه وړي، دا د پند اخيستونکو لپاره پند دئ، او صبر وکړه

چې يقيناً الله د نېکانو اجر نه ضايع کوي.

له دې آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له سيئات مراد عدم استقامت، سرغړاوی، ظالمانو ته تمايل او بې صبري ده، نه عام ګناهونه، د لمانځه په نتيجه کې انسان له دغو بدو خصلتونو ژغورل کېږي. په دې آيت کې سيئات د ګناهونو په معنی نشو اخيستی، ځکه دلته د بحث موضوع د ګناهونو بخښنه نه بلکې د مخالفتونو په وړاندې د استقامت موضوع ده، په سيئات سره بې صبرۍ، وېرې، ضعف، دښمن ته تسليمېدا، ظالمانو ته تمايل او نورو ناوړو کارونو ته اشاره شوې او ويل شوي چې لمونځ دا ناوړه خصلتونه له منځه وړي، لمونځ د انسان اړيکې له خپل رب سره ټينګوي، ثبات او استقامت ورپه برخه کوي، قرآن معمولاً د ګناهونو لپاره (ذنب) او د بخښنې لپاره ئې د (غفران) صيغه کاروي، لکه (يغفر الذنوب او غافر الذنب...) او د بدو خصلتونو لپاره سيئات او د محو کېدو لپاره ئې د (تکفير) صيغه راوړي لکه (يكفر عنكم سيئاتكم، كفر عنهم سيئاتهم)، څوك چې وايي دا دواړه مترادف الفاظ دي او معنی ئې يوه ده رأيه ئې په دې دليل صحيح نه ده چې قرآن ئې کله کله په يوه آيت کې او يو په بل پسې راوړي چې ښيي معنی ئې يوه نه ده لکه په دې آيت کې: يَأَيهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا إِن تَتَّقُوا الله يجْعَل لَّكُمْ فُرْقَاناً وَ يُكَفِّرْ عَنكمْ سيِّئَاتِكمْ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ وَ الله ذُو الْفَضلِ الْعَظِيمِ الانفال: 29، د هود د سورې په دې آيت کې په يذهبن السيئات سره د سيئاتو او بدو خصلتونو محو او له منځه وړل افاده شوي. د آيت په پای کې ويل شوي چې دا د پند اخيستونکو لپاره پند دئ، او په

ورپسې آيت کې د صبر سپارښتنه شوې دا دواړه هم ښيي چې دلته همدا خصلتونه مراد دي.

که څه هم دا روايت د سند له مخې داسې دئ چې په دريو طبقو کې يو يو راوي لري، د متن له پلوه هم داسې دئ چې په همدې اړه د ابن مسعود رضي الله عنه له هغه روايت سره جدي توپيرونه لري چې بخاري نه دئ راوړی خو په نورو کتابونو کې راغلی، که احياناً دا روايت صحيح وي نو معنی ئې دا ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه کس ته لارښوونه کړې چې په لمانځه سره له دې بد خصلت ځان وژغوره. بل تعبير ئې انسان د داسې کارونو په کولو کې جرې کوي. په قرآن کې د لمانځه په اړه ويل شوي چې له منکر او فحشاء مخنيوی کوي: (إِنَّ الصلَوةَ تَنهَى عَنِ الْفَحْشاءِ وَ الْمُنكَرِ)، خو په قرآن کې داسې څه نشته چې لمونځ د تېرو ګناهونو د بخښلو سبب کېږي، قرآن د ګناهونو د بخښلو لپاره توبه او د توبې تر څنګ ځيني نور شرائط لازم ګڼي.

دې ته مو هم پام وي چې د هود سوره په مکه کې نازله شوې، له دې روايت داسې معلومېږي چې ګواکې د دې سورې نوموړی آيت په مدينه کې او د دغې پېښې په اړه نازل شوی چې دا په هيڅ توګه د منلو وړ نه ده. په همدې اړه د بخاري بل روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ- هُوَ ابْنُ زُرَيْعٍ- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ- رضي الله عنه- أَنَّ رَجُلاً أَصَابَ مِنَ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَأُنْزِلَتْ

عَلَيْهِ (وَأَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ). قَالَ الرَّجُلُ أَلِيَ هَذِهِ قَالَ (لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي). (بخاري: 4687)

له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه سړي د يوې ښځي د ښکلولو ګناه وکړه، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او پرې خبر ئې کړ، نو دا آيت پرې نازل شو: (أَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ: د ورځي په دواړو خواوو (له غرمې مخکي او وروسته) او د شپې په لومړنۍ (ورځي) ته نژدې برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي نېکي، بدي له منځه وړي، دا د ذاکرينو لپاره يادونه ده)، نو هغه سړي وويل: يا رسول الله! آيا دا يوازي زما لپاره دي؟ وئې فرمايل: (دا زما د امت د هر هغه چا لپاره دي چي عمل پرې وکړي).

(٣) باب: په خپل وخت کي د لمانځه فضيلت

324- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ الْوَلِيدُ بْنُ الْعَيْزَارِ أَخْبَرَنِي قَالَ سَمِعْتُ أَبَا عَمْرٍو الشَّيْبَانِيَّ يَقُولُ حَدَّثَنَا صَاحِبُ هَذِهِ الدَّارِ وَأَشَارَ إِلَى دَارِ عَبْدِ الله قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى الله قَالَ (الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا). قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ (ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ). قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ (الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ الله). قَالَ حَدَّثَنِي بِهِنَّ وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي. (بخاري:527)

324- او له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي پوښتنه وکړه چي د خدای په نزد تر ټولو غوره عمل کوم دئ؟ وئې فرمايل: (په

خپل وخت لمونځ کول)، ومي ويل: ورپسې کوم عمل غوره دئ؟ وئې فرمايل: (بيا له مور او پلار سره نېکي)، وئې ويل ورپسې کوم يو؟ وئې فرمايل: (د الله تعالى په لار کي جهاد)، ابن مسعود رضي الله عنه وايي: دا شيان ئې راته وويل خو که ما پرې زياتوالى کړى وى نو ما ته به ئې رازيات کړي وو. (که ما پوښتني زياتي کړې وى ځوابونه به ئې راته زيات کړي وو.)

تکرار: 2782، 5970، 7534

توپير: په يوه کي أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى الله، په بل کي أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ، په بل کي أَيُّ الأَعْمَالِ أَفْضَلُ، په يوه کي سَأَلْتُ، په بل کي أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ، په يوه کي الصَّلاَةُ لِوَقْتِهَا، وَبِرُّ الْوَالِدَيْنِ، ثُمَّ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ الله، په بل کي الصَّلاَةُ عَلَى مِيقَاتِهَا ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ ثم الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ الله راغلي، د دې روايت شرح د (١٥) باب: ايمان هم عمل دئ په 26 روايت کي وګورئ.

(٤) باب: پنځګوني لمونځونه کفاره دي

325- حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي حَازِمٍ وَالدَّرَاوَرْدِيُّ عَنْ يَزِيدَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ (أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ، يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا، مَا تَقُولُ ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ). قَالُوا لاَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا. قَالَ (فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو الله بِهَا الْخَطَايَا). (بخاري:528)

325- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي اورېدلي چي ويل ئې: (آيا

پام مو دئ چي که له تاسو د کوم يوه د دروازې مخي ته د اوبو وياله وي او هغه هره ورځ پنځه ځله په کي لامبي، څه وايئ؛ آيا په بدن به ئې څه خيري پاته شي؟) اصحابو وويل: هيڅ خيرى به پرې نژدي، وئې فرمايل: (دا د پنځگونو لمونځونو مثال دئ چي الله تعالى خطاگاني پرې له منځه وړي).

له دې روايت هم معلومېږي چي لمونځ د انسان هغه بد اخلاق، بدخويونه او بد خصلتونه له منځه وړي چي د خيرو په څېر ئې د انسان بدن، زړه او دماغ خيرن کړى وي.

(٥) باب: لمونځ کوونکى له خپل رب سره مناجات کوي

326- حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلاَ يَبْسُطْ ذِرَاعَيْهِ كَالْكَلْبِ، وَإِذَا بَزَقَ فَلاَ يَبْزُقَنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ). (بخاري:532)

326- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (په سجدو کي ځانونه ښه برابروئ، (څوک دي (په سجده کي) خپل لاسونه د سپي په څېر نه غوړوي او که ئې لاړي تو کولې نو مخي او ښۍ خوا ته دې نه تو کوي، ځکه هغه له خپل رب سره مناجات کوي).

تکرار: 241، 405، 412، 413، 417، 531، 822، 1214

توپير: د دې روايت شرح په 264 او ١٧٩ رواياتو کي

وګورئ. دلته دومره ویل ضروري دي چي په سجده کي لاسونه نه پر زمکه غوړېدلي صحیح دي او نه له ځان سره نښتلي او نه هغسي غیر طبیعي چي د نورو لمونځ کوونکو د زحمت باعث شي. سجده د انکسار، خشوع او خضوع هغه حالت دئ چي مضطر او مجبور انسان ئې د بل پښو ته د لوېدو په وخت کي کوي، سجده یعنی د الله تعالی پښو ته تندی پر زمکه ایښودل، آیا تا په خپل ژوند کي داسي کوم مضطر، مجبور او سخت محتاج کس لیدلی چي د ډېري پرېشانۍ او بېچارګۍ له امله د بل پښو ته لوېدلی وي او هغه ته استغاثه کوي او په الحاح سره له هغه مرسته غواړي؟ آیا تا کله داسي کوم کس لیدلی چي لوی جرم ئې کړی وي او د داسي چا په وړاندي لاس تړلی ولاړ وي چي هم ئې عفو کولی شي او هم مجازات او د ده د ترحم له ترلاسه کولو پرته بله هیڅ چاره نلري، نو پښو ته ئې په وار وار لوېږي، عذر او زارۍ کوي، هرځل پدې امید سر راپورته کوي چي وګوري د ده عذر منل شوی که نه؟ او سوال ئې قبول شوی که نه؟ سجده همداسي یو حرکت دی، سجده د الله پښو ته لوېدل دي. د سجدې کیفیت باید د انکسار او احتیاج دغه حالت منعکس کړي نه دا چي څوك ځان پهلوان وښیي.

(٦) باب: په ګرمۍ کي د ماسپښین د لمانځه وروسته کول

327- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَفِظْنَاهُ مِنَ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلاَةِ، فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ

فَيْحِ جَهَنَّمَ)؛ (وَاشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ يَا رَبِّ أَكَلَ بَعْضِى بَعْضًا. فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ، وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، فَهُوَ أَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الزَّمْهَرِيرِ). (بخاري:536-537)

327- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (كله چي گرمي زياته وي نو لمونځ مو وروسته كوئ چي هوا سړه شي، ځكه د هوا گرمي د جهنم تاو دئ، په ورپسې روايت كي راغلي چي اور خپل رب ته شكايت وكړ او وئې ويل: اې ربه! ځينو برخو مي ځيني نوري وخوړلې، نو الله تعالى د دوو سا ايستلو اجازه وركړه، يو تنفس په اوړي كي او بل تنفس په ژمي كي، نو دا تر هغه تودوخي ډېره توده وه چي تاسو ئې گورئ او تر هغي يخنۍ زياته سړه وه چي تاسو ئې مومئ.

تكرار: 3260

توپير: دواړه د الفاظو او محتوى له لحاظه سره ورته دي.

328- حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا مُهَاجِرٌ أَبُو الْحَسَنِ مَوْلًى لِبَنِى تَيْمِ الله قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ وَهْبٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي سَفَرٍ، فَأَرَادَ الْمُؤَذِّنُ أَنْ يُؤَذِّنَ لِلظُّهْرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم (أَبْرِدْ). ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُؤَذِّنَ فَقَالَ لَهُ (أَبْرِدْ). حَتَّى رَأَيْنَا فَيْءَ التُّلُولِ. (بخاري:539)

328- له ابوذر غفاري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په يوه سفر كي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ملگري وو، مؤذن وغوښتل د ماسپښين لمانځه لپاره اذان

وکړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (صبر وکړه چي هوا سړه شي)، وروسته ئې بيا وغوښتل چي اذان وکړي، ورته وئې فرمايل: (پرېږده چي هوا سړه شي). همداسي وو تر هغه چي د غونډيو سيوري مو وليدل.

تکرار: 535، 629، 3258

توپير: په يوه کي فَأَرَادَ الْمُؤَذِّنُ أَنْ يُؤَذِّنَ، په بل کي أَذَّنَ مُؤَذِّنُ، په يوه کي أَبْرِدْ، په بل کي أَبْرِدْ أَبْرِدْ- أَوْ قَالَ- انْتَظِرِ انْتَظِرْ، په يوه کي حَتَّى سَاوَى الظِّلُّ، په بل کي حَتَّى فَاءَ الْفَيْءُ، يَعْنِي لِلتُّلُولِ او په بل کي حَتَّى رَأَيْنَا فَيْءَ التُّلُولِ راغلي.

(٧) باب: د ماسپښين د لمانځه وخت د لمر زوال دئ

329- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم خَرَجَ حِينَ زَاغَتِ الشَّمْسُ فَصَلَّى الظُّهْرَ، فَقَامَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَذَكَرَ السَّاعَةَ، فَذَكَرَ أَنَّ فِيهَا أُمُورًا عِظَامًا ثُمَّ قَالَ (مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَسْأَلَ عَنْ شَيْءٍ فَلْيَسْأَلْ، فَلاَ تَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلاَّ أَخْبَرْتُكُمْ مَا دُمْتُ فِي مَقَامِي هَذَا). فَأَكْثَرَ النَّاسُ فِي الْبُكَاءِ، وَأَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ (سَلُونِي). فَقَامَ عَبْدُ الله بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِيُّ فَقَالَ مَنْ أَبِي قَالَ (أَبُوكَ حُذَافَةُ). ثُمَّ أَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ (سَلُونِي). فَبَرَكَ عُمَرُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ فَقَالَ رَضِينَا بِالله رَبًّا، وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا. فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ (عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ آنِفًا فِي عُرْضِ هَذَا الْحَائِطِ فَلَمْ أَرَ كَالْخَيْرِ وَالشَّرِّ). (بخاري:540)

329- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مهال راووت چي لمر کوږ

شوی وو، د ماسپښین لمونځ ئې وکړ، بیا پر منبر ودرېد، د قیامت یادونه ئې وکړه او وئې ویل: (په قیامت کي لوی، لوی کارونه واقع کېږي)، بیا ئې وفرمایل: (که څوک غواړي د څه شي په اړه پوښتنه وکړي، نو پوښتنه دي وکړي، او د هر څه پوښتنه چي وکړئ، تر هغه چي دلته یم ځواب ئې درکوم)، خلکو ډېر وژړل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر وفرمایل چي (پوښتنه رانه وکړئ)، عبدالله بن حذافه سهمي پاڅېد او وئې ویل: زما پلار څوک دئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (پلار دي حذافه دئ)، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا په تکرار سره وویل: (پوښتنه رانه وکړئ)، عمر رضي الله عنه په دوو ګونډو کښېناست او وئې ویل: پر دې راضي یو چي الله مو رب، اسلام مو دین او محمد صلی الله علیه وسلم مو رسول دئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چوپ شو بیا ئې وفرمایل: (لږ مخکي د دې دېوال په لوري جنت او دوزخ راښکاره کړی شول، د دوی دواړو په څېر مي خیر او شر نه دئ لیدلی.

د دې روایت شرح د 92 او 93روایاتو په شرحي کي وګورئ.

330- حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ عَنْ أَبِي بَرْزَةَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله علیه و سلم يُصَلِّي الصُّبْحَ وَأَحَدُنَا يَعْرِفُ جَلِيسَهُ، وَيَقْرَأُ فِيهَا مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى الْمِائَةِ، وَيُصَلِّي الظُّهْرَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، وَالْعَصْرَ وَأَحَدُنَا يَذْهَبُ إِلَى أَقْصَى الْمَدِينَةِ ثُمَّ يَرْجِعُ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، وَنَسِيتُ مَا قَالَ فِي الْمَغْرِبِ، وَلاَ يُبَالِي بِتَأْخِيرِ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ. ثُمَّ قَالَ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ. (بخاري:541)

330- له ابو برزه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سهار لمونځ په داسي وخت كي كاوو چي هر چا به خپل همځنگی ښه پيژاندو (رڼا به وه) او په هغه كي به ئې له شپيتو تر سلو آيتونو پوري لوستل، او د ماسپښين لمونځ به ئې د لمر له زوال وروسته كاوو، او د مازديگر لمونځ به ئې په داسي وخت كي كاوو چي كه له موږ به څوک د مدينې پای ته لاړ او بيرته به راغی نو لمر به لا ځليدو، او راوي وايي: د ماښام په اړه ئې چي څه وويل رانه هېر شول، او د دې پروا ئې نه كوله چي د ماخستن لمونځ د شپې تر درېيمي برخي او يا تر يوې برخي وځنډيږي.

تكرار: 547، 568، 599، 771

توپير: په يوه كي يُصَلِّي الْهَجِيرَ الَّتِى تَدْعُونَهَا الأُولَى حِينَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ، په بل كي- يُصَلِّي الظُّهْرَ حِينَ تَزُولُ الشَّمْسُ، په يوه كي وَيُصَلِّي الْعَصْرَ، ثُمَّ يَرْجِعُ أَحَدُنَا إِلَى رَحْلِهِ فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، په بل كي وَالْعَصْرَ وَأَحَدُنَا يَذْهَبُ إِلَى أَقْصَى الْمَدِينَةِ ثُمَّ يَرْجِعُ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، په يوه كي وَكَانَ يَنْفَتِلُ مِنْ صَلاَةِ الْغَدَاةِ حِينَ يَعْرِفُ الرَّجُلُ جَلِيسَهُ، وَيَقْرَأُ بِالسِّتِّينَ إِلَى الْمِائَةِ، په بل كي يُصَلِّي الصُّبْحَ وَأَحَدُنَا يَعْرِفُ جَلِيسَهُ، په بل كي يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ أَوْ إِحْدَاهُمَا مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى الْمِائَةِ، په يوه كي وَكَانَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ الَّتِى تَدْعُونَهَا الْعَتَمَةَ، وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا او په بل كي كَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَ الْعِشَاءِ وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا راغلي، لكه چي گورئ په دغو روایاتو كي جدي تعارضات تر سترگو كيږي، ځيني ئې وايي چي د مازديگر لمونځ به ئې داسي مهال كاوو چي يو كس به توانېدو چي خپل كور ته

د مدینې په پای کي ورسېږي، خو بل ئې وايي چي له لمانځه وروسته به په دې توانېدو چي د مدینې پای ته ولاړ شي او بېرته راستون شي! ځیني ئې وايي چي د ګهیځ لمونځ به ئې په داسي وخت کي کاوو چي هر چا به خپل همځنګی پېژندی شو، خو ځیني ئې وايي چي د لمانځه په پای کي به ئې پېژندی شو! ځیني ئې وايي چي د ګهیځ په لمانځه کي به ئې له شپېتو تر سلو آیتونه لوستل خو ځیني ئې وايي چي د ګهیځ په یوه رکعت یا دواړو کي به ئې دومره تلاوت کاوو!! دا په داسي حال کي چي د ټولو راوي یو کس أَبو بَرْزَةَ دئ، تر دې د مخه په بل روایت کي راغلي وو چي د ګهیځ لمونځ به ئې په داسي وخت کي کاوو چي ښځي به له لمانځه وروسته کورته ستنېدې خو چا به پېژندی نه شوې!! بخاري نه دي ویلي چي په دغو متعارضو روایاتو کي کوم یو ئې صحیح دئ.

له نورو روایاتو څو خبري معلومېږي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به د سحر لمونځ داسي مهال کاوو چي رڼا به وه، شپېته متوسط او سل لنډ آیتونه ئې په کي لوستل، په دې ئې تأکید کړی چي د سحر لمونځ په رڼا کي وشي، د دې لپاره چي ټول وتوانېږي په کي برخه واخلي، د ماسپښین لمونځ ئې کله له زواله وروسته کړی او په تودوخي کي ئې ډېر وروسته او هغه مهال کړی چي هوا سړه شوې، د مازدیګر لمونځ ئې په داسي وخت کي کړی چي لمونځ کوونکي توانېدل له لمانځه وروسته خپل کور ته د مدینې په پای کي ورسېږي، (خو دا واټن د مدینې په پراخېدو سره بدل شوی، اوس د دې له مخي دا موده نشي ټاکل کېدی، د

ماښام لمونځ ئې له غروب سره متصل کړی، د ماخستن لمونځ ئې کله لږ او کله ډېر ځنډولی. احناف په دې روايت عمل کوي چې وايي: أسفروا بالفجر فإنه أعظم للأجر: د ګهيځ لمونځ مو په رڼا کي وکړئ چې اجر ئې زيات دئ.

(٨) باب: تر مازديګره د ماسپښين د لمانځه ځنډول

331- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ- هُوَ ابْنُ زَيْدٍ- عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى بِالْمَدِينَةِ سَبْعًا وَثَمَانِيًا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ، وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ. فَقَالَ أَيُّوبُ لَعَلَّهُ فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ. قَالَ عَسَى. (بخاري:543)

331- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه کي اوه رکعته او اته رکعته يو ځای وکړل، د ماسپښين او مازديګر او د ماښام او ماخستن، ايوب ورته وويل: ښايي دا به په داسي شپه کي وو چې باران په کي وريدو، وئې ويل: ښايي.

تکرار: 562، 1174

توپير: په يوه کي سَبْعًا وَثَمَانِيًا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ، وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ، په بل کي سَبْعًا جَمِيعًا وَثَمَانِيًا جَمِيعًا او په بل کي ثَمَانِيًا جَمِيعًا وَسَبْعًا جَمِيعًا راغلي، په يوه کي فَقَالَ أَيُّوبُ لَعَلَّهُ فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ. قَالَ عَسَى او په بل کي قُلْتُ يَا أَبَا الشَّعْثَاءِ أَظُنُّهُ أَخَّرَ الظُّهْرَ وَعَجَّلَ الْعَصْرَ وَعَجَّلَ الْعِشَاءَ وَأَخَّرَ الْمَغْرِبَ. قَالَ وَأَنَا أَظُنُّهُ ويل شوي.

په دې رواياتو کي د څو ستونزو شاهد يو: د ځينو له الفاظو داسي معلوميږي لکه چې لومړی ئې د ماښام او ماخستن اوه رکعته کړي وي او بيا ئې د ماسپښين او

مازديگر اته ركعته، او دا چي گواکي ټول ئې يو په بل پسي او پنځلس ركعته کړي وي. دا هم نه دي ويل شوي چي دا کار څه وخت او په څنګه حالت کي شوی، شپه وه که ورځ، باران وريدو که د جنګ حالت وو؟! يو ئې وروسته کړی او بل ئې رامخکي کړی او که بل څه؟ دغو ستونزو ته په پام سره ويلی شو چي دا روايات د استناد وړ نه دي، مګر دا چي يو ترې غوره شي او بيا د هغه په خوا کي مزيد وضاحت وشي. لکه چي د همدې رواياتو په پای کي ځينو ويلي چي ښايي دا به د باران په ورځ شوی وي او يا به ئې يو په خپل آخري وخت کي او بل په لومړني وخت کي کړی وي. دې ته مو هم پام وي چي شيعه دې ته ورته کمزورو او ستونزمنو رواياتو باندي استناد کوي او ټول لمونځونه په درې وختونو کي او په هر حالت کي جائز ګڼي؛ يوازي ئې په سفر پوري نه مشروطوي.

(٩) باب: د مازديگر وخت

332. حَدِيْث أَبِي بَرْزَةَ رضي الله عنه فِي ذِكْرِ الصَّلَوَاتِ تَقَدَّمَ قَرِيْباً وَقَالَ فِي هذِهِ الرِّوَايَةِ لَمَّا ذَكَرَ الْعِشَاءَ:كَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَ الْعِشَاءِ وَالْحَدِيث بَعْدَهَا. (بخاري:541)

332- لږ مخکي د لمونځونو په اړه د ابو برزه رضي الله عنه حديث تېر شو، خو پدې روايت کي د ماخستن د يادوني په ترڅ کي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ماخستن له لمانځه مخکي خوب او ترې وروسته خبري کول نه خوښول.

333- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ الله

بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ ثُمَّ يَخْرُجُ الإِنْسَانُ إِلَى بَنِى عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ فَنَجِدُهُمْ يُصَلُّونَ الْعَصْرَ. (بخاري:548)

333- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ به د مازديګر لمونځ داسي وخت کاوو چي لمونځ به مو وکړ، بيا به که څوک روان شو او بني عمرو بن عوف ته به ورغی، نو ليدل به ئې چي هغوی لا د مازديګر په لمانځه ولاړ دي.

يادونه: د بني عوف خلکو به مازديګر لمونځ لدې امله وروسته اداء کاوو چي هغوی به په کار او کرنه بوخت وو، له کاره به چي فارغ شول لمونځ به ئې کاوو.

334- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ، فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي فَيَأْتِيهِمْ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ، وَبَعْضُ الْعَوَالِي مِنَ الْمَدِينَةِ عَلَى أَرْبَعَةِ أَمْيَالٍ أَوْ نَحْوِهِ. (بخاري:550)

334- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د مازديګر لمونځ په داسي وخت کي کاوو چي لمر به ښه لوړ او روښانه وو، که څوک به (له لمانځه وروسته) عوالي ته تلو نو هلته به په داسي وخت کي ورسېدو چي لمر به لا هسک وو، د عوالي ځيني برخي له مدينې په څلور ميله واټن يا د دې شا و خوا وو.

تکرار: 548، 551، 7329

توپير: په يوه کي فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي فَيَأْتِيهِمْ

وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ، په بل کي ثُمَّ يَخْرُجُ الإِنْسَانُ إِلَى بَنِى عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ فَنَجِدُهُمْ يُصَلُّونَ الْعَصْرَ، په بل کي فَيَأْتِى الْعَوَالِيَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ، په بل کي ثُمَّ يَذْهَبُ الذَّاهِبُ مِنَّا إِلَى قُبَاءٍ، فَيَأْتِيهِمْ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ، په يوه کي وَبَعْضُ الْعَوَالِي مِنَ الْمَدِينَةِ عَلَى أَرْبَعَةِ أَمْيَالٍ أَوْ نَحْوِهِ، په بل کي د بعض پر ځای بُعد او د څلورو پر ځای څلور يا درې ميله راغلی وَبُعْدُ الْعَوَالِي أَرْبَعَةُ أَمْيَالٍ أَوْ ثَلاَثَةٌ. له دې رواياتو په دقيقه توګه نه معلوميږي چي د مازديګر لمونځ به ئې څه وخت کولو، لمر به څومره لوړ وو؟ د بعض العوالي وينا صحيح ده که د بعد العوالي، فاصله درې ميله وه که څلور ميله؟

(١٠) باب: د هغه چا ګناه چي د مازديګر لمونځ ترې قضاء شي

335- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ (الَّذِي تَفُوتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ). (بخاري:552)

335- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (له چا چي د مازديګر لمونځ قضاء شي داسي دئ لکه چي کورنۍ او مال ئې له منځه تللي وي او يوازي پاته شوی وي).

(١١) باب: څوک چي د مازديګر لمونځ پرېږدي

336- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ قَالَ كُنَّا مَعَ بُرَيْدَةَ فِي غَزْوَةٍ فِي يَوْمٍ ذِى غَيْمٍ فَقَالَ بَكِّرُوا بِصَلاَةِ الْعَصْرِ فَإِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و

سلم قَالَ (مَنْ تَرَكَ صَلاَةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ). (بخاري:553)
336- له بريده رضي الله عنه روايت دئ چي په يوې غزا کي ئې په داسي ورځي کي چي آسمان وريځ وو وويل: د مازديګر په لمانځه کي بيړه وکړئ ځکه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (څوک چي د مازديګر لمونځ پرېږدي ټول عملونه ئې حبط او ضايع شول).
تکرار: 594

توپير: په يوه کي فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ او په بل کي حَبِطَ عَمَلُهُ، په يوه کي فِي غَزْوَةٍ فِي يَوْمٍ ذِى غَيْمٍ او په بل کي يوازي فِي يَوْمٍ ذِى غَيْمٍ راغلي،

د روايت د وروستۍ فقرې بېل بېل توجيهات شوي خو غوره توجيه دا ده چي هغه نېك عمل ئې هم حبط شو چي په هغه کي ئې د مازديګر لمونځ پرېښی، يعني که په جهاد کي ئې د مازديګر لمونځ پرېښی وی نو دا جهاد ئې هم حبط او هدر شو. دا پوښتنه راولاړيږي چي ولي يوازي د مازديګر لمانځه ته دا اهميت ورکړی شوی؟ آيا د مازديګر لمونځ تر نورو خاصتاً د فجر تر لمانځه زيات اهميت لري؟ په دې اړه يوازي يوه توجيه د منلو وړ برېښي او هغه دا چي د مازديګر د لمانځه وخت داسي دئ چي خلك اکثراً په کارونو او لوبو بوخت وي، ماښام، ماخستن، ګهيځ خلك له کارونو فارغ وي، په ماسپښين کي خلك يا د تودوخي په سبب له کار لاس اخلي او يا د غرمنۍ ډوډۍ لپاره، لمونځ ئې له کاره لاس اخيستو ته نه اړ کوي، نو ځکه دلته ويل شوي چي که څوك د کوم کار لپاره د مازديګر لمونځ پرېږدي نو له هغه کاره به هيڅ خير ونه ګوري.

(۱۲) باب: د مازدیگر لمانځه فضیلت

337- حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةً- يَعْنِي الْبَدْرَ- فَقَالَ (إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لاَ تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لاَ تُغْلَبُوا عَلَى صَلاَةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا). ثُمَّ قَرَأَ (وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ). (بخاري:554)

337- له جرير رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه شپه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، سپوږمۍ ته ئې وکتل او وئې فرمايل: (تاسي به خپل رب داسي وينئ لکه دا سپوږمۍ چي وينئ، د الله تعالى په ليدو کي به له ستونزي يا ازدحام سره نه مخ کيږئ، نو که کولی شئ له لمر ختو او لمر پرېوتو مخکي لمانځه بې وسه نشئ، (نو دا کار وکړئ)، بيا ئې دا آيت ولوست: (وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ: له لمر ختو او لمر پرېوتو مخکي د خپل رب تسبيح ووايه).

تکرار: 573، 4851، 7434، 7435، 7436

توپير: په يوه کي لاَ تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ، په بل کي لاَ تُضَامُّونَ- أَوْ لاَ تُضَاهُونَ- فِي رُؤْيَتِهِ، په بل کي إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَانًا، په يوه کي وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ، په بل کي فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا راغلي. دا دوه بېل بېل آيتونه دي، يو ئې د (ق) د سورې 39 آيت او بل ئې د طه د سورې130آيت دئ.

338- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ

الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ (يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلاَئِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةٌ بِالنَّهَارِ، وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ وَصَلاَةِ الْعَصْرِ، ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، فَيَسْأَلُهُمْ ربهم وَهْوَ أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِى فَيَقُولُونَ تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ). (بخاري:555)

338- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (له تاسو سره (د څارني لپاره) د شپې فرشتې او د ورځې فرشتې پر له پسې تګ راتګ کوي، چي د سهار او مازديګر په لمونځونو کي سره يو ځاى کېږي، بيا هغه فرشتې پورته خېژي چي شپه ئې له تاسو سره تېره کړې، الله تعالى چي تر ټولو پرې ښه پوهېږي پوښتنه ترې کوي: زما بندګان مو په څه حالت کي پرېښودل؟ هغوى وايي: موږ په داسي حال کي پرېښودل چي لمونځونه ئې کول، او په داسي حال کي ورغلو چي لمونځونه ئې کول.

تکرار: 3223، 7429، 7486

توپير: په يوه کي يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلاَئِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةٌ بِالنَّهَارِ، په بل کي الْمَلاَئِكَةُ يَتَعَاقَبُونَ، مَلاَئِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةٌ بِالنَّهَارِ، په يوه کي تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، په بل کي تَرَكْنَاهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ يُصَلُّونَ، په يوه کي فَيَسْأَلُهُمْ وَهْوَ أَعْلَمُ بِهِمْ، په بل کي فَيَسْأَلُهُمْ وَهْوَ أَعْلَمُ بِكُمْ او په بل کي فَيَسْأَلُهُمْ وَهْوَ أَعْلَمُ راغلي. اصلي مطلب ئې سره ورته دئ.

(١٣) باب: څوک چي د مازديګر يو رکعت له ماښام

مخکي ومومي

339- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (إِذَا أَدْرَكَ أَحَدُكُمْ سَجْدَةً مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلاَتَهُ، وَإِذَا أَدْرَكَ سَجْدَةً مِنْ صَلاَةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلاَتَهُ). (بخاري:556)

339- او له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (که له تاسو چا تر لمر لوېدو مخکي د مازديګر لمانځه يوه سجده هم ونيوله نو خپل لمونځ دي بشپړ کړي او که له لمر ختو مخکي ئې د سهار لمانځه يوه سجده هم ونيوله نو خپل لمونځ دي بشپړ کړي).

تکرار: 579، 580

توپير: په يوه کي إِذَا أَدْرَكَ أَحَدُكُمْ سَجْدَةً مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلاَتَهُ، په بل کي وَإِذَا أَدْرَكَ سَجْدَةً مِنْ صَلاَةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلاَتَهُ، په يوه کي مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الصُّبْحِ رَكْعَةً قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ، په بل کي وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ او په بل کي مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلاَةِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلاَةَ راغلي، له 580 روايت معلومېږي چي دا د ټولو لمونځونو په اړه صدق کوي، که يو رکعت په آخري وخت کي وکړي نو پاته لمونځ بايد بشپړ کړي.

340- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ عَنِ ابْنِ

شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ الله عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ (إِنَّمَا بَقَاؤُكُمْ فِيمَا سَلَفَ قَبْلَكُمْ مِنَ الأُمَمِ كَمَا بَيْنَ صَلاَةِ الْعَصْرِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ، أُوتِيَ أَهْلُ التَّوْرَاةِ التَّوْرَاةَ فَعَمِلُوا حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ عَجَزُوا، فَأُعْطُوا قِيرَاطًا قِيرَاطًا، ثُمَّ أُوتِيَ أَهْلُ الإِنْجِيلِ الإِنْجِيلَ فَعَمِلُوا إِلَى صَلاَةِ الْعَصْرِ، ثُمَّ عَجَزُوا، فَأُعْطُوا قِيرَاطًا قِيرَاطًا، ثُمَّ أُوتِينَا الْقُرْآنَ فَعَمِلْنَا إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ، فَأُعْطِينَا قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ، فَقَالَ أَهْلُ الْكِتَابَيْنِ أَيْ رَبَّنَا أَعْطَيْتَ هَؤُلاَءِ قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ، وَأَعْطَيْتَنَا قِيرَاطًا قِيرَاطًا، وَنَحْنُ كُنَّا أَكْثَرَ عَمَلاً، قَالَ قَالَ الله عَزَّ وَجَلَّ هَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ أَجْرِكُمْ مِنْ شَيْءٍ قَالُوا لاَ، قَالَ فَهْوَ فَضْلِي أُوتِيهِ مَنْ أَشَاءُ). (بخاري:557)

340- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم ئې اورېدلي چي فرمايل ئې: (د تېرو امتونو په پرتله ستاسو پاته کېدا داسي ده لکه د مازديګر د لمانځه او لمر پرېوتو ترمنځ واټن، د تورات خاوندانو ته تورات ورکړی شو هغوی د ورځي تر نيمايي عمل پرې وکړ نو بې وسه شول، نو يو يو قيراط اجر او بدله ورکړی شوه، بيا د انجيل خاوندانو ته انجيل ورکړی شو، هغوی د مازديګر تر لمانځه پوري عمل پرې وکړ، بيا بې وسه شول، نو يو، يو قيراط اجر او بدله ورکړی شوه، بيا موږ ته قرآن راکړی شو او موږ تر لمر لوېدو عمل پرې وکړ، او موږ ته دوه، دوه قيراطه اجر راکړی شو، نو د دغو دوو کتابونو (تورات او انجيل) خاوندانو وويل: يا ربه! هغوی ته دي دوه، دوه او موږ ته دې يو، يو قيراط راکړ، په داسي حال کي چي زموږ عمل تر نورو زيات وو؟ الله تعالى

به وفرمايي: آيا ستاسو په اجر کي مي څه ظلم او کمی کړی؟ دوی به وايي: نه؛ الله تعالی به وفرمايي: نو دا زما فضل او کرم دئ، چا ته چي مي خوښه وي ورکوم ئې).

تکرار: 2268، 2269، 3459، 5021، 7467، 7533

توپير: په يوه کي إِنَّمَا بَقَاؤُكُمْ فِيمَا سَلَفَ قَبْلَكُمْ مِنَ الأُمَمِ كَمَا بَيْنَ صَلاَةِ الْعَصْرِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ، په بل کي إِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَالْيَهُودُ وَالنَّصَارَى كَرَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالاً فَقَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ الْيَهُودُ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ، ثُمَّ عَمِلَتِ النَّصَارَى عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ، ثُمَّ أَنْتُمُ الَّذِينَ تَعْمَلُونَ مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغَارِبِ الشَّمْسِ عَلَى قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ، په يوه کي فَقَالَ أَهْلُ الْكِتَابَيْنِ أَىْ رَبَّنَا أَعْطَيْتَ هَؤُلاَءِ قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ، وَأَعْطَيْتَنَا قِيرَاطًا قِيرَاطًا، وَنَحْنُ كُنَّا أَكْثَرَ عَمَلاً، په بل کي فَغَضِبَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى، فَقَالُوا مَا لَنَا أَكْثَرَ عَمَلاً، وَأَقَلَّ عَطَاءً، په بل کي فَغَضِبَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ عَمَلاً وَأَقَلُّ عَطَاءً، په بل کي قَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ عَمَلاً وَأَقَلُّ عَطَاءً، په يوه کي هَلْ نَقَصْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ قَالُوا لاَ، په بل کي هَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ شَيْئًا قَالُوا لاَ، په يوه کي أَلاَ فَأَنْتُمُ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ عَلَى قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ، په بل کي أَلاَ لَكُمُ الأَجْرُ مَرَّتَيْنِ، په يوه کي قَالَ فَإِنَّهُ فَضْلِي أُعْطِيهِ مَنْ شِئْتُ، په بل کي قَالَ فَذَلِكَ فَضْلِي أُوتِيهِ مَنْ أَشَاءُ راغلي. د ټولو مطلب يو دئ، او هغه دا چي يهودو او نصاراوو ته د ډېر وخت او ډېر کار په بدل کي لږ اجر ورکړی شوی او مسلمانانو ته د لږ وخت او لږ کار په بدل کي د دوی دوه برابره اجر ورکړی شوی، له دې رواياتو دا هم معلومېږي چي د مازديګر او

مابنام تر منځ وخت هم د ګهيځ او ماسپښين تر منځ وخت او هم د ماسپښين او مازديګر تر منځ وخت لږ دئ. په دغو رواياتو کي د پورتنيو توپيرونو تر څنګ ځيني ابهامات هم تر سترګو کيږي چي له شرحي پرته ئې مطلب په واضح توګه نشي ترلاسه کيدی، خو لاندنی روايت ئې په ښه توګه واضح کوي:

341- حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم (مَثَلُ الْمُسْلِمِينَ وَالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَأْجَرَ قَوْمًا يَعْمَلُونَ لَهُ عَمَلاً إِلَى اللَّيْلِ، فَعَمِلُوا إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ، فَقَالُوا لاَ حَاجَةَ لَنَا إِلَى أَجْرِكَ، فَاسْتَأْجَرَ آخَرِينَ فَقَالَ أَكْمِلُوا بَقِيَّةَ يَوْمِكُمْ، وَلَكُمُ الَّذِي شَرَطْتُ، فَعَمِلُوا حَتَّى إِذَا كَانَ حِينَ صَلاَةِ الْعَصْرِ قَالُوا لَكَ مَا عَمِلْنَا. فَاسْتَأْجَرَ قَوْمًا فَعَمِلُوا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمْ حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ، وَاسْتَكْمَلُوا أَجْرَ الْفَرِيقَيْنِ). بخاري: 558

341- له ابو موسی رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: د مسلمانانو او يهودو او نصاراوو مثال هغه چا ته ورته دئ چي څه کسان ئې استخدام کړل چي د ده لپاره يو کار تر شپې پوري وکړي؛ نو هغوی تر نيمي ورځي کار وکړ او وئې ويل: ستا بدلې ته ضرورت نه لرو؛ نو نور کسان ئې استخدام کړل او ورته وئې ويل: دا کار په خپلي پاته ورځي کي بشپړ کړئ او تاسو ته به همغه بدله درکوم چي ټاکلې مي وه؛ دوی تر هغه کار وکړ چي د مازديګر د لمانځه وخت شو نو وئې ويل: ستا لپاره همدا کار دئ چي ومو کړ؛ نو نور کسان ئې استخدام

کړل او هغوی پاته ورځ تر هغه کار وکړ چي لمر ولوېد او په دې توګه ئې د دواړو مخکینیو ډلو بشپړ اجر او بدله تر لاسه کړه.

دا روایت په بخاري کي 2 ځلي په دغو شمېرو راغلی: 558 - 2271 – غریب دئ؛ په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو أُسَامَةَ، بُرَيْدٍ، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى؛ له بخاري پرته یوازي په یوه بل مهم کتاب؛ سنن الکبری للبیهقي کي راوړل شوی.

(١٤) باب: د ماښام وخت

342- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِهْرَانَ قَالَ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ قَالَ حَدَّثَنَا الأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو النَّجَاشِيِّ صُهَيْبٌ مَوْلَى رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ سَمِعْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ يَقُولُ كُنَّا نُصَلِّي الْمَغْرِبَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَيَنْصَرِفُ أَحَدُنَا وَإِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ. (بخاري:559)

342- له رافع بن خدیج رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: موږ به د ماښام لمونځ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په داسي وخت کي کاوو چي څوك به له لمانځه بېرته ستنېدو نو د خپل غشي د لګېدو ځای به ئې لیدی شو.

له دې روایت دوه خبري معلومېږي: 1- د ماښام لمونځ به په داسي حال کي پای ته رسېدو چي لا به رڼا وه او تیاره به نه وه خوره شوې، 2- پیغمبر علیه السلام به د ماښام په لمانځه کي لنډ قرائت کاوو، ځکه د اوږده قرائت په صورت کي به تیاره خورېده.

343- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ

قَدِمَ الْحَجَّاجُ فَسَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله فَقَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ، وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ نَقِيَّةٌ، وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ، وَالْعِشَاءَ أَحْيَانًا وَأَحْيَانًا، إِذَا رَآهُمُ اجْتَمَعُوا عَجَّلَ، وَإِذَا رَآهُمْ أَبْطَوْا أَخَّرَ، وَالصُّبْحَ كَانُوا- أَوْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّيهَا بِغَلَسٍ. (بخاري:560)

343- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ماسپښين لمونځ له زوال وروسته اداء كاوو، د مازديګر لمونځ به ئې داسي وخت كاوو چي لمر به لا ښه ځليدو، ماښام به ئې له لمر پرېوتو وروسته كاوو او ماخستن به ئې كله يو وخت او كله بل وخت كاوو، كه به ئې وليدل چي خلک راغونډ شوي نو بيړه به ئې وكړه او كه به ئې وليدل چي ندي راټول شوي نو وروسته به ئې كړ او د سهار لمونځ به اصحابو (رضي الله عنهم) او يا رسول الله صلى الله عليه و سلم په تياره كي كاوو.

تكرار: 565

توپير: په يوه كي وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ نَقِيَّةٌ، په بل كي وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، په يوه كي وَالْعِشَاءَ أَحْيَانًا وَأَحْيَانًا، إِذَا رَآهُمُ اجْتَمَعُوا عَجَّلَ، په بل كي وَالْعِشَاءَ إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ، وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ او په بل كي وَإِذَا رَآهُمْ أَبْطَوْا أَخَّرَ راغلي.

(١٥) باب: ماښام (المغرب) ته عشاء (ماخستن) ويل

344- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ- هُوَ عَبْدُ الله بْنُ عَمْرٍو- قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنِ الْحُسَيْنِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ بُرَيْدَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ

الله الْمُزَنِيُّ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (لاَ تَغْلِبَنَّكُمُ الأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلاَتِكُمُ الْمَغْرِبِ). قَالَ الأَعْرَابُ وَتَقُولُ هِيَ الْعِشَاءُ. (بخاري:563)

344- له عبدالله مزني رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د ماښام (المغرب) د لمانځه په نوم کي اعراب (کوچيان) دربانديِ غالب او برلاسي نه شي). راوي وايي: اعرابو (بانډه والو) به مغرب (ماښام) ته عشاء (ماخستن) ويل.

يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم خلکو ته ويلي چي ماخستن د العشاء او ماښام د المغرب په نامه يادوئ، داسي نه چي د بانډه والو تر اغېز لاندي راشئ او ماښام د العشاء په نامه ياد کړئ.

(١٦) باب: د ماخستن د لمانځه فضيلت

345- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ قَالَتْ أَعْتَمَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً بِالْعِشَاءِ، وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يَفْشُوَ الإِسْلاَمُ، فَلَمْ يَخْرُجْ حَتَّى قَالَ عُمَرُ نَامَ النِّسَاءُ وَالصِّبْيَانُ. فَخَرَجَ فَقَالَ لأَهْلِ الْمَسْجِدِ (مَا يَنْتَظِرُهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ غَيْرُكُمْ). (بخاري:566)

345- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: مخکي له دې چي اسلام خور شي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه شپه د ماخستن لمونځ په ډېره تياره کي (وروسته) اداء کړ، او تر هغه راونه ووت چي عمر رضي الله عنه وويل: ښځي او ماشومان ويده شول! بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم راووت او د جومات خلکو ته ئې

وويل: (د زمكي پر مخ له تاسو پرته هيڅوک د لمانځه (د الله د ذكر) لپاره دومره انتظار نه كوي).
يادونه: رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې سره د دوى ستاينه كړې وه او ورته ويلي ئې وو چي نن د ټولي زمكي پر سر داسي خلك نشته چي ستاسو په څېر د لمانځه او د الله تعالى د يادولو لپاره دومره انتظار وكړي.

تكرار: 569، 862، 864

توپير: په يوه كي أَعْتَمَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً بِالْعِشَاءِ، په بل كي أَعْتَمَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم، په يوه كي فَلَمْ يَخْرُجْ حَتَّى قَالَ عُمَرُ نَامَ النِّسَاءُ وَالصِّبْيَانُ، په بل كي حَتَّى نَاداهُ عُمَرُ قَدْ نَامَ النِّسَاءُ وَالصِّبْيَانُ، په يوه كي فَخَرَجَ فَقَالَ لأَهْلِ الْمَسْجِدِ (مَا يَنْتَظِرُهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ غَيْرُكُمْ، په بل كي مَا يَنْتَظِرُهَا أَحَدٌ غَيْرُكُمْ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ، په بل كي إِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ يُصَلِّي هَذِهِ الصَّلاَةَ غَيْرُكُمْ، په يوه كي وَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ يَوْمَئِذٍ يُصَلِّي غَيْرَ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، په يوه كي وَكَانُوا يُصَلُّونَ الْعَتَمَةَ فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ الأَوَّلِ راغلي. د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وينا په تعبير كي راوي په سم لوري نه دئ تللى، مراد ئې دا نه دئ چي گواكي دا يوازي تاسو يئ چي د ماخستن لمونځ كوئ، بلكي مراد ئې د دوى ستاينه او تقدير دئ چي د لمانځه لپاره دومره اوږد انتظار او هغه هم په شپې كي كوي!! دا وضاحت په 567 روايت كي په څرگنده توگه تر سترگو كيږي، هلته ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه په پاى كي دوى ته د زېري په توگه خبره وكړه او صحابه پر دې ډېر خوښ شول.

په ځینو کي دا هم ویل شوي چي د ماخستن لمونځ به د شفق (په لوېدیز کي د آسمان په څنډه کي سوروالی) له پټېدو د شپي تر لومړۍ درېیمي پوري کېدو.

346- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنْتُ أَنَا وَأَصْحَابِى الَّذِينَ قَدِمُوا مَعِى فِي السَّفِينَةِ نُزُولاً فِي بَقِيعِ بُطْحَانَ، وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِالْمَدِينَةِ، فَكَانَ يَتَنَاوَبُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم عِنْدَ صَلاَةِ الْعِشَاءِ كُلَّ لَيْلَةٍ نَفَرٌ مِنْهُمْ، فَوَافَقْنَا النَّبِيَّ- عليه السلام- أَنَا وَأَصْحَابِى وَلَهُ بَعْضُ الشُّغْلِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ فَأَعْتَمَ بِالصَّلاَةِ حَتَّى ابْهَارَّ اللَّيْلُ، ثُمَّ خَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَصَلَّى بِهِمْ، فَلَمَّا قَضَى صَلاَتَهُ قَالَ لِمَنْ حَضَرَهُ (عَلَى رِسْلِكُمْ، أَبْشِرُوا إِنَّ مِنْ نِعْمَةِ الله عَلَيْكُمْ أَنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ يُصَلِّي هَذِهِ السَّاعَةَ غَيْرُكُمْ). أَوْ قَالَ (مَا صَلَّى هَذِهِ السَّاعَةَ أَحَدٌ غَيْرُكُمْ). لاَ يَدْرِى أَىَّ الْكَلِمَتَيْنِ قَالَ. قَالَ أَبُو مُوسَى فَرَجَعْنَا فَفَرِحْنَا بِمَا سَمِعْنَا مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم. (بخاري:567)

346- له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: ما او زما هغه ملګري چي په کښتۍ کي راسره راغلل، د بطحان په میدان کي مو واړول، او رسول الله صلی الله علیه و سلم په مدینه کي وو. او له دوی به هره شپه یو شمېر کسانو په خپل وار سره د ماخستن لمونځ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره کاوو، یوه شپه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د ملګرتیا وار زما او زما د ملګرو په برخه شو، دغه شپه رسول الله صلی الله علیه و سلم په څه

كار مصروف شو (ويل كېږي چي مجاهدين ئې جهاد ته برابرول)، نو د ماخستن لمونځ ئې تر هغه وځنډولو چي آسمان له ستورو ډک شو، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم راووت او خلکو ته ئې لمونځ ورکړ، چي لمونځ ئې وکړ نو حاضرينو ته ئې وويل: (پر خپل ځای پاته شئ، زېږی مي دربانديي، پر تاسو د الله تعالى له نعمتونو يو نعمت دا دئ چي په دې وخت کي له تاسو پرته هيڅوک لمونځ نه کوي) يا په دې وخت کي له تاسو پرته هيچا لمونځ نه دئ کړی، د راوي شک دئ چي کومه جمله ئې وويله. ابو موسى رضي الله عنه وايي: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې زېږي په اورېدو سره خوشحاله ستانه شوو.

(١٧) باب: د ماخستن تر لمانځه مخکي ويده کېدل

347 . حَدِيث أَعْتَمَ رسول الله صلى الله عليه و سلم بِالْعِشَاءِ حَتَّى نَاداهُ عُمَرُ تَقَدَّمَ، وَ فِي هذا زيادة، قَالَتْ: وَكَانُوا يُصَلُّونَ فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ إِلَى ثلُث اللَّيْلِ الأَوَّلِ. وفي رواية عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: فَخَرَجَ نَبِيُّ الله صلى الله عليه و سلم، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ الانَ، يَقْطُرُ رَأْسُهُ مَاءً، وَاضِعًا يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ، فَقَالَ: (لَوْلا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُصَلُّوهَا هَكَذَا). (بخاري:569-571)

347- هغه حديث چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماخستن لمونځ په تياره کي اداء کړ، او بيا عمر رضي الله عنه غږ ورته وکړ، مخکي تېر شو، خو پدې روايت کي دا زياتونه ده چي عائشه رضي الله عنها وايي: د ماخستن لمونځ به ئې د شفق پرېوتو او د شپې د لومړۍ درېيمې برخي تر منځ اداء کاوو، په يوه روايت کي له ابن عباس

رضي الله عنهما راغلي چي: بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم را ووت، او لکه چي زه همدا اوس ورته ګورم، له سر ئې اوبه څڅېدلې، لاس ئې پر سر ايښی وو، وئې فرمايل: (که پر امت مي ستونزمن کېدی نه نو امر به مي ورته کړی وو چي د ماخستن لمونځ په همدې وخت کي کوي).

347 ب- فَاسْتَثْبَتُّ عَطَاءً كَيْفَ وَضَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَلَى رَأْسِهِ يَدَهُ كَمَا أَنْبَأَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ، فَبَدَّدَ لِي عَطَاءٌ بَيْنَ أَصَابِعِهِ شَيْئًا مِنْ تَبْدِيدٍ، ثُمَّ وَضَعَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ عَلَى قَرْنِ الرَّأْسِ ثُمَّ ضَمَّهَا، يُمِرُّهَا كَذَلِكَ عَلَى الرَّأْسِ حَتَّى مَسَّتْ إِبْهَامُهُ طَرَفَ الأُذُنِ مِمَّا يَلِي الْوَجْهَ عَلَى الصُّدْغِ، وَنَاحِيَةِ اللِّحْيَةِ، لاَ يُقَصِّرُ وَلاَ يَبْطُشُ إِلاَّ كَذَلِكَ وَقَالَ (لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُصَلُّوا هَكَذَا).

347 ب- عطاء له ابن عباس رضي الله عنهما حکايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل لاس څه ډول پر خپل سر ايښی وو، نو عطاء خپلي ګوتي لږ څه خلاصي کړې، بيا ئې د ګوتو سرونه پر سر کېښودل، بيا ئې ګوتي سره نژدې کړې او داسي ئې پر سر راتېرولې چي ګټه ګوته ئې مخ، شقيقې او ږيري ته نژدې د غوږ پر څوکه ولګېده، راوي زياتوي: او دا عمل ئې په همدې توګه کاوو. نه له دې ورو او نه په زوره. وئې فرمايل: (که پر امت مي نه ستونزمن کېدی نو امر به مي ورته کړی وو چي د ماخستن لمونځ په همدې وخت کي کوي).

(١٨) باب: د ماخستن لمانځه وخت تر نيمي شپې دئ

347 ج- حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ الْمُحَارِبِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ حُمَيْدٍ

الطَّوِيلِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَخَّرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم صَلاَةَ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ، ثُمَّ صَلَّى ثُمَّ قَالَ (قَدْ صَلَّى النَّاسُ وَنَامُوا، أَمَا إِنَّكُمْ فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرْتُمُوهَا). وَزَادَ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ سَمِعَ أَنَسًا كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ خَاتَمِهِ لَيْلَتَئِذٍ. (بخاري: 572)

347 ج- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماخستن لمونځ تر نيمي شپې وځنډاوو، بيا ئې لمونځ وکړ او وئې فرمايل: خلکو لمونځ وکړ او ويده شول، خو تاسو تر هغه په لمانځه کي وئ چي انتظار مو کاوو، انس وايي: هغه شپه مي داسي په ياد ده لکه چي همدا اوس د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ګوتې ځلېدا ته ګورم.

تکرار: 600، 661، 847، 5869

توپير: په يوه کي أَخَّرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم صَلاَةَ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ، ثُمَّ صَلَّى، په بل کي نَظَرْنَا النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم ذَاتَ لَيْلَةٍ حَتَّى كَانَ شَطْرُ اللَّيْلِ يَبْلُغُهُ، فَجَاءَ فَصَلَّى لَنَا، په بل کي أَخَّرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم الصَّلاَةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا، فَلَمَّا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، په يوه کي ثُمَّ قَالَ، په بل کي ثُمَّ خَطَبَنَا فَقَالَ، په يوه کي قَدْ صَلَّى النَّاسُ وَنَامُوا، په بل کي أَلاَ إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا ثُمَّ رَقَدُوا، په يوه کي أَمَا إِنَّكُمْ فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرْتُمُوهَا، په بل کي وَإِنَّكُمْ لَمْ تَزَالُوا فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلاَةَ، په بل کي إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَرَقَدُوا، وَإِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلاَةَ، په بل کي إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَنَامُوا، وَإِنَّكُمْ لَمْ تَزَالُوا فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرْتُمُوهَا

راغلي.

(19) باب: د سهار د لمانځه وخت

348- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ حَدَّثَهُ أَنَّهُمْ تَسَحَّرُوا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قَامُوا إِلَى الصَّلاَةِ. قُلْتُ كَمْ بَيْنَهُمَا قَالَ قَدْرُ خَمْسِينَ أَوْ سِتِّينَ - يَعْنِي آيَةً (بخاري:575)

348- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي زيد بن ثابت رضي الله عنه ورته وويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې پېشلمی (سېمی) وکړ، بيا پاڅېدل چي لمونځ وکړي، ما (انس رضي الله عنه) پوښتنه وکړه چي د پېشلمي او د سهار لمانځه تر منځ څومره وخت وو؟ وئې ويل: د پنځوسو يا شپېتو آيتونو د ويلو په اندازه وخت به وو.

تکرار: 1921

توپير: په يوه کي أَنَّهُمْ تَسَحَّرُوا، په بل کي تَسَحَّرْنَا، په يوه کي ثُمَّ قَامُوا إِلَى الصَّلاَةِ، په بل کي ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ، په يوه کي قُلْتُ كَمْ بَيْنَهُمَا، په بل کي قُلْتُ كَمْ كَانَ بَيْنَ الاذان وَالسَّحُورِ، په يوه کي قَدْرُ خَمْسِينَ آيَةً، په بل کي قَدْرُ خَمْسِينَ أَوْ سِتِّينَ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي د سېمي او د ګهيځ اذان تر منځ به دومره وخت وو چي پنځوس او شپېته آيتونه په کي لوستل کېدی شو.

دې ته مو پام وي چي د قرآن د وينا له مخي د سېمي آخري وخت د سباوون تر راختو (د ګهيځ تر اذان) پوري دئ.

349- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ عَنْ أَخِيهِ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ أَنَّهُ سَمِعَ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ يَقُولُ كُنْتُ أَتَسَحَّرُ فِي أَهْلِي ثُمَّ يَكُونُ سُرْعَةٌ بِي أَنْ أُدْرِكَ صَلاَةَ الْفَجْرِ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم. (بخاري:577)

349- له سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ما به له خپلي کورنۍ سره پېشملی کاوو، بيا به مي بيره کوله چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د سهار لمونځ ونيولی شم.

تکرار: 1920

توپير: په يوه کي ثُمَّ يَكُونُ سُرْعَةٌ بِي أَنْ أُدْرِكَ صَلاَةَ الْفَجْرِ مَعَ رَسُولِ الله- صلى الله عليه وسلم، په بل کي ثُمَّ تَكُونُ سُرْعَتِي أَنْ أُدْرِكَ السُّجُودَ مَعَ رَسُولِ الله- صلى الله عليه و سلم راغلي.

له دې رواياتو معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د روژې په مياشت کي د ګهيځ لمونځ په لومړي وخت کي کاوو، چي دا ډېره غوره او مناسبه طريقه ده، ځکه خلك تيار سېمي ته راويښ شوي وي، د تهجد لمونځونه ئې کړي وي او د ګهيځ لمانځه لپاره چمتو وي.

(20)- باب: د سهار د لمانځه فضيلت

350- حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنِي أَبُو جَمْرَةَ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مُوسَى عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ (مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ). بخاري: 574

350- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله

صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي دوه ساړه لمونځونه (د سهار او مازديگر) وکړل، جنت ته داخل شو).

سهار او مازديگر ته د دې لپاره (بردين: دوه ساړه) ويل شوي چي د ورځي په سړې برخي کي اداء کيږي.

(٢١) باب: د سهار له لمانځه وروسته تر لمر ختو پوري لمونځ

351- حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدَ عِنْدِى رِجَالٌ مَرْضِيُّونَ وَأَرْضَاهُمْ عِنْدِى عُمَرُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم نَهَى عَنِ الصَّلاَةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَشْرُقَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ. (بخاري:581)

351- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د باور وړ خلکو چي تر ټولو زيات باوري ئې عمر رضي الله عنه دئ زما په وړاندي شاهدي ويلې چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د سهار له لمانځه وروسته تر هفه پوري له لمانځه نهى کړې ده چي لمر راوخېژي، او له مازديگر وروسته ئې له لمانځه نهى کړې ده تر هغه چي لمر پرېوزي.

دا روايت له هغه سره تعارض لري چي له عائشې رضي الله عنها روايت شوى او وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم هيڅکله له مازديگر وروسته دوه رکعته لمونځ نه دئ پرېښى. دې ته په پام سره چي ابن عباس رضي الله عنهما د بل له قوله دا خبره کوي او عائشه رضي الله عنها په خپلو سترگو ليدلى حالت بيانوي، نو ويلى شو چي دا ارجح دئ.

خو په دې دواړو وختونو کي د لمانځه د نهي روايات دومره زيات دي چي تر مشهور اوښتي او ځيني ئې متواتر ګڼي، له عمر بن الخطاب، علي بن أبي طالب، عبد الله بن مسعود، أبو هريرة، سمرة بن جندب، زيد بن ثابت، سلمة بن عمرو، كعب بن مرة، أبو أمامة، عمرو بن عنبسة، عبد الرحمن بن عسيلة، عبد الله بن عمر او عبد الله بن عمرو رضي الله عنهم ترلاسه شوي روايات همدا خبره كوي، دغو زياتو رواياتو ته په پام سره احناف په دې دواړو وختونو كي نفل مكروه ګڼي.

352- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (لاَ تَحَرَّوْا بِصَلاَتِكُمْ طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلاَ غُرُوبَهَا). (بخاري:582)

352- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د دې لټه مه كوئ چي لمونځ مو د لمر ختو او لمر پرېوتو په وخت اداء شي). يعني پدې وختونو كي لمونځ مه كوئ.

تكرار: 585، 589، 1192، 1629، 3273

توپير: په يوه كي لاَ تَحَرَّوْا بِصَلاَتِكُمْ طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلاَ غُرُوبَهَا، په بل كي لاَ يَتَحَرَّى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّي عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَلاَ عِنْدَ غُرُوبِهَا، په بل كي لاَ تَحَرَّوْا طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلاَ غُرُوبَهَا، په بل كي يَنْهَى عَنِ الصَّلاَةِ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَعِنْدَ غُرُوبِهَا او په بل كي وَلاَ تَحَيَّنُوا بِصَلاَتِكُمْ طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلاَ غُرُوبَهَا، فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَىْ شَيْطَانٍ راغلي، مطلب ئې دا دئ چي په دغو دوو وختونو كي لمونځ مه كوئ.

353- وَقَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (إِذَا طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَأَخِّرُوا الصَّلاَةَ حَتَّى تَرْتَفِعَ، وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَأَخِّرُوا الصَّلاَةَ حَتَّى تَغِيبَ).

(بخاري:583)

353- ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کله چي د لمر څنډه (سترګه) راوخېژي نو لمونځ مو وروسته کړئ تر هغه چي لمر ښه پورته شي، او کله چي د لمر څنډه پرېوته، نو لمونځ تر هغه وځنډوئ چي لمر ډوب شي.

تکرار: 3272

توپير: په يوه کي فَأَخِّرُوا الصَّلاَةَ حَتَّى تَرْتَفِعَ، په بل کي فَدَعُوا الصَّلاَةَ حَتَّى تَبْرُزَ، په يوه کي فَأَخِّرُوا الصَّلاَةَ حَتَّى تَغِيبَ، په بل کي فَدَعُوا الصَّلاَةَ حَتَّى تَغِيبَ راغلي.

354 . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم نَهَى عَنْ بَيْعَتَيْنِ، وَعَنْ لِبْسَتَيْنِ، وَعَنْ صَلاتَيْنِ، نَهَى عَنِ الصَّلاةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ.

(بخاري:584)

354- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له دوو بيعو او له دوو جامو او له دوو لمونځونو نهي کړې ده، د سهار له لمانځه وروسته لمونځ کولو تر هغه چي لمر راوخېژي او له مازديګر وروسته لمانځه ترهغه چي لمر ولوېږي.

تکرار: 368، 588، 1993، 2145، 2146، 5819، 5821

توپير: دا روايت په (٨) باب: د عورت پټول 367 روايت کي څېړل شوی.

(٢٢) باب: له لمر لوېدو مخکي بايد د لمانځه لټه ونشي

355- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ قَالَ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ قَالَ سَمِعْتُ حُمْرَانَ بْنَ أَبَانَ يُحَدِّثُ عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ إِنَّكُمْ لَتُصَلُّونَ صَلاَةً، لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيهَا، وَلَقَدْ نَهَى عَنْهُمَا، يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ. (بخاري:587)

355- له معاويه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: تاسو داسي لمونځ کوئ چي موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګرتيا کړې ده خو هغه مو نه دئ ليدلی چي دا لمونځ ئې کړی وي، بلکي له هغه ئې نهي کړې ده يعني له مازديګر وروسته دوه رکعته لمونځ.

تکرار: 3766

توپير: دواړه د الفاظو او معنى له لحاظه سره ورته دي.

(٢٣) باب: د مازديګر له لمانځه وروسته د قضائي لمونځونو اداء کول

356- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ أَيْمَنَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي أَنَّهُ سَمِعَ عَائِشَةَ قَالَتْ وَالَّذِي ذَهَبَ بِهِ مَا تَرَكَهُمَا حَتَّى لَقِيَ الله، وَمَا لَقِيَ الله تَعَالَى حَتَّى ثَقُلَ عَنِ الصَّلاَةِ، وَكَانَ يُصَلِّي كَثِيرًا مِنْ صَلاَتِهِ قَاعِدًا- تَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ- وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم

يُصَلِّيهِمَا، وَلاَ يُصَلِّيهِمَا فِي الْمَسْجِدِ مَخَافَةَ أَنْ يُثَقِّلَ عَلَى أُمَّتِهِ، وَكَانَ يُحِبُّ مَا يُخَفِّفُ عَنْهُمْ. (بخاري:590)

356- له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: قسم په هغه ذات چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې له دنيا يووړ، رسول الله صلى الله عليه و سلم له الله تعالى سره د لقاء (رحلت) تر وخته له مازديگر وروسته دوه ركعته لمونځ ترک نکړ، او تر هغه ئې له الله تعالى سره لقاء ونشوه (رحلت ئې ونکړ) چي لمونځ ورته مشکل شوى نه وو، اکثراً به ئې لمونځونه په ناسته کول، لدې لمونځونو د عائشې رضي الله عنها مطلب له مازديگر وروسته دوه ركعته دي، رسول الله صلى الله عليه و سلم به دا دوه ركعته اداء کول، خو په جومات کي ئې نه کول، ځکه وېره ئې درلوده چي پر امت ئې سخت تمام نشي، او تل ئې هغه څه خوښول چي د امت لپاره د تخفيف او آسانۍ سبب کېدو.

يادونه: دا روايت له هغو ډېرو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مازديگر له لمانځه وروسته تر لمر لوېدو پوري له نفل لمونځونو ممانعت کړى. ځيني علماء د دې تعارض رفع کولو لپاره وايي چي له مازديگر وروسته دوه ركعته لمونځ تر رسول الله صلى الله عليه و سلم پوري خاص وو.

357- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ رَكْعَتَانِ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَدَعُهُمَا سِرًّا وَلاَ عَلاَنِيَةً رَكْعَتَانِ قَبْلَ صَلاَةِ الصُّبْحِ، وَرَكْعَتَانِ بَعْدَ الْعَصْرِ.

(بخاري:592)
357- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: دوه ركعته داسي وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په هيڅ حالت كي، په ښكاره او پټه كي نه پرېښودل، دوه ركعته د سهار له لمانځه مخكي او دوه ركعته د مازديگر له لمانځه وروسته.

تكرار: 591، 592، 593، 1631

توپير: په يوه كي وَالَّذِي ذَهَبَ بِهِ مَا تَرَكَهُمَا حَتَّى لَقِيَ الله، په بل كي مَا تَرَكَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم السَّجْدَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِى قَطُّ، په بل كي رَكْعَتَانِ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَدَعُهُمَا سِرًّا وَلاَ عَلاَنِيَةً رَكْعَتَانِ قَبْلَ صَلاَةِ الصُّبْحِ، وَرَكْعَتَانِ بَعْدَ الْعَصْرِ، په بل كي مَا كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَأْتِينِى فِي يَوْمٍ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلاَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ او په بل كي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم لَمْ يَدْخُلْ بَيْتَهَا إِلاَّ صَلاَّهُمَا راغلي. د ټولو اصلي مطلب دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تل د مازديگر له لمانځه وروسته دوه ركعته په كور كي كړي دي.

(٢٤) باب: د وخت له تېرېدو وروسته اذان

358- حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ قَالَ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سِرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ لَوْ عَرَّسْتَ بِنَا يَا رَسُولَ الله. قَالَ (أَخَافُ أَنْ تَنَامُوا عَنِ الصَّلاَةِ). قَالَ بِلاَلٌ أَنَا أُوقِظُكُمْ. فَاضْطَجَعُوا وَأَسْنَدَ بِلاَلٌ ظَهْرَهُ إِلَى رَاحِلَتِهِ، فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَنَامَ،

فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَقَدْ طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَالَ (يَا بِلاَلُ أَيْنَ مَا قُلْتَ). قَالَ مَا أُلْقِيَتْ عَلَيَّ نَوْمَةٌ مِثْلُهَا قَطُّ. قَالَ (إِنَّ الله قَبَضَ أَرْوَاحَكُمْ حِينَ شَاءَ، وَرَدَّهَا عَلَيْكُمْ حِينَ شَاءَ، يَا بِلاَلُ قُمْ فَأَذِّنْ بِالنَّاسِ بِالصَّلاَةِ). فَتَوَضَّأَ فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ وَابْيَاضَّتْ قَامَ فَصَلَّى. (بخاري:595)

358- له ابو قتاده رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه شپه له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په سفر روان وو، ځينو كسانو وويل: يا رسول الله! كاش پرې مو ږدې چي دلته واړوو، وئې فرمايل: (وپرېږم چي له لمانځه به ويده پاته شئ)، بلال رضي الله عنه وويل: زه به مو راويښ كړم، نو ويده شول او بلال رضي الله عنه خپلي اوښي ته تكيه وكړه، خو خوب ورباندي زورور شو او ويده شو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي وخت كي راويښ شو چي لمر سترگه وهلې وه، وئې فرمايل: (اې بلاله! څه شول هغه څه چي ويلي دي وو؟) بلال رضي الله عنه وويل: هيڅ وخت داسي خوب نه وو راباندي راغلى، وئې فرمايل: (الله تعالى چي كله وغوښتل ستاسي ارواح ئې قبض كړې او كله چي ئې وغوښتل بېرته ئې دروگرځولې، اې بلاله! پورته شه او خلكو ته د لمانځه اذان وكړه). بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم اودس وكړ او كله چي لمر پورته او ښه پسين شو نو لمونځ ئې وكړ.

تكرار: 7471

توپير: يو ئې لنډ او بل ئې اوږد دئ، په يوه كي وَتَوَضَّئُوا إِلَى أَنْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَابْيَضَّتْ فَقَامَ فَصَلَّى او په بل كي فَتَوَضَّأَ فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ وَابْيَاضَّتْ قَامَ فَصَلَّى راغلي.

(٢٥) باب: له وخت تېرېدو وروسته په جمعه (جماعت) لمونځ

359- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَاءَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، فَجَعَلَ يَسُبُّ كُفَّارَ قُرَيْشٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا كِدْتُ أُصَلِّي الْعَصْرَ حَتَّى كَادَتِ الشَّمْسُ تَغْرُبُ. قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم (وَاللهِ مَا صَلَّيْتُهَا). فَقُمْنَا إِلَى بُطْحَانَ، فَتَوَضَّأَ لِلصَّلاَةِ، وَتَوَضَّأْنَا لَهَا فَصَلَّى الْعَصْرَ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ. (بخاری:596)

359- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي عمر رضي الله عنه د خندق په ورځ په داسي وخت کي راغی چي لمر لوېدلی وو او د قريشو کفارو ته ئې ښکنځلي کولې او وئې ويل: يا رسول الله! د مازديګر لمونځ مي تر هغه ونه کړی شو چي لمر لوېدو ته نژدې شوی وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (قسم په خدای چي ما تر اوسه د مازديګر لمونځ نه دئ کړی). راوي وايي: بيا له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره (بطحان) ته ولاړو، هغه هم د لمانځه لپاره اودس وکړ او موږ هم اودسونه وکړل او له لمر لوېدو وروسته ئې د مازديګر لمونځ وکړ، بيا ئې د ماښام لمونځ وکړ.

تکرار: 598، 641، 945، 4112

توپير: په يوه کي مَا صَلَّيْتُ الْعَصْرَ حَتَّى كَادَتِ الشَّمْسُ أَنْ تَغِيبَ، په بل کي وَذَلِكَ بَعْدَ مَا أَفْطَرَ الصَّائِمُ، په يوه کي فَقُمْنَا إِلَى بُطْحَانَ، په بل کي فَنَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِلَى

بُطْحَانَ وَأَنَا مَعَهُ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلَّى- يَعْنِي الْعَصْرَ- بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ، په بل کي وَأَنَا وَالله مَا صَلَّيْتُهَا بَعْدُ، په بل کي وَالله مَا صَلَّيْتُهَا، په يوه کي ثُمَّ صَلَّى الْمَغْرِبَ بَعْدَهَا، په بل کي ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ راغلي.

(٢٦) باب: که له چا لمونځ هېر شي کله چي ورپه ياد شي ودې کړي

360- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالاَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (مَنْ نَسِيَ صَلاَةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا، لاَ كَفَّارَةَ لَهَا إِلاَّ ذَلِكَ). (وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِى) قَالَ مُوسَى قَالَ هَمَّامٌ سَمِعْتُهُ يَقُولُ بَعْدُ (وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِى) (بخاري:597)

360- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (له چا چي لمونځ هېر شو، نو کله چي ورپه ياد شو ودې کړي، دې قضاء شوي لمانځه ته له همدې پرته بله کفاره نشته، الله تعالى فرمايي: (زما د يادولو لپاره لمونځ وکړه).

دا روايت په همدې صيغه يوازي يو راوي لري چي انس رضي الله عنه دئ، په بله صيغه هم راغلى چي په هغه کي د خوب په وجه د لمانځه د قضاء کېدا يادونه شوې ده، چي په دې صورت کي دا روايت دوه ستري ستونزي لري او هغه دا چي:

1- د خوب له امله د لمانځه قضاء کېدو ته د هېرولو صيغه نشي کارېدى، پيغمبر عليه السلام به ولي د هېرولو خبره کوله، لکه چي په نورو رواياتو کي ګورو په دې مورد

کي ئې داسي خبره نه ده کړې، بلکي ويلي ئې دي پروا ئې نشته، په (٤) باب: پاکه خاوره د مسلمان لپاره د پاکۍ وسيله ده، 344 روايت کي راغلي چي د خوب په وجه د لمانځه د پاته کېدو په اړه ئې وفرمايل: لاَ ضَيْرَ- أَوْ لاَ يَضِيرُ.

2- ذکر شوی آيت د لمانځه له قضاء سره هيڅ تړاو نه لري، دا آيت د طه د سورې آيت دئ چي د موسی عليه السلام په اړه نازل شوی، آيت دا دئ:

إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ١٤ طه: 14

يقيناً چي زه هغه الله يم چي له ما پرته بل معبود نشته، نو زما عبادت وکړه او د يادولو لپاره مي لمونځ کوه.

د دې آيت اصلي او يوازينۍ سمه معنی او ژباړه همدا ده، کومو درنو مفسرينو چي له دې پرته بله معنی ترې اخيستې ده هغوی په حقيقت کي د دغه روايت تر اغېز لاندي د آيت الفاظ په ډېر تکلف سره تأويل کړي او د بلي معنی راايستلو ناکامه هڅه ئې کړې. د دې آيت معنی قطعاً دا نه ده چي کله زه درپه ياد شوم يا لمونځ درپه ياد شو نو لمونځ وکړه. دلته موسی عليه السلام ته د دوو لارښوونو سپارښتنه شوې ده: 1- د الله تعالی عبادت کوه او 2- د هغه د ذکر او يادولو لپاره لمونځ کوه.

361 . عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسول الله صلى الله عليه و سلم: (لَمْ تَزَالُوا فِي صَلاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلاةَ). (بخاري:600)

361- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول

الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (تر هغه پوري په لمانځه کي يئ چي د لمانځه انتظار باسئ).

(27) باب- له مېلمه سره د شپې ناسته

362 . عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: (لا يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ الْيَوْمَ عَلَى ظَهْرِ الأَرْضِ أَحَدٌ). يُرِيدُ بِذَلِكَ أَنَّهَا تَخْرِمُ ذَلِكَ الْقَرْنَ. (بخاري:601)

362- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (يوه پېړۍ وروسته به) له هغو چي د زمکي پر سر دي هيڅوک ژوندي نه وي پاته، مطلب ئې دا دئ چي پدې يوه پېړۍ کي به دا ټول خلک مري او له منځه ځي.

دا روايت په (٣١) باب: د زده کړې لپاره د شپې مجلس په 116 روايت کي څېړل شوی.

٣٦٣- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ أَصْحَابَ الصُّفَّةِ كَانُوا أُنَاسًا فُقَرَاءَ، وَأَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (مَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ اثْنَيْنِ فَلْيَذْهَبْ بِثَالِثٍ، وَإِنْ أَرْبَعٌ فَخَامِسٌ أَوْ سَادِسٌ). وَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ جَاءَ بِثَلاَثَةٍ فَانْطَلَقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِعَشَرَةٍ، قَالَ فَهْوَ أَنَا وَأَبِي وَأُمِّى، فَلاَ أَدْرِى قَالَ وَامْرَأَتِى وَخَادِمٌ بَيْنَنَا وَبَيْنَ بَيْتِ أَبِي بَكْرٍ. وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ تَعَشَّى عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ لَبِثَ حَيْثُ صُلِّيَتِ الْعِشَاءُ، ثُمَّ رَجَعَ فَلَبِثَ حَتَّى تَعَشَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَجَاءَ بَعْدَ مَا مَضَى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ الله، قَالَتْ لَهُ

امْرَأَتُهُ وَمَا حَبَسَكَ عَنْ أَضْيَافِكَ- أَوْ قَالَتْ ضَيْفِكَ- قَالَ أَوَمَا عَشَّيْتِيهِمْ قَالَتْ أَبَوْا حَتَّى تَجِيءَ، قَدْ عُرِضُوا فَأَبَوْا. قَالَ فَذَهَبْتُ أَنَا فَاخْتَبَأْتُ فَقَالَ يَا غُنْثَرُ، فَجَدَّعَ وَسَبَّ، وَقَالَ كُلُوا لاَ هَنِيئًا. فَقَالَ وَاللَّهِ لاَ أَطْعَمُهُ أَبَدًا، وَايْمُ اللَّهِ مَا كُنَّا نَأْخُذُ مِنْ لُقْمَةٍ إِلاَّ رَبَا مِنْ أَسْفَلِهَا أَكْثَرُ مِنْهَا. قَالَ يَعْنِي حَتَّى شَبِعُوا وَصَارَتْ أَكْثَرَ مِمَّا كَانَتْ قَبْلَ ذَلِكَ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا أَبُو بَكْرٍ فَإِذَا هِيَ كَمَا هِيَ أَوْ أَكْثَرُ مِنْهَا. فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ يَا أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ مَا هَذَا قَالَتْ لاَ وَقُرَّةِ عَيْنِي لَهِيَ الآنَ أَكْثَرُ مِنْهَا قَبْلَ ذَلِكَ بِثَلاَثِ مَرَّاتٍ. فَأَكَلَ مِنْهَا أَبُو بَكْرٍ وَقَالَ إِنَّمَا كَانَ ذَلِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ- يَعْنِي يَمِينَهُ- ثُمَّ أَكَلَ مِنْهَا لُقْمَةً، ثُمَّ حَمَلَهَا إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَأَصْبَحَتْ عِنْدَهُ، وَكَانَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمٍ عَقْدٌ، فَمَضَى الأَجَلُ، فَفَرَّقْنَا اثْنَا عَشَرَ رَجُلاً، مَعَ كُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ أُنَاسٌ، اللَّهُ أَعْلَمُ كَمْ مَعَ كُلِّ رَجُلٍ فَأَكَلُوا مِنْهَا أَجْمَعُونَ، أَوْ كَمَا قَالَ. (بخاري:602)

٣٦٣- له عبدالرحمن بن ابوبکر رضي الله عنهما روايت دئ چي اصحاب صفه فقير او مسکين خلک وو او رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (څوک چي د دوو تنو ډوډئ لري، نو دريم دي (له اصحاب صفه) ورسره بوزي، او څوک چي د څلورو کسانو خواړه لري نو پنځم او يا شپږم دي ورسره بوزي). او ابوبکر رضي الله عنه دري کسان ورسره راوستل او رسول الله صلى الله عليه و سلم لس کسان ورسره بوتلل، عبدالرحمن بن ابي بکر رضي الله عنه وايي: زموږ په کور کي زه وم، پلار مي، مور مي، راوي وايي: نه پوهيږم چي عبدالرحمن رضي الله عنه دا هم وويل او که نه: او ښځه مي او خادم چي زما او زما د پلار (ابوبکررضي الله عنه) د کورونو شريک وو، هغه شپه

ابوبکر رضي الله عنه د مابنام ډوډۍ د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا کي وخوړه، بیا هملته وو تر هغه چي د ماخستن لمونځ وشو، بیا بېرته د رسول الله صلی الله علیه و سلم کور ته ستون شو او هملته وو تر هغه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د شپې ډوډۍ وخوړله، وروسته چي د شپې څه برخه تېره شوې وه خپل کور ته راغی، مېرمني ئې ورته وویل: مېلمنو یا مېلمه ته دي ولي رانغلې؟ څه شي ترې ایسار کړی وې؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: آیا تر اوسه دي هغوی ته مابنامنی نه دئ ورکړی؟ مېرمني ئې وویل: دوی ته خواړه وړاندي شول، خو هغوی ستا تر راتګه له خوړلو انکار وکړ، عبدالرحمن رضي الله عنه وایي: زه له وېري چېري پټ شوم، ابوبکر رضي الله عنه غږ وکړ چي اې بې غیرته! پزه دي پرې شه، له دې ښکنځلو وروسته ئې وویل: وخورئ، خو په ښه زړه نه، او زیاته ئې کړه چي زه خو ئې والله که وخورم، عبدالرحمن رضي الله عنه وایي، په خدای قسم چي هره مړۍ به مو ترې اخیستله له لاندي به له هغې زیات خواړه را پیدا کېدل، عبدالرحمن رضي الله عنه وایي: ټولو خواړه وخوړل تر هغه چي ماړه شول، او خواړه تر مخکي زیات وو، ابوبکر رضي الله عنه ورته کتل او وئې لیدل چي خواړه هیڅ کم شوي نه دي بلکي زیات شوي، نو خپلي مېرمني ته ئې وویل: اې د فراس خورې! دا څه دي، څه دي وکړل؟ مېرمني ئې وویل: هیڅ مي ندي کړي، د سترګو تور مي، خواړه له اول درې برابره زیات شوي دي، بیا ابوبکر رضي الله عنه هم وخوړل او وئې ویل: قسم خوړل مي د شیطان کار وو، بیا ئې بله مړۍ ترې پورته کړه او نور خواړه ئې رسول الله صلی الله

علیه و سلم ته وروړل او تر سهاره هملته پاته شو. عبدالرحمن رضي الله عنه وايي: زموږ (مسلمانانو) او یوه بل قوم تر منځ تړون وو، د تړون موده پای ته رسېدلې وه، هغوی راغلل، بیا مو دلس کسان سره ووېشل او له هر یوه سره له هغو کسانو څو تنه وو، خدای خبر چي له هر یوه سره به څو تنه وو او دوی ټولو له همغو خوړو وخوړل.

تکرار: 3581، 6140، 6141

توپیر: په دغو روایاتو کي کافي توپیرونه شته، ځیني ئې وايي چي د ابوبکر رضي الله عنه مېلمانه درې تنه اصحاب صفه ول، خو بل ئې وايي چي یوه ډله مېلمانه ئې ول، په ځینو کي د خوړو د زیاتېدو خبره شوې او په یوه کي نه ده شوې، ځیني ئې وايي چي مېلمانه ئې کور ته راوستل او دی بېرته جومات ته ولاړ، ځیني ئې وايي چي مېلمانه ئې عبدالرحمن ته وسپارل چي کور ته ئې بوځي او ماښامنی ورکړی او دی په جومات کي پاته شو، او ځیني نور توپیرونه، اصلي مطلب ئې دا دئ چي الله تعالی د دغو مېلمنو لپاره تیار شوي ماښامني کي دومره برکت واچاوو چي څو برابره زیات شو، ډېرو نورو هم ترې وخوړل.

١٠ـ د اذان كتاب

(1)- باب: د اذان پيل

364- حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِى نَافِعٌ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ كَانَ الْمُسْلِمُونَ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ يَجْتَمِعُونَ فَيَتَحَيَّنُونَ الصَّلاَةَ، لَيْسَ يُنَادَى لَهَا، فَتَكَلَّمُوا يَوْمًا فِى ذَلِكَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ اتَّخِذُوا نَاقُوسًا مِثْلَ نَاقُوسِ النَّصَارَى. وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ بُوقًا مِثْلَ قَرْنِ الْيَهُودِ. فَقَالَ عُمَرُ أَوَلاَ تَبْعَثُونَ رَجُلاً يُنَادِى بِالصَّلاَةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "يَا بِلاَلُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلاَةِ". (بخاري:604)

364- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي ويل ئې: كله چي مسلمانان مديني ته راغلل په يوه ځاى كي به راغونډېدل او د لمانځه وخت به ئې ټاكو، اذان به ورته نه كېدو، يوه ورځ ئې پدې اړه خبري وكړې، ځينو ويل: د نصرانيانو د ناقوس (زنگ) په شان ناقوس جوړ كړئ، او نورو وويل: د يهودانو د ښكر په شان كوم سرنى جوړ كړئ، عمر رضي الله عنه وويل: آيا يو كس نه گمارئ چي د لمانځه لپاره په لوړ ږغ بلنه وركړي؟ بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (اې بلاله! پورته شه او د لمانځه لپاره (خلكو ته) ږغ كړه).

(٢) باب: د اذان د الفاظو دوه ځلي تكرار

365- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ سِمَاكِ بْنِ عَطِيَّةَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِى قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ فَأُمِرَ بِلاَلٌ أَنْ

يَشْفَعَ الاذان، وَأَنْ يُوتِرَ الإِقَامَةَ، إِلَّا الإِقَامَةَ. (بخاري:605)

365- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: بلال رضي الله عنه ته امر شوی وو چي د اذان الفاظ دوه، دوه ځلي تکرار کړي او د اقامت الفاظ یو، یو ځل ووایي، خو له (قد قامت الصلوة) پرته (چي دا به هم دوه ځله وايي).

تکرار: 603، 606، 607، 3457

توپیر: په یوه کي أَنْ يَشْفَعَ الاذان وَأَنْ يُوتِرَ الإِقَامَةَ او په بل کي أَنْ يَشْفَعَ الاذان وَأَنْ يُوتِرَ الإِقَامَةَ إِلاَّ الإِقَامَةَ راغلي،

بخاري هغه روایات نه دي راوړي چي وايي: اقامت هم د اذان په څېر دئ؛ یوازي د قد قامت الصلوة الفاظ په کي اضافه دي، د اذان د کلمو شمېر شپاړس او د اقامت اولس دئ، د اذان څرنګوالی او الفاظ عبد الله بن زید رضي الله عنه په خوب کي لیدلي وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې خپل خوب تېر کړ، ورته وئې فرمایل چي بلال ته ئې وروښیه، بلال رضي الله عنه اذان ورکړ او عبدالله بن زید اقامت ووایو. نور روایات دا دي:

عن عمرو بن مرة عن عبد الرحمن ابن أبي ليلى عن عبد الله بن زيد قال كان اذان رسول الله شفعا شفعا في الاذان والإقامة. رواه الترمذي

له عبدالله بن زید روایت دئ چي وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم (په زمانه کي) اذان او اقامت دوه دوه ځلي وو.

ترمذي د دې روایت تر څنګ وايي:

وقال بعض أهل العلم: الاذان مثنى مثنى والإقامة مثنى مثنى وبه يقول سفيان الثوري وابن المبارك وأهل الكوفة:

ځيني د علم خاوندان وايي چي اذان هم دوه دوه ځلي دئ او اقامت هم، سفيان ثوري، ابن مبارك او د کوفې علماء همدا خبره کوي.

لکه چي ګورئ دلته د اختلاف او د رواياتو تر منځ د تعارض شاهد يو، څنګه به يو ترې غوره کوو؟ د انس رضي الله عنه د روايت په اړه څو پوښتني راولاړيږي: هغه مهال چي د اذان د څرنګوالي پرېکړه کېده انس رضي الله عنه لا ماشوم وو، ښايي عمر ئې د لسو کلونو شاوخوا کي وو، هغه په خپله دا نه دي ليدلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم بلال رضي الله عنه ته امر وکړ، دا ئې هم نه دي ويلي چي دا خبره ئې له چا اورېدلې! د روايت په الفاظو کي دا اشکال تر سترګو کېږي چي وايي: اقامت يو يو ځل دئ، حال دا چي د قد قامت الصلوة په اړه ټول متفق دي چي دا به دوه ځلي ويل کېږي. دا بل روايت له دې پلوه هم دروندالی لري چي راوي ئې هغه څوك دئ چي اذان ئې په خپله په خوب کي ليدلی وو او هغه بلال رضي الله عنه ته وربښودلی. په دې اړه بل روايت هغه دئ چي له ابو محذورة رضي الله عنه روايت شوی او وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ته اذان او اقامت وروښودو چي يو ئې نولس کلمې او بل ئې اولس کلمې دئ:

عن أبي محذورة: أن رسول الله صلى الله عليه و سلم علمه الاذان تسع عشرة كلمة والإقامة سبع عشرة كلمة الاذان الله أكبر الله أكبر أشهد أن لا إله إلا الله أشهد أن لا إله إلا الله أشهد أن محمدا رسول الله أشهد أن محمدا رسول الله أشهد أن لا إله إلا الله أشهد

أن لا إله إلا الله أشهد أن محمدا رسول الله أشهد أن محمدا رسول الله حي على الصلاة حي على الصلاة حي على الفلاح حي على الفلاح الله أكبر الله أكبر لا إله إلا الله والاءقامة مثنى مثنى الله أكبر الله أكبر أشهد أن لا إله إلا الله أشهد أن محمدا رسول الله حي على الصلاة حي على الصلاة حي على الفلاح حي على الفلاح قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة الله أكبر الله أكبر لا إله إلا الله مسند احمد بن حنبل تعليق شعيب الأرنؤوط: صحيح بطرقه وهذا إسناد حسن

كه څه هم دا روايت په ځينو برخو کي د عبدالله بن زيد له روايت سره توپير لري خو د اقامت په اړه د هغه تأييد کوي.

(٣) باب: د اذان کولو فضيلت

366- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا نُودِىَ لِلصَّلاَةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ وَلَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لاَ يَسْمَعَ التَّأْذِينَ، فَإِذَا قَضَى النِّدَاءَ أَقْبَلَ، حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلاَةِ أَدْبَرَ، حَتَّى إِذَا قَضَى التَّثْوِيبَ أَقْبَلَ حَتَّى يَخْطُرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ، يَقُولُ اذْكُرْ كَذَا، اذْكُرْ كَذَا. لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ، حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ لاَ يَدْرِى كَمْ صَلَّى". (بخاري:608)

366- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کله چي د لمانځه لپاره اذان کېږي، شيطان په داسي حال کي ځغلي چي باد ئې وزي، د دې لپاره چي اذان وانه وري، او کله چي اذان ختم شي بيا

راشي خو چي د لمانځه لپاره اقامت وويل شي بېرته په شا لاړ شي او چي اقامت پای ته ورسېږي بېرته راوګرځي او د سړي په زړه کي خبري اچوي، ورته وايي: دا درپه ياد کړه، دا درپه ياد کړه، هغه څه ورته يادوي چي په ياد ئې نه ول، ترهغه چي له لمونځ کوونکي دا هېر شي چي څو رکعته لمونځ ئې کړی دئ).

تکرار: 1222، 1231، 1232، 3285

توپير: په يوه کي إِذَا أُذِّنَ بِالصَّلاَةِ، په بل کي إِذَا نُودِىَ بِالصَّلاَةِ، په يوه کي فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ أَقْبَلَ، په بل کي فَإِذَا قُضِىَ الاذان أَقْبَلَ، په يوه کي فَإِذَا ثُوِّبَ أَدْبَرَ فَإِذَا سَكَتَ أَقْبَلَ، په بل کي فَإِذَا ثُوِّبَ بِهَا أَدْبَرَ فَإِذَا قُضِىَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ، په يوه کي فَلاَ يَزَالُ بِالْمَرْءِ يَقُولُ لَهُ اذْكُرْ مَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى لاَ يَدْرِى كَمْ صَلَّى، په بل کي حَتَّى يَخْطِرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ يَقُولُ اذْكُرْ كَذَا وَكَذَا مَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ إِنْ يَدْرِى كَمْ صَلَّى، په بل کي حَتَّى يَخْطِرَ بَيْنَ الإِنْسَانِ وَقَلْبِهِ، فَيَقُولُ اذْكُرْ كَذَا وَكَذَا. حَتَّى لاَ يَدْرِى أَثَلاَثًا صَلَّى أَمْ أَرْبَعًا فَإِذَا لَمْ يَدْرِ ثَلاَثًا صَلَّى أَوْ أَرْبَعًا سَجَدَ سَجْدَتَىِ السَّهْوِ، په يوه کي إِذَا فَعَلَ أَحَدُكُمْ ذَلِكَ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ قَاعِدٌ، په بل کي فَإِذَا لَمْ يَدْرِ أَحَدُكُمْ كَمْ صَلَّى ثَلاَثًا أَوْ أَرْبَعًا فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهْوَ جَالِسٌ، په بل کي إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّى جَاءَ الشَّيْطَانُ فَلَبَسَ عَلَيْهِ حَتَّى لاَ يَدْرِىَ كَمْ صَلَّى، فَإِذَا وَجَدَ ذَلِكَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ راغلي.

ګډ مطلب ئې دا دئ چي شيطان د اذان په اورېدو سره تښتي، له اذانه وروسته بېرته راستنېږي، د اقامت د غږ په اورېدو سره ځغلي او په پای کي ئې بېرته راګرځي، انسان ته په لمانځه کي وسوسې اچوي، دومره چي پوه نشي څو

رکعته لمونځ ئې کړی، که له داسي حالت سره مخ شوئ نو په پای کي د سهوي سجده وکړئ.

(٤) باب: اذان باید په لوړ ږغ وشي

367- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُوْلُ: "إِنَّهُ لا يَسْمَعُ مَدَى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ وَلا إِنْسٌ وَلا شَيْءٌ إِلا شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". (بخاري:609)

367- **له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمایل ئې: (تر کومه ځایه چي پیرى، انسان او هر شئ د مؤمن د اذان غږ واوري د قیامت په ورځ به شاهدي ورته وایي).**

تکرار: 3296، 7548

توپیر: د ټولو الفاظ او معنى ورته ده.

(٥) باب: اذان د ویني تویولو مخنیوی کوي

368- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا لَمْ يَكُنْ يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَنْظُرَ، فَإِنْ سَمِعَ اذانا كَفَّ عَنْهُمْ، وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ اذانا أَغَارَ عَلَيْهِمْ. (بخاري:610)

368- له انس رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: کله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم له کوم قوم سره د غزا لپاره بوولو، نو تر هغه به ئې د جګړي او برید امر نه راته کاوو چي سهار به شو او انتظار به ئې کاوو، که به ئې اذان واورېد نو لاس به ئې (له برید نه) راتمولو، او که اذان به

ئې وانه وريد نو بريد به ئې ورباندي وکړ.
تکرار: 371، 947، 2228، 2235، 2889، 2893، 2943، 2944، 2945، 2991، 3085، 3086، 3367، 3647، 4083، 4084، 4197، 4198، 4199، 4200، 4201، 4211، 4212، 4213، 5085، 5159، 5169، 5387، 5425، 5528، 5968، 6185، 6363، 6369، 7333
توپير: دا روايت په ٢٤٣ ګڼه کي څېړل شوی.

(٦) باب: د اذان په وخت څه بايد وويل شي؟

369 . حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ: "إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ، فَقُولُوا مِثلَ مَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ". (بخاري:611)
369- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کله مو چي اذان واورېدو نو هغه څه وايئ چي مؤذن ئې وايي).

370- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ حَدَّثَنِي عِيسَى بْنُ طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ يَوْمًا فَقَالَ مِثْلَهُ إِلَى قَوْلِهِ "وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله". لَمَّا قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ. قَالَ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِالله. وَقَالَ هَكَذَا سَمِعْنَا نَبِيَّكُمْ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ. (بخاري:612،613)
370- له عِيسَى بْنُ طَلْحَةَ رضي الله عنه روايت دئ چي له معاويه رضي الله عنه ئې اورېدل چي تر وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله پوري ئې له مؤذن سره تکرارول، کله چي هغه

حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ وويل ده لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِالله وويل او وئې ويل: دا مي ستاسي له نبي صلى الله عليه و سلم اورېدلي دي.
تکرار: 613، 914، 612، 914
توپير: په يوه کې د اذان کلمات په تفصيل سره راغلي، د أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله او أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله په ځواب کي و انا (زه هم شهادت وركوم) راغلي.

(٧) باب: د اذان په وخت دعاء

٣٧١- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ اللهمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِى وَعَدْتَهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِى يَوْمَ الْقِيَامَةِ". (بخاري:614)

٣٧١- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي اذان واورېد او وئې ويل: (اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلوة القائمة آت محمدا الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته) د قيامت په ورځ زما شفاعت ورته واجب شو).

د دې دعاء معنى داده: اى خدايه! د دې بشپړي بلني او د هغې په نتيجه کي د اداء کېدونکي لمانځه ربه! محمد صلى الله عليه و سلم ته وسيله او فضيلت وركړه او په هغه ستايل شوي مقام ئې راپاڅوه چي وعده دې ورسره کړې ده.

تکرار: 4719

توپیر: دواړه د الفاظو او معنی له لحاظه سره ورته دي.

دا روایت که له یوې خوا موږ ته لارښوونه کوي چې خپل ګران پیغمبر علیه السلام ته دعاء وکړو، له الله تعالی وغواړو چې د ده درجې لوړې کړي، هغه ستایل شوی مقام ورپه برخه کړي چې وعده ئې ورسره کړې، له بلې خوا موږ ته د (وسیله) حقیقت راښیي، ځیني ناپوه او د شرك او خرافاتو په مرض اخته کسان داسي انګېري چې د بنده او الله تعالی تر منځ باید یو څوك واسطه او وسیله شي، د همدې وسیلې له لاري الله تعالی ته دعاګاني وړاندي شي، هغه ئې پر الله تعالی قبولي کړي، دوی الله تعالی د زمکي له واکمنانو سره تشبیه کوي چې له واسطې او وسیلې پرته د هغوی دربار ته رسېدا ممکن نه ده، هغه واکمنان چې د دوی دربار ته د مقربو ذواتو د سپارښتنو او شفاعت په نتیجه کي د خلکو عرائض اوري او حاجتونه ئې ترسره کوي!! دا روایت د دغو دوکه شوو غلطه انګېرنه په بشپړه توګه ردوي او وایي: د پیغمبر علیه السلام په څېر د الله تعالی حضور ته د مقرب بنده لپاره به هم الله تعالی ته دعاء کوې، نه یوازي دا چې له الله تعالی پرته به له بل چا څه نه غواړې، که څه هم هغه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت وي بلکي هغه ته به له الله تعالی د درجو لوړولو دعاء کوې، له بلې خوا دا روایت موږ ته لارښوونه کوي چې د وسیلې معنی هغه نه ده چې مشرکین ئې ادعاء کوي، وسیله په قرآن او حدیث کي د هغه نېك عمل په معنی استعمال شوې چې د الله تعالی د تقرب او نژدېوالي موجب

ګرځي، الله تعالی فرمايي:
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣٥ المائده:35
اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او د ده لوري ته وسيله ولټوئ او د ده په لار کي جهاد وکړئ چي بريالي شئ.

پدې آيت کي د مؤمنانو د بريالیتوب لپاره درې شرائط ښودل شوي:

- تقوی او ځان ساتنه.
- د الله تعالی لوري ته وسيله لټول.
- د الله تعالی په لار کي جهاد.

که دا مبارك آيت د قرآن په رڼا کي تفسير کړو او په قرآن کي دا ولټوو چي وسيله څه ته ويل کېږي چي بنده الله ته نژدې کوي؛ نو وبه ګورو چي قرآنکريم لمونځ، زکات، حج، روژه، په نېکۍ امر، له بدي نهی، د الله په لار کي مال لګول، له الله او رسول اطاعت او د اسلام د حاکميت لپاره جهاد؛ الله ته د نژدېوالي او تقرب وسائل ګڼلي دي. د اسلام له نظره هيڅ داسي عمل نشته چي د فرائضو تر اداء کولو زيات الله تعالی ته د تقرب سبب شي، پيغمبر عليه السلام فرمايي چي انسان د سجدې په حالت کي تر بل هر حالت الله ته ورلنډ وي. خو که د رنځورو زړونو خاوندانو ته ووايو چي د قرآن له نظره دا اعمال، الله ته د تقرب وسائل دي؛ د هغوی شيطان پدې خبرو نه قانع کېږي! که ورته وويل شي چي د دعاء د اجابت او قبلېدو تر ټولو غوره وخت د فريضې له اداء وروسته شېبې او لحظې دي، د دعاء د قبلېدو لپاره تر ټولو غوره ځای جومات او د جهاد سنګر دئ، په دې هم

نه راضي کېږي، که څه هم دا د الله او د ده د رسول خبره ده. دوی داسي دريځ نيولی چي نه د خدای خبره مني او نه د ده د رسول!! آيا د تعجب او حيرت خبره نده چي څوك په قرآن باندي له ايمان سره سره له وسيلې داسي تعبير ولري چي سل په سلو کي له قرآن سره تناقض لري؟ قرآنکريم "وسيله" هلته ذکر کړې چي له هغې مخکي او وروسته ئې د شرك په نفي او له غيرالله د مرستي غوښتلو په تحريم ټينګار کړی او فرمايلي ئې دي: که له خدای پرته له هرچا، که په زمکي کي وي يا آسمان کي، مړ وي يا ژوندی، انسان وي يا فرشته او له هرچا او هر څه استعانت او مرسته وغواړئ، هغه نه درنه د زيان دفع کولو وس لري او نه ستا حالت بدلولی شي، هغه چي مشرکان مرسته ترې غواړي په خپله د الله دربار ته د تقرب د وسيلې په لټه کي دي، غواړي د الله په وړاندي نژدې مقام ترلاسه کړي، په خپله ئې سترګي د الهي رحمت په لوري دي او له عذاب ئې وېره لري. فرمايي:

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ٥٧ الاسراء: 56-57

ووايه: له الله تعالی پرته چي "پر هرچا او هرڅه د ملجأ او مرجأ "ګمان کوئ؛ "خپلي مرستي ته"ئې دروبلئ، هغوی له تاسو نه د ضرر دفع کولو توان لري او نه ئې د بدلولو، هغه چي مشرکان ئې مرستي ته وربلي؛ هر يو ئې چي الله ته

ډېر نژدې وي په خپله د الله دربار ته د تقرب وسيله لټوي، (يا هر يو ئې خپل رب ته د تقرب لټه كوي چي كوم يو به تر نورو زيات ورنږدې شي) د هغه رحمت ته ئې سترگي دي او له عذابه ئې وېره لري، بې شكه چي ستا د رب عذاب د دې وړ دئ چي وېره ترې وشي.

قرآنكريم خپلو مخاطبينو ته امر كوي چي له شرك او له ماسوى الله مرستي غوښتلو ډډه وكړئ، يوازي له خداى مرسته او مدد وغواړئ او د الله لوري ته ورلنډ شئ. په داسي حال كي چي د خداى لوري ته وسيله لټول، د شرك د نفى لپاره او د هغه ترڅنگ ذكر شوې، خو متأسفانه عوام غولوونكي او ټگماران دا جزء داسي تفسيروي چي له ماسوى الله د مرستي غوښتلو د جواز دليل پكي وموندل شي!!

(٨) باب: د اذان لپاره پچه

372- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الأَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلاَّ أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لاَسْتَهَمُوا، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ لاَسْتَبَقُوا إِلَيْهِ، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا". (بخاري:615)

372- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (كه خلک پدې پوه شي چي په اذان كولو او لومړي صف كي څومره فضيلت دئ، كه بيا د دې لپاره له پچي اچولو پرته بله چاره ونه مومي، نو پچه

به پرې واچوي، او که پوهېدی چي د ماخستن په لمانځه کي څومره ثواب دئ، نو په ورتګ کي به ئې يوه له بل سره سيالي کوله، او که پوهېدی چي د ماخستن او سهار په لمونځونو کي څومره فضيلت دئ، نو که په خاپوړو وی هم ورته حاضرېدل به).

تکرار: 654، 721، 2689

توپير: د ټولو الفاظ سره ورته دي، يو ئې لنډ دئ.

(٩) باب: د ړانده اذان

373- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ الله عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِنَّ بِلاَلاً يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ، فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يُنَادِىَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ". ثُمَّ قَالَ وَكَانَ رَجُلاً أَعْمَى لاَ يُنَادِى حَتَّى يُقَالَ لَهُ أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ. (بخاري:617)

373- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (بلال رضي الله عنه د شپې اذان کوي، نو ترهغه چي ابن ام مکتوم رضي الله عنه اذان نه وي کړی، خوراک او څښاک کوئ (په پېشلمي کي). ابن عمر رضي الله عنهما وايي: ابن ام مکتوم رضي الله عنه ړوند وو، تر هغه به ئې اذان نه کاوو چي ورته وبه ويل شو چي سهار شو.

تکرار: 620، 623، 1918، 2656، 7248

توپير: په يوه کي إِنَّ بِلاَلاً يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ، په بل کي إِنَّ بِلاَلاً يُنَادِى بِلَيْلٍ، په يوه کي فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يُؤَذِّنَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ، په بل کي فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يُنَادِىَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ او

په بل کي حَتَّى يُؤَذِّنَ- أَوْ قَالَ حَتَّى تَسْمَعُوا- اذان ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ راغلي، له دې رواياتو معلوميږي چي دوه اذانونه به کېدل، يو د بلال رضي الله عنه له لوري د سيمي (پېشلمي)يا احتمالاً تهجد لپاره، او بل د عبدالله بن مكتوم له لوري او د فجر لمانځه لپاره.

(10)- باب: له سهار وروسته اذان

374- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي حَفْصَةُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ الْمُؤَذِّنُ لِلصُّبْحِ وَبَدَا الصُّبْحُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ تُقَامَ الصَّلاَةُ. (بخاري:618)

374- له حفصې رضي الله عنها روايت دئ: کله چي به مؤذن د سهار اذان وکړ او سهار به ښکاره شوی وو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به له جمعي (جماعت) مخکي دوه لنډ رکعتونه لمونځ وکړ.

تکرار: 1173، 1181

توپير: په يوه کي كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ الْمُؤَذِّنُ لِلصُّبْحِ وَبَدَا الصُّبْحُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ تُقَامَ الصَّلاَةُ، په بل کي كَانَ يُصَلِّي سَجْدَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ بَعْدَ مَا يَطْلُعُ الْفَجْرُ او په بل کي كَانَ إِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ وَطَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ راغلي، مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ګهيځ له فرضو مخکي دوه رکعته لنډ لمونځ کولو.

(١١) باب: له سهار مخکي اذان

375- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ

التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "لاَ يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ- أَوْ أَحَدًا مِنْكُمْ- اذان بِلاَلٍ مِنْ سَحُورِهِ، فَإِنَّهُ يُؤَذِّنُ- أَوْ يُنَادِى- بِلَيْلٍ، لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ وَلِيُنَبِّهَ نَائِمَكُمْ، وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ الْفَجْرُ أَوِ الصُّبْحُ". وَقَالَ بِأَصَابِعِهِ وَرَفَعَهَا إِلَى فَوْقُ وَطَأْطَأَ إِلَى أَسْفَلُ حَتَّى يَقُولَ هَكَذَا. وَقَالَ زُهَيْرٌ بِسَبَّابَتَيْهِ إِحْدَاهُمَا فَوْقَ الأُخْرَى ثُمَّ مَدَّهَا عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ. (بخاري:621)

375- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د بلال رضي الله عنه اذان دي له تاسو د چا د پېشلمي مانع نه شي، ځکه هغه د شپې اذان کوي، او دا د دې لپاره چي هغه کس د استراحت او يا پېشلمي لپاره کور ته ستون شي چي په تهجد ولاړ وي او چي ويده راويښ کړي، اذان ئې د دې لپاره نه دئ چي ووايي سباوون شوى). او په گوتو سره ئې اشاره وکړه، پورته ئې کړې، بېرته ئې راکوزي کړې، (يعني دا چي رڼا داسي راڅرگنده شي) زهير وويل: دواړه د شهادت گوتي ئې يوه د بلي له پاسه کېښودې، بيا ئې ښي او کيڼ لوري ته وغزولې (دې ته ئې اشاره کوله چي د سهار رڼا داسي افقي پرته وي).

تکرار: 5298، 7247

توپير: په يوه کي لاَ يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ- أَوْ أَحَدًا مِنْكُمْ- اذان بِلاَلٍ مِنْ سَحُورِهِ، په بل کي لاَ يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ نِدَاءُ بِلاَلٍ- أَوْ قَالَ اذانهُ- مِنْ سَحُورِهِ، په يوه کي فَإِنَّهُ يُؤَذِّنُ- أَوْ يُنَادِى- بِلَيْلٍ، لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ وَلِيُنَبِّهَ نَائِمَكُمْ، په بل کي فَإِنَّمَا يُنَادِى أَوْ قَالَ يُؤَذِّنُ لِيَرْجِعَ قَائِمُكُمْ، په يوه کي وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ الْفَجْرُ أَوِ الصُّبْحُ، په بل کي وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ كَأَنَّهُ يَعْنِى الصُّبْحَ أَوِ الْفَجْرَ،

په يوه کي وَقَالَ بِأَصَابِعِهِ وَرَفَعَهَا إِلَى فَوْقُ وَطَأْطَأَ إِلَى أَسْفَلُ حَتَّى يَقُولَ هَكَذَا، په بل کي وَأَظْهَرَ يَزِيدُ يَدَيْهِ ثُمَّ مَدَّ إِحْدَاهُمَا مِنَ الأُخْرَى، په بل کي وَجَمَعَ يَحْيَى كَفَّيْهِ- حَتَّى يَقُولَ هَكَذَا". وَمَدَّ يَحْيَى إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَتَيْنِ راغلي.

(١٢) باب: که څوک غواړي د اذان او اقامت تر منځ لمونځ کولی شي

376- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يَزِيدَ قَالَ حَدَّثَنَا كَهْمَسُ بْنُ الْحَسَنِ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "بَيْنَ كُلِّ اذانيْنِ صَلاَةٌ بَيْنَ كُلِّ اذانيْنِ صَلاَةٌ- ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ- لِمَنْ شَاءَ". (بخاري: 624 و 627)

376- له عبدالله بن مغفل مزني رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د هر اذان او اقامت تر منځ لمونځ شته، د هر اذان او اقامت تر منځ لمونځ شته، بيا ئې په درېيم ځل وويل: د هغه چا لپاره چي وغواړي). او په بل روايت کي راغلي: (د هر لمانځه او اقامت تر منځ لمونځ شته، د هر اذان او اقامت تر منځ لمونځ شته. په درېيم ځل ئې وفرمايل: (د هغه چا لپاره چي وغواړي).

تکرار: 624

توپير: په يوه کي بَيْنَ كُلِّ اذانيْنِ صَلاَةٌ ويل شوي او په بل کي د هر اذان او اقامت تر منځ لمونځ شته ويل شوي.

(١٣) باب: په سفر کي اذان

377- حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ قَالَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي

قِلاَبَةَ عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فِي نَفَرٍ مِنْ قَوْمِي فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ لَيْلَةً، وَكَانَ رَحِيمًا رَفِيقًا، فَلَمَّا رَأَى شَوْقَنَا إِلَى أَهَالِينَا قَالَ (ارْجِعُوا فَكُونُوا فِيهِمْ وَعَلِّمُوهُمْ وَصَلُّوا، فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ). (بخاري:628)

377- له مالک بن حويرث رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د خپل قوم له يو شمېر کسانو سره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم، شل ورځي ورسره پاته شوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ډېر رحيم او کريم انسان وو، کله چي ئې د اولادونو په لور زموږ تلوسه وليده، نو وئې فرمايل: (ستانه شئ، له خپلو اولادونو او کورنيو سره اوسئ، هغوی ته ښوونه وکړئ او لمونځونه کوئ، کله چي د لمانځه وخت کېدو نو ستاسي يو تن دي اذان درته کوي او تر ټولو مشر دي امامت کوي).

تکرار: 630، 631، 658، 685، 819، 2848، 6008، 7246

توپير: په يوه کي فِي نَفَرٍ مِنْ قَوْمِي فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ لَيْلَةً، په بل کي قَالَ أَتَى رَجُلاَنِ، په بل کي أَتَيْنَا إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَنَحْنُ شَبَبَةٌ مُتَقَارِبُونَ، فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ يَوْمًا وَلَيْلَةً، په بل کي فَلَمَّا ظَنَّ أَنَّا قَدِ اشْتَهَيْنَا أَهْلَنَا أَوْ قَدِ اشْتَقْنَا سَأَلَنَا عَمَّنْ تَرَكْنَا بَعْدَنَا فَأَخْبَرْنَاهُ قَالَ "ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَأَقِيمُوا فِيهِمْ وَعَلِّمُوهُمْ وَمُرُوهُمْ- وَذَكَرَ أَشْيَاءَ أَحْفَظُهَا أَوْ لاَ أَحْفَظُهَا- وَصَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِى أُصَلِّى، په يوه کي فَلَمَّا رَأَى شَوْقَنَا إِلَى أَهَالِينَا، په بل کي يُرِيدَانِ السَّفَرَ، په يوه کي قَالَ "ارْجِعُوا فَكُونُوا فِيهِمْ وَعَلِّمُوهُمْ وَصَلُّوا، فَإِذَا حَضَرَتِ

الصَّلاَةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ، په بل کي فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِذَا أَنْتُمَا خَرَجْتُمَا فَأَذِّنَا ثُمَّ أَقِيمَا ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا، په يوه کي إِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا، ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا، په بل کي لَوْ رَجَعْتُمْ إِلَى بِلاَدِكُمْ فَعَلَّمْتُمُوهُمْ، مُرُوهُمْ فَلْيُصَلُّوا صَلاَةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا، وَصَلاَةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا، وَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ، وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ، په بل کي فَقَالَ لَنَا أَنَا وَصَاحِبٌ لِي "أَذِّنَا وَأَقِيمَا، وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا "راغلي، لکه چي ګورئ په دغو روایاتو کي جدي تعارضات تر سترګو کېږي، ځيني ئې وايي دوه تنه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلي او ځيني ئې وايي يوه ډله راغلې، ځيني ئې وايي چي د لمونځونو وختونه ئې ورته ټاکلي او ځيني ئې وايي چي داسي لمونځ کوئ لکه چي زه مو ليدلی يم. او ډېر نور تعارضات، نه راوي ويلي چي دوه واري راغلي يو، يو ځل دوه تنه او بل ځل يوه ډله، او نه امام بخاري رحمه الله ويلي چي کوم روايت صحيح دئ، که دوی زياته موده د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته پاته شوي وي نو طبيعي ده چي د لمونځونو وختونه ئې عملاً پېژندلي او هغه روايت زيات وزن نه لري چي وايي: فلانی لمونځ په فلاني وخت کي وکړئ، ځکه د روايت له الفاظو هم د وختونو تعيين نشي کېدی او دې ته ضرورت هم نه وو چي وختونه ورته وټاکي.

دې ته مو هم پام وي چي د امامت لپاره احق هغه دئ چي تر نورو اعلم (زيات عالم) وي، اقرأ (قرآن ئې زيات حفظ) وي او که په دغو دواړو کي سره برابر وو نو تر ټولو مشر به امامت کوي. په دې رواياتو کي يوازي د مشرئ

يادونه شوې ده.

378- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ أَتَى رَجُلاَنِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُرِيدَانِ السَّفَرَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِذَا أَنْتُمَا خَرَجْتُمَا فَأَذِّنَا ثُمَّ أَقِيمَا ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا". (بخاري:630)

378- او له مالک بن حويرث رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: دوه تنه چي د سفر نيت ئې درلود د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته راغلل، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (کله چي تاسي په سفر روان شوئ، نو اذان کوئ، بيا اقامت وايئ، بيا دي هغه کس امامت کوي چي له بل مشر وي).

تکرار: 628، 631، 658، 685، 819، 2848، 6008، 7246

توپير: دا روايت په مخکني کي څېړل شوی.

(١٤) باب: د مسافرانو لپاره اذان او اقامت

379 . عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يَأْمُرُ مُؤَذِّنًا يُؤَذِّنُ، ثمَّ يَقُولُ عَلَى إِثْرِهِ: "أَلا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ"، فِي اللَّيْلَةِ الْبَارِدَةِ، أَوِ الْمَطِيرَةِ فِي السَّفَرِ. (بخاري:632)

379- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سفر په دوران کي په سړې او باراني شپه کي مؤذن ته د اذان امر کاوو، وروسته به ئې فرمايل: (لمونځونه په خپلو اړولو ځايونو (د بارونو او پېټو په خوا) کي وکړئ).

تکرار: 666

توپیر: په یوه کي فِي اللَّيْلَةِ الْبَارِدَةِ، أَوِ الْمَطِيرَةِ فِي السَّفَرِ، په بل کي فِی لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ او په بل کي دا هم كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُولُ أَلاَ صَلُّوا فِی الرِّحَالِ راغلي.

(١٥) باب: د چا دا وینا چي لمونځ مي فوت (قضاء) شو

380- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ نُصَلِّى مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِذْ سَمِعَ جَلَبَةَ رِجَالٍ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ "مَا شَأْنُكُمْ". قَالُوا اسْتَعْجَلْنَا إِلَى الصَّلاَةِ. قَالَ "فَلاَ تَفْعَلُوا، إِذَا أَتَيْتُمُ الصَّلاَةَ فَعَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا". (بخاري:635)

380- له ابو قتاده رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: په داسي حال کي چي موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لمونځ کاوو د خلکو د پښو ترپا ئې واورېده، کله چي ئې لمونځ وکړ وئې فرمایل: (څه مو کول)؟ هغوی وویل: لمانځه ته مو بیړه وکړه، وئې فرمایل: (داسي مه کوئ، کله چي لمانځه ته راځئ نو په آرامه او وقار سره راځئ، د لمانځه څومره برخه چي مو وموندله هغه وکړئ، او څه چي درنه تېر شوی وو هغه بشپړ کړئ).

تکرار: 636، 908

توپیر: په یوه کي إِذْ سَمِعَ جَلَبَةَ رِجَالٍ قال مَا شَأْنُكُمْ- قَالُوا اسْتَعْجَلْنَا إِلَى الصَّلاَةِ راغلي په نورو کي نشته، په یوه کي إِذَا أَتَيْتُمُ الصَّلاَةَ فَعَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ

فَأَتِمُّوا، په بل کي إِذَا سَمِعْتُمُ الإِقَامَةَ فَامْشُوا إِلَى الصَّلاَةِ، وَعَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ وَالْوَقَارِ وَلاَ تُسْرِعُوا او په بل کي إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا تَمْشُونَ عَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ راغلي.

له دغو روایاتو معلومیږي چي د جمعي د نیولو لپاره منډي وهل صحیح نه دي، باید په وقار او ډاډ سره له تلوار پرته په لمانځه کي شریك شو، تلوار هغه څوك کوي چي د نورو خلکو د ځورولو او پرېشانه کولو پروا نه کوي او غواړي کوم رکعت په آخر کي ونیسي او له بیا کولو ئې خلاص شي.

(١٦) باب: مقتدیان به څه وخت لمانځه ته پاڅیږي؟

381- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ كَتَبَ إِلَيَّ يَحْيَى عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي". (بخاري:637)

381- او له ابو قتاده رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمایلي: (کله چي اقامت ویل کیږي، نو تاسي تر هغه مه پاڅیږئ چي ما ونه ګورئ (چي راووتلم یا لمانځه ته پاڅېدم).

تکرار: 638، 909

توپیر: په یوه کي لاَ تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي، وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ، په بل کي إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي راغلي. مطلب ئې دا دئ چي مقتدیان باید هغه مهال لمانځه ته ولاړ شي چي امام ودرېدلی وي.

(17) باب: که له اقامت وروسته امام ته ضرورت پېښ شي؟

382- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ الله بْنُ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُنَاجِى رَجُلاً فِى جَانِبِ الْمَسْجِدِ، فَمَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ حَتَّى نَامَ الْقَوْمُ. (بخاري:642)

382- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د لمانځه اقامت وويل شو او رسول الله صلى الله عليه و سلم د جومات په يوه څنډه کي له يوه سړي سره په خبرو وو او تر هغه لمانځه ته رانه غی چي پر خلکو خوب راغی.

تکرار: 643، 6292

توپير: په يوه کي أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُنَاجِى رَجُلاً فِى جَانِبِ الْمَسْجِدِ، په بل کي أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَعَرَضَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم رَجُلٌ فَحَبَسَهُ بَعْدَ مَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ او په بل کي أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ وَرَجُلٌ يُنَاجِى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَمَا زَالَ يُنَاجِيهِ حَتَّى نَامَ أَصْحَابُهُ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى راغلي.

دې ته مو پام وي چي دا روايت په صحابه وو کي يوازي له انس رضي الله عنه او په تابعينو کي يوازي له عبدالعزيز بن صهيب روايت شوی، په دې توگه دا په غريب کي غريب روايت دئ، په دې روايت کي دا نه دي ويل شوي چي دا د کوم وخت لمونځ وو، هغه سړي د څه او کومي مهمي موضوع لپاره ځنډولی وو او دا څوك وو؟ په هر صورت دا يو استثنائي حالت گڼلی شو، په دې باندي امامان داسي

استدلال نشي کولی چي مقتديان په انتظار کي پرېږدي او له يوه کس سره په ګوښه کي په خبرو بوخت شي، خبري له لمانځه وروسته هم کولی شي، له دې روايت بايد دا جواز راونه باسو چي د يوه کس لپاره لمونځ وروسته کول او ډېر خلك په انتظار کي پرېښودل څه پروا نه لري. داسي کار يوازي هغه امام ته جائز ګڼلی شو چي د مسلمانانو مشري ئې پر غاړه وي، کوم عاجل او مهم خبر ورته رارسېدلی وي او د فوري تصميم پرېکړه ترې غواړي.

(١٨) باب: د جمعي (جماعت) وجوب

383- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ "وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ، ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلاَةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا، ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً فَيَؤُمَّ النَّاسَ، ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ، وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَرْقًا سَمِينًا أَوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ". (بخاري:644)

383- له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کي دئ، اراده مي وکړه چي د خسو د راټولولو امر وکړم او خس راټول کړی شي، بيا د لمانځه امر وکړم، نو اذان وشي، بيا يوه سړي ته امر وکړم چي د خلکو امامت وکړي، او زه په خپله په هغو خلکو پسي ورشم (چي لمانځه ته نه وي حاضر شوي) او کورونه ئې ورباندي وسوزوم، قسم په هغه ذات چي زما سا ئې په لاس کي ده که دوی په دې پوهېدی چي (جمعي ته په حاضرېدو سره) دوی

ته یو غوښن هډوکی یا دوه د غوښي بوټی په لاس ورتلې، نو حتماً به د ماخستن لمانځه ته حاضرېدل).

مطلب ئې دا دئ چي دا کسان د ثواب او اخروي ګټي پروا نه لري، خو که جومات ته په راتلو کي ئې کومه دنیوي ګټه تر سترګو شي نو په خاپوړو به ځان ورته رارسوي که څه هم دا ګټه د یوه غوښن هډوکي په اندازه وي.

تکرار: 657، 2420، 7224

توپیر: په یوه کي وَالَّذِی نَفْسِی بِیَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَیُحْطَبَ، په بل کي لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ الْمُؤَذِّنَ فَیُقِیمَ، ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً یَؤُمُّ النَّاسَ، په یوه کي ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلاَةِ فَیُؤَذَّنَ لَهَا، ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً فَیَؤُمَّ النَّاسَ، په بل کي لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّلاَةِ فَتُقَامَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَی مَنَازِلِ قَوْمٍ لاَ یَشْهَدُونَ الصَّلاَةَ فَأُحَرِّقَ عَلَیْهِمْ، په بل کي ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَی رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَیْهِمْ بُیُوتَهُمْ، په بل کي ثُمَّ آخُذَ شُعَلاً مِنْ نَارٍ فَأُحَرِّقَ عَلَی مَنْ لاَ یَخْرُجُ إِلَی الصَّلاَةِ بَعْدُ، په یوه کي وَالَّذِی نَفْسِی بِیَدِهِ لَوْ یَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ یَجِدُ عَرْقًا سَمِینًا أَوْ مِرْمَاتَیْنِ حَسَنَتَیْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ، په بل کي لَیْسَ صَلاَةٌ أَثْقَلَ عَلَی الْمُنَافِقِینَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ، وَلَوْ یَعْلَمُونَ مَا فِیهِمَا لأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا راغلي.

خو له دې روایت دا مطلب راایستل چي په جماعت لمونځ فرض یا واجب دئ صحیح نه دي، که فرض یا واجب وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به دا خبره نه کوله چي نور په جمع پرېږدم او زه ترې ولاړ شم، که امام بخاري د دې روایت پر ځای پر هغو آیتونو استناد کړی وی چي له نورو لمونځ کوونکو سره د یو ځای لمونځ کولو سپارښتنه او لارښوونه کوي نو استدلال ئې وزن درلود، خو دا هم په هغه

صورت کي چي د نه کولو په اړه کوم عتاب هم راغلی وی، دغو دلائلو ته په پام سره نور ائمه په دې باور دي چي په جماعت لمونځ مؤکد سنت دئ.

(١٩) باب: د جمعي (جماعت) د لمانځه فضيلت

384- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "صَلاَةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلاَةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً". (بخاري:645)

384- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په جمع لمونځ تر يوازي لمونځ اوه ويشت درجې فضيلت او غوره والی لري).

تکرار: 649

توپير: په دواړو کي ويل شوي چي په جمع لمونځ تر انفرادي لمونځ اوه ويشت درجې فضيلت لري. په بل روايت کي به وګورئ چي د اوه ويشت پر ځای پنځه ويشت راغلي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه و سلم - يَقُولُ "صَلاَةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلاَةَ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً". (بخاري: 646)

(٢٠) باب: د سهار د جمعي فضيلت

385- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِى سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "تَفْضُلُ صَلاَةُ الْجَمِيعِ صَلاَةَ أَحَدِكُمْ وَحْدَهُ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا، وَتَجْتَمِعُ مَلاَئِكَةُ

اللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةُ النَّهَارِ فِى صَلاَةِ الْفَجْرِ". ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ (إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا). (بخاري:648)

385- له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: (په جمعه لمونځ له هغه لمانځه چي ستاسو کوم يو ئې ځانته کوي پنځه ويشت واري غوره والى لري، د شپې فرشتې او د ورځي فرشتې د سهار په لمانځه کي سره يو ځاى کېږي)، بيا ابوهريرة رضي الله عنه وويل: که زړه مو وي نو دا آيت ولولئ: (إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا: يقيناً چي د سحر له لوري لوستل کېدونکي قرآن ته فرشتې حاضرېږي).

تکرار: 445، 477، 647، 659، 2119، 3229، 4717

توپير: په يوه کي تَفْضُلُ صَلاَةُ الْجَمِيعِ صَلاَةَ أَحَدِكُمْ وَحْدَهُ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا، په بل کي صَلاَةُ الْجَمِيعِ تَزِيدُ عَلَى صَلاَتِهِ فِى بَيْتِهِ، وَصَلاَتِهِ فِى سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً، په بل کي صَلاَةُ الرَّجُلِ فِى الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلَى صَلاَتِهِ فِى بَيْتِهِ وَفِى سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا، په بل کي صَلاَةُ أَحَدِكُمْ فِى جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلاَتِهِ فِى سُوقِهِ وَبَيْتِهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً، په بل کي فَضْلُ صَلاَةِ الْجَمِيعِ عَلَى صَلاَةِ الْوَاحِدِ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ دَرَجَةً، په يوه کي وَتَجْتَمِعُ مَلاَئِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةُ النَّهَارِ فِى صَلاَةِ الْفَجْرِ، په بل کي الْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّى عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِى مُصَلاَّهُ الَّذِى صَلَّى فِيهِ، په بل کي وَتُصَلِّى- يَعْنِى عَلَيْهِ- الْمَلاَئِكَةُ مَا دَامَ فِى مَجْلِسِهِ الَّذِى يُصَلِّى فِيهِ اللهمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللهمَّ ارْحَمْهُ، مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ، په بل کي لَمْ تَزَلِ الْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّى عَلَيْهِ مَا دَامَ فِى مُصَلاَّهُ اللهمَّ صَلِّ عَلَيْهِ، اللهمَّ ارْحَمْهُ، په بل کي الْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّى عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِى مُصَلاَّهُ، په بل

کي وَالْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّى عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِى مُصَلاَّهُ الَّذِى يُصَلِّى فِيهِ اللهمَّ صَلِّ عَلَيْهِ، اللهمَّ ارْحَمْهُ، په بل کي وَالْمَلاَئِكَةُ تَقُولُ اللهمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، په يوه کي وَلاَ يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِى صَلاَةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلاَةَ، په بل کي وَتَجْتَمِعُ مَلاَئِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةُ النَّهَارِ فِى صَلاَةِ الصُّبْحِ راغلي.

لکه چي ګورئ په ځينو رواياتو کي پنځه ويشت برابره او په ځينو کي څو ويشت ويل شوي، په مخکني کي اوه ويشت راغلي. د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- دا روايت تر مطلق غريب هم اوښتی، په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري.
- د فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ (إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا) فقره د راوي خپله رأيه ده.
- په آيت کي د مشهودا دقيقه ژباړه او معنی (ليدل شوی او تر سترګو کېدونکی) ده، يعني په فجر کي د قرآن د لوستلو اغېز داسي وي چي د انسان په افکارو، اخلاقو، اعمالو او اقوالو ئې اغېز په څرګنده توګه تر سترګو کېږي.
- د قرآن الفجر وجه امتياز دا نه ده چي فرشتې ورته حاضرېږي، ځکه فرشتې په ټولو لمونځونو کي حاضري وي، توپير ئې يوازي دومره دئ چي د سحر په لمانځه کي ئې شمېر زيات وي، د قرآن الفجر وجه امتياز هغه اغېز دئ چي د ورځي دا لومړنی لمونځ ئې د انسان پر افکارو، اعمالو او اقوالو لري، د ورځي په شروع کي چي انسان د عمل کوم لوری ځان ته غوره کړي، ټوله ورځ ئې مخ همغه خوا ته وي، ښه پيل ئې ښې پايلي لري او د نورو ښو کارونو پيلامه وي او بد پيل ئې بدي پايلي لري او د نور بدو

کارونو پیلامه وي.

386- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "أَعْظَمُ النَّاسِ أَجْرًا فِي الصَّلاَةِ أَبْعَدُهُمْ فَأَبْعَدُهُمْ مَمْشًى، وَالَّذِى يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الإِمَامِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِى يُصَلِّى ثُمَّ يَنَامُ". بخاري:651)

386- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: په لمانځه کي تر ټولو خلکو زيات ثواب د هغه چا دئ چي تر ټولو لري مېشت وي، او له لري ځايه جومات ته راځي، او د هغه چا چي د لمانځه انتظار کوي د دې لپاره چي له امام سره ئې وکړي، تر هغه چا (زيات) چي لمونځ وکړي بيا ويده شي.

(۲۱) باب: په تودوخي کي د ماسپښين د لمانځه فضيلت

387 . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ، وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ، فَأَخَّرَهُ، فَشَكَرَ الله لَهُ فَغَفَرَ لَهُ". ثمَّ قَالَ: "الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ: الْمَطْعُونُ، وَالْمَبْطُونُ، وَالْغَرِيقُ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللهِ". (بخاري:652)

387- له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (يو سړی په لاره روان وو، د لاري په سر ئې اغزن ښاخ وموند، هغه ئې له لاري ايسته کړ، الله تعالى ئې د دې عمل قدرونه وکړه او مغفرت ئې

ورته وکړ). بیا ئې وفرمایل: (شهیدان په پنځه ډوله دي: په وبا او طاعون مړ شوی، د خېټې له رنځ (اسهال) نه مړ شوی، په اوبو کې ډوب شوی، تر دېوال او چت لاندې مړ شوی، او د الله تعالی په لار کې شهید شوی.

تکرار: 2472

توپیر: دواړه د الفاظو له پلوه ورته دي. لکه چې ګورئ دا روایت په مجموع کې له ترجمة الباب سره هیڅ اړخ نه لګوي او وروستۍ برخه ئې له لومړۍ سره ارتباط نه لري.

(22) باب: جومات ته د تګ ګامونو اجر

388 . عن أَنَسٍ رضي الله عنه: أَنَّ بَنِي سَلِمَةَ أَرَادُوا أَنْ يَتَحَوَّلُوا عَنْ مَنَازِلِهِمْ، فَيَنْزِلُوا قَرِيبًا مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، قَالَ: فَكَرِهَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَنْ يُعْرُوا الْمَدِينَةَ، فَقَالَ: "أَلا تَحْتَسِبُونَ آثارَكُمْ". (بخاري:656)

388- له انس رضي الله عنه روایت دئ چې د بني سلمه خلکو وغوښتل چې خپل کورونه پرېږدي او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته نژدې واړوي، راوي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم دا ښه ونه ګڼله چې دوی د مدینې اطراف تش کړي، نو وئې فرمایل: (آیا نه غواړئ د خپل تګ، راتګ اجر ترلاسه کړئ)؟

تکرار: 656، 1887

توپیر: په یوه کې أَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَتَحَوَّلُوا إِلَى قُرْبِ الْمَسْجِدِ، په بل کې أَنَّ بَنِي سَلِمَةَ أَرَادُوا أَنْ يَتَحَوَّلُوا عَنْ مَنَازِلِهِمْ فَيَنْزِلُوا قَرِيبًا مِنَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه وسلم، په یوه کې أَنْ يُعْرُوا الْمَدِينَةَ، په بل کې أَنْ تُعْرَى الْمَدِينَةُ راغلي، چې

ښيي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا نه خوښوله چي خلك له كليو او باندو ښار ته راكوز شي او اطراف له خلكو تش شي، دا يوه ډېره مهمه موضوع ده، د دې په اهميت هغه څوك ښه پوهېږي چي له اطراف نه د ښارونو په لوري د خلكو د راكوزېدو له بدو اجتماعي او اقتصادي پايلو خبر وي، نن په يوويشتمي پېړۍ كي هم د ډېرو هېوادو يوه لويه ستونزه همدا ده، په دې سره هم كرني ته سخت تاوان رسېږي او هم مالدارۍ ته، هغه مهال له نظامي پلوه هم دې موضوع خاص اهميت درلود.

(23) باب: د ماخستن د جمعي فضيلت

389 . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "لَيْسَ صَلاةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ مِنَ الْفَجْر وَالْعِشَاءِ، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا". (بخاري:657)

389- له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (پر منافقانو هيڅ لمونځ د سهار او ماخستن تر لمونځونو زيات سخت او دروند نه دئ، او كه دوی پوهېدی چي پدې دواړو لمونځونو كي څومره ثواب دئ، نو حتماً به ورته حاضرېدل كه څه هم په خاپوړو تلی).

تكرار: 644، 2420، 7224

توپير: دا روايت په 644 روايت كي څېړل شوی.

(24) باب: په جومات کي د ناستي او لمانځه ته د انتظار فضيلت

390- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ الله فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ الإِمَامُ الْعَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ، وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي الله اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ الله. وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ الله خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ". (بخاري:660)

390- له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: (اوه کسان داسي دي چي الله تعالى به ورته په هغه ورځ تر خپل سيوري لاندي ځاى وركوي چي د ده له سيوري پرته به بل سيورى نه وي: عادل امام، هغه ځوان چي د خپل رب په عبادت کي لوى شوى وي، هغه سړى چي زړه ئې په جومات پوري تړلى وي، هغه دوه کسان چي د خداى لپاره يو له بل سره محبت کوي؛ په همدې سره يو ځاى کېږي او په همدې سره جلا کېږي، هغه سړى چي د منصب او ښايست خاوندي مېرمني بدکارۍ ته وربللى وي او هغه ورته ويلي وي: زه له خداى وېرېږم، او هغه سړى چي صدقه ئې ورکړه (دا ورکړه ئې) داسي پټه وساتله چي کيڼ لاس ئې پر هغه څه نه پوهېږي چي ښي لاس ئې د صدقې په توګه چا ته ورکړي، او هغه سړى چي په ګوښي توب کي خداى ياد کړي او له سترګو ئې

اوښکي وبهيږي).
تکرار: 1423، 6479، 6806

توپير: په يوه کي وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا، په بل کي وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى راغلي او يو ئې لنډ دئ. په دوی کي هغه ارجح دئ چي په کي ويل شوي وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا، ځکه دا الفاظ تر هغه بل زيات واضح دي.

دا روايت له مسلم پرته نورو ټولو کتابونو له ابوهريرة رضي الله عنه راوړی، ترمذي د ابوسعيد خدري احتمال هم ياد کړی، خو په مسلم کي دواړو ته منسوب شوی. ابوهريره رضي الله عنه ته په منسوب شوو رواياتو کي داسي هم راغلي: سبعة يظلهم الله تعالى في ظل عرشه يوم لا ظل إلا ظله، د (في ظل عرشه) فقره روايت ته ارجحيت ورکوي دا ځکه چي الله تعالى سيورى نه لري، سيورى د مخلوق ځانګړتيا ده او الله تعالى له مخلوق سره په هيڅ څه کي شباهت نه لري، د (في ظله) معنى له دې پرته بل څه نشو ګڼلی چي په هغه سيوري کي چي الله تعالى به برابر کړی وي او د ده له اجازې پرته به څوك ترې لاندي ودرېدی نشي، نه د ده د ذات سيورى.

(٢٥) باب: جومات ته د تګ راتګ فضيلت

391- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ قَالَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُطَرِّفٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ الله لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ". (بخاري:662)

391- عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ له ابوهريرة رضي الله عنه او دى له

رسول الله صلى الله عليه و سلم روايت كوي چي فرمايلي ئې دي: (څوک چي سبا او ماښام جومات ته ځي او راځي، الله تعالى ورته د هر تګ او راتګ په بدل كي په جنت كي ځاى تياروي).

(٢٦) باب: چي جمع ودرېږي بيا نو له فرض پرته بل لمونځ نشته

392 . عَنْ عَبْدِ الله بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم رَأَى رَجُلا وَقَدْ أُقِيمَتِ الصَّلاةُ، يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لاث بِهِ النَّاسُ، وَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم: "الصُّبْحَ أَرْبَعًا، الصُّبْحَ أَرْبَعًا"؟ (بخاري:663)

392- له عبدالله بن مالک بن بحينه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يو سړى وليد چي دوه ركعته لمونځ كوي، په داسي حال كي چي (د سحر د لمانځه لپاره، اقامت ويل شوى وو، كله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له لمانځه فارغ شو، خلک ورته راټول شول، او رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه سړي ته وويل: (آيا د سهار لمونځ څلور ركعته دئ، آيا د سهار لمونځ څلور ركعته دئ)؟

د دې روايت معنى دا ده چي د ګهيځ لمانځه لپاره اقامت وويل شو، يوه سړي په همدې وخت كي د ګهيځ سنت كول، په كار دا وه چي سنت ئې پرېښي وى او په جمعه كي شريك شوى وى، خو ده دا كار نه دئ كړى، له لمانځه وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ته دوه ځلي ويلي: آيا د

سحر لمونځ څلور ركعته دئ؟ يعني يوازي به دي دغه دوه ركعته فرض لمونځ په جمعي سره كاوو.

(٢٧) باب: كوم رنځور بايد جمعي ته حاضر شي

393- حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ قَالَ حَدَّثَنِى أَبِى قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ الأَسْوَدُ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَائِشَةَ رضي الله عنها فَذَكَرْنَا الْمُوَاظَبَةَ عَلَى الصَّلاَةِ وَالتَّعْظِيمَ لَهَا، قَالَتْ لَمَّا مَرِضَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مَرَضَهُ الَّذِى مَاتَ فِيهِ، فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَأُذِّنَ، فَقَالَ "مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ". فَقِيلَ لَهُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ، إِذَا قَامَ فِى مَقَامِكَ لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يُصَلِّىَ بِالنَّاسِ، وَأَعَادَ فَأَعَادُوا لَهُ، فَأَعَادَ الثَّالِثَةَ فَقَالَ "إِنَّكُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ، مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ". فَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ فَصَلَّى، فَوَجَدَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً، فَخَرَجَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ كَأَنِّى أَنْظُرُ رِجْلَيْهِ تَخُطَّانِ مِنَ الْوَجَعِ، فَأَرَادَ أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَتَأَخَّرَ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ مَكَانَكَ، ثُمَّ أُتِىَ بِهِ حَتَّى جَلَسَ إِلَى جَنْبِهِ. وَكَانَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّى بِصَلاَتِهِ، وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلاَةِ أَبِى بَكْرٍ. (بخاري:664)

393- له الاسود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د عائشې رضي الله عنها خوا ته وو، پر لمانځه د مواظبت او د هغه د درناوي يادونه مو وكړه، هغې وويل: كله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په هغه ناروغۍ ناروغ شو چي په كي وفات شو، نو د لمانځه وخت شو، اذان وشو، وئې فرمايل: (ابوبكر رضي الله عنه ته امر وكړئ چي خلكو ته لمونځ وركړي). ورته وويل شول: ابوبكر رضي الله عنه ډېر

نرم زړی دئ که ستا پر ځای ودرېږي (نو له ډېري ژړا) به خلکو ته لمونځ ورنکړی شي، بیا ئې هغه خبره وکړه او بیا هغوی همغه ځواب ورکړ، بیا ئې درېیم ځل خپله وینا تکرار کړه او وئې فرمایل: (تاسو د یوسف (علیه السلام) د قصې د مېرمنو په څېر یئ، ابوبکر رضي الله عنه ته امر وکړئ چي خلکو ته لمونځ ورکړي). نو ابوبکر رضي الله عنه راووت او د لمانځه امامت ئې پیل کړ، پدې وخت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل ځان کي څه سپکوالی احساس کړ، نو په داسي حال کي چي پر دوو تنو ئې تکیه کړې وه (جومات) ته ووت، داسي لکه چي زه ئې همدا اوس پښو ته ګورم چي د درد له امله ورپسې کرښېدلې، ابوبکر رضي الله عنه وغوښتل چي وروسته شي، خو رسول الله صلی الله علیه و سلم اشاره ورته وکړه چي پر خپل ځای اوسه، بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه ځای ته راوستل شو چي د ابوبکر رضي الله عنه خوا ته کښېناست، رسول الله صلی الله علیه و سلم لمونځ کاوو، او ابوبکر رضي الله عنه په رسول الله صلی الله علیه و سلم او خلکو په ابوبکر رضي الله عنه پسې اقتداء کړي وه او لمونځ ئې ورپسي کاوو، په یوه روایت کي دا هم راغلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د ابوبکر رضي الله عنه ښۍ خوا ته کښېناست او ابوبکر رضي الله عنه په ولاړه لمونځ کاوو.

تکرار: 198، 665، 679، 683، 687، 712، 713، 716، 2588، 3099، 3384، 4442، 4445، 5714، 7303

توپیر: دا روایت په 198 روایت کي څېړل شوی. خو دا چي د صواحب یوسف معنی څه ده، دوه تعبیرونه کېدی

شي: لومړی دا چي تاسو د يوسف عليه السلام د قصې د هغو مېرمنو په څېر يئ چي په زړه کي ئې يو څه وو او په خوله ئې بل څه ويل، خو دا تعبير په دې دليل موزون نه برېښي چي د مصر له خرابو ښځو سره د امهات المؤمنين تشبيه په کي راځي، غوره تعبير دا دئ چي دوی د يوسف عليه السلام له هغو ورونو سره تشبيه شوې چي پر هغه ئې ظلم وکړ، خو دوی ته د ورونو پر ځای د صواحب نوم کارول شوی دا ځکه چي هغوی نارينه ول او دوی ښځي وې، هغوی پر يوسف عليه السلام ظلم وکړ او تاسو د ابوبکر رضي الله عنه په اړه ظلم کوئ، په داسي حال کي چي دی د امامت لپاره وړ دئ تاسو غواړئ دا دنده بل ته وسپارل شي.

394 . وعَنْ عَائشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم واشْتَدَّ وَجَعُهُ، اسْتَأذَنَ أزْوَاجَهُ أنْ يُمَرَّضَ فِي بَيْتِي، فَأذِنَّ لَهُ. وباقي الحديث تقدم آنفاً. (بخاري:665)

394- او له عائشې رضي الله عنها په بل روايت کي راځي چي وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دروند شو او درد ئې تشديد شو، له خپلو مېرمنو ئې اجازه وغوښتله چي ناروغ پالنه ئې زما په کور کي وشي، هغوی دا اجازه ورکړه. د حديث نوره برخه مخکي تېره شوه.

(٢٨) باب: حاضرو کسانو ته لمونځ ورکول او په باران کي خطبه ويل؟

395- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ صَاحِبُ الزِّيَادِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الله بْنَ

الْحَارِثِ قَالَ خَطَبَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ فِي يَوْمٍ ذِى رَدْغٍ، فَأَمَرَ الْمُؤَذِّنَ لَمَّا بَلَغَ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ. قَالَ قُلِ الصَّلاَةُ فِي الرِّحَالِ، فَنَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، فَكَأَنَّهُمْ أَنْكَرُوا فَقَالَ كَأَنَّكُمْ أَنْكَرْتُمْ هَذَا إِنَّ هَذَا فَعَلَهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّى- يَعْنِى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم - إِنَّهَا عَزْمَةٌ، وَإِنِّى كَرِهْتُ أَنْ أُحْرِجَكُمْ. وَعَنْ حَمَّادٍ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ الْحَارِثِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ نَحْوَهُ، غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ كَرِهْتُ أَنْ أُؤَثِّمَكُمْ، فَتَجِيئُونَ تَدُوسُونَ الطِّينَ إِلَى رُكَبِكُمْ. (بخاري:668)

395- له عبدالله بن حارث روايت دئ چي وايي: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په داسي ورځي کي خطبه وويله چي ډېري ختي وې، کله چي مؤذن (حي الصلوة) ته ورسېد، امر ئې ورته وکړ چي ووايه: لمونځونه په خپلو مېنو کي وکړئ، خلکو يوه او بل ته سره وکتل، داسي لکه چي دا خبره ئې نه وي خوښه شوې، نو عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وويل: لکه چي دا خبره مو خوښه نه شوه؟ خو دا کار هغه چا کړی چي تر ما ډېر غوره دئ (مطلب ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم وو)، که څه هم (د جمعي لمانځه ته د خلکو راتګ) د عزيمت کار او غوره دئ خو ما ونه غوښتل چي تاسو په مشقت کي واچوم او په داسي حال کي راشئ چي پښې مو تر زنګونو پوري په ختو لړلې وي.

تکرار: 616، 901

توپير: په يوه کي فِي يَوْمٍ ذِى رَدْغٍ، په بل کي فِي يَوْمٍ رَدْغٍ، په يوه کي فَأَمَرَ الْمُؤَذِّنَ لَمَّا بَلَغَ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ. قَالَ قُلِ الصَّلاَةُ فِي الرِّحَالِ، په بل کي فَلَمَّا بَلَغَ الْمُؤَذِّنُ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ. فَأَمَرَهُ أَنْ يُنَادِيَ الصَّلاَةُ فِي الرِّحَالِ، په بل کي قَالَ ابْنُ

عَبَّاسٍ لِمُؤَذِّنِهِ فِى يَوْمٍ مَطِيرٍ إِذَا قُلْتَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. فَلاَ تَقُلْ حَىَّ عَلَى الصَّلاَةِ. قُلْ صَلُّوا فِى بُيُوتِكُمْ، په يوه کي فَنَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، فَكَأَنَّهُمْ أَنْكَرُوا، په بل کي فَنَظَرَ الْقَوْمُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، په يوه کي إِنَّ الْجُمُعَةَ عَزْمَةٌ، وَإِنِّى كَرِهْتُ أَنْ أُخْرِجَكُمْ، فَتَمْشُونَ فِى الطِّينِ وَالدَّحْضِ، په بل کي إِنَّهَا عَزْمَةٌ، وَإِنِّى كَرِهْتُ أَنْ أُحْرِجَكُمْ فَتَجِيئُونَ تَدُوسُونَ الطِّينَ إِلَى رُكَبِكُمْ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي د باران او چکړو په ورځ ئې مؤذن ته ويلي چي په اذان کي د حي على الصلوة پر ځای صلوا في بيوتكم يا الصلوة في الرحال ووايي چي هر څوك په خپل خپل کور او ځای کي لمونځ وکړي او جومات ته رانشي، که څه هم جومات ته راتګ د عزيمت کار دئ خو ده نه دي غوښتي چي خلك وځورېږي، د خلکو د اعتراض په ځواب کي ئې ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي کړي.

396- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ سِيرِينَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ قَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ إِنِّى لاَ أَسْتَطِيعُ الصَّلاَةَ مَعَكَ. وَكَانَ رَجُلاً ضَخْمًا، فَصَنَعَ لِلنَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم طَعَامًا فَدَعَاهُ إِلَى مَنْزِلِهِ، فَبَسَطَ لَهُ حَصِيرًا وَنَضَحَ طَرَفَ الْحَصِيرِ، صَلَّى عَلَيْهِ رَكْعَتَيْنِ. فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ آلِ الْجَارُودِ لأَنَسٍ أَكَانَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى الضُّحَى قَالَ مَا رَأَيْتُهُ صَلاَّهَا إِلاَّ يَوْمَئِذٍ. (بخاري:670)

396- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له انصارو يوه سړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: زه له تا سره په جمعه لمونځ نشم کولی، هغه ډېر مزی

(چاغ) وو، یوه ورځ ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته خواړه تیار کړل او کور ته ئې دعوت کړ، پوزی ئې ورته آوار کړ، د پوزي پر یوې خوا ئې اوبه وشیندلې (هغه ئې ومینځو)، رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه رکعته لمونځ پرې وکړ، د آل جارود یوه تن انس رضي الله عنه ته وویل: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د څاښت لمونځ کاوو؟ انس رضي الله عنه وویل: ما لدې ورځي پرته بل وخت نه دئ لیدلی چي د څاښت لمونځ ئې کړی وي.

تکرار: 1179، 6080

توپیر: په یوه کي فَدَعَاهُ إِلَى مَنْزِلِهِ، په بل کي فَدَعَاهُ إِلَى بَيْتِهِ، په یوه کي فَبَسَطَ لَهُ حَصِيرًا وَنَضَحَ طَرَفَ الْحَصِيرِ، په بل کي وَنَضَحَ لَهُ طَرَفَ حَصِيرٍ بِمَاءٍ، په یوه کي فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ آلِ الْجَارُودِ، په بل کي وَقَالَ فُلاَنُ بْنُ فُلاَنِ بْنِ جَارُودٍ، په یوه کي مَا رَأَيْتُهُ صَلاَّهَا إِلاَّ يَوْمَئِذٍ، په بل کي مَا رَأَيْتُهُ صَلَّى غَيْرَ ذَلِكَ الْيَوْمِ، په بل کي فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَمَرَ بِمَكَانٍ مِنَ الْبَيْتِ، فَنُضِحَ لَهُ عَلَى بِسَاطٍ، فَصَلَّى عَلَيْهِ، وَدَعَا لَهُمْ، په یوه کي زَارَ أَهْلَ بَيْتٍ فِى الأَنْصَارِ فَطَعِمَ عِنْدَهُمْ طَعَامًا راغلي. له ترجمة الباب سره د دې روایاتو تعلق په واضح توګه نه معلومېږي، د دې پر ځای دا ترې معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په څاښت کي لمونځ کړی، خو له نورو روایاتو داسي معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي لمونځونه د هر هغه چا په کور کي کړي چي دی ئې مېلمه شوی، او له لمانځه وروسته ئې دعاء ورته کړې. د روایت ارتباط له ترجمة الباب سره په هغه صورت کي کېدی شي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم دې سړي ته

په خپل کور کي د لمونځ کولو اجازه ورکړې وي او د همدې لپاره ئې د ده په کور کي يو ځای ټاکلی وي او پر هغه ځای ئې دوه رکعته لمونځ په جمعه کړی وي خو په روايت کي دا خبره نه ده شوې.

(۲۹) باب: چي خواړه تيار وي او اقامت وويل شي

397- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ (إِذَا قُدِّمَ الْعَشَاءُ فَابْدَءُوا بِهِ قَبْلَ أَنْ تُصَلُّوا صَلاَةَ الْمَغْرِبِ، وَلاَ تَعْجَلُوا عَنْ عَشَائِكُمْ). (بخاري:672)

397- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: کله چي د شپې خواړه تيار او وړاندي شول، نو پيل پرې وکړئ؛ مخکي له دې چي د ماښام لمونځ وکړئ، او له خوړو (د لمانځه لوري ته) بيړه مه کوئ.

تکرار: 5463

توپير: په يوه کي (إِذَا قُدِّمَ الْعَشَاءُ فَابْدَءُوا بِهِ قَبْلَ أَنْ تُصَلُّوا صَلاَةَ الْمَغْرِبِ، په بل کي إِذَا وُضِعَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ، په يوه کي وَلاَ تَعْجَلُوا عَنْ عَشَائِكُمْ راغلي. له دواړو رواياتو داسي معلومېږي چي دلته د ماښام لمانځه د اذان او اقامت په وخت کي د خوړو تيارېدو خبره شوې، که خواړه تيار شوي وو او په همدې وخت کي د ماښام د لمانځه اقامت وويل شو نو په خوړو پيل وکړئ او عجله مه کوئ. دا لارښوونه ښايي د هغه چا لپاره وي چي روژه ئې نيولې، روژه ماتی ورته تيار شوی، په همدې مهال

اذان او اقامت اوري، نو په خوړو دي پيل وکړي او له تلوار پرته دي خپل خوراك بشپړ کړي بيا دي لمونځ وکړي. له نورو رواياتو معلومېږي چي دا لارښوونه يوازي د ماښام په لمانځه پوري مختص نه ده د نورو لمونځونو په وخت کي هم بايد همداسي وکړي. غوره دا ده چي هر څوك د خوړو وخت داسي تنظيم کړي چي د لمانځه له وخت سره ئې تصادم رانشي.

(٣٠) باب: چي څوک په کوم کار مشغول وي او لمونځ ودرېږي

398- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَصْنَعُ فِي بَيْتِهِ قَالَتْ كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ- تَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِهِ- فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ. بخاري:676)

398- له الأسود رضي الله عنه روايت دئ چي له عائشې رضي الله عنها ئې پوښتنه وکړه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په خپل کور کي څه کول؟ وئې ويل: له خپل ټبر سره به ئې په کارونو کي مرسته کوله، مطلب ئې دا وو چي د خپلي کورنۍ په خدمت کي به وو، خو کله چي به لمونځ تيار شو نو لمانځه ته به ولاړ.

يادونه: رسول الله صلى الله عليه و سلم به په خپل کور کي کله مېږي لوشلې، کله به ئې جامې پيوندولې، کله به ئې خپلي پښې ګنډلې او کله به ئې کوم بل کار کاوو.

تکرار: 5363، 6039

توپير: په يوه کي كَانَ يَكُونُ فِى مِهْنَةِ أَهْلِهِ، په بل کي كَانَ

فِی مِهْنَةِ أَهْلِهِ، په یوه کي فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ، په بل کي فَإِذَا سَمِعَ الاذان خَرَجَ، په بل کي فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ راغلي.

(۳۱) باب: څوک چي د تعلیم لپاره د خلکو امامت کوي

399- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ قَالَ جَاءَنَا مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ فِي مَسْجِدِنَا هَذَا فَقَالَ إِنِّي لأُصَلِّي بِكُمْ، وَمَا أُرِيدُ الصَّلاَةَ، أُصَلِّي كَيْفَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي. (بخاري: 677)

399- له مالک بن حویرث رضي الله عنه روایت دئ چي وئي ویل: زه تاسي ته لمونځ درکوم حال دا چي د لمانځه اراده نلرم، خو غواړم داسي لمونځ درته وکړم لکه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم مي لیدلی چي لمونځ ئې کاوو، یعنی غواړم د رسول الله صلی الله علیه و سلم دلمانځه طریقه دروښیم.

تکرار: 802، 818، 824

توپیر: په یوه کي فَقَالَ إِنِّي لأُصَلِّي بِكُمْ، وَمَا أُرِيدُ الصَّلاَةَ، أُصَلِّي كَيْفَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي، په بل کي يُرِينَا كَيْفَ كَانَ صَلاَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَذَاكَ فِي غَيْرِ وَقْتِ صَلاَةٍ، فَقَامَ فَأَمْكَنَ الْقِيَامَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَمْكَنَ الرُّكُوعَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَأَنْصَتَ هُنَيَّةً، په بل کي قَالَ لأَصْحَابِهِ أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ صَلاَةَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ وَذَاكَ فِي غَيْرِ حِينِ صَلاَةٍ، فَقَامَ، ثُمَّ رَكَعَ فَكَبَّرَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَقَامَ هُنَيَّةً، ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ هُنَيَّةً، په بل کي وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ عَنِ السَّجْدَةِ

الثَّانِيَةِ جَلَسَ وَاعْتَمَدَ عَلَى الأَرْضِ، ثُمَّ قَامَ راغلي. له دې روايت يوازي دا معلومېږي چې نورو ته د تعليم او ښووني لپاره لمونځ کېدی شي، خو په نورو کي د ده د لمانځه څرنګوالی هم څه نا څه څرګند شوی.

(٣٢) باب: عالم د امامت لپاره غوره دئ

400- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضي الله عنها أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ فِي مَرَضِهِ "مُرُوا أَبَا بَكْرٍ يُصَلِّى بِالنَّاسِ". قَالَتْ عَائِشَةُ قُلْتُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ، فَمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ. فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ قُولِي لَهُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ، فَمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ. فَفَعَلَتْ حَفْصَةُ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَهْ، إِنَّكُنَّ لأَنْتُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ، مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ". فَقَالَتْ حَفْصَةُ لِعَائِشَةَ مَا كُنْتُ لأُصِيبَ مِنْكِ خَيْرًا. (بخاري:679)

400- له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلي ناروغۍ کي وويل: (ابوبکر رضي الله عنه ته امر وکړئ چې خلکو ته لمونځ ورکړي)، عائشه رضي الله عنها وايي: ما وويل: که ابوبکر رضي الله عنه ستا پر ځای ودرېږي، نو له ډېري ژړا به خلکو ته (قرائت) نشي اورولی، نو عمر رضي الله عنه ته امر وکړه چې خلکو ته لمونځ ورکړي، عائشه رضي الله عنها وايي: حفصې رضي الله عنها ته مي وويل: ورته

ووايه كه ابوبكر رضي الله عنه ستا پر ځاى ودرېږي، نو له ډېري ژړا به خلكو ته (قرائت) نه شي اورولى، نو عمر رضي الله عنه ته امر وكړه چي خلكو ته لمونځ وركړي، حفصې رضي الله عنها همداسي وكړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (مه؛ تاسي د يوسف (عليه السلام) صواحبي يئ، ابوبكر رضي الله عنه ته امر وكړئ چي خلكو ته لمونځ وركړي). نو حفصې رضي الله عنها عائشې رضي الله عنها ته وويل: له تا مي هيڅكله خير نه دئ ليدلى.

تكرار: 198، 664، 665، 683، 687، 712، 713، 716، 2588، 3099، 3384، 4442، 4445، 5714، 7303

توپير: دا په 664 او 198 رواياتو كي څېړل شوى.

د ځينو له نظره دلته عائشه او حفصه رضي الله عنهما د دې لپاره له صواحب يوسف (هغه مېرمني چي يوسف عليه السلام ئې احاطه كړى وو) سره تشبيه شوي چي د عزيز مصر مېرمني خپلو سيالانو ته د دې لپاره مېلمستيا برابره كړې وه چي يوسف وگوري او دې ته برائت وركړي، مېلمستيا بهانه وه او د زړه خبره ئې بېله وه، عائشې رضي الله عنها هم په ظاهر كي دا خبره كوله چي ابوبكر رضي الله عنه نرم زړى دئ خو په زړه كي ئې دا خبره وه چي وېرېدله د دې د پلار له امامت وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رحلت دردوونكي پېښه رامنځته نشي او خلك ئې په بد فالۍ ونه نيسي. په بل تعبير دوى د يوسف عليه السلام له وروڼو سره تشبيه شوې خو د وروڼو پر ځاى د صواحب نوم ورته كارول شوى، يعني لكه چي هغوى پر يوسف عليه

السلام ظلم وکړ تاسو پر ابوبکر رضي الله عنه ظلم کوئ. دا توجيه تر مخکنۍ غوره او دقيقه ده. د مصر هغه مېرمني چي د عزيز مصر مېرمني راغونډي کړې وې؛ دوی نه د يوسف عليه السلام صواحبي وې او نه عائشه او حفصه رضي الله عنهما له هغوی سره تشبيه کول صحيح تشبيه ده؛ داسي تشبيه اصلاً غلطه تشبيه ده او له موضوع سره قطعاً اړخ نه لګوي.

401- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِى أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ الأَنْصَارِيُّ- وَكَانَ تَبِعَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَخَدَمَهُ وَصَحِبَهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَانَ يُصَلِّى لَهُمْ فِى وَجَعِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم الَّذِى تُوُفِّىَ فِيهِ، حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ الاِثْنَيْنِ وَهُمْ صُفُوفٌ فِى الصَّلاَةِ، فَكَشَفَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سِتْرَ الْحُجْرَةِ يَنْظُرُ إِلَيْنَا، وَهْوَ قَائِمٌ كَأَنَّ وَجْهَهُ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ، ثُمَّ تَبَسَّمَ يَضْحَكُ، فَهَمَمْنَا أَنْ نَفْتَتِنَ مِنَ الْفَرَحِ بِرُؤْيَةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، فَنَكَصَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ الصَّفَّ، وَظَنَّ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم خَارِجٌ إِلَى الصَّلاَةِ، فَأَشَارَ إِلَيْنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ أَتِمُّوا صَلاَتَكُمْ، وَأَرْخَى السِّتْرَ، فَتُوُفِّىَ مِنْ يَوْمِهِ. (بخاري:680)

401- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغي ناروغتيا په ورځو کي چي په کي وفات شو، ابوبکر رضي الله عنه دوی ته لمونځ ورکاوو، تر هغه چي د دوشنبې ورځ شوه او په داسي حال کي چي دوی د لمانځه لپاره په صفونو کي ولاړ ول؛ رسول

الله صلى الله عليه و سلم د خوني پرده پورته کړه او په ولاړه ئې موږ ته کتل، مخ ئې د مصحف (د زېړي پاڼي) په شان وو، بيا ئې تبسم وکړ، وئې خندل، موږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ليدو دومره خوشحال شوو چي نژدې وه لمونځ پرېږدو، ابوبکر رضي الله عنه گمان وکړ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم لمانځه ته راوتونکی دئ، په شا راغی چي صف ته ورسېږي، خو رسول الله صلى الله عليه و سلم اشاره راته وکړه چي (لمونځ بشپړ کړئ)، پرده ئې واچوله او په همدې ورځ ئې رحلت وکړ.

تکرار: 681، 754، 1205، 4448

توپير: په يوه کي لَمْ يَخْرُجِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ثَلاَثًا، راغلي او په بل کي أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَانَ يُصَلِّى لَهُمْ فِى وَجَعِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم الَّذِى تُوُفِّىَ فِيهِ، په يوه کي فَأُقِيمَتِ الصَّلاَةُ، فَذَهَبَ أَبُو بَكْرٍ يَتَقَدَّمُ فَقَالَ نَبِىُّ الله صلى الله عليه و سلم بِالْحِجَابِ فَرَفَعَهُ، په بل کي حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ الاِثْنَيْنِ وَهُمْ صُفُوفٌ فِى الصَّلاَةِ، فَكَشَفَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم سِتْرَ الْحُجْرَةِ يَنْظُرُ إِلَيْنَا، په يوه کي فَلَمَّا وَضَحَ وَجْهُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم مَا نَظَرْنَا مَنْظَرًا كَانَ أَعْجَبَ إِلَيْنَا مِنْ وَجْهِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم حِينَ وَضَحَ لَنَا، په بل کي كَأَنَّ وَجْهَهُ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ، ثُمَّ تَبَسَّمَ يَضْحَكُ، په بل کي بَيْنَمَا الْمُسْلِمُونَ فِى صَلاَةِ الْفَجْرِ لَمْ يَفْجَأْهُمْ إِلاَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم كَشَفَ سِتْرَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَنَظَرَ إِلَيْهِمْ وَهُمْ صُفُوفٌ، فَتَبَسَّمَ يَضْحَكُ، په يوه کي فَأَوْمَأَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ إِلَى أَبِى بَكْرٍ أَنْ يَتَقَدَّمَ، په بل کي وَنَكَصَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه عَلَى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ لَهُ الصَّفَّ فَظَنَّ أَنَّهُ يُرِيدُ

الْخُرُوجَ فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَتِمُّوا صَلاَتَكُمْ، فَأَرْخَى السِّتْرَ، وَتُوُفِّىَ مِنْ آخِرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ، په بل کي وَأَرْخَى النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم الْحِجَابَ، فَلَمْ يُقْدَرْ عَلَيْهِ حَتَّى مَاتَ راغلي.

(۳۳) باب: څوک چي امامت ته مخکي شي او لومړی امام راشي

402- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِى حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِىِّ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم ذَهَبَ إِلَى بَنِى عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمْ فَحَانَتِ الصَّلاَةُ فَجَاءَ الْمُؤَذِّنُ إِلَى أَبِى بَكْرٍ فَقَالَ أَتُصَلِّى لِلنَّاسِ فَأُقِيمَ قَالَ نَعَمْ. فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ، فَجَاءَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَالنَّاسُ فِى الصَّلاَةِ، فَتَخَلَّصَ حَتَّى وَقَفَ فِى الصَّفِّ، فَصَفَّقَ النَّاسُ- وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ لاَ يَلْتَفِتُ فِى صَلاَتِهِ- فَلَمَّا أَكْثَرَ النَّاسُ التَّصْفِيقَ الْتَفَتَ فَرَأَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم، فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَنِ امْكُثْ مَكَانَكَ، فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه يَدَيْهِ، فَحَمِدَ الله عَلَى مَا أَمَرَهُ بِهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مِنْ ذَلِكَ، ثُمَّ اسْتَأْخَرَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى اسْتَوَى فِى الصَّفِّ، وَتَقَدَّمَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَصَلَّى، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ "يَا أَبَا بَكْرٍ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَثْبُتَ إِذْ أَمَرْتُكَ". فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا كَانَ لِابْنِ أَبِى قُحَافَةَ أَنْ يُصَلِّىَ بَيْنَ يَدَىْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَا لِى رَأَيْتُكُمْ أَكْثَرْتُمُ التَّصْفِيقَ مَنْ رَابَهُ شَىْءٌ فِى صَلاَتِهِ فَلْيُسَبِّحْ، فَإِنَّهُ إِذَا سَبَّحَ الْتُفِتَ إِلَيْهِ، وَإِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ".

(بخاري:684)

402- له سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د بني عمرو بن عوف قبيلې ته ورغى چي تر منځ ئې صلح وکړي، نو د لمانځه وخت شو، مؤذن ابوبکر رضي الله عنه ته راغى او ورته وئې ويل: آيا خلکو ته لمونځ ورکوې چي اقامت ووايم؟ ابوبکر رضي الله عنه وويل: هو؛ بيا ابوبکر رضي الله عنه مخکي شو، په داسي حال کي چي خلک په لمانځه کي ول رسول الله صلى الله عليه و سلم راغى، مخکي ولاړ تر هغه چي په صف کي ودرېد، خلکو لاسونه وپړکول، ابوبکر رضي الله عنه به په لمانځه کي هيڅ شي ته التفات نه کاوو خو کله چي خلکو زيات لاسونه وپړکول، متوجه شو، او رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې وليد، رسول الله صلى الله عليه و سلم اشاره ورته وکړه چي (پر خپل ځاى اوسه)، نو ابوبکر رضي الله عنه لدې امله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا امر ورته وکړ، خپل لاسونه پورته کړل او د الله تعالى حمد او ثناء ئې وويله، بيا راوروسته شو تر هغه چي په صف کي ودرېد، او رسول الله صلى الله عليه و سلم وړاندي شو او لمونځ ئې وکړ، کله چي له لمانځه فارغ شو، وئې فرمايل: (اې ابوبکره! کله چي مي درته امر وکړ چي په خپل ځاى پاته شه څه شي ستا مخنيوى وکړ؟) ابوبکر رضي الله عنه وويل: د ابي قحافه زوى ته نه ښايي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي خلکو ته لمونځ ورکړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم نورو خلکو ته وفرمايل: (ولي مو دومره ډېر لاسونه پړکول؟ که کوم څه څوك په لمانځه کي مشوش کړي نو تسبيح (سبحان الله) دې ووايي، ځکه چي کله سبحان الله ووايي نو د خلکو پام ورته

راګرځي، او لاس پرکول خاص د ښځو لپاره دي).

تکرار: 1201، 1204، 1218، 1234، 2690، 2693، 7190

توپیر: په یوه کي فَجَاءَ الْمُؤَذِّنُ، په بل کي فَجَاءَ بِلاَلٌ، په یوه کي فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ، فَتَخَلَّصَ حَتَّى وَقَفَ فِى الصَّفِّ، په بل کي يَمْشِى فِى الصُّفُوفِ يَشُقُّهَا شَقًّا حَتَّى قَامَ فِى الصَّفِّ الأَوَّلِ، په یوه کي فَصَفَّقَ النَّاسُ، په بل کي فَأَخَذَ النَّاسُ بِالتَّصْفِيحِ (التَّصْفِيحُ هُوَ التَّصْفِيقُ)، په یوه کي فَأَشَارَ إِلَيْهِ- أَنِ امْكُثْ مَكَانَكَ، په بل کي فَأَشَارَ إِلَيْهِ مَكَانَكَ، په یوه کي ثُمَّ اسْتَأْخَرَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى اسْتَوَى فِى الصَّفِّ، په بل کي ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرَى وَرَاءَهُ، په یوه کي وَإِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ، په بل کي التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيحُ لِلنِّسَاءِ، په یوه کي مَنْ رَابَهُ شَىْءٌ فِى صَلاَتِهِ فَلْيُسَبِّحْ، په بل کي نَابَهُ شَىْءٌ فِى صَلاَتِهِ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ الله راغلي.

د بخاري د اسنادو له مخي دا روایت په صحابه وو کي یوازي سهل بن سعد رضي الله عنه او په تابعینو کي یوازي ابن ابي حازم روایت کړی، نه د صحاح سته نورو کتابونو راوړی او نه نورو معتبرو کتابونو، وجه ئې دا ده چي دا روایت له هغه سره تعارض لري چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د صفونو له منځه مخکي تېرېدل او مخکني صف ته ځان رسول منع کړي، دا ممکنه نه ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم خلك له کوم کار نه منع کړي او په خپله ئې وکړي، قرآن دا د نبوت یوه نښه ګڼي چي هغوی هغه کار هیڅکله نه کوي چي خلك ترې منع کوي، داسي هم نه ده چي د ابوبکر رضي الله عنه په امامت کي د ده لمونځ

صحيح نه وو، كه داسي وى نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به ابوبكر رضي الله عنه ته دا اشاره نه كوله چي پر خپل ځاى پاته شه او امامت ته دوام وركړه، د ابوبكر رضي الله عنه شا ته كېدا د رسول الله صلى الله عليه و سلم د توقير او احترام لپاره وو نه له دې امله چي دا كار ناجائز وو؛ دا ځكه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم هيڅكله په ناجائز كار څوك نه گماري. دا پوښتنه هم راولاړيږي چي ابوبكر رضي الله عنه څنگه رسول الله صلى الله عليه و سلم وليد، دا كار خو يوازي په هغه صورت كي ممكن دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د قبلې له لوري راغلى وي نه له شا او يا دا چي ابوبكر رضي الله عنه مخ اړولى او شا ته ئې كتلي وي.

(٣٤) باب: امام د دې لپاره دئ چي اقتداء ورپسي وشي

403 . عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ"؟ قُلْنَا: لا هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ، قَالَ: "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ". قَالَتْ: فَفَعَلْنَا، فَاغْتَسَلَ، فَذَهَبَ لِيَنُوءَ، فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ صلى الله عليه و سلم: "أَصَلَّى النَّاسُ"؟ قُلْنَا: لا، هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ الله، قَالَ: "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ". قَالَتْ: فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ، فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ"؟ قُلْنَا: لا، هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ الله، فَقَالَ: "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ". فَقَعَدَ، فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ، فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ"؟

فَقُلْنَا: لا، هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ الله، وَالنَّاسُ عُكُوفٌ فِي الْمَسْجِدِ، يَنْتَظِرُونَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم لِصَلاةِ الْعِشَاءِ الاخِرَةِ، فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِلَى أَبِي بَكْرٍ بِأَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، فَأَتَاهُ الرَّسُولُ فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَأْمُرُكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَكَانَ رَجُلاً رَقِيقًا: يَا عُمَرُ، صَلِّ بِالنَّاسِ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: أَنْتَ أَحَقُّ بِذَلِكَ، فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الايَّامَ. (بخاري:687)

403- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: کله چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم ناروغي سخته شوه، وئې فرمايل: (آيا خلکو لمونځ کړی)؟ موږ وويل: نه، يا رسول الله! هغوی تا ته انتظار کوي، وئې فرمايل: (په طشت کي اوبه راته واچوئ)، عائشه رضي الله عنها وايي: موږ همداسي وکړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم غسل وکړ، او د تلو اراده ئې وکړه، خو بې هوشه شو، بيا په هوش راغی، او وئې فرمايل: (آيا خلکو لمونځ کړی؟) موږ وويل: نه هغوی ټول ستا انتظار کوي، وئې فرمايل: (په طشت کي اوبه راته واچوئ)، عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم کښېناست او غسل ئې وکړ، بيا ئې وغوښتل پورته شي، خو بې هوشه شو، بيا په هوش راغی او وئې فرمايل: (آيا خلکو لمونځ کړی؟) موږ وويل: نه، يارسول الله! هغوی ستا انتظار باسي. وئې فرمايل: (په طشت کي اوبه راته واچوئ) بيا کښېناست او غسل ئې وکړ، بيا ئې اراده وکړه چې پورته شي، خو بې هوشه شو، بيا په هوش راغی او وئې فرمايل: (آيا خلکو لمونځ کړی؟) موږ وويل: نه، هغوی ستا انتظار کوي يا رسول الله! پدې وخت کي خلک په جومات کي ناست وو او د رسول الله صلى الله

عليه و سلم انتظار ئې يوست چې د ماخستن لمونځ ورپسې وکړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ابوبکر رضي الله عنه ته د چا په لاس احوال وليږو چې خلکو ته لمونځ ورکړي، هغه شخص ابوبکر رضي الله عنه ته ورغی او ورته وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم امر درته کوي چې خلکو ته لمونځ ورکړې، ابوبکر چې ډېر نرم زړی شخص وو وئې ويل: اې عمره! ته خلکو ته لمونځ ورکړه، عمر رضي الله عنه ورته وويل: ته د دې کار لپاره تر ما غوره يې، نو بيا ابوبکر رضي الله عنه همغه څو ورځې د لمانځه امامت کاوو.

تکرار: 198، 664، 665، 679، 683، 712، 713، 716، 2588، 3099، 3384، 4442، 4445، 5714، 7303

توپير: د دې روايت شرح په 198، 664 رواياتو کې وګورئ

404 . عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها حديث صَلاة النبي صلى الله عليه و سلم فِي بَيْتِهِ وَهُوَ شَاكٍ تقدم، وفي هذه الرواية قال: "فَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا". (بخاري:688)

404- له عائشې رضي الله عنها روايت شوی هغه حديث چې د ناروغتيا په حال کې په کور کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه په اړه دئ مخکې تېر شو، پدې حديث کې ئې راځي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (او که امام په ناسته لمونځ کاوو، نو تاسې هم په ناسته لمونځ کوئ).

تکرار: دا روايت له دوو لارو روايت شوی، هم د

ابوهريره رضي الله عنه له لاري او هم د عائشې رضي الله عنها له لاري، خو عائشه رضي الله عنها يو بل روايت هم لري چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ناروغۍ په وخت کي خلکو ته لمونځ ورکړ، دی ناست وو او خلك ولاړ وو، ځيني په دغه روايت استناد کوي او وايي چي دا روايت د نورو لپاره د ناسخ حيثيت لري. داسي معلومېږي چي له دغو دواړو رواياتو يو ئې په فرض او بل ئې په نفل لمونځونو پوري ارتباط لري، د عائشې رضي الله عنها هغه روايت چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم په کور کي خلکو ته لمونځ ورکړ او خلکو ته ئې وويل چي تاسو هم په ناست امام پسي په ناسته لمونځ وکړئ؛ نفل لمونځ وو او هغه بل ئې فرض لمونځ، ښايي د ابوهريره رضي الله عنه روايت هم د نفل لمانځه په اړه وي. ځکه په ناست امام پسي په ولاړه لمونځ ثابت دئ.

(٣٥) باب: مقتدي به څه وخت سجده کوي؟

405- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الله بْنُ يَزِيدَ قَالَ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ- وَهْوَ غَيْرُ كَذُوبٍ- قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَقَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سَاجِدًا، ثُمَّ نَقَعُ سُجُودًا بَعْدَهُ. (بخاري:690)

405- له براء رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: (سمع الله لمن حمده)، له موږ به هيچا تر هغه پوري شا نه کړوله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په سجده نه وو پرېوتی،

بيا به موږ له دې وروسته په سجده پرېوتلو.
تکرار: 747، 811

توپير: په يوه کي كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَقَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سَاجِدًا، په بل کي أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا صَلَّوْا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَرَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَامُوا قِيَامًا حَتَّى يَرَوْنَهُ قَدْ سَجَدَ، په بل کي لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَضَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم جَبْهَتَهُ عَلَى الأَرْضِ راغلي.

(٣٦) باب: له امام مخکي د سر پورته کولو ګناه

406- حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ- أَوْ لاَ يَخْشَى أَحَدُكُمْ- إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ الله رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ الله صُورَتَهُ صُورَةَ حِمَارٍ". (بخاري:691)

406- له محمد بن زياد روايت دئ چي وايي: له ابوهريره رضي الله عنه مي واورېدل چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې داسي روايت کاوو چي وئې فرمايل: (آيا له تاسي کوم يو لدې وېره نلري چي که له امام مخکي سر پورته کړي، الله به ئې سر د خره د سر په شان کړي او يا به ئې شکل د خره د شکل په شان وګرځوي).

تکرار: دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی، له ابن ماجه پرته نورو صحاح سته هم راوړی، خو په صحابه وو کي هم يو راوي لري او په تابعينو کي هم، نه په صحابه وو کي بل چا دا خبره کړې ده او نه په تابعينو کي، په اسنادو

كي د كمزورۍ تر څنګ څو پوښتني راولاړوي: 1- له امام مخكي سر پورته كول غلطي ده خو نه دومره ستره ګناه ده چي څوك له ايمانه پرې ووځي او نه دا چي مسخ شي، 2- په اسلامي امت كي مسخ كېدا نشته، 3- پيغمبر عليه السلام به ولي د داسي وړې غلطۍ په اړه دومره سخت الفاظ كارول. 4- ولي نه په صحابه وو كي بل چا دا خبره كړې ده او نه په تابعينو كي؟

(٣٧) باب: د مريي او آزاد شوي امامت

407- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ". (بخاري:693)

407- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي له نبي صلى الله عليه و سلم ئې روايت كړى چي فرمايلي ئې دي: (واورئ او اطاعت كوئ، كه څه هم داسي يو حبشي عامل او آمر ټاكل شوى وي چي سر ئې د مميز په څېر وي).

تكرار: 696، 7142

توپير: په يوه كي "اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ، په بل كي اسْمَعْ وَأَطِعْ، وَلَوْ لِحَبَشِيٍّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ، په بل كي اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ راغلي. د نورو كتابونو په دې روايت كي دا فقره هم راغلې: مَا أَقَامَ فيكُم كِتَابَ الله: تر هغه چي په تاسو كي د الله كتاب پلى كوي). له دې فقرې پرته دا روايت بشپړ نه دئ او كېدى شي غرضي او مرضي خلك غلطه استفاده ترې وكړي او ووايي: هر څوك چي درباندي

مسلط شو د هغه اطاعت وکړئ، مه ئې عمل ته ګورئ او مه ئې عقيدې ته!!

دا روايت په نورو کتابونو کي هم راغلی خو غريب دئ، په صحابه وو کي يوازي انس رضي الله عنه او په تابعينو کي يوازي ابو التياح روايت کړی، الباني صحيح ګڼلی خو هغه ئې ترې غوره کړی چي استعمل عليكم په کي راغلي. د روايت معنی دا ده چي که په اسلامي ټولني کي د مسلمان امير له لوري داسي عامل او آمر دربانديي وټاکل شو چي تورپوستی وي او سر ئې ډېر ووړ؛ نو خبره ئې اورئ او اطاعت ئې کوئ، د دې معنی دا نه ده چي د هر حاکم او آمر اطاعت به کوئ، ځيني دا روايت غلط تعبيروي، د ځينو اسلامي ملکونو په راډيو ګانو او تلويزينونو کي دا روايت هره ورځ په مکرره توګه ويل کېږي، په دې موخه چي خلك د حاکم نظام اطاعت ته چمتو کړي. خو نه د روايت دا برخه ورسره راوړي چي مَا أَقَامَ فيكُم كِتَابَ الله: تر هغه چي په تاسو کي د الله کتاب پلی کوي او نه دا روايت چي لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق: د هيڅ مخلوق اطاعت په هغه څه کي نشته چي د الله تعالی له حکم سرغړاوی وي.

38- باب: که امام لمونځ پوره نه کړي او مقتديان ئې پوره کړي

408 . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ: "يُصَلُّونَ لَكُمْ، فَإِنْ أَصَابُوا فَلَكُمْ، وَإِنْ أَخْطَئُوا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ". (بخاري:694)

408- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله

صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (امامان تاسي ته لمونځ درکوي، که ئې سم وکړ، نو ثواب ئې تاسو ټولو ته دئ (تاسو او امام ته) او که غلطي ئې وکړه نو د لمانځه ثواب ئې ستاسو دئ او ګناه ئې د دوی ده).

تکرار: دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی، غریب دئ، په صحابه وو کي هم یو راوي لري او په تابعینو کي هم، دا اشکال لري چي که خطأ د هېري او نسیان په معنی ونیول شي نو نه پر امام څه ګناه شته او نه پر مقتدیانو، د سهوي په سجدې سره لمونځ صحیح کېږي، خطأ ته یوازي هغه مهال د ګناه په سترګه کتلی شو چي امام په بد نیت، یا بې اودسه لمونځ ورکړی وي یا ئې خفیه قرائت غلط ویلی وي.

(۳۹) باب: که دوه کسان په جمعه لمونځ کوي

409 . عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما حديث مبيته في بيت خالته قد تقدم وفي هذه الرواية قال: ثُمَّ نَامَ حَتَّى نَفَخَ وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ، ثُمَّ أَتَاهُ الْمُؤَذِّنُ فَخَرَجَ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. (بخاري:698)

409- له ابن عباس رضي الله عنهما هغه حدیث مخکي تېر شو چي وایي: یوه شپه ئې د خاله په کور کي ویده شوی وو... پدې روایت کي وایي: بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ویده شو، چي د ویده کېدو ږغ ئې واورېدل شو، او هغه داسي وو چي کله به ویده شو، نو د ویدېدو ږغ به ئې اورېدل کېدو، بیا مؤذن ورته راغی، او پرته له دې چي اودس وکړي له کوره ووت او لمونځ ئې وکړ.

تکرار: 117، 138، 183، 698، 699، 726، 728، 859، 992، 1198، 4569، 4570، 4571، 4572،

5919، 6215، 6316، 7452

توپير: دا روايت د بخاري په 117، 138، 183 رواياتو کي څېړل شوی. په صحابه وو کي يوازي يو راوي لري. بخاري دلته د دې لپاره بيا راوړی چي وښيي دوه کسان به څنګه په جمع لمونځ کوي، مقتدي به د امام ښي اړخ ته برابر ورسره ودرېږي، که ئې کيڼ لاس ته ودرېدو کولی شي تر لاس ئې ونيسي او ښي لوري ته د ودرېدو اشاره ورته وکړي.

(40) باب: که امام لمونځ اوږد کړي او څوک ترې ولاړ شي

410 . عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِالله رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ رضي الله عنه كَانَ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، ثُمَّ يَرْجِعُ فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ، فَصَلَّى الْعِشَاءَ، فَقَرَأَ بِالْبَقَرَةِ، فَانْصَرَفَ رجُلٌ، فَكَأَنَّ مُعَاذًا تَنَاوَلَ مِنْهُ، فَبَلَغَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ: "فَتَّانٌ، فَتَّانٌ، فَتَّانٌ". ثَلاثَ مِرَارٍ أَوْ قَالَ: "فَاتِنًا، فَاتِنًا، فَاتِنًا". وَأَمَرَهُ بِسُورَتَيْنِ مِنْ أَوْسَطِ الْمُفَصَّلِ. (بخاري:701)

410- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي معاذ بن جبل رضي الله عنه به له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لمونځ وکړ، بيا به ولاړ او د خپل قوم امامت به ئې کاوو، يو ځل ئې د ماخستن په لمانځه کي د بقرې سوره ولوسته، يو تن ترې ووت، او لکه چي معاذ رضي الله عنه رټلی وي، خبره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورسېده وئې فرمايل: (په فتنې کي اچوونکی، په فتنې کي اچوونکی، په فتنې کي اچوونکی) درې ځله ئې د فتان يا فاتناً کلمه

تکرار کړه، او امر ئې ورته وکړ چې له مفصلو سورتونو دوه اوسط سورتونه لولي.

یادونه: له الحجرات تر الناس پوري سورتونه د مفصل په نامه یادیږي چې په دریو برخو وېشل شوي: طوال مفصل له الحجرات تر البروج پوري، اوساط مفصل له البروج نه تر البینه پوري او قصار مفصل له البینه نه تر الناس پوري.

تکرار: 700، 705، 711، 6106

توپیر: په یوه کي فَقَرَأَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ أَوِ النِّسَاءِ، په بل کي فَقَرَأَ بِهِمُ الْبَقَرَةَ، په یوه کي فَانْطَلَقَ الرَّجُلُ، وَبَلَغَهُ أَنَّ مُعَاذًا نَالَ مِنْهُ، په بل کي- فَتَجَوَّزَ رَجُلٌ فَصَلَّى صَلاَةً خَفِيفَةً، په یوه کي فَبَلَغَ ذَلِكَ مُعَاذًا فَقَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ، په یوه کي فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَشَكَا إِلَيْهِ مُعَاذًا، په بل کي فَبَلَغَ ذَلِكَ الرَّجُلَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله إِنَّا قَوْمٌ نَعْمَلُ بِأَيْدِينَا، وَنَسْقِى بِنَوَاضِحِنَا، وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى بِنَا الْبَارِحَةَ، فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ فَتَجَوَّزْتُ، فَزَعَمَ أَنِّى مُنَافِقٌ، په یوه کي يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ- أَوْ فَاتِنٌ ثَلاَثَ مِرَارٍ- فَلَوْلاَ صَلَّيْتَ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ، وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا، وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى، فَإِنَّهُ يُصَلِّى وَرَاءَكَ الْكَبِيرُ وَالضَّعِيفُ وَذُو الْحَاجَةِ راغلي. پر دغو توپیرونو سربېره دا مطلب هم په پام کي ولرئ چې د معاذ بن جبل رضي الله عنه په څېر ستر او متقي صحابي ډېره لري خبره ده چې یوه مسلمان ته د منافق خطاب وکړي. دې ته مو هم پام وي چې دا روایت په صحابه وو کي یوازي یو راوي لري. په دې اړه هم د علماءو تر منځ اختلاف دئ چې آیا داسي څوك په فرض لمانځه کي د خلکو امامت کولی شي چې تر دې د مخه ئې همدا لمونځ کړی وي، ځیني په دغه

روایت استناد کوي او دا کار جائز ګڼي، ځیني وایي چي نفل کوونکی باید د هغو خلکو امامت ونه کړي چي فرض لمونځ کوي. د دې روایت په اړه وایي چي ښایي معاذ رضي الله عنه به د ماښام لمونځ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره کړی وي او د ماخستن لمونځ به ئې خلکو ته ورکړی وي. دا ځکه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې ممانعت کړی چي د یوه وخت فرض لمونځ دوه ځلي وشي، البته داسي لمونځ د هغه چا لپاره مانع نه لري چي دوهم ځل ئې د بل په اقتداء کي د نفل په نیت کوي. غوره رأیه دا ده چي د فرض لمانځه امامت هغه څوك وکړي چي فرض لمونځ کوي او د هغه مهال لمونځ ئې مخکي نه وي کړی، دا هم صحیح نه ده چي امام خپل مقتدیان په اوږده انتظار کي پرېږدي او بیا په لمانځه کي اوږد قرائت وکړي.

(٤١) باب: په قرائت کي تخفیف

411 . عن أبي مَسْعُودٍ رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلاً قَالَ: وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي لأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلاةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلانٍ، مِمَّا يُطِيلُ بِنَا، فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ، فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ". (بخاري:702)

411- له ابو مسعود رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: یوه سړي وویل: یا رسول الله! والله چي زه د سحر له لمانځه له دې امله وروسته کیږم چي فلانی ئې راباندي اوږدوي، نو ما رسول الله صلی الله علیه و سلم په هیڅ خطبه کي دومره غصه ناك نه دئ لیدلی لکه په دغه ورځ

چي مي وليد، بيا ئې وفرمايل: يقيناً چي له تاسو ځيني منفرين (زړه بدوونكي) دي، نو له تاسو چي هر څوك خلكو ته لمونځ وركوي لنډوالى دي وكړي، ځكه په دوى كي كمزوري، زاړه او د حاجت خاوندان وي.

تكرار: 90، 704، 6110، 7159

توپير: دا روايت په 90 روايت كي څېړل شوى.

412- عن جَابِرٍ رضي الله عنه حديث معاذ رضي الله عنه وأن النبي قَالَ لَهُ: "فَلَوْلا صَلَّيْتَ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى". (بخاري:705)

412- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي همغه د معاذ رضي الله عنه حديث رانقلوي او وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويل: (ولي دي په لمانځه كي سبح اسم ربک الاعلى، والشمس وضحاها او والليل اذا يغشى نه لولې)؟

(42) باب: بشپړ خو مختصر لمونځ

413 . عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُوجِزُ الصَّلاةَ وَيُكْمِلُهَا. (بخاري:706)

413- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به لمونځ لنډ خو بشپړ كاوو.

(٤٣) باب: څوک چي د ماشوم د ژړا له امله لمونځ لنډ كړي

414 . عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رضي الله عنه: عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: "إِنِّي لأَقُومُ فِي الصَّلاةِ أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا، فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ،

فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلاتِي، كَرَاهِيَةَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمِّهِ". (بخاري:707)

414- ابوقتاده رضي الله عنه له نبي صلى الله عليه و سلم روايت كوي چي فرمايلي ئې دي: (زه چي په لمانځه ودرېږم، غواړم چي اوږدوالى په كي وكړم، خو كله چي د ماشوم ژړا واورم، نو د دې لپاره چي په مور ئې سخته تمامه نشي، خپل لمونځ لنډوم).

تكرار: 868

توپير: په يوه كي إِنِّي لأَقُومُ إِلَى الصَّلاَةِ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا، په بل كي إِنِّي لأَقُومُ فِي الصَّلاةِ أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا راغلي.

(٤٤) باب: د صفونو برابرول

415 . عن النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رضي الله عنه يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ الله بَيْنَ وُجُوهِكُمْ". (بخاري:717)

415- له نعمان بن بشير رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (يا به حتماً خپل صفونه برابروئ او يا به الله تعالى حتماً ستاسي تر منځ اختلاف واچوي)

د ليخالفن الله بين وجوهكم بېل بېل تعبيرونه شوي چي غوره ئې همدا پورتنى تعبير دئ، د حديث مطلب دا دئ چي د لمانځه په صف كي منظم، يو د بل څنگ ته، له وړاندي او وروسته پرته ودرېږئ، كه نه نو د هر چا مخ لورى به بدل شي، په زړونو كي به ئې اختلاف راولاړ شي، هغه څوك له بل لري يا مخكي وروسته ودرېږي چي يا له خپل همځنگ

كركه لري يا ځان ترې لوړ ګڼي. څوك چي له دې امله په صف كي تش ځاى پرېږدي او له بل لري ودرېږي په حقيقت كي د شيطان لپاره فرجه او تش ځاى پرېږدي.

(٤٥) باب: د صفونو برابرولو وخت كي مقتديانو ته د امام كتل

416- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي رَجَاءٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ بْنُ قُدَامَةَ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِوَجْهِهِ فَقَالَ "أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا، فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي". (بخاري:719)

416- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د لمانځه اقامت وويل شو، نبي صلى الله عليه و سلم مخ راواړاوو او وئې فرمايل: (خپل صفونه مو منظم او برابر كړئ او يو بل ته نژدې ودرېږئ، ځكه زه له شا نه تاسو ګورم).

تكرار: 719، 725

توپير: په يوه كي أَقِيمُوا الصُّفُوفَ فَإِنِّى أَرَاكُمْ خَلْفَ ظَهْرِى، په بل كي أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا، فَإِنِّى أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِى راغلي او، په يوه كي دا هم راغلي وَكَانَ أَحَدُنَا يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ وَقَدَمَهُ بِقَدَمِهِ.

دا روايت ډېر غريب دئ په صحابه وو او تابعينو كي يوازي يو يو راوي لري، البته دې ته ورته بل روايت هم شته چي له ابو سعيد خدري روايت شوى او هغه هم ډېر غريب دئ، د دې روايت د الفاظو او مطلب په اړه څو پوښتني راولاړېږي چي امام بخاري رحمه الله د هغوى

ځواب نه دئ ویلی: 1- ولي دا خبره یوازي انس رضي الله عنه کړې؟ 2- رسول الله صلی الله علیه و سلم خو خلکو ته مخامخ ودرېدلی او فرمایلي ئې دي: خپل صفونه برابر او منظم کړئ او نژدې نژدې ودرېږئ، صحابه ئې مخامخ لیدل، ډېر ځلي به ئې هغه څوك په صف کي سم ودراوو چي مخکي یا وروسته به ولاړ وو، نو د دې خبري ضرورت څه وو چي ووایي: زه له شا نه تاسو ګورم، او ارتباط ئې له مخکنۍ برخي سره څه دئ؟! دا خبره خو به ئې هغه مهال کوله چي د لمانځه په دوران کي ئې له شا نه څوك کوږ وو یا له بل لري لیدلی وی او بیا ئې له لمانځه وروسته دا خبره کړې وی؟ 3- ګڼ شمېر روایات وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمانځه په وخت کي له مقتدیانو هغه څوك نه دئ پېژندلی چي څه ئې ویلي، له لمانځه وروسته ئې پوښتنه کړې چي دا څوك وو؟ 4- قرآن خو په ډېر تأکید او تکرار سره وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب نه پوهېدو خو دا روایت وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له شا نه خلك په لمانځه کي لیدل!! 5- آیا داسي غریب او له نورو روایاتو سره متعارض روایت د قرآن د صریح او قاطع وینا په خلاف منلی شو؟

(٤٦) باب: که د امام او مقتدیانو تر منځ دېوال او یا پرده وي

417- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى مِنَ اللَّيْلِ فِى حُجْرَتِهِ، وَجِدَارُ الْحُجْرَةِ قَصِيرٌ، فَرَأَى النَّاسُ

شَخْصَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَامَ أُنَاسٌ يُصَلُّونَ بِصَلاَتِهِ، فَأَصْبَحُوا فَتَحَدَّثُوا بِذَلِكَ، فَقَامَ لَيْلَةَ الثَّانِيَةِ، فَقَامَ مَعَهُ أُنَاسٌ يُصَلُّونَ بِصَلاَتِهِ، صَنَعُوا ذَلِكَ لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلاَثَةً، حَتَّى إِذَا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ جَلَسَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَلَمْ يَخْرُجْ، فَلَمَّا أَصْبَحَ ذَكَرَ ذَلِكَ النَّاسُ فَقَالَ "إِنِّي خَشِيتُ أَنْ تُكْتَبَ عَلَيْكُمْ صَلاَةُ اللَّيْلِ". (بخاري:729)

417- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د شپې له مخي په خپلې حجرې (خوني) کي لمونځ کاوو، د حجرې دېوال تيټ وو، نو خلکو رسول الله صلى الله عليه و سلم وليد(چي لمونځ کوي)، يو شمېر خلک پاڅېدل او په رسول الله صلى الله عليه و سلم پسي ئې لمونځ پيل کړ، چي سهار شو، يوه له بل سره دا خبره وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم دوهمه شپه هم پاڅېد لمونځ ئې کاوو، خلک ورسره ودرېدل او لمونځ ئې پسي پيل کړ، دا کار ئې دوه يا درې شپې وکړ، تر هغه چي له دې وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم په کور کښېناست او (د شپې د لمانځه لپاره) ونه وت، کله چي سهار شو، خلکو د دې خبرې يادونه وکړه، وئې فرمايل: (زه له دې ووېرېدم چي هسي نه د شپې لمونځ درباندي فرض شي).

تکرار: 730، 924، 1129، 2011، 2012، 5861

توپير: په يوه کي يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ فِي حُجْرَتِهِ، وَجِدَارُ الْحُجْرَةِ قَصِيرٌ، په بل کي كَانَ لَهُ حَصِيرٌ يَبْسُطُهُ بِالنَّهَارِ، وَيَحْتَجِرُهُ بِاللَّيْلِ، په بل کي خَرَجَ ذَاتَ لَيْلَةٍ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي صَلَّى ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي الْمَسْجِدِ، په

بل كي خَرَجَ لَيْلَةً مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ، فَصَلَّى فِى الْمَسْجِدِ، په بل كي كَانَ يَحْتَجِرُ حَصِيرًا بِاللَّيْلِ فَيُصَلِّى، وَيَبْسُطُهُ بِالنَّهَارِ فَيَجْلِسُ عَلَيْهِ، په يوه كي فَرَأَى النَّاسُ شَخْصَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَامَ أُنَاسٌ يُصَلُّونَ بِصَلاَتِهِ، په بل كي فَثَابَ إِلَيْهِ نَاسٌ، فَصَلَّوْا وَرَاءَهُ، په بل كي فَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلاَتِهِ، په بل كي فَصَلَّى بِصَلاَتِهِ نَاسٌ، په بل كي وَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلاَتِهِ، په بل كي فَيُصَلُّونَ بِصَلاَتِهِ راغلي، په يوه كي دا هم راغلي وَذَلِكَ فِى رَمَضَانَ او، په يوه كي يَا أَيُّهَا النَّاسُ خُذُوا مِنَ الأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ، فَإِنَّ الله لاَ يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا، وَإِنَّ أَحَبَّ الأَعْمَالِ إِلَى الله مَا دَامَ وَإِنْ قَلَّ په ځينو كي دا راغلي وَلَكِنِّى خَشِيتُ أَنْ تُفْتَرَضَ عَلَيْكُمْ فَتَعْجِزُوا عَنْهَا، په بل كي أَنِّى خَشِيتُ أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ او په بل كي إِنِّى خَشِيتُ أَنْ تُكْتَبَ عَلَيْكُمْ راغلي.

لكه چي گورئ په دې رواياتو كي توپيرونه او تعارضات تر سترگو كيږي، ځيني ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلي حجرې كي لمونځ كاوو او خلكو په جومات كي ورپسي اقتداء كړې وه، خو ځيني ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم جومات ته ولاړ او هلته خلكو په ده پسي اقتداء وكړه، بخاري دا نه دي ويلي چي كوم روايت صحيح دئ، دې پوښتني ته هم ځواب نه مومو چي: كه رسول الله صلى الله عليه و سلم درېيمه شپه هم خلكو ته لمونځ وركړى وى نو آيا دا لمونځ پر دوى فرض كېدو؟ فرض خو هغه دئ چي د الله تعالى له لوري ئې د كولو امر شوى وي! آيا د دې وينا معنى دا ده چي خلك به ئې پر ځان فرض وگڼي؟ له دغو الفاظو خُذُوا مِنَ الأَعْمَالِ مَا

تُطِيقُونَ داسي معلومېږي چي همدا تعبير صحيح دئ. اشکال په دې کي راپيدا شوی چي عائشې رضي الله عنها کومه خبره اورېدلې: دا چي پر تاسو به فرض کړی شي او که تاسو به ئې پر ځان فرض کړئ؟ دې ته مو هم پام وي چي عائشې رضي الله عنها ته ګرانه وه چي د جومات له منځه د خبري ټول الفاظ په دقت سره واوري، او دې ته مو هم پام وي چي دا روايت په صحابه وو کي يوازي له عائشې رضي الله عنها روايت شوی. لکه چي ګورئ وروستی روايت ورسره تعارض لري.

(47) باب: د شپې لمونځ

418 . وفي الحديث من رواية زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رضي الله عنه زيادة أنه قال:"قَدْ عَرَفْتُ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ، فَصَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلاةِ، صَلاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلا الْمَكْتُوبَةَ". (بخاري:731)

418- په همدې حديث کي د زيد بن ثابت رضي الله عنه په روايت کي دا زياتونه شته چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (پوه شوم چي تاسي څه کول، اې خلکو! په خپلو کورونو کي لمونځ کوئ، ځکه له فرض لمانځه پرته د سړي تر ټولو غوره لمونځ هغه دئ چي په خپل کور کي ئې وکړي).

تکرار: 6113، 7290

توپير: په يوه کي فَخَرَجَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي فِيهَا، فَتَتَبَّعَ إِلَيْهِ رِجَالٌ وَجَاءُوا يُصَلُّونَ بِصَلاَتِهِ ثُمَّ جَاءُوا لَيْلَةً فَحَضَرُوا وَأَبْطَأَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم

عَنْهُمْ، فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ فَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ وَحَصَبُوا الْبَابَ، په بل کي اتَّخَذَ حُجْرَةً فِى الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ، فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِيهَا لَيَالِىَ، حَتَّى اجْتَمَعَ إِلَيْهِ نَاسٌ، ثُمَّ فَقَدُوا صَوْتَهُ لَيْلَةً فَظَنُّوا أَنَّهُ قَدْ نَامَ، فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ مُغْضَبًا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَا زَالَ بِكُمْ صَنِيعُكُمْ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُكْتَبُ عَلَيْكم، په بل کي مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِى رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ، حَتَّى خَشِيتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ، وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهِ فَصَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِى بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ أَفْضَلَ صَلاَةِ الْمَرْءِ فِى بَيْتِهِ، إِلاَّ الصَّلاَةَ الْمَكْتُوبَةَ راغلي.

دا روايت په مخکني کي څېړل شوی. لکه چي ګورئ د دې او مخکني تر منځ تعارضات تر سترګو کېږي. همدا راز دا روايت وايي چي له فرض پرته نور لمونځونه بايد په کور کي وشي، خو دا ثابته ده چي صحابه وو تراويح په جمعه او په جومات کي کړې دي.

د لمانځه د وصف کتاب

(١) باب: له تکبير اولى سره د لاسونو پورته کول

419- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ الله عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ

يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ، وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا وَقَالَ (سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ). وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السُّجُودِ. (بخاري:735)

419- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د لمانځه په پيل او ركوع ته د تكبير ويلو په وخت كي خپل لاسونه تر اوږو پوري پورته كول، او له ركوع نه د سر پورته كولو په وخت كي به ئې همداسي لوړ كړل، او فرمايل به ئې (سمع الله لمن حمده، ربنا ولک الحمد)، خو په سجدو كي ئې داسي نه كول. يعني د سجدې په وخت كي به ئې لاسونه نه لوړول.

تكرار: 736، 738، 739

توپير: په يوه كي كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ، په بل كي إِذَا قَامَ فِى الصَّلاَةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يَكُونَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ او په بل كي كَانَ إِذَا دَخَلَ فِى الصَّلاَةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، په يوه كي وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا، په بل كي وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يُكَبِّرُ لِلرُّكُوعِ، وَيَفْعَلُ ذَلِكَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، په بل كي وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ فَعَلَ مِثْلَهُ، په بل كي وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ، په بل كي وَإِذَا قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. رَفَعَ يَدَيْهِ، په بل كي وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ، په يوه كي وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِى السُّجُودِ او په بل كي وَلاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يَسْجُدُ وَلاَ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سجدې له تكبير پرته په نورو تكبيرونو كي لاسونه تر اوږو پوري لوړول، د سمع الله لمن حمده د ويلو په وخت كي به ئې هم دا كار كولو.

د بخاري کوم روايات چې پورتنۍ خبره کوي ټول ئې يوازې عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته منسوب دي، خو له ده نه بل روايت داسې دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به يوازې په لومړي تکبير کې لاسونه لوړول بيا ئې دا کار نه کولو. په نورو کتابونو کې له ابوهريره رضي الله عنه په دې اړه داسې روايت هم راغلی چې وايي: د سجدې په تکبيرونو کې به ئې هم لاسونه لوړول. د ابوهريره رضي الله عنه روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ الله حَدَّثَنِى أَبِى حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ-صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ حِينَ يُكَبِّرُ يَفْتَتِحُ الصَّلاَةَ وَحِينَ يَرْكَعُ وَحِينَ يَسْجُدُ. بخاري: 6307

د دغو دوو رواياتو په مقابل کې داسې روايات دي چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازې په لومړي تکبير کې لاسونه لوړول بيا ئې دا کار نه کولو. بخاري دا روايات نه دي راوړي! روايات دا دي:

حدثنا أبو بكر قال حدثنا وكيع عن ابن أبي ليلى عن الحكم و عيسى عن عبد الرحمن بن أبي ليلى عن البراء بن عازب أن النبي صلى الله عليه و سلم كان إذا افتتح الصلاة رفع يديه ثم لا يرفعها حتى يفرغ. رواه ابن ابي شيبه.

حدثنا وكيع عن أبي بكر بن عبد الله بن قطاف النهشلي عن عاصم بن كليب عن أبيه أن عليا كان يرفع يديه إذا افتتح الصلاة ثم لا يعود. رواه ابن ابي شيبه

حدثنا وكيع عن مسعر عن أبي معشر عن إبراهيم عن عبد الله أنه كان يرفع يديه في أول ما يستفتح ثم لا يرفعهما. ابن ابي شيبه

حدثنا ابن مبارك عن أشعث عن الشعبي أنه كان يرفع يديه في أول التكبير ثم لا يرفعهما. ابن ابي شيبه

رواه حماد بن سلمة عن حماد بن ابى سليمان عن ابراهيم عن ابن مسعود مرسلا موقوفا (وروى) أبو بكر النهشلي عن عاصم بن كليب عن ابيه عن على رضي الله عنه انه كان يرفع يديه في التكبيرة الاولى من الصلاة ثم لا يرفع في شئ منها. رواه البيهقي

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بن إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ،"أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ شَيْءٍ، ثُمَّ لا يَرْفَعُ بَعْدُ". المعجم الكبير للطبراني: 9195

حدثنا محمد بن النعمان السقطي، حدثنا يحيى بن يحيى النيسابوري، حدثنا وكيع، عن سفيان، عن عاصم بن كليب، عن عبد الرحمن بن الأسود، عن علقمة، عن عبد الله، عن النبي صلى الله عليه وسلم: (أنه كان يرفع يديه في أول تكبيرة، ثم لا يعود) وهذا مما لا اختلاف عن ابن مسعود فيه. مشكل الآثار للطحاوي: 5096

لکه چي ګورئ پورتني روايات وايي چي براء بن عازب رضي الله عنه، علي رضي الله عنه، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به يوازي په لومړي تکبير

كي لاسونه لوړول او په نورو كي ئې نه لوړول. الشعبي وايي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت دا وو چي يوازي په تكبير اولى كي به ئې لاسونه لوړول او په نورو كي به ئې نه لوړول.

احنافو دغو رواياتو ته ترجيح وركړې، دا ځكه چي هم د دغو رواياتو شمېر زيات دئ او هم ئې راويان تر عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د پاخه عمر خاوندان. د ده يو روايت بل نفي كوي، نو آخوا ته په بخاري كي يوازي يو روايت پاته كېږي چي په تكبيرونو كي د لاسونو د لوړولو خبره كوي، خو له هغه سره هغه خلك هم موافق نه دي چي په رفع اليدين باور لري، ځكه هغوى د سجدې په تكبيرونو كي د رفع اليدين قائل نه دي او د ابوهريره رضي الله عنه روايت د سجدو په تكبيرونو كي هم د لاسونو لوړولو خبره كوي.

ابن ابي شيبه چي په 235 هجري كي وفات شوى، او تر امام بخاري هم د صحابه وو دور ته ورنږدې دئ او هم ئې خپل كتاب تر بخاري ډېر د مخه ليكلى، د رفع اليدين اړوند روايات ئې په امانت سره راوړي، د دواړو لوريو مستند روايات ئې رااخيستي، هغه هم چي د امام بخاري رحمه الله د رأيي تأييد كوي او هغه هم چي د دې رأيي خلاف دي او وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي په تكبير اولى كي لاسونه لوړ كړي. د انس رضي الله عنه هغه روايت ئې هم راوړى چي د ابوهريره رضي الله عنه روايت ته ورته دئ.

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بل روايت د لومړني

روایت خلاف راغلی او وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به یوازي په لومړي تکبیر کي لاسونه لوړول بیا ئې دا کار نه کولو.

پوښتنه دا ده چي که رفع الیدین په تکبیر پوري مربوط وي نو ولي د سجدې په تکبیرونو کي لاسونه نه پورته کوي، بیا خو په کار وه چي دوی د ابوهریره رضي الله عنه په روایت عمل کولی.

که دې موضوع ته له عقلي پلوه هم وګورو د احنافو رأیه دقیقه ده، په څو دلائلو:

امام ابوحنیفه رحمه الله تابعي دئ، له صحابه وو ئې هم روایات اورېدلي، ده ته چي کوم روایات رسېدلي ډېر لاس په لاس شوي نه دي، هر څومره چي روایات زیات لاس په لاس شي او په خپلو اسنادو کي زیات راویان ولري یعني له څلورم او پنځم راوي چا ته رسېدلي وي په هغوی کي د توپیر، تغییر او تحریف امکان تر هغو زیات وي چي له لومړي، دوهم یا درېیم راوي ترلاسه کېږي، امام بخاري اکثراً له پنځمي طبقې او نسل خپل روایات ترلاسه کړي، او امام ابوحنیفه له اول او دوهم نسل. امام ابوحنیفه رحمه الله د صحابه وو او تابعینو هغه اعمال هم په خپلو سترګو لیدلي چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم په تواتر سره له یوه نه بل نسل ته انتقال شوي، دې ته محققین تواتر بالتعامل وایي چي اعتبار ئې تر ټولو روایاتو لوړ دئ، خو امام بخاري رحمه الله ته داسي څه په لاس نه دي ورغلي. آیا د هغه چا رأیه زیات وزن لري چي صحابه ئې په خپلو سترګو لیدلي او وایي چي صحابه وو به له لومړي تکبیر پرته په

نورو کي لاسونه نه لوړول او که د هغه چا چي په پنځمي طبقې کي چا ورته ویلي چي لاسونه ئې په نورو تکبیرونو کي هم لوړول؟ طبیعي ده چي لیدل او اورېدل فرق لري او لیدونکی او اورېدونکی سره برابر نه دي، په کار دا ده چي د لمانځه او نورو مسائلو په اړه د امام ابوحنیفه رحمه الله رأیه د امام بخاري رحمه الله تر رأیي زیاته درنه او د اعتبار وړ وګڼو.

له دې علاوه لمونځ له ګڼ شمېر ډېرو مهمو او با مقصده حرکاتو جوړ شوی چي هر یو ئې ځانګړی محرك، علت او حکمت لري. لومړی حرکت، له لومړي تکبیر سره د دواړو لاسونو پورته کول دي.

تاسو پوهېږئ چي د دنیا په ګوټ ګوټ کي د ټولو انساني ټولنو ترمنځ دا عادت او دود دئ چي کله یو بل ته تسلمېږي او د هغه په خلاف له جګړي لاس اخلي نو لاسونه پورته کړي. د لاسونو دا راز پورته کول له جګړي د لاس اخستلو او د تسلیمۍ نښه ده. ته د لمانځه په پیل کي، د الله جل شأنه په وړاندي، پدې حرکت سره له بغاوت لاس اخلې او له الله جل جلاله او د ده له سننو سره له جګړي خپل برائت او بېزاري او د الله جل جلاله په مقابل کي خپله کامله تسلیمي او انقیاد اعلانوې. ښايي تا به په کومي جګړي کي، کوم کس داسي لیدلی وي چي د بل په وړاندي ئې لاسونه اوچت کړي وي او د ده له دې حرکت ته ښه پوهېدلی یې چي پدې سره هغه مقابل طرف ته څه پیغام لېږل غوښتل او د ځان له خوا ئې هغه ته د کومي خبري اطمئنان ورکولو. خو ما ته ووایه: آیا کله د لمانځه په ابتداء کي، د تکبیر تحریمه او الله

اکبر په ویلو او د لاسونو د پورته کولو په دوران کي، ستا په زړه کي دا خبره راګرځېدلې چي زه د الله په وړاندي له هر راز بغاوت لاس اخلم او خدای ته خپله کامله تسلیمي اعلانوم؟ که له دې شعور او احساس سره تا خپل لاسونه نه وي پورته کړي نو ماته ووایه چي لدې حرکت ستا مقصد څه وو؟ هسي یو تقلیدي، بې روحه او بې مقصده حرکت؟

عجیبه ده چي ځیني پدې خبره خپلو منځونو کي په شدید اختلاف کي لوېږي چي له تکبیر تحریمه سره باید لاسونه تر غوږونو پوري اوچت شي او که د غوږونو او اوږو ترمنځ او که تر اوږو پوري؟ حال دا چي د هر یوه لپاره د پیغمبر علیه السلام په عمل استناد شوی. خو پدې خبري نه فکر کوي او نه بحث چي د دې حرکت اصلي مقصد څه دئ؟ محرك ئې څه او باید د کوم احساس او شعور مظهر وي؟

دې حرکت ته یوازي د لمانځه په پیل کي ضرورت وو، له هغه وروسته نور حرکات داسي دي چي د لاسونو اوچتول نه ایجابوي، رکوع د تعظیم مظهر ده، سجده د مسجود پښو ته د لوېدو مظهر ده، د دغو دواړو په شروع کي تکبیر ویل دا مطلب افاده کوي چي زما رب تر دې هم ډېر ستر دئ چي زه ورته سر ټیټوم یا تندی پر زمکه ږدم، دلته له تکبیر سره متصل یو ستر بامقصده حرکت ترسره کېږي، د تسلیمي تر اعلانه هم ستر ستر حرکات، له دې سره د لاسونو د لوړولو نه یوازي ضرورت نشته بلکي هم د مفاهیمو د خلط باعث کېږي. او هم په یوه اعلان سره دوه حرکات ترسره کول، حال دا چي یو اعلان باید د یوه حرکت لپاره وي نه د دوو لپاره، که د ټول لمانځه نور تکبیرونه د یوه حرکت لپاره وي

نو په رکوع کي به ولي په استثنائي توګه د دوو حرکتونو لپاره وي، له رکوع نه مخکي تکبير به يا د لاس لوړولو لپاره وي او يا د رکوع لپاره، له قومې وروسته تکبير به يا د سجدې لپاره وي يا د لاس لوړولو لپاره، نه د دواړو لپاره، د دې لپاره هيڅ معقوله توجيه نشو موندلی!! د روايت او درايت له مخي غوره او ارجح رأيه دا ده چي لاسونه يوازي په لومړي تکبير کي لوړ شي.

(٢) باب: ښی لاس پر کيڼ لاس ږدول (ايښودل)

420- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُونَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ الْيَدَ الْيُمْنَى عَلَى ذِرَاعِهِ الْيُسْرَى فِي الصَّلاَةِ. (بخاري:740)

420- له سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: خلکو ته به امر کېدو چي هر څوک په لمانځه کي ښی لاس د کيڼ لاس د ذراع له پاسه کېږدي. (ذراع له ګوتو تر څنګلي پوري دئ)

دا روايت په ډېر وضاحت سره ښيي چي ښی لاس به د کيڼ لاس د ذراع له پاسه ږدول کېږي، يوازي د ښي لاس رغوی د کيڼ لاس پر شا ايښودل صحيح نه دي، څوك چي پر سينه باندي لاسونه ږدي هغه يوازي د ښي لاس رغوی د کيڼ لاس پر شا ايښودی شي چي د دې روايت خلاف کار دئ.

(٣) باب: له تکبير اولی وروسته څه ويل کېږي؟

421- حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ

أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلاَةَ بِ (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ). (بخاري:743)

421- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم او ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه به لمونځ په (الحمد لله رب العالمين) شروع كاوو.

له دې روايت معلوميږي چي په جهر لمونځونو كي به رسول الله صلى الله عليه و سلم، ابوبكر او عمر رضي الله عنهما مخامخ د فاتحې سوره پيلوله او بسم الله الرحمن الرحيم به ئې په جهر سره نه ويله. دا د هغو خلكو د مسلك خلاف دئ چي ځان ته د بخاري پلويان وايي خو په جهر لمونځونو كي تر الحمد لله مخكي بسم الله الرحمن الرحيم په لوړ غږ وايي.

422- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ الْقَعْقَاعِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَسْكُتُ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ إِسْكَاتَةً- قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ هُنَيَّةً- فَقُلْتُ بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ الله، إِسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ مَا تَقُولُ قَالَ "أَقُولُ اللهمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللهمَّ نَقِّنِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللهمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ". (بخاري:744)

422- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د تكبير تحريمه او قرائت تر منځ لږ غوندي چوپتيا كوله، ما ورته وويل: يارسول الله! مور او پلار مي درنه قربان؛ د تكبير اولى او قرائت تر منځ

چوپتيا کي څه وايې؟ وئې فرمايل: (وايم چي: اې خدايه! زما او زما د اشتباهاتو تر منځ دومره لري والی رامنځته کړه لکه د مشرق او مغرب تر منځ چي دي لري والی راوړی، اې خدايه! ما له اشتباهاتو داسي پاک ساته لکه سپيني جامې چي له خيرو پاکيږي، اې خدايه! ګناهونه مي په اوبو، واورو او ږلۍ (يخ) سره ومينځه). يعني خپل رحمت داسي راباندي نازل کړه لکه باران، لکه واوره او لکه ږلۍ او په همدې سره زما اشتباهات راته وبخښه.

په دې اړه نور روايات هم شته چي د دغي دعاء پر ځای نوري دعاګاني په کي راغلې دي.

(4) باب:

423- حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ أَخْبَرَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى صَلاَةَ الْكُسُوفِ، فَقَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ، ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ثُمَّ رَفَعَ، ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ، ثُمَّ رَفَعَ، ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ، ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ثُمَّ رَفَعَ فَسَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ، ثُمَّ رَفَعَ، ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ "قَدْ دَنَتْ مِنِّي الْجَنَّةُ حَتَّى لَوِ اجْتَرَأْتُ عَلَيْهَا لَجِئْتُكُمْ بِقِطَافٍ مِنْ قِطَافِهَا، وَدَنَتْ مِنِّي النَّارُ حَتَّى قُلْتُ أَىْ رَبِّ وَأَنَا مَعَهُمْ فَإِذَا امْرَأَةٌ- حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ- تَخْدِشُهَا هِرَّةٌ قُلْتُ مَا شَأْنُ هَذِهِ قَالُوا حَبَسَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا، لاَ أَطْعَمَتْهَا، وَلاَ أَرْسَلَتْهَا تَأْكُلُ". قَالَ نَافِعٌ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ"مِنْ خَشِيشِ أَوْ خُشَاشِ الأَرْضِ " (بخاري:745)

423- له اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د کسوف (لمر نیول کېدا) لمونځ وکړ، اوږد قیام ئې وکړ، اوږده رکوع ئې وکړه، له رکوع راپورته شو او اوږده قومه ئې وکړه، بیا ئې اوږده رکوع وکړه، بیا له له رکوع راپورته شو، بیا ئې اوږده سجده وکړه، بیا راپورته شو او بیا ئې اوږده سجده وکړه، بیا ودرېدو او اوږد قیام ئې وکړ، اوږده رکوع ئې وکړه، له رکوع راپورته شو او اوږده قومه ئې وکړه، بیا ئې اوږده رکوع وکړه، بیا له له رکوع راپورته شو، بیا ئې اوږده سجده وکړه، بیا راپورته شو او بیا ئې اوږده سجده وکړه، بیا له لمانځه ووت او وئې فرمایل: جنت راته را لنډ شو، تر دې که چېري ما جرأت کړی وی، نو د هغه له مېوو به مي کومه مېوه درته راوړې وه، او دوزخ دومره راته لنډ شو چي ومي ویل: یا ربه! آیا زه به هم له دوی (دوزخیانو) سره وم؟ پدې وخت کي مي یوه ښځه ولیده، اسماء رضي الله عنها وایي: فکر کوم وئې فرمایل: چي پشۍ منګولي پرې لګولې، ما وویل: دې ښځي څه کړي؟ دوی وویل: دې ښځي دا پشۍ دومره بنده کړې وه چي له لوږې مړه شوه، نه ئې په خپله خواړه ورکول او نه ئې پرېښودله چي په خپله د زمکي د مخ له حشراتو څه وخوري، راوي وایي: فکر کوم چي همداسي ئې وویل.

تکرار: 2364

توپیر: په بل کي یوازي د روایت وروستۍ برخه راغلې.

دا روایت د بخاري له 76 روایت سره په ځینو برخو کي توپیرونه لري. تفصیل ئې د دغه روایت په شرحي کي وګورئ.

(٥) باب: په لمانځه کي امام ته کتل

424- حَدَّثَنَا مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ قَالَ قُلْنَا لِخَبَّابٍ أَكَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ قَالَ نَعَمْ. قُلْنَا بِمَ كُنْتُمْ تَعْرِفُونَ ذَاكَ قَالَ بِاضْطِرَابِ لِحْيَتِهِ. (بخاري:746)

424- له أَبِي مَعْمَرٍ رضي الله عنه روايت دئ چي خباب رضي الله عنه ته مو وويل: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين او مازديګر په لمونځونو کي قرائت کاوو؟ وئې ويل: هو؛ ورته ومو ويل: څنګه په دې پوهېدئ؟ وئې ويل: د ږيري له خوځيدو ئې.

يعني دا چي موږ به ورته کتل او راته معلومېده به چي رسول الله صلى الله عليه و سلم قرائت کوي.

تکرار: 760، 761، 777

توپير: په يوه کي قُلْنَا بِمَ كُنْتُمْ تَعْرِفُونَ ذَاكَ، په بل کي قُلْنَا بِأَيِّ شَيْءٍ كُنْتُمْ تَعْرِفُونَ، په بل کي قُلْنَا مِنْ أَيْنَ عَلِمْتَ او په بل کي قَالَ قُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ قِرَاءَتَهُ راغلي.

(٦) باب: په لمانځه کي آسمان ته کتل

425- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَرُوبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي صَلاَتِهِمْ". فَاشْتَدَّ قَوْلُهُ فِي ذَلِكَ حَتَّى قَالَ "لَيَنْتَهُنَّ عَنْ ذَلِكَ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ". (بخاري:750)

425- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي:

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (پر هغو خلکو څه شوي چې په لمانځه کي سترګي پورته آسمان ته نيسي)؟ پدې اړه ئې وينا تر دې حده سخته شوه چې وئې فرمايل: (يا دي حتماً له دې کار ډډه وکړي او يا دا چې سترګي به ئې اختطاف شي (نظر به ئې ختم شي).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی، په نورو کتابونو کي هم راغلی، ابن تيميه رحمه الله د ابن سيرين او نورو دا روايت راوړی:

عن ابن سيرين وغيره: كان النبي صلى الله عليه و سلم وأصحابه يرفعون أبصارهم في الصلاة إلى السماء وينظرون يمينا وشمالا حتى نزلت هذه (قد أفلح المؤمنون الذين هم في صلاتهم خاشعون) المؤمنون: 1-2 فجعلوا بعد ذلك أبصارهم حيث يسجدون وما رؤي أحد منهم بعد ذلك ينظر إلا إلى الأرض. الايمان ابن تيمية

له ابن سيرين او نورو روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو به په لمانځه کي آسمان ته او ښي او کيڼ لوري ته کتل، تر هغه چې دا آيتونه نازل شول: قد أفلح المؤمنون الذين هم في صلاتهم خاشعون: يقيناً چې هغه مؤمنان بريالي شول چې په خپل لمانځه کي خاشع وي، نو له دې وروسته به ئې د سجدې ځای ته نظر کاوو او د دوی هيڅوك داسي نه دئ ليدل شوی چې له زمکي پرته بل لوري ته وګوري.

د انس رضي الله عنه روايت له دې روايت سره تعارض لري. د المؤمنون سوره په مکه کي نازله شوې او د انس روايت وايي چې په مدينه کي ځينو خلکو همدا کار کاوو، ابن تيميه وايي چې د دې سورې له نازلېدو وروسته هيچا له

زمکي پرته بل لوري ته نه کتل. د ابن تيميه دا روايت د بخاري له مخکني روايت سره هم تعارض لري ځکه په هغه کي د خباب رضي الله عنه دا وينا راغلې چي موږ به په لمانځه کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدو چي د ماسپښين او مازديګر په لمونځونو کي ئې هم خفيه قرائت کاوو.

دغو او نورو رواياتو ته په پام سره ويلى شو چي په لمانځه کي د سجدې ځاى ته کتل او نورو خواوو ته نه کتل غوره دي خو د سترګي له کونج نه کتل او هغه هم د کوم ضرورت له امله د لمانځه منافي کار نه دئ.

(٧) باب: په لمانځه کي يوې خوا بلي خوا ته کتل

426- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ قَالَ حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم عَنْ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلاَةِ فَقَالَ "هُوَ اخْتِلاَسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلاَةِ الْعَبْدِ". (بخاري:751)

426- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي په لمانځه کي د التفات (يوه خوا بله خوا کتلو) په اړه پوښتنه وکړه؟ نو وئې فرمايل: (دا يو ډول غلا ده چي شيطان ئې د بنده له لمانځه غلا کوي).

تکرار: 3291

توپير: په يوه کي عَنْ الِالْتِفَاتِ، په بل کي عَنِ الْتِفَاتِ الرَّجُلِ، په يوه کي يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلاَةِ الْعَبْدِ، په بل کي يَخْتَلِسُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلاَةِ أَحَدِكُمْ راغلي، د دې لپاره چي

پوښتنه د عائشې رضي الله عنها له لوري ده نو ځکه ویلی شو چې همدا 751 روایت تر 3291 ارجح دئ، ځکه عائشې رضي الله عنها به د التفات الرجل په ځای یوازې التفات ویلي وي، له ښځې سره دا ډول پوښتنه مناسب برېښي.

(۸) باب: د امام او مقتدي لپاره د قرائت وجوب

427- حَدَّثَنَا مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ شَكَا أَهْلُ الْكُوفَةِ سَعْدًا إِلَى عُمَرَ رضي الله عنه فَعَزَلَهُ وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ عَمَّارًا، فَشَكَوْا حَتَّى ذَكَرُوا أَنَّهُ لاَ يُحْسِنُ يُصَلِّى، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَقَالَ يَا أَبَا إِسْحَاقَ إِنَّ هَؤُلاَءِ يَزْعُمُونَ أَنَّكَ لاَ تُحْسِنُ تُصَلِّى قَالَ أَبُو إِسْحَاقَ أَمَّا أَنَا وَاللهِ فَإِنِّى كُنْتُ أُصَلِّى بِهِمْ صَلاَةَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم مَا أَخْرِمُ عَنْهَا، أُصَلِّى صَلاَةَ الْعِشَاءِ فَأَرْكُدُ فِى الأُولَيَيْنِ وَأُخِفُّ فِى الأُخْرَيَيْنِ. قَالَ ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ يَا أَبَا إِسْحَاقَ. فَأَرْسَلَ مَعَهُ رَجُلاً أَوْ رِجَالاً إِلَى الْكُوفَةِ، فَسَأَلَ عَنْهُ أَهْلَ الْكُوفَةِ، وَلَمْ يَدَعْ مَسْجِدًا إِلاَّ سَأَلَ عَنْهُ، وَيُثْنُونَ مَعْرُوفًا، حَتَّى دَخَلَ مَسْجِدًا لِبَنِى عَبْسٍ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهُ أُسَامَةُ بْنُ قَتَادَةَ يُكْنَى أَبَا سَعْدَةَ قَالَ أَمَّا إِذْ نَشَدْتَنَا فَإِنَّ سَعْدًا كَانَ لاَ يَسِيرُ بِالسَّرِيَّةِ، وَلاَ يَقْسِمُ بِالسَّوِيَّةِ، وَلاَ يَعْدِلُ فِى الْقَضِيَّةِ. قَالَ سَعْدٌ أَمَا وَاللهِ لأَدْعُوَنَّ بِثَلاَثٍ، اللهمَّ إِنْ كَانَ عَبْدُكَ هَذَا كَاذِبًا، قَامَ رِيَاءً وَسُمْعَةً فَأَطِلْ عُمْرَهُ، وَأَطِلْ فَقْرَهُ، وَعَرِّضْهُ بِالْفِتَنِ، وَكَانَ بَعْدُ إِذَا سُئِلَ يَقُولُ شَيْخٌ كَبِيرٌ مَفْتُونٌ، أَصَابَتْنِى دَعْوَةُ سَعْدٍ. قَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ فَأَنَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ قَدْ سَقَطَ حَاجِبَاهُ عَلَى عَيْنَيْهِ مِنَ الْكِبَرِ، وَإِنَّهُ لَيَتَعَرَّضُ لِلْجَوَارِى فِى الطُّرُقِ يَغْمِزُهُنَّ. (بخاري:755)

427- له جابر بن سمره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د کوفې خلکو عمر رضي الله عنه ته له سعد رضي الله عنه شکايت وکړ، نو عمر رضي الله عنه هغه عزل کړ او پر ځای ئې عمار رضي الله عنه مقرر کړ، د کوفې خلکو په څو شيانو کي (له سعد رضي الله عنه شکايت وکړ او يوه خبره ئې دا وکړه چي هغه په ښې طريقې سره لمونځ نه کوي، عمر رضي الله عنه هغه راوغوښت او ورته وئې ويل: اې ابو اسحاقه! دوی وايي چي ته په ښې طريقې سره لمونځ نه کوې؟ هغه وويل: په خدای قسم چي ما د رسول الله صلی الله عليه و سلم د لمانځه په څېر لمونځ ورکاوو، هيڅ څه مي نه ترې کمول، د ماخستن لمونځ داسي کوم چي دوه لومړني رکعتونه اوږده او دوه وروستي لنډ کوم، عمر رضي الله عنه وويل: پر تا همدا گمان کېدو، اې ابو اسحاقه! بيا ئې يو سړی يا څو تنه کوفې ته ورسره واستول، د ده په اړه ئې د کوفې له خلکو پوښتنه وکړه، هيڅ جومات ئې پرېنښود، چي د ده په اړه ئې پوښتنه نه وي ترې کړې، ټولو په ښه صفت ستايو، تر هغه چي د بني عبس يوه جومات ته ننوت، هلته يو سړی چي اسامه بن قتاده نومېدو او کنيه ئې ابوسعده وو، پاڅېد او وئې ويل: اوس چي دي د هغه په اړه په لوړي او تأکيد سره له موږ وپوښتل، نو وايم چي سعد رضي الله عنه له مجاهدينو سره جهاد ته نه تلو، مالونه ئې په مساويانه توگه نه وېشل او په پېښو کي ئې عدالت نه کاوو، سعد رضي الله عنه وويل: په خدای قسم د دې دريو په ځواب کي د دريو شيانو دعاء کوم: اې خدايه! که ستا دا بنده دروغجن وي، د رياء، شهرت او ځان ښودني لپاره ئې دا خبره کړې وي، نو عمر ئې اوږد او نيستي ئې دوامداره

کړه، او له فتنو سره ئې مخ کړه. داسي وخت راغی چي کله به چا د (ابو سعده) د حال پوښتنه وکړه نو ویل به ئې: ډېر زوړ او په فتنو اخته شوی یم، د سعد رضي الله عنه ښېرې وهلی یم، عبدالملك وايي: ما همغه شخص (ابوسعده) څه موده وروسته په داسي حال کي ولید چي له ډېر زوړوالي ئې وروځي پر سترګو را لوېدلې وې، خو لدې سره، سره به ئې د نجونو یا ښځو لاره نیوله او اشارې به ئې ورته کولې.

تکرار: 758، 770

توپیر: دوه ئې مختصر دي چي، په یوه کي لاَ أَخْرِمُ عَنْهَا أَرْكُدُ فِى الأُولَيَيْنِ وَأَحْذِفُ فِى الأُخْرَيَيْنِ، په بل کي فَأَمُدُّ فِى الأُولَيَيْنِ، وَأَحْذِفُ فِى الأُخْرَيَيْنِ راغلي دا هم په کي راغلي ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ، أَوْ ظَنِّى بِكَ راغلي.

428- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ (لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ). بخاري:756)

428- له عباده بن صامت رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمایلي: (څوک چي فاتحه (الحمد لله) ونه لولي، لمونځ ئې لمونځ نه دئ)

تکرار: بخاري دا روایت یو ځل راوړی.

د دې روایت په تعبیر کي د محدثینو او فقهاوو تر منځ اختلاف دئ، ځیني ئې داسي تعبیروي چي ګواکي په لمانځه کي د فاتحې سوره لوستل فرض دي، له دې پرته لمونځ نه صحیح کېږي، هم د جماعت په لمانځه کي او هم په انفرادي

لمونځونو کي، هم په جهر لمونځونو کي او هم په خفيه لمونځونو کي، هم د مقتدي لمونځ او هم د امام لمونځ، په جهر لمونځونو کي هم بايد مقتدي له امام وروسته دا سوره ووايي، که نه نو لمونځ ئې صحيح نه دئ!! د دې لپاره چي په دې اړه صحيح رأيه معلومه کړو بايد لاندي ټکي په پام کي ولرو:

په قرآن کي د لمانځه د ترکيب په اړه څو خبري شوې دي: د لمانځه په پيل کي د الله نوم يادول (و ذکر اسم ربه فصلى)، قيام، قرائت (فاقرأوا ما تيسر من القرآن)، (و قرآن الفجر)، رکوع، سجده. په قرآن کي د دې لپاره شاهد نه مومو چي په لمانځه کي د فاتحې د سورې لوستل ترې معلوم شي. بلکي په مکرره توګه ويل شوي چي د قرآن کومه آسانه برخه تلاوت کړئ.

الله تعالى موږ ته امر کوي چي د قرآن د تلاوت په وخت کي ساکت وو او غوږ ونيسو، د دې معنى دا ده چي د امام د قرائت په وخت کي به غوږ نيسو او له څه ويلو به ډډه کوو. له دې دا هم معلوميږي چي له قرائت مراد په لوړ غږ د قرآن لوستل دي، نه په ټيټ غږ.

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چي د امام قرائت د مقتدي قرائت دئ: من صلى خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة: څوك چي په امام پسي لمونځ کوي نو د امام قرائت (قرآن په لوړ غږ لوستل) د ده قرائت هم دئ.

که څوك امام په رکوع کي ونيسي نو بشپړ رکعت ئې نيولى دئ او د دغه رکعت اعاده ورباندي لازمه نه ده، که څه هم نه ئې فاتحه اورېدلې ده او نه ئې ويلې ده, په دې اړه

د ټولو فقهاوو اجماع ده.

دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چي:

په جهر لمونځونو کي او هغه مهال چي امام قرائت کوي د فاتحې سوره یا د قرآن نور آیتونه لوستل د قرآن د صریح حکم خلاف عمل دئ. ځوك چي د امام د قرائت په وخت کي له ځان سره قرائت کوي، شونډي خوزوي، په عجله او تلوار سره قرائت کوي، دا کار ئې د قرآن او سنت خلاف دئ، ځکه الله تعالی خپل پیغمبر له داسي کولو منع کړی، رسول الله صلی الله علیه و سلم به د بعثت په لومړیو کي د وحي د نزول پر مهال او د فرشتې د قرائت په دوران کي همدا کار کولو چي الله تعالی ترې منع کړ او ورته وئې فرمایل:... وَ لا تَعْجَلْ بِالْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضى إِلَيْكَ وَحْيُهُ... طه: 114: تر هغه د مخه چي تا ته د قرآن وحي بشپړه شي پر قرائت ئې تلوار مه کوه. اورېدل د لوستلو ځای ناستی دئ، ځوك چي قرآن اوري داسي دئ لکه چي په خپله ئې لولي، ډېر ځلي د اورېدو اغېز تر لوستلو هم زیات وي، که اورېدل او لوستل یو شان نه وی نو په هغه چا به د تلاوت سجده نه لازمېده چي د سجدې آیت ئې اورېدلی!!

په خفیه لمونځونو کي په امام پسي قرائت داسي دئ لکه له قرائت پرته نور تکبیرات او تسبیحات ویل، نه یوازي د ممانعت لپاره ئې د منلو وړ دلیل او توجیه نشته بلکي د جهري قرائت اړوند حکم په ناسمه توګه تعبیرول او خفیه قرائت ته ئې غزول دي.

که له فاتحې پرته لمونځ لمونځ نه وی نو د هغه مقتدي لمونځ به صحیح نه ګڼل کېدو چي له قرائت وروسته او په

ركوع كي ئې امام نيولى.

فرض هغه دئ چي الله تعالى ئې د كولو حكم كړى وي، نه د فاتحې د ويلو په اړه په قرآن كي كوم حكم مومو؛ نه صريحاً او نه اشارتاً؛ او نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له حديث داسي معلومېږي چي ويل ئې فرض وي، ځكه د رسول الله صلى الله عليه و سلم ګڼ شمېر احاديث داسي مومو چي په نورو امورو كي ئې دې ته ورته الفاظ كارولي، لكه (لا دين لمن لا عهد له)، (لا إيمان لمن لا أمانة له)، آيا د دې معنى دا ده چي كه څوك يو ځل له چا سره خپله ژمنه ماته كړي له اسلامه ووت؟ كه څوك په يوه واړه امانت كي يو ځل خيانت وكړي ايمان ئې حبط شو؟ لكه دلته چي كمال د اسلام او ايمان مراد دئ په هغه روايت كي چي وايي: لا صلوة الا بقرآءة فاتحة الكتاب، كمال او حسن د بنه لمانځه مراد دئ، نه دا چي له فاتحې پرته لمونځ هيڅ اعتبار نه لري.

د جَمعي په لمانځه كي د فاتحې د لوستلو او نه لوستلو په اړه ځيني روايات يو څه وايي او ځيني بل څه.

له عبدالله بن شداد رضي الله عنه، جابر رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما راغلي روايات وايي چي د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ. روايات دا دي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَإِنَّ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ " السنن الكبرى للبيهقي

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ، فَإِنَّ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ» المعجم الأوسط للطبرانى

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ» مسند عبد بن حميد

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ؛ قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجُلٌ خَلْفَهُ يَقْرَأُ، فَنَهَاهُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْصَرَفَ تَنَازَعَا , فَقَالَ: أَتَنْهَانِي عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ , فَتَنَازَعَا حَتَّى بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ فَإِنَّ قِرَاءَتَهُ لَهُ قِرَاءَةٌ». رواه البيهقي

وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ - رضي الله عنهما - كَانَ إِذَا سُئِلَ: هَلْ يَقْرَأُ أَحَدٌ خَلْفَ الإِمَامِ؟ , قَالَ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ خَلْفَ الإِمَامِ , فَحَسْبُهُ قِرَاءَةُ الإِمَامِ، وَإِذَا صَلَّى وَحْدَهُ فَلْيَقْرَأ، قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لاَ يَقْرَأُ خَلْفَ الإِمَامِ. أخرجه الموطأ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الإِمَامِ تَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ. سنن الدارقطني

له دغو ټولو روایاتو یوازې دا معلومیږي چې په جهري لمونځونو کې د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ. خو بل لوري ته له عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه، ابوهریره رضي الله عنه او ابو امامه رضي الله عنه راغلي روایات وایي چې له فاتحې پرته لمونځ یا ناقص دئ یا اصلاً لمونځ نه دئ. روایات دا دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله-صلى الله عليه وسلم- قَالَ: "كُلُّ صَلاَةٍ

لاَ يُقْرَأُ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِىَ خِدَاجٌ". البيهقي

عن أبى أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم : "مَنْ لَمْ يَقْرَأْ خَلْفَ الْإِمَامِ فَصَلَاتُهُ خِدَاجٌ". البيهقى.

خو دا په مشخصه توګه د فاتحې یادونه نه کوي.

{مَنْ لَمْ يَقرَاْ بِأُمِّ القُرآنِ فِي صَلاتِهِ فَهِيَ خِداجٌ. الطبرانى فى الأوسط عن ابن عمرو بن ميمون بن مهران عن أبيه)

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صلى الله عليه وسلم- قَالَ: "مَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَلاَ صَلاَةَ لَهُ". سنن الدارمي

عن ابى هريرة رضي الله عنه قال امرني رسول الله صلى الله عليه و سلم ان انادى لا صلوة الا بقرآن بفاتحة الكتاب. سنن الكبرى للبيهقي

سنن الدارقطني کي دوه روایات راغلي چي دواړه ئې ضعیف ګڼلي، یو ئې ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب شوی چي الدارقطني ئې د اعتبار وړ نه ګڼي، روایت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِىِّ-صلى الله عليه وسلم- قَالَ "يَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ خَافَتَ أَوْ جَهَرَ". عَاصِمٌ لَيْسَ بِالْقَوِىِّ وَرَفْعُهُ وَهَمٌ.

بل ئې محمد بن عبدالله بن عمیر روایت کړی چي ضعیف ئې ګڼلی:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ-صلى الله عليه وسلم- "مَنْ صَلَّى صَلاَةً مَكْتُوبَةً أَوْ تَطَوُّعًا فَلْيَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا

فَإِنِ انْتَهَى إِلَى أُمِّ الْكِتَابِ فَقَدْ أَجْزَأَ وَمَنْ صَلَّى صَلاَةً مَعَ إِمَامٍ يَجْهَرُ فَلْيَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِي بَعْضِ سَكَتَاتِهِ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَصَلاَتُهُ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ". مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الله بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ ضَعِيفٌ.

دې ته مو پام وي چې د يوې رأيي پلويانو دغو رواياتو ته صحيح ويلي او د بلې رأيي پلويانو مخکنيو ته، د اسنادو له مخې د دغو رواياتو د صحت او عدم صحت په اړه وروستۍ پرېکړه که محال نه وي نو ډېره ګرانه ده، دومره چې د امت محققينو په تېرو څوارلسو پېړيو کې ونشوی کړی. د دواړو تر منځ وسطه رأيه دا ده چې په جهري لمونځونو کې د امام قرائت د مقتدي قرائت دئ، مقتدي به ساکت وي او قرائت ته به غوږ نيسي، په خفيه لمونځونو کې تر ساکت ودرېدا دا غوره ده چې فاتحه ولولي او قرآن له ځان سره تلاوت کړي، په دې سره به پر دواړ رواياتو عمل شوی وي، کوم روايات چې وايي د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ په دغو رواياتو کې له قرائت مراد په لوړ ږغ قرآن لوستل دي، د قرآن له وينا معلومېږي چې قرائت په لوړ غږ د قرآن لوستلو ته وايي نه په خفيه او ټيټ غږ، له دې رواياتو دا معنی راايستل چې په خفيه لمونځونو کې د مقتدي له لوري قرآن لوستل مکروه دي، درنه او موجه رأيه نه برېښي، داسې صحيح روايت نشته چې وايي په خفيه لمونځ کې به مقتدي د قرآن له تلاوت ډډه کوي، کوم روايات چې وايي د امام قرائت په جهر او خفيه لمونځونو کې د مقتدي قرائت هم دئ ضعيف ګڼل شوي. نه رواياتو ته په پام سره دا ويلی شو چې په خفيه لمونځونو کې د مقتدي قرائت مکروه دئ، ځکه روايات خو داسې دي چې ځيني ګمان کوي

په جهري لمونځونو کي به هم مقتدي فاتحه لولي، او نه د درايت له مخي دا رأيه د منلو وړ برېښي، ولي به د مقتدي ساکت ودرېدل ضروري او تلاوت ئې مکروه وي؟!! حال دا چي مقتدي د تکبيراتو او هم تسبيحاتو په ويلو مکلف شوی.

که د قرآن په رڼا کي د دې رواياتو په اړه قضاوت وکړو نو ويلی شو:

څوك چي په امام پسي لمونځ کوي د امام قرائت ورته کافي دئ.

په جهر لمونځونو کي او هغه مهال چي امام قرائت کوي د فاتحې سوره يا د قرآن نور آيتونه لوستل د قرآن د صريح حکم خلاف عمل دئ.

په خفيه لمونځونو کي په امام پسي قرائت داسي دئ لکه له قرائت پرته نور تکبيرات او تسبيحات ويل، د مکروه والي لپاره ئې د منلو وړ دليل نشته.

که څوك په رکوع کي امام ومومي رکعت ئې بشپړ ګڼل کېږي او اعاده ورباندي نشته، ځکه د لمانځه ټولي هغه برخي ئې بشپړي کړې دي چي په قرآن کي ورته اشاره شوې: تکبير تحريمه، قيام، رکوع او سجده، يوازي قرائت ترې پاته شوی او دا نقيصه هم په دې سره رفع شوې چي د امام قرائت د ده قرائت ګڼل شوی.

دا خبره هم په پام کي ولرئ چي ځيني وايي: د الحجر د سورې د 87 آيت معنی دا ده چي د فاتحې سوره د قرآن په نامه ياده شوې، آيت دا دئ:

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ٨٧ الحجر:87

خو دا لويه اشتباه ده، دلته له سبعاً من المثانى مراد د فاتحې سوره ده او له القرآن العظيم ټول قرآن، كه د فاتحې سورې ته د قرآن نوم وركړى شي نو بيا خو به د فاقرءوا ما تيسر من القرآن معنى دا وي چې د فاتحي يوه آسانه برخه ولولئ!! او په لمانځه كي به د دې سورې يوه برخه ويل هم كافي شمېرل كېده!! خو هيڅوك د دې خبري جسارت نه كوي!!

له دې وروسته چې كوم روايت زموږ مخي ته راځي ښيي چې د فاتحې لوستل فرض نه دي ځكه رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه سړي ته د لمانځه په اړه د نورو لارښوونو په ضمن كي وويل: بيا له قرآنه داسي آسانه برخه ولوله چې حفظ دي وي، كه فاتحه فرض وى نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به ورته ويلي وو چې لومړى فاتحه ولوله او بيا يوه آسانه برخه د قرآن!!

429- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِى سَعِيدُ بْنُ أَبِى سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم فَرَدَّ وَقَالَ "ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ". فَرَجَعَ يُصَلِّى كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ "ثَلاَثًا. فَقَالَ وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِى. فَقَالَ "إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ

حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، وَافْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلاَتِكَ كُلِّهَا". (بخاري:757)

429- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم جومات ته راغى، پدې وخت كي يو سړى هم جومات ته راغى او لمونځ ئې وكړ، (دا شخص خلاد بن رافع زرقي رضي الله عنه وو)، بيا ئې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم سلام واچاوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د سلام ځواب وركړ او ورته وئې فرمايل: (لاړ شه، لمونځ وكړه ځكه تا لمونځ نه دئ كړى)، هغه ولاړ او د مخكي په شان نې لمونځ وكړ، بيا راغى او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې سلام واچاوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (لاړ شه، لمونځ وكړه، ځكه تا لمونځ نه دئ كړى) دا كار درې ځلي تكرار شو، هغه سړي وويل: قسم په هغه ذات چي ته ئې په حقه راليږلى يې زما خو تر دې ښه لمونځ زده نه دئ، نو را وئې ښيه؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (كله چي لمانځه ته پاڅېدلې، نو تكبير ووايه، بيا له قرآنه داسي آسانه برخه ولوله چي حفظ دي وي، بيا ركوع وكړه، تر هغه په ركوع كي پاته شه چي ډاډه او آرام شې، بيا پورته شه او سم صحيح ودرېږه، بيا سجده وكړه ښه په آرامۍ سره بيا له سجدې پورته شه او ښه آرام كښېنه، دا كار دي په ټول لمانځه كي كوه).

تكرار: 793، 6251، 6252، 6667

توپير: په يوه كي فَرَجَعَ يُصَلِّى كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ، په بل كي فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ، په يوه كي فَقَالَ فِى الثَّانِيَةِ أَوْ فِى الَّتِى بَعْدَهَا عَلِّمْنِى يَا رَسُولَ اللهِ، په يوه كي ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِىَ قَائِمًا، په بل كي إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ راغلي.

له دې روايت معلومېږي چې د فاتحې لوستل فرض نه دي، که فرض وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً دې سړي ته د هغې یادونه کړې وه!! څوك چې وايي دا حديث په بل نسخ شوی د خپلي ادعاء لپاره هيڅ موجه دليل نه لري.

(٩) باب: د ماسپښين په لمانځه کي قرائت

430- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، يُطَوِّلُ فِي الأُولَى، وَيُقَصِّرُ فِي الثَّانِيَةِ، وَيُسْمِعُ الآيَةَ أَحْيَانًا، وَكَانَ يَقْرَأُ فِي الْعَصْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، وَكَانَ يُطَوِّلُ فِي الأُولَى، وَكَانَ يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى مِنْ صَلاَةِ الصُّبْحِ، وَيُقَصِّرُ فِي الثَّانِيَةِ. (بخاري:759)

430- له ابوقتاده رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به د ماسپښين په دوو لومړيو رکعتونو کي فاتحه (الحمد لله) او دوه سورتونه (په هر رکعت کي يو سورت) لوست، لومړی به ئې اوږد کړ او دوهم به ئې لنډاوو، او کله کله به ئې ځيني آيتونه داسي لوستل لکه چې نورو ته ئې اوروي، او د مازديګر په لمانځه کي به ئې فاتحه او دوه سورتونه لوستل، قرائت به ئې په لومړي رکعت کي اوږداوو او په دوهم کي به ئې لنډاوو، او همدا راز د سهار لمانځه په لومړي رکعت کي به ئې اوږد او دوهم کي لنډ قرائت کاوو.

تکرار: 762، 776، 778، 779

توپير: په يوه کي يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ مِنْ صَلاَةِ

الظُّهْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، يُطَوِّلُ فِى الأُولَى، وَيُقَصِّرُ فِى الثَّانِيَةِ، په بل کي يَقْرَأُ فِى الرَّكْعَتَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَسُورَةٍ سُورَةٍ، په بل کي كَانَ يَقْرَأُ فِى الظُّهْرِ فِى الأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، وَفِى الرَّكْعَتَيْنِ الأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ، په يوه کي وَيُسْمِعُنَا الآيَةَ أَحْيَانًا، په بل کي وَيُسْمِعُنَا الآيَةَ، په يوه کي وَيُطَوِّلُ فِى الرَّكْعَةِ الأُولَى مَا لاَ يُطَوِّلُ فِى الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ، وَهَكَذَا فِى الْعَصْرِ وَهَكَذَا فِى الصُّبْحِ، په بل کي كَانَ يَقْرَأُ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا فِى الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ وَصَلاَةِ الْعَصْرِ، په بل کي كَانَ يُطَوِّلُ فِى الرَّكْعَةِ الأُولَى مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ، وَيُقَصِّرُ فِى الثَّانِيَةِ، وَيَفْعَلُ ذَلِكَ فِى صَلاَةِ الصُّبْحِ راغلي.

(١٠) باب: د ماښام د لمانځه قرائت

431- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّهُ قَالَ إِنَّ أُمَّ الْفَضْلِ سَمِعَتْهُ وَهُوَ يَقْرَأُ (وَالْمُرْسَلاَتِ عُرْفًا) فَقَالَتْ يَا بُنَىَّ وَالله لَقَدْ ذَكَّرْتَنِى بِقِرَاءَتِكَ هَذِهِ السُّورَةَ، إِنَّهَا لآخِرُ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ بِهَا فِى الْمَغْرِبِ. (بخاري:763)

431- له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه ورځ ئې د (والمرسلات عرفا) سوره تلاوت کوله، چي ام الفضل رضي الله عنها ترې واورېده، نو ورته وئې ويل: زويکيه! په خدای قسم چي د دې سورې په تلاوت سره دي دا راپه ياد کړه چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي وروستۍ اورېدلې سوره همدا وه چي د ماښام په لمانځه کي

ئې لوستله.

تکرار: 4429

توپير: په يوه کي قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ فِى الْمَغْرِبِ بِ (الْمُرْسَلاَتِ عُرْفًا) ثُمَّ مَا صَلَّى لَنَا بَعْدَهَا حَتَّى قَبَضَهُ الله، په بل کي فَقَالَتْ يَا بُنَيَّ وَالله لَقَدْ ذَكَّرْتَنِى بِقِرَاءَتِكَ هَذِهِ السُّورَةَ، إِنَّهَا لآخِرُ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ بِهَا فِى الْمَغْرِبِ راغلي، مطلب ئې يو دئ.

432- حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِى مُلَيْكَةَ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ قَالَ لِى زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ مَا لَكَ تَقْرَأُ فِى الْمَغْرِبِ بِقِصَارٍ، وَقَدْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ بِطُولِ الطُّولَيَيْنِ. (بخاري:764)

432- له مروان بن حكم رضي الله عنه روايت دئ چي زيد بن ثابت رضي الله عنه راته وويل: ولي د ماښام په لمانځه کي لنډ سورتونه لولې په داسي حال کي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي د ماښام په لمانځه کي ئې له دوو اوږدو سورتونو (الاعراف او الانعام) نه ئې اوږده (الاعراف) لوستله.

بايد متوجه وو چي دا روايت له هغو سره تعارض لري چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به سپارښتنه او امر کاوو چي د اوږدو سورتونو له ويلو ډډه وکړي، ښځو، زړو، معذورو او د حاجت خاوندانو ته په پام سره بايد لنډ سورتونه ولولي، هغه خلك ئې د منفرين په نامه ياد کړي چي لمونځ اوږدوي او خلك له لمانځه او جومات زړه بدي

کوي. د دې روايت تعبير يا دا دئ چي د الاعراف د سورې يوه برخه ئې لوستلې، يا ئې په کوم استثنائي حالت کي او هغه مهال لوستلې چي محدود کسان ورسره وو او ښځي او زاړه په جمعي کي ولاړ نه وو.

په دې اړه ګڼ شمېر نور روايات هم شته چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماښام په لمانځه کي الطور، المرسلات، الاعراف په دوو رکعتو کي، التين په لومړي رکعت کي او ألم تركيف فعل ربك بأصحاب الفيل) او (لايلاف قريش) په دوهم رکعت کي لوستلي.

د صحابه وو په اړه هم راغلي چي عمر رضي الله عنه، أبو موسى رضي الله عنه ته ليکلي وو چي د ماښام په لمانځه کي قصار مفصل، په ماخستن کي وسط مفصل او په سحر کي طوال مفصل لوله.

ابو مسعود رضي الله عنه د ماښام په دوو رکعتو کي (قل هو الله أحد) لوستله، ابن عباس رضي الله عنهما کله الدخان کله (إذا جاء نصر الله والفتح) لوستلې، ابن عمر رضي الله عنهما د (ق) سوره، يا د (يٰس) يا عم يتساءلون، عمران بن حصين إذا زلزلت الارض والعاديات لوستلي.

دا روايت هم راغلی چي رسول الله صلى الله عليه و سلم معاذ رضي الله عنه ته وويل چي د ماښام يا ماخستن په لمانځه کي سبح اسم ربك الاعلى او والشمس وضحاها لوله.

(١١) باب: د ماښام په لمانځه کي په جهر قرائت

433- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى

الله عليه و سلم قَرَأَ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ. (بخاري:765)
433- له جبير بن مطعم رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي د مابنام په لمانځه کي ئې د طور سورت لوست.

تکرار: 3050، 4023، 4854

توپير: په يوه کي قَرَأَ فِى الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ، په بل کي يَقْرَأُ فِى الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ راغلي.

(١٢) باب: د ماخستن په لمانځه کي د تلاوت د سجدې آيت لوستل

434- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ قَالَ حَدَّثَنِي التَّيْمِيُّ عَنْ بَكْرٍ عَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ الْعَتَمَةَ فَقَرَأَ (إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ) فَسَجَدَ فَقُلْتُ مَا هَذِهِ قَالَ سَجَدْتُ بِهَا خَلْفَ أَبِي الْقَاسِمِ صلى الله عليه و سلم فَلاَ أَزَالُ أَسْجُدُ بِهَا حَتَّى أَلْقَاهُ. (بخاري:768)
434- له ابو رافع روايت دئ چي وايي: له ابوهريره رضي الله عنه سره مي د ماخستن لمونځ وکړ، د (اذالسماء انشقت) سوره ئې تلاوت کړه، نو سجده ئې وکړه، ورته ومي ويل: دا څه وو؟ وئې ويل: ما په ابوالقاسم (رسول الله صلى الله عليه و سلم) پسي همدا سجده کړې ده، نو تر هغه چي بيا ورسره مخامخ کيږم د دې آيت په لوستلو سره به سجده کوم.

تکرار: 766، 1074، 1078

توپير: په يوه کي قَالَ لَوْ لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَسْجُدُ لَمْ أَسْجُدْ، په بل کي فَلاَ أَزَالُ أَسْجُدُ بِهَا حَتَّى أَلْقَاهُ راغلي.

(١٣) باب: د ماخستن د لمانځه قرائت

435- حَدَّثَنَا خَلاَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ سَمِعَ الْبَرَاءَ رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ (وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ) فِي الْعِشَاءِ، وَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ أَوْ قِرَاءَةً. (بخاري:769)

435- له عدي بن ثابت رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له براء رضي الله عنه مي واورېدل چي وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي د ماخستن په لمانځه کي ئې (والتين والزيتون) تلاوت کړ، داسي څوک مي ندي ليدلی چي تر رسول الله صلى الله عليه و سلم غوره او خوږ ږغ ولري او يا ئې قرائت ترې غوره وي.

تکرار: 767، 4952، 7546

توپير: په يوه کي كَانَ فِى سَفَرٍ فَقَرَأَ فِى الْعِشَاءِ فِى إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ، په بل کي يَقْرَأُ فِى الْعِشَاءِ (وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ) راغلي.

(١٤) باب: د سهار د لمانځه قرائت

436- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِى عَطَاءٌ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه يَقُولُ فِى كُلِّ صَلاَةٍ يُقْرَأُ، فَمَا أَسْمَعَنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَسْمَعْنَاكُمْ، وَمَا أَخْفَى عَنَّا أَخْفَيْنَا عَنْكُمْ، وَإِنْ لَمْ تَزِدْ عَلَى أُمِّ الْقُرْآنِ أَجْزَأَتْ، وَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ. (بخاري:772)

436- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په هر لمانځه کي قرائت لوستل کېږي، څه چي رسول الله صلى

الله عليه و سلم په لوړ ږغ موږ ته رااورولي هغه تاسو ته دراوروو او څه چي ئې په ټيټ ږغ ويلي (چي موږ نه دي اوريدلي) په ټيټ ږغ ئې وايو (داسي چي تاسو ئې وانه وريئ)، که له (الحمد لله) نه زيات څه ونه لولې، نو درته کافي ده، خو که څه پرې زيات کړې، نو دا غوره ده.

(١٥) باب: د سهار قرائت په جهر لوستل

437- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ انْطَلَقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ، وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ، فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِينُ إِلَى قَوْمِهِمْ. فَقَالُوا مَا لَكُمْ فَقَالُوا حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ. قَالُوا مَا حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ إِلاَّ شَىْءٌ حَدَثَ، فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا، فَانْظُرُوا مَا هَذَا الَّذِى حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَانْصَرَفَ أُولَئِكَ الَّذِينَ تَوَجَّهُوا نَحْوَ تِهَامَةَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ بِنَخْلَةَ، عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَهْوَ يُصَلِّى بِأَصْحَابِهِ صَلاَةَ الْفَجْرِ، فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ اسْتَمَعُوا لَهُ فَقَالُوا هَذَا وَاللهِ الَّذِى حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ. فَهُنَالِكَ حِينَ رَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ وَقَالُوا يَا قَوْمَنَا (إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا * يَهْدِى إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا) فَأَنْزَلَ اللهُ عَلَى نَبِيِّهِ صلى الله عليه و سلم (قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ) وَإِنَّمَا أُوحِىَ إِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ. (بخاري:773)

437- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي:

رسول الله صلى الله عليه و سلم له څو تنو اصحابو (رضي الله عنهم) سره د عکاظ بازار ته د تلو لپاره وخوزېدو، دا هغه وخت وو چي د شيطانانو او آسماني خبرو تر منځ مخنيوی او لمبه لرونکي ستوري پرې لېږل پيل شوي وو، نو شيطانان خپل قوم ته ستانه شوي وو، ورته وئې ويل چي څه درباندي شوي؟ وئې ويل: زموږ او آسماني خبرو تر منځ مخنيوی پيل شوی، او لمبه لرونکي ستوري راباندي لېږل شوي، قوم ئې ورته وويل: حتماً څه پېښه شوې چي له امله ئې ستاسي او آسماني خبر تر منځ حايل رامنځته شوی، د زمکي ختيځ او لوېدځ ته ولاړ شئ، وګورئ چي دا څه دي چي ستاسي او آسماني خبر تر منځ ئې حايل رامنځته کړی؟ بيا هغه چي د (تهامه) په لورې تللي وو، د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته ورغلل، رسول الله صلى الله عليه و سلم دغه مهال د عکاظ د بازار په لاره په (نخله) سيمه کي وو او اصحابو (رضي الله عنهم) ته ئې د سهار لمونځ ورکاوو، (پېريانو) چي د قرآنکريم تلاوت واورېد، ورته غوږ شول، نو سره وئې ويل: قسم په خدای چي دا هغه څه دي چي ستاسو او آسماني خبرو تر منځ مانع شوی، هماغه وو چي کله خپل قوم ته ورغلل ورته وئې ويل: اې زموږ قومه! بې شکه چي موږ عجيب قرآن واورېد، د رشد او کمال په لوري لارښوونه کوي، ايمان مو پرې راوړ، او هيڅکله به څوك له خپل رب سره شريك نه کړو. بيا الله تعالى پر خپل رسول صلى الله عليه و سلم د الجن د سورې دا آيتونه نازل کړل: (قل اوحى الي...) ده ته د پېريانو د وينا په اړه وحي شوې وه.

له دې روايت او د الجن د سورې له آيتونو په واضح

توګه معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم نه پېريان ليدلي او نه په دې پوه شوى چې د پېريانو يوه ټولګي د ده قرائت اورېدلى، وروسته د وحي له لاري ده ته اطلاع ورکړى شوه.

438- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَرَأَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِيمَا أُمِرَ، وَسَكَتَ فِيمَا أُمِرَ (وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا) (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ). (بخاري:774)

438- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه لمونځونه په جهر اداء کول چې د جهر امر ئې ورته شوى وو او هغه لمونځونه ئې خفيه اداء کول چې د خفيه اداء کولو امر ئې ورته شوى وو، بيا ئې دا آيتونه ولوستل (وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا: ستا رب هېرونکى نه دئ). (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ: تاسو ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم په متابعت کي غوره بېلګه ده).

په دې آيتونو کي د وروستي آيت ارتباط د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما له وينا سره دا دئ چې تاسو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په متابعت مکلف يئ، همداسي کوئ، خو د بل آيت ارتباط څرګند نه دئ. دا ځکه چې دا آيت په دې ارتباط نه دئ نازل شوى چې الله تعالى د احکامو نازلول نه هېروي، په ډېر تکلف سره هم دا معنى نشو ترې راايستى. آيت داسي دئ"

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ٦٤ مريم: 64

او موږ يوازې ستا د رب په حکم راکوزېږو، ټول هغه څه د ده دي چې زموږ تر مخ دي او څه چې زموږ تر شا دي او څه چې د دواړو تر منځ دي، ستا رب هېروونکی نه دئ.

دا آيت ښيي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه په داسې سخت او ستونزمن حالت کې وو چې د وحې د نزول تلوسه ئې درلوده، چې له يوې خوا ئې لاربښوونه وشي او له بلې خوا ډاډ او اطمئنان ورکړی شي، د فرشتو له قوله دوی ته ويل شوي چې د دوی راتګ د الله تعالى په امر تر سره کېږي، د مخنکيو او وروستنيو پېښو په اړه اوامر د الله تعالى له لوري صادرېږي، مطمئن اوسه چې خپل رب هېر کړی نه يې.

که مراد دا وي چې د جهري او خفيه قرائت په اړه هم رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د الله تعالى له لوري لاربښوونه شوې نو د قرآن په هغو آيتونو استناد کېدی شي چې وايي په قرآن کې د هر څه په اړه لاربښوونه شوې، نه په دې آيت چې موضوع ئې بېله ده.

(١٦) باب: په يوه رکعت کې د دوو سورتونو لوستل

439- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ مَسْعُودٍ فَقَالَ قَرَأْتُ الْمُفَصَّلَ اللَّيْلَةَ فِي رَكْعَةٍ. فَقَالَ هَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقْرِنُ بَيْنَهُنَّ فَذَكَرَ عِشْرِينَ سُورَةً مِنَ الْمُفَصَّلِ سُورَتَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ. (بخاري:775)

439- له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې يو سړی ورته راغی او وئې ويل: تېره شپه مې په يوه رکعت کې يو

مفصل سورت ولوست، ابن مسعود رضي الله عنه وويل: دا ډول قرآن لوستل داسي دي لکه د شعر لوستل، (قرآن دي تېز لوستلی دئ)، زه هغه سره ورته سورتونه ښه پېژنم چي رسول الله صلی الله عليه و سلم به يو ځای لوستل، له دې جملې ئې د شلو مفصلو سورتونو نومونه واخيستل چي رسول الله صلی الله عليه و سلم به دوه سورتونه په يوه رکعت کي ترې لوستل.

تکرار: 4996، 5043

توپير: په يوه کي لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِی کَانَ النَّبِیُّ صلی الله عليه و سلم يَقْرِنُ بَيْنَهُنَّ، په بل کي قَدْ عَلِمْتُ النَّظَائِرَ الَّتِی کَانَ النَّبِیُّ صلی الله عليه و سلم يَقْرَؤُهُنَّ اثْنَيْنِ اثْنَيْنِ فِی کُلِّ رَکْعَةٍ، په بل کي وَإِنِّی لأَحْفَظُ الْقُرَنَاءَ الَّتِی کَانَ يَقْرَأُ بِهِنَّ النَّبِیُّ صلی الله عليه و سلم ثَمَانِیَ عَشْرَةَ سُورَةً مِنَ الْمُفَصَّلِ وَسُورَتَيْنِ مِنْ آلِ حم، په بل کي فَقَالَ عِشْرُونَ سُورَةً مِنْ أَوَّلِ الْمُفَصَّلِ عَلَی تَأْلِيفِ ابْنِ مَسْعُودٍ آخِرُهُنَّ الْحَوَامِيمُ حم الدُّخَانُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ راغلي.

دې ته مو پام وي چي مفصل سورتونه درې ډوله دي: طوال، اوساط او قصار، ښايي هغه کس له طوال مفصل يوه سوره په يوه رکعت کي لوستلې وي او ابن مسعود ورته ويلي وي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له قصار مفصل دوه په يوه رکعت کي لوستلې دي.

(١٧) باب: په دوو وروستيو رکعتونو کي يوازي د (الحمد لله) لوستل

440- حَدَّثَنَا مُوسَی بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ يَحْيَی عَنْ

عَبْدِ الله بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ، وَيُسْمِعُنَا الآيَةَ، وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى مَا لاَ يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ، وَهَكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهَكَذَا فِي الصُّبْحِ. (بخاري:776)

440- له ابوقتاده رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ماسپښين په لمانځه کي په دوو لومړيو رکعتونو کي فاتحه او دوه سورتونه (په هر رکعت کي يو) لوستل، او په دوو وروستيو رکعتونو کي ئې يوازي (فاتحه) لوستله، او کله کله به ئې آيتونه موږ ته رااورول، او په لومړي رکعت کي به ئې قرائت دومره اوږداوو چي په دوهم کي به ئې هومره نه اوږداوو، همداراز د مازديګر او سهار په لمونځونو کي.

تکرار: 759، 762، 778، 779

توپير: په يوه کي كَانَ يَقْرَأُ فِى الظُّهْرِ فِى الأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، په بل کي يَقْرَأُ فِى الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، په بل کي كَانَ يَقْرَأُ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا فِى الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ وَصَلاَةِ الْعَصْرِ، په بل کي كَانَ يُطَوِّلُ فِى الرَّكْعَةِ الأُولَى مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ، وَيُقَصِّرُ فِى الثَّانِيَةِ، په يوه کي يُطَوِّلُ فِى الأُولَى، وَيُقَصِّرُ فِى الثَّانِيَةِ، په بل کي وَيُطَوِّلُ فِى الرَّكْعَةِ الأُولَى مَا لاَ يُطَوِّلُ فِى الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په لومړي رکعت کي اوږد او په دوهم کي تر هغه لنډ قرائت کاوو، په وروستيو دوو رکعتو کي به ئې يوازي فاتحه لوستله.

(١٨) باب: امام به (آمين) په لوړ غږ وايي

441- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُمَا أَخْبَرَاهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا أَمَّنَ الإِمَامُ فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". (بخاري:781)

441- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کله چي امام آمين وايي، نو تاسي هم آمين ورسره وايئ، ځکه که د چا آمين له ملائکو سره برابر شي، نو تېر ګناهونه ئې ورته بخښل کېږي).

دا روايت غريب دئ، په صحابه وو کي يو، په تابعينو کي دوه او په تبع تابعينو کي يو راوي لري، د دې په مقابل کي بل روايت داسي دئ چي وايي: کله چي امام و لا الضالين ووايي تاسو آمين ووايئ: إِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ، فَقُولُوا: آمِينَ.

وَأَخْرَجَ أَيْضًا مِنْ حَدِيثِهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ، فَقُولُوا: آمِينَ)

د مدينې فقهاءو د أبو هريرة رضي الله عنه يوه روايت ته ترجيح ورکړې، خو امام ابو حنيفه او امام مالك بل روايت ته. دوی او نور ائمه چي وايي آمين دي په ټيټ ږغ ويل کېږي په دې روايت هم استناد کوي:

عن سلمة بن كهيل عن حجر أبي العنبس عن علقمة بن وائل عن

أبيه: أن رسول الله صلى الله عليه و سلم لما بلغ (غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال: آمين وأخفى صوته.

علقمه بن وائل له خپل پلار روايت كوي چي وايي: كله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم (غير المغضوب عليهم ولا الضالين) ته ورسېدو نو آمين ئې په ټيټ ږغ ووايو.

امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي په څلورو ځايونو كي به امام خپل ږغ ټيټوي: سبحانك اللهم، تعوذ، بسم الله او آمين.

د مرقاة المفاتيح مصنف وايي: حمل أئمتنا ما ورد من رفع الصوت على أول الأمر للتعليم ثم لما استقر الأمر عمل بالاءخفاء والله أعلم.. ثم إن الأصل في الدعاء الاءخفاء لقوله تعالى: (ادعوا ربكم تضرعا وخفية) ولا شك أن آمين دعاء، فعند التعارض يرجح الاءخفاء بذلك وبالقياس على سائر الأذكار والأدعية: زموږ ټول أئمه په دې نظر دي چي په جهر سره آمين ويل په لومړيو كي او خلكو ته د ښووني او تعليم لپاره وو، بيا كله چي كار مستقر شو (خلك پرې پوه شول) نو په خفيه ويلو ئې عمل پيل شو،... له دې علاوه په دعاء كي اخفاء او په ټيټ ږغ دعاء كول اصل دئ ځكه چي الله تعالى فرمايي: (خپل رب ته په زاريو او ټيټ ږغ سره دعاء وكړئ)، او په دې كي شك نشته چي آمين دعاء ده، نو د تعارض په صورت كي په آمين ويلو كي اخفاء او ټيټ ږغ غوره دئ، له نورو اذكارو او دعاگانو سره په قياس).

متأسفانه اوس داسي خلك راپيدا شوي چي د بخاري په دغه غريب روايت به عمل كول داسي گڼي لكه په كوم صريح آيت، لكه چي آمين ويل تر فرض هم اوښتى وي!! په

داسي حال کي چي نه پوهېږي د دې روايت وزن او اعتبار څومره دئ، ولي د امام ابو حنيفه او امام مالك په څېر سترو سترو فقهاوو هغه ته يا اعتبار نه دئ وركړی او يا ئې د ابتدائي دور مربوط ګڼلی او د دې پر ځای ئې هغه روايت معتبر ګڼلی چي د خفيه آمين سپارښتنه کوي، دې ته هم اعتناء نه لري چي امام ابو حنيفه ته له صحابه وو روايات رسېدلي او امام بخاري ته له پنځم نسل!! دوی ته تر ټولو مهم مسائل همدا آمين بالجهر، رفع اليدين، قرائت خلف امام، لاس پر سينه يا پر نامه ايښودل، په قيام کي پښې څومره لري لري ايښودل دي، دغه ورته اساسي مسائل برېښي، تر فرائضو هم مهم، هغه هم نه د دې لپاره چي دا رأيه ئې پر بلي مضبوطه او مستدله موندلې بلکي د مادي اغراضو او له بډايو عربو هېوادو د زهر زقوم ترلاسه کولو لپاره!! موږ له هغو خلکو نه ګيله لرو او نه اعتراض پرې کوو چي يو روايت تر بل ورته غوره او ارجح معلوم شوی او عمل پرې کوي، خو له هغو خلکو کرکه لرو چي له دغو فرعي مسائلو د اختلاف وسيله جوړوي او په ډېرو حساسو شېبو کي د اختلاف راولاړولو په موخه دا فرعي قضاياء عنوانوي!! له دوی به هيڅکله وانه ورئ چي د عربو د اوسنيو فرعونانو او ابوجهلانو په ضد څه ووايي، د دغو هېوادو د حکامو فساد، ظلم، عياشي د پرديو په وړاندي ذلت او د خپلو ولسونو په وړاندي بې رحمي او ظلم ته ګوته ونيسي، په عربو هېوادو کي د امريکايانو د نظامي اډو يادونه وکړي، پر افغانستان او عراق د صليبي ځواکونو يرغلونه وغندي، خو د امام ابو حنيفه په ضد به په ډېر

جسارت او سپين سترګتوب سره بد و رد وايي او د احنافو مذهب به د حديث خلاف ګڼي، دا په داسي حال کي چي د قرآن يو آيت به سم نشي ژباړلی، د يوه حديث له سمي او دقيقي ترجمې به عاجز وي، د بخاري د رواياتو تر منځ توپيرونه او تعارضات به نشي درك كولى او د متعارضو رواياتو له منځ نه د يوه د انتخاب استعداد به نه لري، خو داسي به مغرور وي چي د امت فقهاءو او ائمه وو ته به په سپکه سترګه ګوري، د کوم جومات په کنج کي به ئې څو مظلوم طالب العلمان راغونډ کړي وي، د دوی په نامه به له خلکو پيسې راټولوي، همدا به ئې د معيشت د تأمين ذريعه وي، خو د همدغو مظلومانو له ايمان او عقل سره به لوبي کوي او د مذاهبو په ضد به ئې پاروي.

(19) باب: د آمين ويلو فضيلت

442 . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ: "إِذَا قَالَ أَحَدُكُمْ آمِينَ، وَقَالَتِ الْمَلائِكَةُ فِي السَّمَاءِ: آمِينَ، فَوَافَقَتْ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". (بخاري:781)

442- او له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کله چي له تاسي کوم يو آمين ووايي او ملائکې په آسمان کي آمين ووايي، او دا دواړه آمين ويل يو له بل سره موافق او برابر شي، نو دې آمين ويونکي ته ئې تېر ګناهونه وبخښل شي).

(20) باب: صف ته له رسېدو مخکي رکوع کول

443- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنِ الأَعْلَمِ- وَهْوَ زِيَادٌ- عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ رَاكِعٌ، فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "زَادَكَ الله حِرْصًا وَلاَ تَعُدْ".

(بخاري:783)

443- له ابوبکر رضي الله عنه روايت دئ چي هغه په داسي وخت کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورورسېد چي هغه په رکوع کي وو، نو ده هم مخکي له دې چي صف ته ورسېږي رکوع وکړه، بيا ئې دا پېښه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته بيان کړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (الله تعالى دي حرص زيات کړه، خو بيا داسي مه کوه).

(٢١) باب: په رکوع کي د تکبير بشپړول

444- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ الْوَاسِطِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنِ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي الْعَلاَءِ عَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ صَلَّى مَعَ عَلِيٍّ رضي الله عنه بِالْبَصْرَةِ فَقَالَ ذَكَّرَنَا هَذَا الرَّجُلُ صَلاَةً كُنَّا نُصَلِّيهَا مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم. فَذَكَرَ أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ كُلَّمَا رَفَعَ وَكُلَّمَا وَضَعَ.

(بخاري:784)

444- له عمران بن حصين رضي الله عنه روايت دئ چي په بصره کي ئې له علي رضي الله عنه سره لمونځ وکړ، بيا ئې وويل: دې سړي موږ ته هغه لمونځ را ياد کړ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره به مو کاوو، ياده ئې کړه چي

رسول الله صلى الله عليه و سلم به هر کله چي سر پورته کاوو او يا به کوزاوو تکبير به ئې وايو.

تکرار: 786، 826

توپير: په يوه کي أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ كُلَّمَا رَفَعَ وَكُلَّمَا وَضَعَ، په بل کي فَكَانَ إِذَا سَجَدَ كَبَّرَ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ كَبَّرَ، وَإِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ راغلي. يعني يو ئې وايي چي په هر لوړېدو او ټيټېدو کي به ئې تکبير وايو، چي په دې کي له رکوع لوړېدل هم راځي، خو دوه نور ئې وايي چي سجدې ته په تلو، راپورته کېدو او له دوو رکعتو وروسته نورو رکعتونو ته د لوړېدو پر مهال به ئې تکبير وايو. دوه وروستني (786، 826) ئې ارجح دي. دا ځکه چي له رکوع نه لوړيدا په سمع الله لمن حمده سره ده، نه په تکبير سره.

دا روايت د سند له مخي تر مطلق غريب هم اوښتی، په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي د بخاري له دوو نورو رواياتو سره توپير لري. دا پوښتنه هم راولاړوي چي څنګه ومنو نورو خلکو به دا تکبيرونه نه ويل او راوي يوازي علي رضي الله عنه داسي موندلی چي تکبيرونه ئې ويل؟!! ګڼ شمېر نور روايات وايي چي دا کار ټولو صحابه وو کاوو.

(٢٢) باب: له سجدې د پورته کېدو په وخت تکبير ويل

445- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ

يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ الله لَمِنْ حَمِدَهُ. حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ، ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ- قَالَ عَبْدُ الله (بْنُ صَالِحٍ عَنِ اللَّيْثِ وَلَكَ الْحَمْدُ)- ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِى، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي الصَّلاَةِ كُلِّهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا، وَيُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوسِ. (بخاري:789)

445- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: كله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه لپاره ودرېدو نو له ودرېدو سره سم به ئې تكبير وايو، بيا به ئې ركوع ته د تلو په وخت كي تكبير وايو، بيا به ئې له ركوع نه د خپلي ملا راپورته كولو په وخت كي ويل: (سمع الله لمن حمده) او هغه مهال چي ولاړ به وو ويل به ئې (ربنا و لک الحمد)، بيا به ئې سجدې ته د پرېوتو په وخت كي تكبير وايو، بيا به ئې د سر راپورته كولو په وخت كي تكبير وايو، بيا به ئې د سجدې كولو په وخت كي تكبير وايو، بيا به ئې د سر راپورته كولو پر مهال تكبير وايو، بيا به ئې همدا كار په ټول لمونځ كي تر پايه كاوو، او هغه مهال به ئې هم تكبير وايو چي د دوو ركعتو له ناستي وروسته به لمانځه ته پورته كېدو.

له دې روايت په وضاحت سره معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په لمانځه كي له هر حركت سره تكبير وايو، يوازي له ركوع نه راپورته كېدو پر مهال به ئې سمع الله لمن حمده وايو. طبيعي حالت همدا دئ، په يوه ږغ سره دوه حركتونه غير طبيعي او د اختلال باعث وي. دا صحيح نه ده چي په تكبير سره هم لاسونه لوړ شي او هم

رکوع ته تګ پیل شي.

(٢٣) باب: په رکوع کي لاسونه پر زنګنو ایښودل

446- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ قَالَ سَمِعْتُ مُصْعَبَ بْنَ سَعْدٍ يَقُولُ صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ أَبِي فَطَبَّقْتُ بَيْنَ كَفَّيَّ ثُمَّ وَضَعْتُهُمَا بَيْنَ فَخِذَيَّ، فَنَهَانِي أَبِي وَقَالَ كُنَّا نَفْعَلُهُ فَنُهِينَا عَنْهُ، وَأُمِرْنَا أَنْ نَضَعَ أَيْدِيَنَا عَلَى الرُّكَبِ. (بخاري:790)

446- له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: د خپل پلار خوا ته مي لمونځ وکړ، د دواړو لاسونو ګوتي مي سره یو ځای کړې بیا مي د دواړو ورنونو تر منځ ونیول، پلار مي له دې منع کړم او وئې ویل: موږ به همداسي کول خو ترې منع کړی شوو، او پر دې وګمارل شوو چي خپل لاسونه پر زنګنو کېږدو.

(٢٤) باب: په رکوع کي د شا آوارول

تر دې عنوان لاندي بخاري یو تعلیق لري چي وایي: رَكَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ: رسول الله صلى الله عليه و سلم رکوع وکړه بیا ئې خپله ملا کړه او ټیټه کړه، په ترجمة الباب کي د استوی صیغه راغلې خو په روایت کي د هصر صیغه راغلې، دا دواړه د اصلي معنی له پلوه توپیر سره لري، استوی د برابرولو او آوارولو په معنی ده او هصر یوازي د کږولو او کوزولو په معنی ده. تر دې وروسته بخاري بل ترجمة الباب ایښی چي ژباړه ئې داسي ده: د رکوع د اتمام حد او په هغې کي اعتدال او اطمئنان، او ورپسې ئې لاندي روایت راوړی:

447- حَدَّثَنَا بَدَلُ بْنُ الْمُحَبَّرِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي الْحَكَمُ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رُكُوعُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَسُجُودُهُ وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ، مَا خَلاَ الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ، قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ. (بخاري:792)

447- له براء رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له قيام او قعدې پرته به د رسول الله صلى الله عليه و سلم ركوع، سجدې، د سجدو تر منځ كښېناستل (جلسه) او له ركوع وروسته درېدل (قومه) تقريباً سره برابر وو.

تكرار: 801، 820

توپير: په يوه كي مَا خَلاَ الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ راغلي او په نورو كي نه دي راغلي.

(٢٥) باب: په ركوع كي دعاء

٤48- حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ "سُبْحَانَكَ اللهمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللهمَّ اغْفِرْ لِي". (بخاري:794)

٤48- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به په ركوع او سجده كي فرمايل: (پاكي ده تا لره اې خدايه، ته زموږ رب يې، حمد او ثناء تا لره دي، اې خدايه! مغفرت راته وكړې).

تكرار: 817، 4293، 4967، 4968

توپير: په ځينو كي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ راغلي او په ځينو كي نه دي راغلي، د دې فقرې معنى دا ده چي د إذا جاء نصر

الله و الفتح د سورې د وينا مطابق ئې دا كار كولو.

دا روايت د سند له پلوه ډېر غريب دئ، په څلورو طبقو كي يو يو راوي لري. له هغو رواياتو سره اړخ نه لگوي چي د ركوع او سجدې تسبيحات بېل بېل ښيي، له ركوع سره داسي تسبيحات ښايي چي له دې حركت سره ورته وي، لكه سبحان ذي الملك و الملكوت، سبحان ذي العزة و العظمة و القدرة و الكبرياء و الجبروت، سبحان ربي العظيم او دې ته ورته چي په گڼ شمېر رواياتو كي راغلي، ټول ئې د الله تعالى په عظمت او جلال د اعتراف تسبيحات دي، او له سجدې سره هغه تسبيحات ښايي چي له دعاء او زاريو سره توأم وي لكه چي په پورتني روايت او نورو رواياتو كي راغلي، ځكه سجده همداسي حالت دئ چي د دعاء او زاريو پر مهال ئې انسان غوره كوي.

دې ته مو هم پام وي چي ځيني روايات وايي چي د النصر سورې له نزول وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم د پورتني روايت تسبيحات له لمانځه بهر ډېر زيات ويل.

449- وَعَنْهَا رضي الله عنها فِي رِوايةٍ أُخْرَى: يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ. (بخاري:817)

449- او له عائشې رضي الله عنها په بل روايت كي راځي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په ركوع او سجده كي هغه څه ويل چي په قرآن كي ئې امر ورته شويدى.

مقصد ئې دا دئ چي هغه څه به ئې ويل چي د النصر په سورې كي ئې امر ورته شوى وو: تسبيح، تحميد او استغفار.

(٢٦) باب: د ربنا لک الحمد فضیلت

450- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا قَالَ الإِمَامُ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. فَقُولُوا اللهمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". (بخاري:796)

450- له ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلى الله علیه و سلم فرمایلي: (کله چي امام سمع الله لمن حمده ووایي، نو تاسي وایئ اللهم ربنا لک الحمد، ځکه که د چا وینا د ملائکو له وینا سره یو ځای او موافقه شي نو تېر ګناهونه به ئې ورته وبخښل شي).

تکرار: 3228

توپیر: دواړه د الفاظو له پلوه سره ورته دي.

دې ته مو پام وي چي له ګناهونو مراد هغه صغیره ګناهونه دي چي په داسي مستحبو کارونو سره ئې الله تعالی بخښي.

دا روایت د انس او ابو موسی رضي الله عنهما له لوري هم روایت شوی او له ابو هریره رضي الله عنهنه هم په بله صیغه، خو له دومره توپیر سره چي دا فقره په کي نشته فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلاَئِكَةِ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. دا نور روایتونه هم د سند له مخي تر دې ارجح دي او هم د متن له پلوه.

(٢٧) باب:

٤٥٨- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لأُقَرِّبَنَّ صَلاَةَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. فَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه يَقْنُتُ فِي الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ وَصَلاَةِ الْعِشَاءِ، وَصَلاَةِ الصُّبْحِ، بَعْدَ مَا يَقُولُ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. فَيَدْعُو لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَلْعَنُ الْكُفَّارَ. (بخاري: 797)

٤٥٨- او له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم لمونځ درته رانږدې کوم، (د ده لمانځه ته نژدې لمونځ درته ښيم)، رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ماسپښين، ماخستن او سهار په وروستي رکعت کي دسمع الله لمن حمده له ويلو وروسته د قنوت دعاء لوستله، مسلمانانو ته به ئې دعاء کوله او پر کفارو به ئې لعنت وايو.

تکرار: 804، 1006، 2932، 3386، 4560، 4598، 6200، 6393، 6940

توپير: دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يوازي يو يو راوي لري. د متن له پلوه هم له نورو سره تعارض لري.، په يوه کي فِي الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِنْ صَلاَةِ الظُّهْرِ وَصَلاَةِ الْعِشَاءِ، وَصَلاَةِ الصُّبْحِ، په بل کي فِي الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِنْ صَلاَةِ الْعِشَاءِ قَنَتَ، په يوه کي فَيَدْعُو لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَلْعَنُ الْكُفَّارَ، په بل کي يَدْعُو لِرِجَالٍ فَيُسَمِّيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ فَيَقُولُ "اللهمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، اللهمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، وَاجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ، په

بل كي يَقُولُ "اللهمَّ أَنْجِ عَيَّاشَ بْنَ أَبِى رَبِيعَةَ، اللهمَّ أَنْجِ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، اللهمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، اللهمَّ أَنْجِ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، په بل کي اللهمَّ الْعَنْ فُلاَنًا وَفُلاَنًا". لأَحْيَاءٍ مِنَ الْعَرَبِ، حَتَّى أَنْزَلَ الله (لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَىْءٌ راغلي، په يوه کي دا هم راغلي قَالَ ابْنُ أَبِى الزِّنَادِ عَنْ أَبِيهِ هَذَا كُلُّهُ فِى الصُّبْحِ: ابن ابي الزناد وايي چي دا ټول به د سحر په لمانځه کي وو. لکه چي ګورئ د روايت له متنه معلوميږي چي ټول په يوه لمانځه کي د قنوت او خاصو خلکو ته د دعاء او ښېرا خبره کوي خو په الفاظو کي ئې توپيرونه شته، دا روايت په دريو وختونو کي د قنوت خبره کوي خو بل ئې يوازي د سحر په لمانځه کي ګڼي. يو روايت دا هم وايي چي دا ښېرا تر هغه مهاله وې چي دا آيت نازل شو: (لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَىْءٌ) الآيَةَ. دا د آل عمران د سورې 128آيت دئ چي د احد له جګړي وروسته نازل شوی، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغي خبري په ځواب کي نازل شوی چي د همدې جګړي په دوران کي ئې ويلي وو: هغه قوم به څنګه وژغورل شي چي خپل پيغمبر مجروح کړي؟!! خو الله تعالى ورته وفرمايل: د چا د نجات او هلاکت پرېکړه د الله تعالى له لوري کيږي، د دې واك نه تا ته سپارل شوی او نه بل چا ته. نو دا آيت له قنوت سره تعلق نه لري، په دې سره قنوت نه دئ منسوخ شوی، په سختو حالاتو کي مسلمانان کولى شي د سحر او ماښام په لمونځونو کي قنوت ووايي.

798- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ أَبِى الأَسْوَدِ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ أَبِى قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ الْقُنُوتُ فِى

الْمَغْرِبِ وَالْفَجْرِ. (بخاري:798)

452- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د قنوت دعاء به د ماښام او سهار په لمونځونو کي لوستل کېده).

تکرار: 1004

توپير: دواړه سره ورته دي. دا روايت هم د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري.

453- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ الله الْمُجْمِرِ عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَحْيَى بْنِ خَلاَّدٍ الزُّرَقِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيِّ قَالَ كُنَّا يَوْمًا نُصَلِّى وَرَاءَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ قَالَ "سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ". قَالَ رَجُلٌ وَرَاءَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ". قَالَ أَنَا. قَالَ "رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلاَثِينَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا، أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ". (بخاري:799)

453- له رفاعه بن رافع رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه ورځ مي په رسول الله صلى الله عليه و سلم پسي لمونځ کاوو، کله چي ئې سر له رکوع نه پورته کړ وئې ويل: (سمع الله لمن حمده)، يوه سړي چي تر شا ئې وو وويل: (ربنا و لک الحمد، حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه)، کله چي له لمانځه فارغ شو وئې فرمايل: (دا ويوونکی څوک وو؟)، هغه کس وويل: زه وم، وئې فرمايل: (څو دېرش فرشتې مي وليدلې چي ټولو پدې کي بيړه کوله چي کومه يوه ئې لومړی وليکي). يعني دا کلمات دومره عظمت لري چي ګڼ شمېر فرشتو ئې په ليکلو کي تلوار کولو.

دا روايت په همدې صيغه په څلورو طبقو کي يو يو

راوي لري، خو په لږ توپير سره د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما هم روايت شوی. په دې توګه دا روايت هم د سند له پلوه او هم د متن له پلوه تر هغه روايت ډېر غوره او ارجح دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې له شا نه د مقتديانو ليدل منسوب کړي. ځکه دا وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له لمانځه وروسته وپوښتل چي د دغو کلمو ويوونکی څوك وو؟ که ئې له شا نه څوك ليدلی نو دا پوښتنه به ئې نه کوله. هغه روايت له قرآن سره تعارض لري او دا ئې نه لري.

(۲۸) باب: له رکوع وروسته په آرامه درېدل

454- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ ثَابِتٍ قَالَ كَانَ أَنَسٌ يَنْعَتُ لَنَا صَلاَةَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَكَانَ يُصَلِّى وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَامَ حَتَّى نَقُولَ قَدْ نَسِيَ. (بخاري:800)

454- له ثابت رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: انس رضي الله عنه موږ ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم لمونځ په دې توګه ستايلو: داسي لمونځ به ئې کاوو چي کله به ئې سر له رکوع راپورته کړ نو دومره به ولاړ وو چي موږ به ويل: لکه چي سجده ترې هېره شوه.

تکرار: 821

توپير: په يوه کي وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَامَ حَتَّى نَقُولَ قَدْ نَسِيَ، په بل کي إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَامَ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ قَدْ نَسِيَ وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ قَدْ نَسِيَ راغلي، يو ئې يوازي قومې ته اشاره کوي او بل قومې او جلسې دواړو ته.

(٢٩) باب: په قومه کي دعاء

455- وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه وَكَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ يَقُولُ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ. يَدْعُو لِرِجَالٍ فَيُسَمِّيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ فَيَقُولُ "اللهمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، اللهمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، وَاجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ". وَأَهْلُ الْمَشْرِقِ يَوْمَئِذٍ مِنْ مُضَرَ مُخَالِفُونَ لَهُ. بخاري 804

455- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي له ركوع سر پورته کړ فرمايل به ئې: (سمع الله لمن حمده، ربنا و لک الحمد: الله د هغه چا خبري واورېدې چي د ده حمد ئې ووايو، اې زموږ ربه! ټولي ستايني تا لره دي). پدې وخت کي به ئې ځينو سړو ته دعاء کوله او په نومونو به ئې يادول او فرمايل به ئې: (اې خدايه! وليد بن وليد او سلمه بن هشام او عياش بن ربيعه او کمزورو مؤمنانو ته نجات ورکړې، اې خدايه! خپل قهر او غضب دي پر (مضر) سخت کړه او د يوسف (عليه السلام) د قحطۍ او وچکالۍ په شان قحطي او وچکالي پرې راوله). هغه وخت د مضر قبيلې د ختيځ اوسېدونکي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخالفين ول.

تکرار: 797، 1006، 2932، 3386، 4560، 4598، 6200، 6393، 6940

توپير: دا روايت په ٤٥٨ روايت کي څېړل شوی.

(۳۰) باب: د سجدې فضیلت

456- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَعَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ اللَّيْثِيُّ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُمَا أَنَّ النَّاسَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ، هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ "هَلْ تُمَارُونَ فِي الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَيْسَ دُونَهُ سَحَابٌ". قَالُوا لاَ يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ "فَهَلْ تُمَارُونَ فِي الشَّمْسِ لَيْسَ دُونَهَا سَحَابٌ". قَالُوا لاَ. قَالَ "فَإِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذَلِكَ، يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيَقُولُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْ. فَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الشَّمْسَ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الْقَمَرَ وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الطَّوَاغِيتَ، وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا مُنَافِقُوهَا، فَيَأْتِيهِمُ اللهُ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا، فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ. فَيَأْتِيهِمُ اللهُ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ. فَيَقُولُونَ أَنْتَ رَبُّنَا. فَيَدْعُوهُمْ فَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ، وَلاَ يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ إِلاَّ الرُّسُلُ، وَكَلاَمُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اللهمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ. وَفِي جَهَنَّمَ كَلاَلِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ، هَلْ رَأَيْتُمْ شَوْكَ السَّعْدَانِ". قَالُوا نَعَمْ. قَالَ "فَإِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ، غَيْرَ أَنَّهُ لاَ يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلاَّ اللهُ، تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ، فَمِنْهُمْ مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو، حَتَّى إِذَا أَرَادَ اللهُ رَحْمَةَ مَنْ أَرَادَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، أَمَرَ اللهُ الْمَلاَئِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ، فَيُخْرِجُونَهُمْ وَيَعْرِفُونَهُمْ بِآثَارِ السُّجُودِ، وَحَرَّمَ اللهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ فَيَخْرُجُونَ مِنَ النَّارِ، فَكُلُّ ابْنِ آدَمَ تَأْكُلُهُ النَّارُ إِلاَّ أَثَرَ السُّجُودِ، فَيَخْرُجُونَ مِنَ النَّارِ قَدِ امْتَحَشُوا، فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءُ الْحَيَاةِ، فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي

حَمِيلِ السَّيْلِ، ثُمَّ يَفْرُغُ اللهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ الْعِبَادِ، وَيَبْقَى رَجُلٌ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، وَهْوَ آخِرُ أَهْلِ النَّارِ دُخُولاً الْجَنَّةَ، مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ قِبَلَ النَّارِ فَيَقُولُ يَا رَبِّ اصْرِفْ وَجْهِى عَنِ النَّارِ، قَدْ قَشَبَنِى رِيحُهَا، وَأَحْرَقَنِى ذَكَاؤُهَا. فَيَقُولُ هَلْ عَسَيْتَ إِنْ فُعِلَ ذَلِكَ بِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَ ذَلِكَ فَيَقُولُ لاَ وَعِزَّتِكَ. فَيُعْطِى اللهَ مَا يَشَاءُ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ، فَيَصْرِفُ اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ، فَإِذَا أَقْبَلَ بِهِ عَلَى الْجَنَّةِ رَأَى بَهْجَتَهَا سَكَتَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ، ثُمَّ قَالَ يَا رَبِّ قَدِّمْنِى عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمَوَاثِيقَ أَنْ لاَ تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِى كُنْتَ سَأَلْتَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ لاَ أَكُونُ أَشْقَى خَلْقِكَ. فَيَقُولُ فَمَا عَسَيْتَ إِنْ أُعْطِيتَ ذَلِكَ أَنْ لاَ تَسْأَلَ غَيْرَهُ فَيَقُولُ لاَ وَعِزَّتِكَ لاَ أَسْأَلُ غَيْرَ ذَلِكَ. فَيُعْطِى رَبَّهُ مَا شَاءَ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ، فَيُقَدِّمُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَإِذَا بَلَغَ بَابَهَا، فَرَأَى زَهْرَتَهَا وَمَا فِيهَا مِنَ النَّضْرَةِ وَالسُّرُورِ، فَيَسْكُتُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ، فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَدْخِلْنِى الْجَنَّةَ. فَيَقُولُ اللهُ وَيْحَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ، أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعَهْدَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لاَ تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِى أُعْطِيتَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ لاَ تَجْعَلْنِى أَشْقَى خَلْقِكَ. فَيَضْحَكُ اللهُ- عَزَّ وَجَلَّ- مِنْهُ، ثُمَّ يَأْذَنُ لَهُ فِى دُخُولِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ تَمَنَّ. فَيَتَمَنَّى حَتَّى إِذَا انْقَطَعَتْ أُمْنِيَّتُهُ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ تَمَنَّ كَذَا وَكَذَا. أَقْبَلَ يُذَكِّرُهُ رَبُّهُ، حَتَّى إِذَا انْتَهَتْ بِهِ الأَمَانِىُّ قَالَ اللهُ تَعَالَى لَكَ ذَلِكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ". قَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِىُّ لأَبِى هُرَيْرَةَ رضي الله عنهما إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ "قَالَ اللهُ لَكَ ذَلِكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ". قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ لَمْ أَحْفَظْ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم إِلاَّ قَوْلَهُ "لَكَ ذَلِكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ". قَالَ أَبُو

سَعِيدٍ إِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ "ذَلِكَ لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ". (بخاري:806)
456- او له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي خلکو وويل: يا رسول الله! آيا د قيامت په ورځ به خپل رب وينو؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (آيا د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په ليدو کي چي ترې لاندي وريځ نه وي شک کوئ؟) اصحابو رضي الله عنهم وويل: نه؛ يا رسول الله! رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (آيا کله چي تر لمر لاندي وريځ نه وي د هغه په ليدو کي شک کوئ؟) وئې ويل: نه، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: تاسي به ئې په همدې توګه وينئ. د قيامت په ورځ به خلک راغونډ کړی شي، الله تعالى به وفرمايي: چا چي د څه عبادت کاوو په هغه پسي دي ولاړ شي، نو له دوی به ځيني په لمر پسي روان شي، ځيني به ئې په سپوږمۍ پسي شي او ځيني به ئې په طاغوتانو پسي، او دا امت (اسلامي امت) به په داسي حال کي چي منافقان به هم ورسره وي پاته شي، الله تعالى به ورته راشي او وبه فرمايي: زه ستاسي رب يم، خلک به ووايي: تر هغه چي زموږ رب نه وي راغلی موږ به همدلته يو، کله چي زموږ رب راشي نو وبه ئې پېژنو، نو الله تعالى به ورته راشي او وبه فرمايي: زه مو رب يم، خلک به ووايي: ته زموږ رب يې، بيا به ئې الله تعالى وروبلي او پر دوزخ به يو پل جوړ شي، او زه (محمدصلى الله عليه و سلم به د رسولانو (عليهم السلام) له منځ نه لومړی شخص وم چي له خپل امت سره به پر هغه پل تېرېږم، او پدې ورځ به له رسولانو پرته هيڅوک خبري نشي کولی، او په دې ورځ به د رسولانو وينا دا وي: اې خدايه! سلامتي را، سلامتي را، او په دوزخ کي د مغيلان

اغزیو په څېر چنګکونه دي، آیا تاسو د مغیلان اغزي لیدلي؟) وئې ویل: هو؛ وئې فرمایل: (دغه چنګکونه به د مغیلان اغزیو په شان وي، خو لوی والی ئې یوازي الله ته معلوم دئ، دا چنګکونه به خلک د خپلو عملونو له مخي رانیسي، ځیني به د خپل عمل له امله هلاکېږي (په دوزخ کي لوېږي)، ځیني به ګرول کېږي (چنګکونه به ئې ژوبل کړي)، خو وبه ژغورل شي، تر هغه چي الله تعالی پر ځینو خپل رحمت پېرزو کول وغواړي، نو ملائکو ته به امر وکړي چي هغه کسان له دوزخ وباسئ چي د خدای عبادت ئې کاوو، ملائکې به د خدای عبادت کوونکی د سجدو له نښو وپېژني او له دوزخ به ئې وباسي، او الله تعالی د دوزخ پر اور دا حرامه کړې ده چي د سجدو نښي وخوري (وسوزوي)، نو له دوزخ به ووځي، د دوزخ اور د سجدو له نښو پرته د انسان ټول بدن خوري (له مینځه ئې وړي) (د سجدې له نښو هغه اندامونه مراد دي چي سجده پرې کېږي لکه تندی، لاسونه، زنګنونه، د پښو ګوتي)، له دوزخ به په داسي حال کي ووځي چي ټول بدن به ئې سوزیدلی وي، نو د ژوند اوبه به پرې توی کړی شي او دوی به داسي راوټوکېږي لکه د خوړ په ژی کي چي دانې راټوکېږي، بیا به الله تعالی د بندګانو تر منځ له فیصلې او قضاوت فارغ شي، یو سړی به د جنت او دوزخ تر منځ پاته وي او دا به وروستی دوزخي وي چي جنت ته به ننوځي، مخ به ئې د دوزخ اور ته مخامخ وي، وبه وایي: اې خدایه! مخ مي له اور نه وګرځوه، د دوزخ بوی ډېر کړولی یم، لمبو ئې سوزولی یم، الله تعالی به وفرمایي: که دا سوال دي قبول شي، نو آیا بل څه به هم غواړې؟ هغه به ووایي: نه، ستا په

عزت مي دي قسم وي، او نوري ژمني به هم له الله تعالی سره وکړي، نو الله تعالی به ئې مخ له دوزخ وګرځوي، او کله چي ئې د جنت لوري ته مخامخ کړي، کله چي د جنت ښکلا ووينې، تر هغه وخته چي الله غوښتي وي چوپ به پاته شي، بيا به ووايي: اې زما ربه! د جنت تر دروازې مي ورسوه، الله تعالی به وفرمايي: آيا تا راسره ژمني او وعدې نه وې کړې چي له همغه يوه سؤال پرته به بل څه نه غواړې؟ وبه وايي: اې زما ربه! ستا تر ټولو بدبخت بنده مي مه ګرځوه، الله تعالی به وفرمايي: که دا سؤال دي هم ومنل شي نو بيا خو به نور څه نه غواړې؟ وبه وايي: نه، ستا په عزت مي قسم، چي له دې پرته هيڅ څه نه غواړم، او نوري ژمني به هم له الله تعالی سره وکړي، بيا به ئې الله تعالی د جنت دروازې ته ورسوي، کله چي د جنت ښکلا، ګلان، فرحت او شين والی ووينې، تر هغه وخته چي الله غوښتي وي چوپ به پاته شي، بيا به ووايي: اې زما ربه! جنت ته مي داخل کړه! الله تعالی به ورته وفرمايي: افسوس پر تا اې د آدم زويه! دا ته څومره عهد ماتوونکی يې؟! آيا تا دا عهد او تړون نه وو کړی چي يوازي همغه څه به غواړې چي درکړی شو؟ هغه بنده به وايي: اې زما ربه! ستا تر ټولو بدبخت بنده مي مه ګرځوه، نو پدې سره به الله تعالی وخاندي، بيا به جنت ته د ننوتو اجازه ورکړي او ورته وبه فرمايي: وغواړه، څه چي غواړې، نو هغه سړی به هم تر هغه غوښتني کوي چي هيلي ئې ترسره شي، بيا به الله تعالی ورته وفرمايي: دا شی، او دا شی هم وغواړه، الله تعالی به يادونه ورته وکړي چي دا او دا هم وغواړه، (الله به ئې هيلې ورپه يادوي)، دومره به وغواړي چي هيلي

ئې بشپړې شي، الله تعالی به وفرمايي: څه چې دي وغوښتل دوه برابره ئې درکړی شو.
ابو سعيد خدري رضي الله عنه ابوهريره رضي الله عنه ته وويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (الله تعالی به دې کس ته ووايي: تا ته ټول هغه څه درکړی شو چې ودي غوښتل او د هغوی لس برابره نور هم درکوم)، ابوهريره رضي الله عنه وايي: زما يوازي دا په ياد دي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (څه چې دي وغوښتل دوه برابره ئې درکړی شو)، ابو سعيد رضي الله عنه وويل: ما له رسول الله صلی الله عليه و سلم اورېدلي چې فرمايل ئې: (الله تعالی به هغه سړي ته وايي: تا ته مي ستا دا غوښتني او د هغوی لس برابر نور شيان هم درکړل).
تکرار: 6573، 7437

توپير: په يوه کي فَيَقُولُونَ هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا، فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ، په بل کي يَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ. فَيَقُولُونَ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ، په يوه کي وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا مُنَافِقُوهَا، په بل کي وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا شَافِعُوهَا- أَوْ مُنَافِقُوهَا شَكَّ إِبْرَاهِيمُ، په يوه کي فَلاَ يَزَالُ يَدْعُو حَتَّى يَضْحَكَ، فَإِذَا ضَحِكَ مِنْهُ أَذِنَ لَهُ بِالدُّخُولِ فِيهَا راغلي، په بل کي فَيَضْحَكُ اللهُ- عَزَّ وَجَلَّ – مِنْهُ، په يوه کي أَمَرَ الْمَلاَئِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ لاَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا، په بل کي مِمَّنْ أَرَادَ اللهُ أَنْ يَرْحَمَهُ مِمَّنْ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ راغلي، د مسلم روايت داسي دئ چې په نورو توپيرونو سربېره په دغو مواردو کي هم د بخاري له رواياتو سره جدي توپير لري: د شمس او قمر پر ځای الأَصْنَامِ وَالأَنْصَابِ راغلي، د وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا شَافِعُوهَا- أَوْ مُنَافِقُوهَا پر ځای حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلاَّ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ مِنْ

بَرٍّ وَفَاجِرٍ وَغُبَّرِ أَهْلِ الْكِتَابِ راغلي، د مسلم د روايت دا برخه د بخاري په رواياتو کي نشته: فَيُدْعَى الْيَهُودُ فَيُقَالُ لَهُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ قَالُوا كُنَّا نَعْبُدُ عُزَيْرَ ابْنَ الله. فَيُقَالُ كَذَبْتُمْ مَا اتَّخَذَ الله مِنْ صَاحِبَةٍ وَلاَ وَلَدٍ فَمَاذَا تَبْغُونَ قَالُوا عَطِشْنَا يَا رَبَّنَا فَاسْقِنَا. فَيُشَارُ إِلَيْهِمْ أَلاَ تَرِدُونَ فَيُحْشَرُونَ إِلَى النَّارِ كَأَنَّهَا سَرَابٌ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيَتَسَاقَطُونَ فِى النَّارِ. ثُمَّ يُدْعَى النَّصَارَى فَيُقَالُ لَهُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ قَالُوا كُنَّا نَعْبُدُ الْمَسِيحَ ابْنَ الله. فَيُقَالُ لَهُمْ كَذَبْتُمْ. مَا اتَّخَذَ الله مِنْ صَاحِبَةٍ وَلاَ وَلَدٍ. فَيُقَالُ لَهُمْ مَاذَا تَبْغُونَ فَيَقُولُونَ عَطِشْنَا يَا رَبَّنَا فَاسْقِنَا. همدا راز د مسلم په روايت کي دا خبري تر سترګو کيږي چي د بخاري په رواياتو کي نشته او جدي بحث ايجابوي: فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ. فَيَقُولُونَ نَعُوذُ بِالله مِنْكَ لاَ نُشْرِكُ بِالله شَيْئًا- مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا- حَتَّى إِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَكَادُ أَنْ يَنْقَلِبَ. فَيَقُولُ هَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ آيَةٌ فَتَعْرِفُونَهُ بِهَا فَيَقُولُونَ نَعَمْ. فَيُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ فَلاَ يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلَّهِ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهِ إِلاَّ أَذِنَ الله لَهُ بِالسُّجُودِ وَلاَ يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ اتِّقَاءً وَرِيَاءً إِلاَّ جَعَلَ الله ظَهْرَهُ طَبَقَةً وَاحِدَةً كُلَّمَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ خَرَّ عَلَى قَفَاهُ. ثُمَّ يَرْفَعُونَ رُءُوسَهُمْ وَقَدْ تَحَوَّلَ فِى صُورَتِهِ الَّتِى رَأَوْهُ فِيهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمْ. فَيَقُولُونَ أَنْتَ رَبُّنَا: الله تعالى به ووايي: زه مو رب يم، هغوی به ووايي: له تا الله ته پناه وړو!! له هغه سره هيڅ څه نه شريکوو!! دوه ځلي يا درې ځلي (به همدا خبري وکړي)، تر هغه چي ځيني به ئې نژدې وي تر شا شي، نو الله تعالى به ووايي: آيا ستاسو او هغه تر منځ کومه نښه شته چي په هغې سره ئې وپېژنئ؟ وبه وايي: هو؛ نو په دې وخت کي به پونډۍ بربنډه کړی شي (يعني د الله تعالى پونډۍ به بربنډه

کړی شي)، (د الله تعالی په اړه د داسي خبري له منلو او کولو هغه ته پناه وړو)، نو له هغو چي له زړه ئې الله ته سجده کوله هیڅوك به داسي پاته نشي چي الله د سجدې اجازه ورنه کړي، او له هغو چي د وېري او ریاء له مخي ئې سجده کوله هیڅوك به داسي ترې پاته نشي چي الله تعالی به ئې ملا یوه طبقه نه کړي، کله چي د سجدې اراده وکړي په شا به ولوېږي (سجده به نشي کولی)، بیا به خپل سرونه رالوړ کړي په داسي حال کي چي الله تعالی به داسي صورت او شکل کي بدل شوی وي چي دوی د لومړي ځل لپاره لیدلی وو!! نو وبه وایي: زه ستاسو رب یم، هغوی به ووایي: هو ته زموږ رب یې!!

په دې څو جملو کي دومره خطرناکي خبري دي چي هیڅ مسلمان ئې باید په خوله رانه وړي، منل خو ئې آخوا پرېږده!! له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري، لاندي خبرو ته ئې ځیر شئ:

آیا ممکنه ده چي د قیامت په ورځ به مؤمنان خپل رب ته ووایي: له تا الله ته پناه وړو؟!!

هغه څه چي تحول قبلوي مخلوق دئ نه الله تعالی، خو دا روایت الله تعالی ته له یوه شکل بل ته اوښتل منسوبوي!!

دا روایت وایي چي الله تعالی به داسي بڼه غوره کړي چي مؤمنان به ئې وپېژني او پوه به شي چي دا خو همغه خدای دئ چي د لومړي ځل لپاره مو لیدلی وو!! پوښتنه کوو: دا لومړی ځل کله وو؟ مؤمنانو خو خپل رب نه دئ لیدلی، په قرآن کي هم دوی ته نه دي ویل شوي چي الله تعالی خاص شکل او صورت لري!! نو د دې خبري معنی څه

ده؟!! او که له اول ځل مراد په همغه ورځ لومړۍ لیدنه وي او هغه مهال ئې نه وو پېژندلی او وروسته ئې وپېژندو!! نو پوښتنه دا ده چې په دوهمي لیدني کې څنګه پوه شول چې دا همغه خدای دئ چې مخکې مو ونه پېژاندو؟!

موږ ته خو قرآن نه دي ویلي چې الله تعالی پونډۍ لري او تاسو به ئې د قیامت په ورځ له پونډۍ پېژنئ، له پونډۍ نه خو څوك خپل زوی هم نشي پېژندی، الله تعالی به څنګه له پونډۍ پېژندل کېږي؟!!

یوم یکشف عن ساق د القلم د سورې د 42 آیت یوه فقره ده چې په هغې کې له ساق نه مراد د کافرانو ساق دئ نه د الله تعالی ساق!! الله تعالی نه ساق لري او نه بل غړی، الله تعالی نه په ذات کې هیڅ مخلوق ته ورته دئ او نه په صفاتو او افعالو کې، الله تعالی له دې ډېر ډېر لوړ دئ چې ساق ولري او هغه دي په جامه پټ وي او د قیامت په ورځ دي بل څوك د هغه ساق ورلوڅ کړي، د یُکشف معنی خو دا ده چې ساق ئې وربربنډ کړی شي، یُکشف مجهوله صیغه ده بل فاعل ته ضرورت لري، آیا دا ډېر جسارت او کمعقلي نه ده چې څوك د رب العالمین په اړه داسې خبره په خوله راوړي؟!! هغه روایات قطعاً د اعتبار وړ نه دي چې داسې خبري په کې موندل کېږي، لاندې روایت ئې یو مثال دئ:

حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلاَلٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ، وَيَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا

رِئَاءً وَسُمْعَةً، فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا". (بخاري: 4919)

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې واورېدل چي فرمايل ئې: زموږ رب به خپله پنډۍ بربنډه کړي، نو ټول نارينه او ښځينه مؤمنان به ورته سجده وکړي، او هغه څوك به همداسي پاته شي چي په دنيا كي ئې د رياء او ځان ښودني لپاره سجده كوله، سجدې ته به راوړاندي شي خو شا به ئې يوه طبقه شي (سجده به نه شي كولى).

تكرار: د پورتني روايت مطلب په 7439 روايت كي هم راغلى، خو هغه ډېر اوږد دئ.

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب دئ، په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو كي يو يو او تر هغوى وروسته طبقه كي دوه راويان لري، بخاري په همدې صيغه دوه ځلي راوړى، د متن له پلوه له قرآن او اسلامي عقيدې سره ژور تعارض لري،

د روايت سند او متن ته په پام سره محققينو علماءو هغه د اعتبار وړ نه دئ گڼلى او د قلم د سورې د دې آيت تفسير ئې نه بولي:

يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلا يَسْتَطِيعُونَ42 خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُواْ يُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمْ سَٰلِمُونَ ٤٣ فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ٤٤ القلم: 42- 44

هغه ورځ چي پنډۍ بربنډي كړى شي، او دوى سجدې ته

راوبلل شي، خو توانېدی به نه شي. سترګي ئې خړي او تېټي، ذلت پرې سیوری غوړولی، یقیناً چي له دې مخکي سجدې ته رابلل کېدل په داسي حال کي چي روغ رمټ ول.

راشئ وګورو چي د دې آیت اصلي معنی څه ده:

درنو مفسرینو د دې آیت د تفسیر په اړه بېل بېل آراء وړاندي کړي. که دا روایات ئې موثق ګڼلی د بلي رأیي له ورکولو به ئې حتماً ډډه کوله. څنګه ممکنه ده چي پیغمبر علیه السلام دي دا خبره کړې وي او د ابن عباس رضي الله عنهما په څېر صحابه دي ترې خبر نه وي او دا آیت دي په بل ډول تفسیر کړي. د ابن عباس او مجاهد رضي الله عنهما په څېر لویو لویو شخصیتونو دا آیت په بل ډول تفسیر کړی، د دوی رأیه دا ده چي له یکشف عن ساق نه مراد د قیامت هولناك حالت دئ. د آیت له سیاق و سباق نه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا رأیه کاملاً صحیح او دقیقه ده.

په تفسیرونو کي د دې آیت په اړه د ډېرو ضعیفو او کمزورو آراوو تر څنګ دوه د پام وړ تعبیرونه مومو:

الف: هغه ورځ چي د هیبتناك حالت له وېري به ئې د ډېرو پیڅې پورته او پنډۍ لوڅي شي او د مفر په لټه کي به تښتي، سجدې ته به رابلل کېږي خو د سخت هیبت او وېري په وجه به د سجدې توان ترې سلب شوی وي، حواس به ئې داسي پرېشانه وي چي نه به د چا خبره اورېدی شي او نه به په دې پوهېږي چي څه وکړي.

ب: هغه ورځ چي حقائق بربنډ شي، حجابونه او پردې پورته شي، د ټولو حقائقو بنیاد او بنسټ ښکاره شي، هر

څه به دوی سجدې ته رابلي خو دوی به له سجدې عاجز وي، دا ځکه چي په دنيا کي ئې د سجدې مشق او تمرين نه وو کړی.

د لومړي تعبير له مخي ساق په خپله اصلي معنا، پنډۍ اخيستل شوی، او په دوهم تعبير کي د اصل او بنسټ په معنا نيول شوی. لومړۍ توجيه هم دقيقه ده او هم د سورې له مجموعي فضاء سره ژور مناسبت لري.

يوم يكشف عن ساق د وېرې نښه ده چي ورپسې آيت ئې مزيد وضاحت کوي، او وايي سترګي به ئې وېرجني او ذلت به سيورى پرې غوړولی وي، نو خود به سجده نه شي کولی، هغه وخت چي روغ رمټ ول، له سجدې ئې ډډه کوله.

متأسفانه په ځينو تفسيرونو کي په دې اړه داسي تعبيرونه هم مومو چي نه يوازې د قرآن له اساساتو سره سخت ټکر کوي، بلکي هر مسلمان په حيرت کي غورځوي چي څنګه يو مفسر د داسي خبري کولو جرأت کوي، او څنګه ئې مني!! د الله تعالی د ذات د څرنګوالي په اړه څه ويل او هغه ته غړي او جوارح ثابتول لوی جسارت دئ. دلته نه په خپله آيت او نه ترې وروسته او مخکي آيتونو کي د الله نوم ياد شوی، دا صيغه قطعاً الله تعالی ته نشو راجع کولی، دلته يُكشَف عن ساق ويل شوي، فاعل ئې مجهول دئ، د الله تعالی ساق ته ئې راجع کول ستره غلطي ده، دا نه شو ويلی چي د الله تعالی ساق به بل څوك وربربنډ کړي، که د دې په ځای داسي ويل شوي وی يَكشِفُ عن ساقه خپل ساق به بربنډ کړي، او تر دې وړاندي د الله تعالی نوم راغلی وی بيا دغو خلکو ويلی شوی چي کېدی شي له دې هغه څه

مراد وي چي موږ ئې وايو!! بايد دې ته مو پام وي چي موږ د الله تعالی د ذات په اړه له فکر کولو هم منع شوي يو، دا خو پرېږده چي هغه ته د غړو ثابتولو جسارت وکړو. دا په داسي حال کي چي نه د قرآن په کوم بل آيت کي د الله تعالی د ذات په اړه څه ويل شوي او نه په دغه آيت کې، دلته خو اصلاً د الله تعالی د ذات په اړه نه صريحاً بحث کېږي او نه تلويحاً، په مخکني آيت کي مشرکانو ته ويل شوي چي که کوم شريك لرئ رائې ولئ، او په وروستي آيت کي ويل شوي چي د قيامت په ورځ به دا مشرکين سخت لالهانده او له وېري به ئې سترګي خړي وي، سجدې ته به رابلل کېږې خو د وېري او وارخطايۍ په وجه به سجده نه شي کولی. الله تعالی ته د دې آيت راجع کول هيڅ مجال نه لري، نه پوهېږو چي دوی د دې آيت له کوم لفظ نه دا انتباه اخيستې؟ ولي ساق الله تعالی ته راجع کوي؟ په خپله آيت او الفاظ ئې، مخکني آيتونه او مخصوصاً وروسته آيت په ډېر صراحت سره ښيي چي دلته د قيامت د ورځي هيبت انځور شوی، چي آثار او هيبت به ئې د کافرانو په خړو سترګو کي څرګند وي او له دوی به ئې د سجدې کولو توان سلب کړی وي. څوك چي په تکلف سره دا (ساق) الله تعالی ته راجع کوي او وايي چي د الله تعالی ساق به بربنډ کړی شي، د دوی له نظره الله تعالی انسان ته ورته دئ، پنډۍ لري، إزار او پرتوګ لري، د قيامت په ورځ به خپلي پنډۍ بربنډي کړي، او مسلمانان به ئې له پنډۍ وېېژني چي دا زموږ همغه رب دئ چي په دنيا کي مو سجده ورته کوله!! انسان خو له پنډۍ نه خپل زوی هم نه شي پېژندی الله تعالی به څنګه

وپېژني؟!! که څوك ووايي چې الله تعالى دوه سترګې لري، دوه لاسونه لري، لاسونه ئې پنځه پنځه ګوتې لري، دوه پښې لري، پښې ئې قدمونه او پنډۍ لري، رداء او إزار لري... ده الله تعالى له انسان سره تشبيه کړی، که له دې وروسته سل ځله ووايي چې بلا تشبيه او بلاتکييف؛ دا الفاظ هيڅ ګټه نه وررسوي!! ده د قرآن دا خبره له پامه غورځولې چې فرمايي: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ * الشورى:11: هيڅ شی د هغه په څير نه دئ او دی اوريدونکی ليدونکی دئ.

خو د يکشف عن ساق په اړه چې کوم روايات راغلي او له هغوی ځينو دا انتباه اخيستې، دا دي: له ابو برده نه دوه روايته نقل شوي:

عن أبي بردة بن أبي موسى عن أبيه عن النبي صلى الله عليه و سلم قال "يوم يكشف عن ساق"يعني عن نور عظيم يخرون له سجدا"

او بل دا:

عن أبي بردة عن أبي موسى قال حدثني أبي قال: سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول: (إذا كان يوم القيامة مثل لكل قوم ما كانوا يعبدون في الدنيا فيذهب كل قوم إلى ما كانوا يعبدون ويبقى أهل التوحيد فيقال لهم ما تنتظرون وقد ذهب الناس فيقولون إن لنا ربا كنا نعبده في الدنيا ولم نره- قال- وتعرفونه إذا رأيتموه فيقولون نعم فيقال فكيف تعرفونه ولم تروه قالوا إنه لا شبيه له فيكشف لهم الحجاب فينظرون إلى الله تعالى فيخرون له سجدا وتبقى أقوام ظهورهم مثل صياصي البقر فينظرون إلى الله تعالى

فيريدون السجود فلا يستطيعون فذلك قوله تعالى: "يوم يكشف عن ساق ويدعون إلى السجود فلا يستطيعون"فيقول الله تعالى عبادي أرفعوا رءوسكم فقد جعلت بدل كل رجل منكم رجلا من اليهود والنصارى في النار). قال أبو بردة: فحدثت بهذا الحديث عمر بن عبد العزيز فقال: الله الذي لا إله إلا هو لقد حدثك أبوك بهذا الحديث؟ فحلف له ثلاثة أيمان; فقال عمر: ما سمعت في أهل التوحيد حديثا هو أحب إلي من هذا.

لكه چي ګورئ ابو برده او پلار ئې ابو موسى رضي الله عنهما ته منسوب رواياتو کي تعارض دئ، په يوه کي ئې ويل شوي چي يوه عظيمه رڼا به وځليږي، او په بل کي ويل شوي چي الله تعالى به په خپله له حجابه راووځي. دې ته مو هم بايد پام وي چي دا روايت له ابو موسى رضي الله عنه يوازي د ده زوی ابو برده روايت کړی، او لکه چي په مخکني روايت کي ګورئ د عمر بن عبدالعزيز په څېر شخصيت هم له ده نه دا خبره هغه وخت ومنله چي درې ځلي ئې لوړه وکړه!! د دې معنا دا ده چي عمر بن عبدالعزيز هم د لومړي ځل لپاره داسي خبره اورېده!! فتح البارئ ليکي: ابو موسى ته د منسوب روايت په اسنادو کي ضعف دئ: أخرج أبو يعلى بسند فيه ضعف عن أبي موسى مرفوعا في قوله: (يوم يكشف عن ساق) قال "عن نور عظيم، فيخرون له سجدا "

له ابن عباس رضي الله عنهما دا روايت راغلی:

عن ابن عباس "يوم يكشف عن ساق"قال هو يوم القيامة يوم

كرب وشدة رواه ابن جرير وقال ابن أبي نجيح عن مجاهد "يوم يكشف عن ساق"قال شدة الأمر وقال ابن عباس هي أشد ساعة تكون في يوم القيامة وقال ابن جرير عن مجاهد "يوم يكشف عن ساق"قال شدة الأمر وجده. وقال علي بن أبي طلحة عن ابن عباس قوله "يوم يكشف عن ساق"هو الأمر الشديد الفظيع من الهول يوم القيامة وقال العوفي عن ابن عباس قوله "يوم يكشف عن ساق"يقول حين يكشف الأمر وتبدو الأعمال وكشفه دخول الآخرة وكشف الأمر عنه وذكر ابن المبارك قال: أخبرنا أسامة بن زيد عن عكرمة عن ابن عباس في قوله تعالى: "يوم يكشف عن ساق"قال: عن كرب وشدة. أخبرنا ابن جريج عن مجاهد قال: شدة الأمر وجده. وقال مجاهد: قال ابن عباس هي أشد ساعة في يوم القيامة.

له ابو عبيده رضي الله عنه دا روايت راغلی:

وقال أبو عبيدة: إذا اشتد الحرب والأمر قيل: كشف الأمر عن ساقه. والأصل فيه أن من وقع في شيء يحتاج فيه إلى الجد شمر عن ساقه; فاستعير الساق والكشف عنها في موضع الشدة. وقيل: ساق الشيء أصله الذي به قوامه; كساق الشجرة وساق الاءنسان. أي يوم يكشف عن أصل الأمر فتظهر حقائق الأمور وأصلها. وقيل: يكشف عن ساق جهنم. وقيل: عن ساق العرش. وقيل: يريد وقت أقتراب الأجل وضعف البدن; أي يكشف المريض عن ساقه ليبصر ضعفه, ويدعوه المؤذن إلى الصلاة فلا يمكنه أن يقوم ويخرج.

قرطبي له هغه وروسته چي د ساق لپاره ګڼ شمېر احتمالات بيانوي، لکه د هر څه اصل، د دوزخ ساق، د عرش

ساق، عظیم نور او د قیامت د ورځي شدت؛ لیکي:

(فأما ما روي أن الله يكشف عن ساقه فإنه عز وجل يتعالى عن الأعضاء والتبعيض وأن يكشف ويتغطى.)

اما دا چي روایت شوی چي الله تعالی به خپل ساق بربنډ کړي، نو الله تعالی له دې ډېر لوړ دئ چي اعضاء او بېل بېل غړي ولري او بربنډ یا په جامه پټ کړی شي.

د آیت له الفاظو او سیاق و سباق نه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي له یکشف عن ساق نه مراد د وېري او خوف هغه حالت دئ چي کافران به له وېري تښتي، داسي لکه چي څوك د تېښتي لپاره پیڅې پورته کړي، د خوف او وېري نښي او آثار به د کافرانو په څېرو کي څرګند وي، له خپلي ماضي نادم او پښېمانه، سترګي ئې خړي او ټیټي، د وېري آثار په کي څرګند، شرمنده او خجل، ذلت او سپکاوي خپل تور وزر پرې غوړولی، د هغه چا وضعیت به د قیامت په ورځ دغسي وي چي په دنیا کي او هغه وخت چي روغ رمټ وو، سجدې ته بلل کېدل، خو کبر او غرور نه پرېښودل چي حق ته غاړه کېږدي او د الله تعالی په وړاندي سر ټیټ کړي.

خو د بخاري او مسلم روایات د سند له پلوه تر مطلق غریب هم اوښتي دي په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري، نورو کتابونو نه دي راوړي، او د متن له پلوه له قرآن سره هم او په خپلو منځونو کي هم جدي تعارضونه لري.

خو د دې روایاتو هغه برخه ډېره ډېره جالبه او په زړه پوري ده او د انسان اوښکي ورته بهېږي او معلومېږي چي دا به یقیناً د رسول الله صلی الله علیه و سلم کلام وي، هغه

چي له دوزخ د وروستي وتلي بنده په اړه د الله تعالى پراخ او بې انتهاء رحمت انځوروي او وايي چي دى به د دوزخ له اوره وژغوري، جنت ته تر ننوتو پوري به د ده هره وروستۍ هيله تر سره کړي، خو د خپلو ژمنو په خلاف به بيا بيا وروستۍ هيله کوي او الله تعالى به ئې هره هيله تر سره کوي او په پاى کي به ورته وايي: څه چي دي وغوښتل دوه يا لس برابره ئې نور هم درکوم. خو په دې برخي کي هغه روايت تر ټولو ارجح دئ چي وايي دا بنده به هغه څوك وي چي له الله تعالى سره ئې هيڅوك نه وي شريك کړى، دا ځکه چي الله تعالى مشرك نه بخښي.

(٣١) باب: په اوو هډوکو سجده

457- حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ قَالَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ- وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ- وَالْيَدَيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ، وَلاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعَرَ". (بخاري:812)

457- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: پر دې ګمارل شوى يم چي په اوو هډوکو به سجده کوم، په تندي، (په لاس سره ئې خپلي پزي ته اشاره وکړه)، په لاسونو، په زنګنونو، او د پښو په ګوتو، او پر دې چي (د سجدې په وخت کي) جامې او وېښتان راغونډ نه کړو).

تکرار: 810،809، 815، 816

توپير: په يوه کي أُمِرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ

يَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْضَاءٍ، وَلاَ يَكُفَّ شَعَرًا وَلاَ ثَوْبًا الْجَبْهَةِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ، په بل کي أُمِرْنَا أَنْ نَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ وَلاَ نَكُفَّ ثَوْبًا وَلاَ شَعَرًا، په بل کي أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ- وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ- وَالْيَدَيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ، وَلاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعَرَ او په بل کي أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةٍ، لاَ أَكُفُّ شَعَرًا وَلاَ ثَوْبًا راغلي.

هغه روايت چي وايي سجده به په اوو هډوکو کېږي د سند له مخي ډېر غريب دئ او هغه چي د هډوکو پر ځای د اعضاء يادونه کوي عزيز دئ په صحابه وو کي هم دوه راويان لري او په تابعينو کي هم.

د روايت د آخري فقرې معنی دا ده چي خپلي جامې او وېښتان د دې لپاره راغونډ نه کړو چي په خاورو ونه لړل شي، په ضمني توګه دا هم ترې معلومېږي چي که پر تندي مو وېښتان يا د لونګی ول يا د خولی کومه برخه پرته وي له تندي ئې لري نه کړو. يعني پر زمکه د تندي د ايښود معنی دا نه ده چي هرومرو به ئې لوڅوو.

د دې روايت په اړه يوه پوښتنه راولاړېږي او هغه دا چي په قرآن کي دا نه مومو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته دي په اوو غړو د سجدې کولو امر شوی وي، يا بايد په قرآن کي د دې امر اشاره وموندل شي يا خو راوي د الفاظو په انتقال کي اشتباه کړې، ځکه په يوه روايت کي أُمرت، په بل کي أُمر او په بل کي أُمرنا راغلي، د دې احتمال هم شته چي ښايي داسي صيغه به راغلې وي چي ښيي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله د داسي کولو امر

کړی.

د فقهاءو تر منځ په دې اړه هم اختلاف دئ چې آیا په سجده کې تندی او پزه دواړه پر زمکه ږدول کېږي که یو ئې هم کافي ګڼل کېږي؟! دې ته په پام سره چې د تندي او پزې هډوکی یو دئ، پر زمکې د تندي ږدول داسې دي لکه ټول هډوکی چې پر زمکه ږدول شوی وي، که دا صحیح ونه ګڼل شي نو بیا خو به هغه سجده هم صحیح نه ګڼو چې د پښو ټولې ګوتې پر زمکه نه وي لګېدلې!! په سجدې کې ټولې ګوتې پر زمکې ږدول ممکن نه دي. لږ تر لږه د هرې پښې دوه وړې ګوتې لوړې پاته کېږي.

(۳۲) باب: د دوو سجدو تر منځ ځنډ

458- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ إِنِّي لاَ آلُو أَنْ أُصَلِّيَ بِكُمْ كَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي بِنَا. قَالَ ثَابِتٌ كَانَ أَنَسٌ يَصْنَعُ شَيْئًا لَمْ أَرَكُمْ تَصْنَعُونَهُ، كَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَامَ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ قَدْ نَسِيَ. وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ قَدْ نَسِيَ. (بخاري:821)

458- له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: زه پدې کې تقصیر نه کوم چې تاسې ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمانځه په شان لمونځ درکړم. (دا حدیث مخکې تېر شوی چې ښیي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د دوو سجدو تر منځ دومره ځنډ کاوو چې مقتدیانو به د هېرې ګمان پرې وکړ).

تکرار: 800

توپیر: د دې شرح په 454 روایت کې وګورئ.

(33) باب: په سجده کي مړوندونه پر زمکه نه ايښودل

459- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلاَ يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ " (بخاري:822)

459- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په سجدې کي تعادل کوئ (سمه او په آرامۍ سره سجده کوئ) او هيڅوک دي خپل مړوندونه د سپي په شان پر زمکه نه غوړوي).

تکرار: 241، 405، 412، 413، 417، 531، 532، 1214

توپير: د دې روايت شرح د پورتنيو څلورو شمېرو رواياتو په شرح کي وګورئ.

(٣٤) باب: څوک چي په طاق رکعتونو کي کښېني بيا پاڅي.

460- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ قَالَ أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ قَالَ أَخْبَرَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ اللَّيْثِيُّ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى، فَإِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلاَتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِىَ قَاعِدًا. (بخاري:823)

460- له مالک بن حويرث رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې په داسي حال کي په لمانځه ليدلی چي په طاق رکعت (يعني اول او دريم رکعت)

كي به تر هغه پوري له سجدې قيام ته نه لوړېدو چي ښه به نه وو ناست. يعني له كښېناستو وروسته به قيام ته پورته شو.

دا روايت د سند له مخي تر مطلق غريب اوښتى او په ځلورو طبقو كي يو يو راوي لري، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: له سجدې راپورته كېدا به په تكبير سره وي، كه په طاق ركعتونو كي له وروستۍ سجدې وروسته ناسته وشي نو له ناستي وروسته ولاړېدا بل تكبير ايجابوي، دا ځكه چي د لمانځه هر حركت له يوه ږغ او وينا سره توأم وي، دا حركت به ولي په استثنائي توگه له كومي وينا او ږغ پرته ترسره كېږي؟!! ښايي د مخكني حديث راوي مالك بن حويرث به د رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي ناسته په كوم استثنائي حالت كي ليدلې وي، لكه د بيمارۍ يا د زنگنو د درد په حالت كي. نه له بل صحابي داسي روايت شته او نه رسول الله صلى الله عليه و سلم د داسي كولو امر كړى.

(٣٥) باب: له سجدې د پورته كېدو په وخت الله اكبر ويل

461- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلَّى لَنَا أَبُو سَعِيدٍ فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيرِ حِينَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ، وَحِينَ سَجَدَ، وَحِينَ رَفَعَ، وَحِينَ قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَقَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم. (بخاري:825)

461- له سعيد بن الحارث روايت دئ چي وايي: ابو سعيد خدري رضي الله عنه موږ ته لمونځ راكړ، كله چي ئې له

سجدې سر پورته کاوو او چې سجده ئې کوله او چې ترې پورته کېدو او چې له دوو رکعتونو وروسته قیام ته لوړېدو په جهر سره ئې تکبیر وایو، او وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم مي لیدلی چې همداسي ئې کول.

(٣٦) باب: د تشهد لپاره کښېناستل

462- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ يَرَى عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما يَتَرَبَّعُ فِي الصَّلاَةِ إِذَا جَلَسَ، فَفَعَلْتُهُ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ حَدِيثُ السِّنِّ، فَنَهَانِي عَبْدُ الله بْنُ عُمَرَ وَقَالَ إِنَّمَا سُنَّةُ الصَّلاَةِ أَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنَى وَتَثْنِيَ الْيُسْرَى. فَقُلْتُ إِنَّكَ تَفْعَلُ ذَلِكَ. فَقَالَ إِنَّ رِجْلَيَّ لاَ تَحْمِلاَنِي. (بخاري:827)

462- د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له زوی روایت دئ چې وایي: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ئې لیدو چې په لمانځه کي د کښېناستلو په وخت به ئې پلتی وهله، ما هم دا کار وکړ، زه دا مهال کم عمره وم، نو زه ئې له دې کاره منع کړم او وئې ویل: د لمانځه سنت دا دي چې په ناستي کي خپله ښی پښه ودروې او کیڼه پښه دې تاو کړې (او ورباندې کښېنې)، نو ما ورته وویل: ته خو داسي کوې!! وئې ویل: زما پښې (کمزورې دي او) زما دروندوالی نه شي زغملی.

له دې روایت دوه خبري معلومېږي: 1- په تشهد کي د ناستي سنت دا دئ چې سړی ښی پښه ولاړه وساتي او کیڼه پښه څملوي او پرې کښېني، احنافو د نارینه وو لپاره دغه صورت ته ترجیح ورکړې، او د ښځینه وو لپاره هغه

صورت ته چي پر كوناټي كښېني او پښې ښي لوري ته كړې كړي. 2- ښايي مالك بن حويرث رضي الله عنه هم رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي كوم استثنايي حالت كي ليدلى چي په طاق ركعتونو كي له وروستۍ سجدې وروسته د لنډي ناستي خبره كوي.

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له وينا دوه خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: 1- په دواړو جلسو كي به ناسته پر كيڼي پښې وي، كه داسي نه وى نو هغه به ورته ويلي وو چي په يوې جلسې كي داسي او په بلي كي داسي كښېنه، 2- ناسته به په كيڼي پښي وي ځكه هغه دا عذر وړاندي كړى چي زما پښه دا نشي تحمل كولى، كه ناسته پر كوناټي وى نو د دې خبري كولو ته ضرورت نه وو.

463- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ. وَحَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ وَيَزِيدَ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا مَعَ نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَذَكَرْنَا صَلاَةَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ أَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ أَنَا كُنْتُ أَحْفَظَكُمْ لِصَلاَةِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم رَأَيْتُهُ إِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ، ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ، فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اسْتَوَى حَتَّى يَعُودَ كُلُّ فَقَارٍ مَكَانَهُ، فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلاَ قَابِضِهِمَا، وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ، فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْيُمْنَى، وَإِذَا

جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الأُخْرَى وَقَعَدَ عَلَى مَقْعَدَتِهِ. (بخاري:828)

463- له ابو حميد ساعدي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: زه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه په طريقې تر تاسو ټولو ښه پوهېږم، ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چي تكبير به ئې ووايو، دواړه لاسونه به ئې تر اوږو پوري پورته كړل، چي ركوع به ئې وكړه دواړه لاسونه به ئې پر زنګنو كېښودل، بيا به ئې شا ښه آواره كړه، چي سر به ئې له ركوع پورته كړ، نو داسي سيده به ودرېد چي د ملا د تير ټولي فقرې به ئې خپل خپل ځاى ته ورغلې، چي سجدې ته به ولاړ نو لاسونه به ئې نه پر زمكه غوړول او نه ئې له خپلو ډډو سره نښلول، د پښو ګوتي به ئې قبلې ته برابرولې او چي له دوو ركعتونو وروسته به كښېناست، نو پر كيڼه پښه به كښېناست او ښۍ پښه به ئې ودروله او چي په آخري ركعت كي به كښېناست، خپله كيڼه پښه به ئې وړاندي كړه او بله پښه به ئې ودروله او پر كونټيو به كښېناست.

دا روايت په صحاح سته كي يوازي بخاري راوړى، د بخاري د سند لړۍ داسي ده چي په څلورو طبقو كي يو يو راوي لري، خو په صحيح ابن خزيمه كي د ابوحميد دا وينا هم راغلې چي ما له لسو صحابه وو، چي ابو قتاده هم په كي دئ، اوربدلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په وروستۍ قعده كي همداسي كښېناستو.

د دغو دواړو رواياتو له مخي دومره ويلى شو چي دواړه ډوله ناسته جائزه ده، خو د جمعي په لمانځه كي غوره

ناسته هغه ده چي لږ ځای نيسي او د همځنګ لپاره د مزاحمت باعث نه کيږي، پر کوناټي ناسته زيات ځای ايجابوي.

(٣٧) باب: څوک چي لومړی تشهد واجب نه بولي

464- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ هُرْمُزَ مَوْلَى بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ- وَقَالَ مَرَّةً مَوْلَى رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ- أَنَّ عَبْدَ اللهِ ابْنَ بُحَيْنَةَ- وَهْوَ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ وَهْوَ حَلِيفٌ لِبَنِي عَبْدِ مَنَافٍ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى بِهِمُ الظُّهْرَ فَقَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ لَمْ يَجْلِسْ، فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ حَتَّى إِذَا قَضَى الصَّلاَةَ، وَانْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِيمَهُ، كَبَّرَ وَهْوَ جَالِسٌ، فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ ثُمَّ سَلَّمَ. (بخاري:829)

464- له عبدالله بن بحينه رضي الله عنه چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم صحابي او له ازد شنوءة قبيلې او د بني عبد مناف حليف (ملګری) وو، روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دوی ته د ماسپښين لمونځ ورکړ او له دوو رکعتو وروسته ئې قعده ونکړه (کښېنناست)، خلک هم ورسره پورته شول، لمونځ ئې چي بشپړ کړ، خلکو ئې د سلام انتظار يوست چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په ناسته تکبير ووايو او له سلام ګرځولو مخکي ئې دوې سجدې وکړې، بيا ئې سلام وګرځاوو.

تکرار: 830، 1224، 1225، 1230، 6670

توپير: په يوه کي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى

بِهِمُ الظُّهْرَ فَقَامَ فِی الرَّکْعَتَیْنِ الأُولَیَیْنِ لَمْ یَجْلِسْ، په بل کي صَلَّی بِنَا رَسُولُ الله صلی الله علیه و سلم الظُّهْرَ فَقَامَ وَعَلَیْهِ جُلُوسٌ، په بل کي أَنَّهُ قَالَ صَلَّی لَنَا رَسُولُ الله صلی الله علیه و سلم رَکْعَتَیْنِ مِنْ بَعْضِ الصَّلَوَاتِ ثُمَّ قَامَ فَلَمْ یَجْلِسْ، په بل کي إِنَّ رَسُولَ الله صلی الله علیه و سلم قَامَ مِنِ اثْنَتَیْنِ مِنَ الظُّهْرِ لَمْ یَجْلِسْ بَیْنَهُمَا، په بل کي قَامَ فِی صَلاَتِهِ الظُّهْرِ وَعَلَیْهِ جُلُوسٌ، فَمَضَی فِی صَلاَتِهِ او په بل کي فَقَامَ فِی الرَّکْعَتَیْنِ الأُولَیَیْنِ قَبْلَ أَنْ یَجْلِسَ، په یوه کي فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ حَتَّی إِذَا قَضَی الصَّلاَةَ، وَانْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِیمَهُ، کَبَّرَ وَهْوَ جَالِسٌ، فَسَجَدَ سَجْدَتَیْنِ قَبْلَ أَنْ یُسَلِّمَ ثُمَّ سَلَّمَ، په یوه کي فَلَمَّا کَانَ فِی آخِرِ صَلاَتِهِ سَجَدَ سَجْدَتَیْنِ وَهْوَ جَالِسٌ، په بل کي ثُمَّ قَامَ فَلَمْ یَجْلِسْ، فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، فَلَمَّا قَضَی صَلاَتَهُ وَنَظَرْنَا تَسْلِیمَهُ کَبَّرَ قَبْلَ التَّسْلِیمِ فَسَجَدَ سَجْدَتَیْنِ وَهُوَ جَالِسٌ ثُمَّ سَلَّمَ، په بل کي قَامَ مِنِ اثْنَتَیْنِ مِنَ الظُّهْرِ لَمْ یَجْلِسْ بَیْنَهُمَا، فَلَمَّا قَضَی صَلاَتَهُ سَجَدَ سَجْدَتَیْنِ ثُمَّ سَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ، په بل کي فَلَمَّا أَتَمَّ صَلاَتَهُ سَجَدَ سَجْدَتَیْنِ فَکَبَّرَ فِی کُلِّ سَجْدَةٍ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ أَنْ یُسَلِّمَ او په بل کي فَمَضَی فِی صَلاَتِهِ، فَلَمَّا قَضَی صَلاَتَهُ انْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِیمَهُ، وَسَجَدَ قَبْلَ أَنْ یُسَلِّمَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ کَبَّرَ وَسَجَدَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَسَلَّمَ راغلي، مطلب ئې یو دئ او هغه دا چي په څلورو رکعتو کي لومړۍ ناسته ترې هېره شوې وه، په وروستۍ ناستي کي ئې له سلام مخکي تکبیر ویلی او دوې سجدې ئې کړې دي او بیا ئې سلام ګرځولی.

دلته دا نه دي ویل شوي چي د سهوي له سجدې مخکي ئې سلام ګرځولی که نه، بلکي ویل شوي چي له سلام مخکي ئې دوې سجدې کړې دي بیا ئې سلام ګرځولی، او دا له هغه

روايت سره تعارض لري چي وايي: وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَتِهِ فَلْيَتَحَرَّى الصَّوَابَ، فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ ثُمَّ يُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ، بخاري دا نه دي ويلي چي په دغو دواړو رواياتو کي کوم يو تر بل ارجح دئ، احناف دغو رواياتو ته په پام سره وايي چي لومړی بايد لمونځ بشپړ شي او بيا د سهوي سجده وشي او په پای کي بيا سلام وګرځول شي، ځکه روايات هم د سهوي له سجدې مخکي د سلام ګرځولو خبره کوي، هم له سجدو وروسته او هم د سهوي له سجدې مخکي او هم وروسته د تشهد خبره. د سهوي د سجدې لپاره غوره صورت دا دئ چي لمونځ بشپړ کړی شي، سلام وګرځول شي، دوه سجدې وشي، بيا تشهد وويل شي او په سلام سره لمونځ پای ته ورسول شي، په دې توګه به په ټولو رواياتو عمل شوی وي.

دې ته مو پام وي چي د بخاري دا روايت ډېر غريب دئ په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري.

(٣٨) باب: په وروستۍ قعده کي تشهد

465- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ الله كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قُلْنَا السَّلاَمُ عَلَى جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ، السَّلاَمُ عَلَى فُلاَنٍ وَفُلاَنٍ. فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "إِنَّ الله هُوَ السَّلاَمُ، فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلِ التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ الله الصَّالِحِينَ. فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمُوهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلَّهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ

وَالأَرْضِ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ". (بخاري:831)

465- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ چي به په رسول الله صلى الله عليه و سلم پسي لمونځ كاوو نو ويل به مو: پر جبرئيل او ميكائيل دي سلام وي، پر فلاني او فلاني دي سلام وي، رسول الله صلى الله عليه و سلم راته متوجه شو، وئې فرمايل: (الله په خپله سلام دئ، كله چي له تاسو څوک لمونځ كوي، (كله چي تشهد ته كښيني)، نو داسي دي وايي: (التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ الله الصَّالِحِينَ: ټولي ستايني، درودونه، پاكوالي (ژبني، بدني او مالي عبادات) خاص الله لره دي، اې نبي! پر تا دي سلام او د الله رحمت او بركت وي، پر موږ او د الله تعالى پر نېكو بندگانو دي سلام وي)، تاسو چي دا ووايئ نو په آسمان او زمكي كي د الله تعالى هر نېک بنده ته رسيږي، (او وروسته وايئ:) (زه شاهدي وركوم چي له الله تعالى پرته بل معبود نشته او شاهدي وايم چي محمد د الله تعالى بنده او رسول دئ).

تكرار: 835، 1202، 6230، 6265، 6328، 7381

توپير: په يوه كي قُلْنَا السَّلاَمُ عَلَى جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ، السَّلاَمُ عَلَى فُلاَنٍ وَفُلاَنٍ، په بل كي قُلْنَا السَّلاَمُ عَلَى الله مِنْ عِبَادِهِ، السَّلاَمُ عَلَى فُلاَنٍ وَفُلاَنٍ، په بل كي كُنَّا نَقُولُ التَّحِيَّةُ فِي الصَّلاَةِ وَنُسَمِّي، وَيُسَلِّمُ بَعْضُنَا عَلَى بَعْضٍ، په بل كي قُلْنَا السَّلاَمُ عَلَى الله قَبْلَ عِبَادِهِ، السَّلاَمُ عَلَى جِبْرِيلَ، السَّلاَمُ عَلَى مِيكَائِيلَ، السَّلاَمُ عَلَى فُلاَنٍ، په بل كي فَنَقُولُ السَّلاَمُ عَلَى الله

او په بل کي كُنَّا نَقُولُ فِى الصَّلاَةِ السَّلاَمُ عَلَى الله، السَّلاَمُ عَلَى فُلاَنٍ راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په صحابه وو او تابعينو كي يو يو راوي لري، د صحاح سته په شمول ډېرو نورو كتابونو هم راوړى، د رسول الله صلى الله عليه و سلم له لارښووني معلومېږي چي په 465 روايت كي يو نقص تر سترگو كېږي، يوه فقره ترې پاته شوې، بشپړه بنه ئې د بخاري هغه روايات دي چي په هغه كي دا هم راغلي قُلْنَا السَّلاَمُ عَلَى الله قَبْلَ عِبَادِهِ ځكه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له وينا معلومېږي چي دوى به په التحيات كي دا دعاء هم كوله نو ځكه ئې ترې منع كړل.

(٣٩) باب: تر سلام گرځولو مخكي دعاء

466- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ قَالَ أَخْبَرَنَا عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يَدْعُو فِى الصَّلاَةِ "اللهمَّ إِنِّى أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ، اللهمَّ إِنِّى أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ". فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مَا أَكْثَرَ مَا تَسْتَعِيذُ مِنَ الْمَغْرَمِ فَقَالَ "إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ، وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ". (بخاري:832)

466- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په لمانځه كي داسي دعاء كوله: (اې خدايه! زه د قبر له عذابه تا ته پناه دروړم، د مسيح دجال له فتنې پناه

درورم، د ژوند او مرګ له فتنې پناه درورم، اې خدايه! زه په ګناه کي له پرېوتو او تر پور لاندي راتلو پناه درورم). يوه کس ورته وويل: يا رسول الله! څه علت دئ چي له قرضدارئ (پور) نه ډېره پناه غواړې؟ وئې فرمايل: (سړی چي پورورې شي نو چي خبري کوي دروغ وايي او چي وعده وکړي، وعده خلافي کوي).

تکرار: 833، 2397، 6368، 6375، 6376، 6377، 7129

توپير: ځيني ئې لنډ دي او ځيني ئې اوږده، 6368 روايت تر نورو مشرح دئ او دا دعاګاني هم په کي راغلې دي: اللهمَّ إِنِّى أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ، وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى،... اللهمَّ اغْسِلْ عَنِّى خَطَايَاىَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّ قَلْبِى مِنَ الْخَطَايَا، كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِى وَبَيْنَ خَطَايَاىَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ.

467- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِى حَبِيبٍ عَنْ أَبِى الْخَيْرِ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِى بَكْرٍ الصِّدِّيقِ- رضي الله عنه-. أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَلِّمْنِى دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِى صَلاَتِى. قَالَ "قُلِ اللهمَّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى ظُلْمًا كَثِيرًا وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِى مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِى إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ". (بخاري:834)

467- له ابوبکر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل: داسي دعاء راوښيه چې

په لمانځه کي ئې وايم، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (وايه: اې خدايه! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی او له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی، نو له خپل لوري مغفرت راپه برخه کړه او رحم را باندي وکړه، بې شکه چي ته بخښونکی مهربان يې).

تکرار: 6326، 7388

توپير: په يوه کي فَاغْفِرْ لِی مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِی، په بل کي فَاغْفِرْ لِی مِنْ عِنْدِكَ مَغْفِرَةً راغلي.

(٤٠) باب: له تشهد وروسته اختياري دعاګاني

468. حَدِيْثُ ابنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه فِي التَّشَهُّدِ تَقَدَّمّ قَرِيْباً وَقَالَ فِيْ هذِهِ الرواية بعد قوله: "أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا الله وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُو". (بخاري:835)

468- د تشهد په اړه د ابن مسعود رضي الله عنه حديث مخکي تېر شو، پدې روايت کي ئې راځي چي له (اشهد ان محمداً عبده ورسوله) وروسته ئې وفرمايل: (له دې وروسته دي خپله دعاء کوي، هره دعاء ئې چي خوښه شي ودې کړي).

تکرار: 831، 1202، 6230، 6265، 6328، 7381

توپير: په 831 کي هم راغلی.

(41) باب: سلام ګرځول

469- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ هِنْدٍ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ

رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا سَلَّمَ قَامَ النِّسَاءُ حِينَ يَقْضِى تَسْلِيمَهُ، وَمَكَثَ يَسِيرًا قَبْلَ أَنْ يَقُومَ. قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأُرَى- وَالله أَعْلَمُ- أَنَّ مُكْثَهُ لِكَيْ يَنْفُذَ النِّسَاءُ قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَهُنَّ مَنِ انْصَرَفَ مِنَ الْقَوْمِ. (بخاري:837)

469- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به سلام وګرځاوو، کله چي به ئې سلام وګرځاوو ښځي به پاڅېدلې (کورونو ته به رواني شوې)، خو رسول الله صلى الله عليه و سلم به له پاڅېدو مخکي لږ شانته تم کېدو.

يادونه: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تم کېدو سبب دا وو چي ښځي لاړي شي او په لاره کي له نارينه وو سره مخامخ نشي.

تکرار: 849، 850

توپير: په يوه کي وَمَكَثَ يَسِيرًا، په بل کي كَانَ إِذَا سَلَّمَ يَمْكُثُ فِى مَكَانِهِ يَسِيرًا او په بل کي كَانَ يُسَلِّمُ فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ، فَيَدْخُلْنَ بُيُوتَهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَنْصَرِفَ رَسُولُ الله- صلى الله عليه و سلم راغلي.

له دې روايت هم معلوميږي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دور کي به ښځو د جمعي په لمونځونو کي برخه اخيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم به د دې لپاره د لمانځه په پای کي او له سلامه وروسته څو شېبې ځنډ کاوو چي ښځي په فارغ زړه خپلو کورونو ته ولاړي شي.

(42) باب: مقتدي به له امام سره يو ځای سلام ګرځوي

470- حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عِتْبَانَ قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَسَلَّمْنَا حِينَ سَلَّمَ. (بخاري:838)

470- له عتبان رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مو لمونځ وکړ، کله چي ئې سلام وګرځاوو، نو موږ هم سلام وګرځاوو.

تکرار: 424، 425، 667، 686، 840، 1186، 4009، 4010، 5401، 6423، 6938

(٤٣) باب: له لمانځه وروسته ذکر

471- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّ أَبَا مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَخْبَرَهُ أَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ حِينَ يَنْصَرِفُ النَّاسُ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ كَانَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُنْتُ أَعْلَمُ إِذَا انْصَرَفُوا بِذَلِكَ إِذَا سَمِعْتُهُ. (بخاري:841)

471- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په فرض لمانځه پسي په لوړ ږغ ذکر کول د رسول الله صلى الله عليه و سلم د زماني عادت وو، ابن عباس رضي الله عنهما وايي: زه به د خلکو د ذکر له ږغ اورېدو پوهېدم چي لمونځ وشو (کله چي به له جومات بهر يا وروستيو صفونو کي وم).

تکرار: 842

توپير: په يوه کي كُنْتُ أَعْلَمُ إِذَا انْصَرَفُوا بِذَلِكَ إِذَا سَمِعْتُهُ، په بل کي كُنْتُ أَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلاَةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِالتَّكْبِيرِ راغلي، معنى ئې دا ده چي د لمانځه په پای کي به خلکو الله اکبر الله اکبر ويل او د دوی له ږغ نه به پوه شوم چي لمونځ پای ته رسېدلی.

472- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ عُبَيْدِ الله عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ جَاءَ الْفُقَرَاءُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالُوا ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ مِنَ الأَمْوَالِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلاَ وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ، يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ، وَلَهُمْ فَضْلٌ مِنْ أَمْوَالٍ يَحُجُّونَ بِهَا، وَيَعْتَمِرُونَ، وَيُجَاهِدُونَ، وَيَتَصَدَّقُونَ قَالَ "أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ بِأَمْرٍ إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ أَدْرَكْتُمْ مَنْ سَبَقَكُمْ وَلَمْ يُدْرِكْكُمْ أَحَدٌ بَعْدَكُمْ، وَكُنْتُمْ خَيْرَ مَنْ أَنْتُمْ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِ، إِلاَّ مَنْ عَمِلَ مِثْلَهُ تُسَبِّحُونَ وَتَحْمَدُونَ، وَتُكَبِّرُونَ خَلْفَ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ". فَاخْتَلَفْنَا بَيْنَنَا فَقَالَ بَعْضُنَا نُسَبِّحُ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَنَحْمَدُ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَنُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ. فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ "تَقُولُ سُبْحَانَ الله، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَالله أَكْبَرُ، حَتَّى يَكُونَ مِنْهُنَّ كُلِّهِنَّ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ".

(بخاري:843)

472- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: غريبان د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته راغلل او وئې ويل: د ډېرو شتمنيو خاوندانو لوړي درجې او د جنت تلپاتي نعمتونه ترلاسه کړل، داسي لمونځ کوي لکه موږ چي لمونځ کوو، او زموږ په څېر روژه نيسي، او دوی

ته د مال له پلوه فضيلت ورپه برخه دئ چي حج پرې کوي، عمره کوي، جهاد کوي او صدقه ورکوي، وئې فرمايل: (آيا داسي څه دروښيم چي که خپل ئې کړئ هغه چا ته به ورسيږئ چي تر تاسو وړاندي دي او له هغو به هيڅوك تاسو ته درونه رسيږي چي تر تاسو وروسته دي، او د خپلي زماني تر ټولو غوره خلک به وئ، مگر هغه چي همداسي عمل وکړي، او هغه دا چي په هر لمانځه پسي دري ديرش (٣٣) واري سبحان الله، الحمد لله او الله اكبر ووايئ). راوي وايي: بيا موږ په خپل منځ کي اختلاف وکړ، ځينو ويل چي بايد دري ديرش واري سبحان الله، دري ديرش واري الحمد لله او څلور ديرش واري الله اكبر ووايو، نو زه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم نو راته وئې فرمايل: (سبحان الله او الحمد لله او الله اكبر به دري ديرش واري وايئ، يعني چي د ټولو مجموعه دري ديرش شي).

تكرار: 6329

توپير: په يوه كي يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّى، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ، په بل كي صَلَّوْا كَمَا صَلَّيْنَا، وَجَاهَدُوا كَمَا جَاهَدْنَا، وَأَنْفَقُوا مِنْ فُضُولِ أَمْوَالِهِمْ، په بل كي وَلَهُمْ فَضْلٌ مِنْ أَمْوَالٍ يَحُجُّونَ بِهَا، وَيَعْتَمِرُونَ، وَيُجَاهِدُونَ، وَيَتَصَدَّقُونَ وَلَيْسَتْ لَنَا أَمْوَالٌ، په يوه كي تُسَبِّحُونَ فِى دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ عَشْرًا، وَتَحْمَدُونَ عَشْرًا، وَتُكَبِّرُونَ عَشْرًا، په بل كي تُسَبِّحُونَ وَتَحْمَدُونَ، وَتُكَبِّرُونَ خَلْفَ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، په يوه كي أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ بِأَمْرٍ إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ أَدْرَكْتُمْ مَنْ سَبَقَكُمْ وَلَمْ يُدْرِكْكُمْ أَحَدٌ بَعْدَكُمْ، وَكُنْتُمْ خَيْرَ مَنْ أَنْتُمْ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِ، إِلاَّ مَنْ عَمِلَ مِثْلَهُ او په بل كي أَفَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَمْرٍ تُدْرِكُونَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، وَتَسْبِقُونَ مَنْ جَاءَ بَعْدَكُمْ، وَلاَ يَأْتِى أَحَدٌ بِمِثْلِ مَا جِئْتُمْ، إِلاَّ مَنْ

جَاءَ بِمِثْلِهِ راغلي. دا روايت تر ډېر زيات غريب اوښتی، په څلورو طبقو کي يو يو او په پنځمه طبقه کي دوه راويان لري، د دې په مقابل کي داسي روايات شته چي وايي: سبحان الله او الحمدلله دري دېرش دري دېرش ځلي او الله اکبر څلور دېرش ځلي وايئ. دا يو مستحب عمل دئ، خو ځيني ئې تر فرضو هم مهم ګڼي، که څوك له فرضو وروسته سنت ته پورته شي نو په داسي رډوړډو سترګو به ورته ګوري لکه چي ستره ګناه ئې کړې وي، حال دا چي له فرضو وروسته د سنت يادونه او پر هغه تأکيد دومره زيات راغلی چي دا ورسره مقايسه کېدی هم نشي، دلته نه دي ويل شوي چي له فرضو وروسته به هرو مرو دا کار کوئ، بلکي فقراوو ته ويل شوي چي که له هر لمانځه وروسته دا تسبيحات ووايئ نو لوړي درجې به مو په برخه شي. دا کېدی شي له فرضو وروسته يا له هر لمانځه وروسته، غوره دا ده چي لومړی سنت وشي او بيا دا تسبيحات وويل شي، چي په دې توګه به په ټولو رواياتو عمل شوی وي. دې مستحب کار ته د فرض په سترګه کتل په خپله يو بدعت دئ او د اسلام د اصولو خلاف عمل.

دې ته مو پام وي چي دا هسي د الفاظو ورد او تکرار نه دئ، بلکي پر ډېرو مهمو مفاهيمو اعتراف دئ، ته په الحمد لله ويلو سره د ټولو هغو نعمتونو شکر اداء کوې چي الله تعالی درپه برخه کړي، په دې چي ژوند ئې درکړی، رزق درکوي، د ايمان راوړلو توفيق ئې درکړی، عقل، سترګي، غوږونه او نور غړي ئې درکړي، صحت ئې درکړی، له لويو لويو ناروغيو ئې ساتلی يې او شفاء ئې درکړې، ستا

الحمدلله ويل بايد له دغه احساس سره توأم وي، ته په سبحان الله ويلو سره پر دې اعتراف کوې چي الله تعالى هر څه سم او ښايسته پيدا کړي، په هري پرېکړي کي ئې حکمتونه مضمر دي، الله تعالى په خپل ذات، صفاتو او افعالو کي له هر عيب منزه دئ، نه پر چا ظلم کوي او نه د چا حق او اجر ضايع کوي، ستا د سبحان الله ذکر بايد له دې احساس سره توأم وي، ته د الله اکبر په ويلو سره پر دې شهادت وركوې چي الله تعالى تر هر ستر ستر دئ، تر هر زورور زورور دئ، نه ئې د نړۍ کوم مغرور ځواك د پرېکړو د پلي کېدو مخه نيولى شي او نه د چا ضعف او کمزوري د ده د وعدو د تحقق په وړاندي خنډ کېدى شي.

473- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ وَرَّادٍ كَاتِبِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ أَمْلَى عَلَيَّ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ فِي كِتَابٍ إِلَى مُعَاوِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ مَكْتُوبَةٍ "لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهْوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللهمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ". (بخاري:844)

473- له مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به له هر فرض لمانځه وروسته فرمايل: (له الله پرته بل معبود نشته، يوازينى دئ شريك ئې نشته، واكمني ده لره ده، ستايني ټولي ده لره دي او هغه پر هر څه قادر دئ، اې خدايه! ته چي څه وركړې هيڅ مانع ئې نشته، او ته چي څه منع كړې

هيڅ وركوونكى ئې نشته، او ستا د ارادې په وړاندې د هيڅ هاند خاوند ته د هغه هاند او هڅه ګټه نشي رسولى).

تكرار: 6330، 6473، 6615، 7292

توپير: په يوه كې د اللهمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ پر ځاى دا الفاظ راغلي ثَلاَثَ مَرَّاتٍ قَالَ وَكَانَ يَنْهَى عَنْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةِ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةِ الْمَالِ، وَمَنْعٍ وَهَاتِ، وَعُقُوقِ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدِ الْبَنَاتِ راغلي.

(٤٤) باب: امام به له سلام وروسته مخ مقتديانو ته اړوي

474- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا صَلَّى صَلاَةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ. (بخاري:845)

474- له سمره بن جندب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي به لمونځ وكړ نو خپل مخ به ئې زموږ لوري ته راوګرځاوو.

دا روايت بخاري يو ځل راوړى، خو دا مطلب له نورو صحابه وو هم روايت شوى او له دې پلوه د سند له مخي مشهور روايت دئ.

475- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ صَلَّى لَنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم صَلاَةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ

عَلَى النَّاسِ فَقَالَ "هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ". قَالُوا الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ "أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِى مُؤْمِنٌ بِى وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ الله وَرَحْمَتِهِ فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِى وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذَلِكَ كَافِرٌ بِى وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ". (بخاري:846)

475- له زيد بن خالد جهيني رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په حديبيه كي له هغه باران وروسته چي د شپې وريدلى وو د سهار لمونځ راكړ، كله چي له لمانځه فارغ شو، خلكو ته ئې مخ راواړاوو او وئې فرمايل: (آيا خبر يئ چي رب مو څه فرمايلي دي؟) اصحابو وويل: الله تعالى او رسول ئې ښه پوهيږي، وئې فرمايل: (الله تعالى وفرمايل: ځيني بندگان مي پر ما ايمان لرونكي شول او ځيني كافران، چا چي وويل: د خداى په فضل او رحمت باران راباندي وشو، دا پر ما مؤمن دئ او پر ستورو كافر، او چا چي وويل: د فلاني ستوري د راختو او پريوتو له امله باران راباندي وشو، نو دا پر ما كافر او پر ستورو مؤمن دئ).

تكرار: 1038، 4147، 7503

توپير: په يوه كي فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ الله وَرَحْمَتِهِ، په بل كي فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِرَحْمَةِ الله وَبِرِزْقِ الله وَبِفَضْلِ الله، په يوه كي فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِى كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، په بل كي فَهْوَ مُؤْمِنٌ بِى، كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، په يوه كي وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، په بل كي وَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَجْمِ كَذَا، په يوه كي فَذَلِكَ كَافِرٌ بِى مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ، په بل كي فَهْوَ مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ، كَافِرٌ بِى راغلي. مطلب ئې دا دئ: څوك چي د باران وريدو په څير پيښي د الله تعالى له لوري گڼي، د الله تعالى فضل،

رحمت او عطاء ئې بولي نو هغه پر الله تعالى ايمان لري او څوك چي دا پېښي له الله تعالى پرته بل څه ته منسوب كړي هغه د الله تعالى په اړه كافر شوى او په هغه څه ئې ايمان راوړى چي دا پېښي ورته منسوبوي. څوك چي باران د الله تعالى پېرزوينه، فضل، رحمت او رزق نه گڼي بلكي د ستورو اغېز او د طبيعي تغييراتو نتيجه ئې بولي، هغه كافر دئ.

دا او دې ته ورته نور روايات موږ ته لاربښوونه كوي چي د عالم طبيعي پېښي له الله تعالى پرته بل څه ته منسوبول د ايمان منافي انگېرنه ده، د ايمان تقاضاء دا ده چي ټولي پېښي رب العالمين ته راجع كړو، د هغو ټگمارو او غولوونكو نجوميانو په دام كي وننښلو چي د ستورو د حركت او حالت له مخي د پېښو دروغجني وړاندويني كوي.

(٤٥) باب: چا ته چي د لمانځه د امامت په وخت كي څه ورپه ياد شي

476- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِى ابْنُ أَبِى مُلَيْكَةَ عَنْ عُقْبَةَ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم بِالْمَدِينَةِ الْعَصْرَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعًا، فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إِلَى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ، فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ، فَرَأَى أَنَّهُمْ عَجِبُوا مِنْ سُرْعَتِهِ فَقَالَ "ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ أَنْ يَحْبِسَنِى، فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ". (بخاري:851)

476- له عقبه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په مدينه كي مي په رسول الله صلى الله عليه و سلم پسي د مازديگر لمونځ وكړ، چي سلام ئې وگرځاوو په بيړه پورته شو، د

(ناستو) خلکو له غاړو (اوږو ئې پښې اړولې) تېر شو او د کومې مېرمنې کور ته ورغی، خلک د ده له تلوار نه مشوش او اندېښناك شول، نو ورته راووت او چې وئې لیدل حیران شوي نو وئې فرمایل: (هغه سره زر راپه یاد شول چې له موږ سره وو، نو بده مې وګڼله چې ما مشغول وساتي، نو د وېشلو امر مې وکړ).

له دې معلومېږي چې له لمانځه وروسته تسبیحات او اذکار مستحب دي، ځکه دا روایت وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له اذکارو پرته کور ته ولاړ.

تکرار: 1221، 1430، 6275

توپیر: په یوه کې قَالَ صَلَّيْتُ، په بل کې قَالَ صَلَّى بِنَا، په یوه کې فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ سَرِيعًا دَخَلَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ، په بل کې فَأَسْرَعَ ثُمَّ دَخَلَ الْبَيْتَ، په یوه کې ثُمَّ خَرَجَ وَرَأَى مَا فِى وُجُوهِ الْقَوْمِ مِنْ تَعَجُّبِهِمْ لِسُرْعَتِهِ، په بل کې فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ خَرَجَ، په یوه کې ذَكَرْتُ وَأَنَا فِى الصَّلاَةِ تِبْرًا عِنْدَنَا، فَكَرِهْتُ أَنْ يُمْسِىَ أَوْ يَبِيتَ عِنْدَنَا فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ، په بل کې كُنْتُ خَلَّفْتُ فِى الْبَيْتِ تِبْرًا مِنَ الصَّدَقَةِ، فَكَرِهْتُ أَنْ أُبَيِّتَهُ فَقَسَمْتُهُ، په بل کې ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ أَنْ يَحْبِسَنِى، فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ راغلي، په یوه کې دا هم راغلي چې په نورو کې نشته فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إِلَى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ.

(46)- له سلامه وروسته په ښي یا کیڼ لوري راګرځېدل

477- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ عَنِ الأَسْوَدِ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ لاَ يَجْعَلْ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا

مِنْ صَلاَتِهِ، يَرَى أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لاَ يَنْصَرِفَ إِلاَّ عَنْ يَمِينِهِ، لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَثِيرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ. (بخاري:852)

477- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ستاسو هيڅوك دي د خپل لمانځه كوم څه د شيطان لپاره نه ګرځوي؛ داسي چي وانګيري دا پرې فرض دي چي يوازي له ښي لوري به رااوړي (د لمانځه په پاى كي)، يقيناً چي ما ډېر ځلي رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چي په كيڼ لوري به راګرځېدو.

(٤٧) باب: د خامي هوږي، پياز او ګندنې په اړه

478- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِى عَطَاءٌ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ- يُرِيدُ الثُّومَ- فَلاَ يَغْشَانَا فِى مَسَاجِدِنَا". قُلْتُ مَا يَعْنِى بِهِ قَالَ مَا أُرَاهُ يَعْنِى إِلاَّ نِيئَهُ. وَقَالَ مَخْلَدُ بْنُ يَزِيدَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ إِلاَّ نَتْنَهُ. (بخاري:852)

478- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي له دې بوټي خوراك كړى وي، مراد ئې هوږه وه، نو زموږ جومات ته دي نه رانږدې كېږي). راوي وايي: جابر رضي الله عنه ته مي وويل: لدې ئې مراد څه وو؟ راوي وويل: فكر كوم چي مراد به ئې خامه (هوږه) او په بل روايت كي بوى ناكه هوږه وي.

تكرار: 855، 5452، 7359

توپير: په يوه كي مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ- يُرِيدُ الثُّومَ فَلاَ يَغْشَانَا فِى مَسَاجِدِنَا، په بل كي مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلاً

فَلْيَعْتَزِلْنَا، په يوه کي فَلاَ يَغْشَانَا فِى مَسَاجِدِنَا أَوْ قَالَ- فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا وَلْيَقْعُدْ فِى بَيْتِهِ راغلي.

479- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ زَعَمَ عَطَاءٌ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ زَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا- أَوْ قَالَ- فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا، وَلْيَقْعُدْ فِى بَيْتِهِ". وَأَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أُتِىَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ، فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا فَسَأَلَ فَأُخْبِرَ بِمَا فِيهَا مِنَ الْبُقُولِ فَقَالَ "قَرِّبُوهَا "إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ كَانَ مَعَهُ، فَلَمَّا رَآهُ كَرِهَ أَكْلَهَا قَالَ "كُلْ فَإِنِّى أُنَاجِى مَنْ لاَ تُنَاجِى". (بخاري:855)

479- له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي هوږه يا پياز خوړلي وي له موږ دي لري اوسي). او يا ئې فرمايلي: (زموږ له جومات دي لري اوسي او په خپل کور کي دي کښيني). او دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دېګ راوړل شو چي شنه سابه په کي وو، بوی ئې تر سپوږمو شو، نو وئې پوښتل، نو په هغو سابو ئې خبر کړ چي په دې خوړو کي وو، نو وئې فرمايل: (نږدې ئې کړئ) يوه صحابي ته چي ورسره وو، کله چي ئې وليد هغه ئې خوړل نه خوښوي نو وئې فرمايل: وئې خوره، ځکه زه له هغه چا سره نجوی کوم چي ته ئې ورسره نه کوې.

تکرار: 854، 5452، 7359

توپير: په مخکني روايت کي څېړل شوی.

480- وَ فِي رِوَايَةٍ: اُتِيَ بِبَدرٍ، يَعنِي: طَبَقاً فِيهِ خَضروات.

480- او په يوه روايت کي راغلي: په (بدر) کي رسول الله

صلى الله عليه و سلم ته يو غاب وړاندي شو چي په هغه کي سابه وو.

په دې دواړو رواياتو کي تعارض تر سترګو کېږي، تلفيق ئې داسي دئ چي يو ځل داسي سابه ورته راوړل شوي چي د هوږي او پياز په څېر بوی ناك شيان ئې درلودل او بل ځل له داسي شيانو خالي سابه.

(٤٨) باب: د ماشومانو اودس

481- حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِى غُنْدَرٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ الشَّيْبَانِىَّ قَالَ سَمِعْتُ الشَّعْبِىَّ قَالَ أَخْبَرَنِى مَنْ مَرَّ مَعَ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم عَلَى قَبْرٍ مَنْبُوذٍ، فَأَمَّهُمْ وَصَفُّوا عَلَيْهِ. فَقُلْتُ يَا أَبَا عَمْرٍو مَنْ حَدَّثَكَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ. (بخاري:857)

481- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه لري پراته قبر تېر شو، نو (د جنازې) لمونځ ئې پرې وکړ او خلک ورپسي په صف کي ودرېدل.

تکرار: 1247، 1319، 1321، 1322، 1326، 1336، 1340

توپير: له ترجمة الباب سره د روايت خاص مناسبت نه تر سترګو کېږي خو ښايي امام بخاري به د ابن عباس ماشومتوب ته په پام سره دا ويل غواړي چي ده به هم اودس کړی وي او په لمانځه کي به ئې برخه اخيستې وي.

482- حَدَّثَنَا عَلِىُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِى صَفْوَانُ بْنُ سُلَيْمٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ عَنِ النَّبِىِّ صلى

الله عليه و سلم قَالَ "الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ". (بخاري: 858)

482- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د جُمعې د ورځي غُسل پر هر بالغ واجب دئ).

تكرار: 879، 880، 895، 2665

توپير: په يوه كي الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، په بل كي غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ راغلي او په بل كي دا فقره هم پرې اضافه شوې وَأَنْ يَسْتَنَّ وَأَنْ يَمَسَّ طِيبًا إِنْ وَجَدَ. يعني مسواك وهل او عطر پر ځان وهل هم واجب دي كه ئې وموندل.

د دې روايت په اړه دا مطالب په پام كي ولرئ: دا روايت له ګڼ شمېر هغو رواياتو سره تعارض لري چي د جمعې د ورځي غسل مستحب ګڼي، هغه روايات هم د شمېر له پلوه زيات دي او هم د سند له پلوه ارجح. د قرآن له وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي غسل يوازي د جنابت په صورت كي او د لمانځه لپاره فرض دئ، د دې لپاره په قرآن كي كوم شاهد نه مومو چي د جمعې د ورځي د غسل فرضيت ترې ثابت شي.

483- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَابِسٍ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ لَهُ رَجُلٌ شَهِدْتَ الْخُرُوجَ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ نَعَمْ، وَلَوْلاَ مَكَانِي مِنْهُ مَا شَهِدْتُهُ- يَعْنِي مِنْ صِغَرِهِ- أَتَى الْعَلَمَ الَّذِى عِنْدَ دَارِ كَثِيرِ بْنِ الصَّلْتِ، ثُمَّ خَطَبَ ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ أَنْ يَتَصَدَّقْنَ فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُهْوِى بِيَدِهَا إِلَى حَلْقِهَا

تُلْقِى فِى ثَوْبِ بِلاَلٍ، ثُمَّ أَتَى هُوَ وَبِلاَلٌ الْبَيْتَ. (بخاري:863)

483- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي ورته وويل: آيا هغه وخت له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګرى وې چي د عيد په ورځ ښځو ته ورغى؟ ابن عباس رضي الله عنهما وويل: هو؛ که مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره نژدې خپلوي نه وى، نو د وړوکوالي له امله به هلته حاضر نه وم، رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه لوړ ځاى (منبر) ته تشريف يووړ چي د ابن صلت د کور خوا ته وو، بيا ئې خطبه وويله، بيا ښځو ته ورغى او نصيحت ئې ورته وکړ، وعظ ئې ورته وکړ، او امر ئې ورته وکړ چي صدقه ورکړي، نو ښځي به خپلي غاړې ته لاس کاوو، لښتې او کړۍ به ئې د بلال په جامه (څادر) کي اچول، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم له بلال رضي الله عنه سره کور ته راغى.

تکرار: 98، 962، 964، 975، 977، 979، 989، 1431، 1449، 4895، 5249، 5880، 5881، 5883، 7325

توپير: دا روايت د بخاري په 98 روايت کي څېړل شوى. له دغو رواياتو د بخاري موخه دا ده چي ثابته کړي ماشومانو به هم په لمونځونو کي برخه اخيسته.

(٤٩) باب: په شپه کي جومات ته د ښځو تګ

484- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ مُوسَى عَنْ حَنْظَلَةَ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ الله عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا اسْتَأْذَنَكُمْ نِسَاؤُكُمْ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَأْذَنُوا لَهُنَّ".

(بخاري:865)

484- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (که ستاسو مېرمنو د شپې له لوري جومات ته د تګ اجازه درنه غوښتله، نو اجازه ورکړئ).

تکرار: 873، 899، 900، 5238

توپير: په يوه کي إِذَا اسْتَأْذَنَكُمْ نِسَاؤُكُمْ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَأْذَنُوا لَهُنَّ، په بل کي ائْذَنُوا لِلنِّسَاءِ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ، په بل کي لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ الله مَسَاجِدَ الله، په بل کي إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلاَ يَمنعا راغلي. د ټولو مطلب دا دئ چي ښځي جومات ته له تلو مه منع کوئ.

له دې رواياتو معلومېږي چي ځينو صحابه وو به ښايي دا نه خوښوله چي مېرمني ئې د شپې له لوري جومات ته ولاړي شي، رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې خبر شوی او دا لاربښوونه ئې کړې چي جومات ته د دوی د تلو مخنيوی مه کوئ. ويل کېږي چي عمر رضي الله عنه هم له دې ډلي وو، خو هغه به وړاندي او مېرمن به ئې ورپسې جومات ته تله.

۱۱- د جُمعې کتاب

باب: د جمعې د لمانځه فرضیت

485- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ هُرْمُزَ الأَعْرَجَ مَوْلَى رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "نَحْنُ الآخِرُونَ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، ثُمَّ هَذَا يَوْمُهُمُ الَّذِى فُرِضَ عَلَيْهِمْ فَاخْتَلَفُوا فِيهِ، فَهَدَانَا الله، فَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ، الْيَهُودُ غَدًا وَالنَّصَارَى بَعْدَ غَدٍ". (بخاري:876)

485- له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اوریدلي چي فرمایل ئې: (موږ به د قیامت په ورځ وروستني مخکني وو (له نورو امتونو وروسته راغلي یو، خو تر دوی به وړاندي یو)، که څه هم دوی ته تر موږ مخکي کتاب ورکړی شو، بیا ئې همدا ورځ وه چي (احترام ئې) پرې فرض شو، خو دوی په کي اختلاف وکړ، او الله تعالی موږ هدایت کړو، نو خلک پدې اړه تر موږ وروسته دي، یهودان ئې سهار ته (د شنبې ورځ لمانځي) او نصرانیان ئې بله ورځ (یکشنبه).

تکرار: 238، 896، 2956، 3486، 6624، 6887، 7036، 7495

توپیر: دا روایت د بخاري په238 روایت کي څېړل شوی.

(۲) باب: د جمعې په ورځ عطر وهل

486- حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ عُمَارَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ سُلَيْمٍ الأَنْصَارِيُّ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ، وَأَنْ يَسْتَنَّ وَأَنْ يَمَسَّ طِيبًا إِنْ وَجَدَ". (بخاري: 880)

486- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: شاهدي وركوم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (دجمعې په ورځ غسل، مسواک وهل او د امکان په صورت کي خوشبويي وهل پر هر بالغ واجب دي).

تکرار: 858، 879، 895، 2665

توپير: دا روايت په 482 شمېره روايت کي څېړل شوی.

(۳) باب: د جمعې فضيلت

487- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ". (بخاري: 881)

487- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله

صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي د جمعې په ورځ د جنابت د غسل په شان غسل وکړ، بيا جومات ته ولاړ، داسي دئ لکه چي يوه اوښه ئې خيرات کړې وي، او څوک چي په دوهمه ګړۍ کي جومات ته ولاړ شي داسي دئ لکه چي يوه غوا ئې خيرات کړې وي، او څوک چي په دريمه ګړۍ کي ولاړ شي داسي دئ لکه چي يو ښکرور پسه ئې خيرات کړی وي، او څوک چي په څلورمه ګړۍ کي ولاړ شي داسي دئ لکه چي يوه چرګه ئې خيرات کړې وي، او څوک چي په پنځمه ګړۍ کي ولاړ شي داسي دئ لکه چي يوه هګۍ ئې خيرات کړې وي او کله چي امام د خطبې لپاره راووځي، نو فرشتې راغونډېږي او خطبه او نصيحت اوري).

(٤) باب: د جمعې په ورځ وېښتان غوړول

488- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنِ ابْنِ وَدِيعَةَ عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ، أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ ثُمَّ يَخْرُجُ، فَلاَ يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، ثُمَّ يُصَلِّى مَا كُتِبَ لَهُ، ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الإِمَامُ، إِلاَّ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الأُخْرَى". (بخاري:883)

488- له سلمان فارسي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کوم سړی چي د جمعې په ورځ غسل وکړي او د خپل توان تر حده ځان پاک کړي او ورسره شته خوشبويه تېل ووهي او يا په خپل کور کي شته عطر ولګوي، بيا له کوره ووځي، او دوه تنه سره بېل نه کړي (د دوو تر منځ تېر نشي او پر اوږو ئې وانه

وړي)، بيا هغه لمونځ وکړي چي ورته ټاکل شوی، بيا کله چي امام خبري پيل کړي پټه خوله شي (او غوږ ونيسي)، نو اجر به ئې له دې پرته بل څه نه وي چي د دې جمعې او بلي جمعې تر منځ ګناهونه ئې وبخښل شي).

تکرار: 910

توپير: په يوه کي لاَ يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، په بل کي مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَتَطَهَّرَ بِمَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، په يوه کي وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ، په بل کي أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ ثُمَّ يَخْرُجُ، په بل کي ثُمَّ ادَّهَنَ أَوْ مَسَّ مِنْ طِيبٍ، ثُمَّ رَاحَ راغلي.

489- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ طَاوُسٌ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ ذَكَرُوا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "اغْتَسِلُوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْسِلُوا رُءُوسَكُمْ وَإِنْ لَمْ تَكُونُوا جُنُبًا، وَأَصِيبُوا مِنَ الطِّيبِ". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَمَّا الْغُسْلُ فَنَعَمْ، وَأَمَّا الطِّيبُ فَلاَ أَدْرِى. (بخاري:884)

489- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي ورته وويل شول: آيا دا صحيح ده چي ځيني ئې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: (د جمعې په ورځ غسل وکړئ، خپل سرونه ومينځئ که څه هم جنب نه وئ او عطر ووهئ؟) ابن عباس رضي الله عنهما وويل: غسل چي دئ نو وايم چي هو؛ خو د عطر په اړه نه پوهيږم.

د جمعې په ورځ غسل کول، سر صفا مينځل، عطر وهل، خپلې ښې او پاکي جامې اغوستل مستحب دي.

(٥) باب: بايد د جمعې په ورځ غوره جامې واغوستل

شي

490- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَأَى حُلَّةَ سِيَرَاءَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، لَوِ اشْتَرَيْتَ هَذِهِ فَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلِلْوَفْدِ إِذَا قَدِمُوا عَلَيْكَ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ فِي الآخِرَةِ". ثُمَّ جَاءَتْ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم مِنْهَا حُلَلٌ، فَأَعْطَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه مِنْهَا حُلَّةً فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ الله، كَسَوْتَنِيهَا وَقَدْ قُلْتَ فِي حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَا قُلْتَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِنِّي لَمْ أَكْسُكَهَا لِتَلْبَسَهَا". فَكَسَاهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه أَخًا لَهُ بِمَكَّةَ مُشْرِكًا. (بخاري:886)

490- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي عمر بن خطاب رضي الله عنه د جومات دروازې خوا ته وريښميني جامې وليدلې چي پلورل کېدې، نو وئې ويل: يا رسول الله! که دا جامې واخلې، بيا ئې د جمعې په ورځ او له پلاويو سره د ليدني لپاره اغوندې؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا ډول جامې هغه څوك اغوندي چي په آخرت کي ئې هيڅ برخه نه وي)، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته همغه ډول وريښميني جامې راوړل شوې، رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه جوړه عمر رضي الله عنه ته ورکړه، عمر رضي الله عنه وويل: ته دا جامې راباندې اغوندې حال دا چي د عطارد د جامو په اړه دي هغه خبره کړې وه؟ (عطارد د هغه سړې نوم وو چي هغه وريښميني جامې ئې پلورلې)، رسول الله صلى الله عليه و

سلم وفرمايل: (ما دا جامې د دې لپاره ندي درکړي چې ته ئې واغوندې) بيا عمر رضي الله عنه هغه جامې په مکه کي اوسېدونکي خپل مشرک ورور ته واستولې.

تکرار: 948، 2104، 2612، 2619، 3054، 5841، 5981، 6081

توپير: په يوه کي أَخَذَ عُمَرُ جُبَّةً مِنْ إِسْتَبْرَقٍ تُبَاعُ فِى السُّوقِ، فَأَخَذَهَا فَأَتَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله ابْتَعْ هَذِهِ تَجَمَّلْ بِهَا لِلْعِيدِ وَالْوُفُودِ، په بل کي رَأَى حُلَّةَ سِيَرَاءَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، لَوِ اشْتَرَيْتَ هَذِهِ فَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلِلْوَفْدِ إِذَا قَدِمُوا عَلَيْكَ، په بل کي أَرْسَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم إِلَى عُمَرَ رضي الله عنه بِحُلَّةِ حَرِيرٍ- أَوْ سِيرَاءَ- فَرَآهَا عَلَيْهِ، فَقَالَ "إِنِّى لَمْ أُرْسِلْ بِهَا إِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا، إِنَّمَا يَلْبَسُهَا مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ، إِنَّمَا بَعَثْتُ إِلَيْكَ لِتَسْتَمْتِعَ بِهَا". يَعْنِى تَبِيعُهَا، په بل کي وَجَدَ عُمَرُ حُلَّةَ إِسْتَبْرَقٍ تُبَاعُ فِى السُّوقِ فَأَتَى بِهَا رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، ابْتَعْ هَذِهِ الْحُلَّةَ فَتَجَمَّلْ بِهَا لِلْعِيدِ وَلِلْوُفُودِ، په يوه کي إِنَّمَا هَذِهِ لِبَاسُ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ، په بل کي إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ فِى الآخِرَةِ، په يوه کي ثُمَّ جَاءَتْ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم مِنْهَا حُلَلٌ، فَأَعْطَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه مِنْهَا حُلَّة، په بل کي ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَيْهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِجُبَّةِ دِيبَاجٍ، فَأَقْبَلَ بِهَا عُمَرُ، په يوه کي وَأَرْسَلْتَ إِلَىَّ بِهَذِهِ الْجُبَّةِ، په بل کي فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ الله، كَسَوْتَنِيهَا وَقَدْ قُلْتَ فِى حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَا قُلْتَ، په يوه کي إِنِّى لَمْ أَكْسُكَهَا لِتَلْبَسَهَا، په بل کي تَبِيعُهَا أَوْ تُصِيبُ بِهَا حَاجَتَكَ، په بل کي تَبِيعُهَا، أَوْ تُصِيبُ بِهَا بَعْضَ حَاجَتِكَ راغلي.

لكه چي گورئ په دې رواياتو کي کافي توپيرونه او شديد تعارضات تر سترگو کيږي، يو ئې وايي چي عمر رضي الله عنه په بازار کي وريښمنه جبه راواخيسته او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې راوړه او وئې ويل چي دا وپيره او بل ئې وايي چي د جومات په دروازه کي ئې وليدله او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل چي که دا وپيرې ښه به وي او دې ته ورته نور ژور تعارضات، د دغو متعارضو رواياتو له مخي هيڅوك دا پرېکړه نشي کولى چي کوم يو ئې صحيح دئ، بخاري د معمول په څېر دلته هم نه دي ويلي چي کوم يو ئې د متن له پلوه صحيح دئ؟! د سند له مخي دا روايت ډېر غريب دئ په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري. خو نورو رواياتو ته په پام سره دومره ويلى شو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د وريښمينو جامو له اغوستلو نارينه منع کړي.

(٦) باب: د جمعې په ورځ مسواک وهل

491- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي- أَوْ عَلَى النَّاسِ- لأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ صَلاَةٍ". (بخاري:887)

491- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (که زما پر امت يا پر خلکو سخته نه تمامېدى نو د هر لمانځه په وخت به مي د مسواک وهلو امر ورته کړى وو).

تکرار: 7240

توپير: توپير ئې يوازي دومره دئ چي، په بل کي او على الناس نه دي راغلي.

492- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ الْحَبْحَابِ حَدَّثَنَا أَنَسٌ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ". (بخاري:888)

492- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د مسواک په اړه مي ډېر تأکيد دربانديي وکړ).

(٧) باب: څه چي د جمعې د ورځي د سهار په لمانځه کي لوستل کېږي

493- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ- هُوَ ابْنُ هُرْمُزَ- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ فِي الْجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ (الم * تَنْزِيلُ) السَّجْدَةَ وَ (هَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ) (بخاري:891)

493- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کي د (الم تنزيل، السجده) او (هل اتى على الانسان) سورتونه تلاوت کول.

تکرار: 1068

توپير: دواړه سره ورته دي.

که تاسو ټول هغه روايات له نظره تېر کړئ چي په ځينو لمونځونو کي د ځينو خاصو سورتونو د تلاوت يادونه په کي شوې نو دې نتيجې ته به ورسېږئ چي دا نه عموميت

لري او نه وجوب او لزوم ترې ثابتيږي، ارجح خبره دا ده چي امام وضعيت ته په پام سره داسي سوره انتخاب کړي چي له روان او موجود حالت سره مناسبت ولري، د قرآن وينا هم دا مطلب افاده کوي چي د سورې انتخاب لمونځ کوونکي ته پرېښودل شوی، داسي چي که د منافقينو په اړه څه ويل ګټور وي نو غوره دا ده چي د منافقينو سوره ولوستل شي، که جهاد ته د خلکو د هڅولو وخت وي نو د التوبه له سورې دي يوه برخه غوره کړي، د هر وخت او هري موضوع لپاره مناسبه سوره په قرآن کي موندلی شئ، که امامت در په غاړه شو نو د جمعې په لمونځونو کي له حالت سره متناسبه سورې غوره کوئ، دې ته مو هم پام وي چي تاسو به داسي مشهور او عزيز روايت ونه مومئ چي په خاصو لمونځونو کي د خاصي سورې تلاوت ئې لازم او ضروري ګڼلی وي. په دې اړه اکثر روايات داسي دي چي په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري او په مقابل کي ئې متعارض روايت شته.

دې ته مو هم پام وي چي ځيني محققين په دې نظر دي چي د جماعت په لمونځونو کي او هغه مهال چي مقتديان ډېر وي او په دوی کي ډېری ئې عوام او د شريعت له احکامو بې خبره خلك وي نو غوره دا ده چي د داسي سورې له لوستلو ډډه وشي چي د قرائت سجده ايجابوي، دا ځکه چي د يوه جائز يا مستحب کار لپاره خلك په شك کي غورځول او د لمانځه نظم مختل کول سم کار نه دئ.

(٨) باب: په کليو او ښارونو کي د جمعې لمونځ

تر دې عنوان لاندي بخاري په هغه روايت استناد کړی چي التجريد الصريح للجامع الصحيح نه دئ راوړی او محققين ئې په کليو کي د جمعې د لمانځه لپاره د حجت په توګه نه مني، روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ الضُّبَعِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ أَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِي مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَيْسِ بِجُوَاثَى مِنَ الْبَحْرَيْنِ. (بخاري: 892)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي له مسجد نبوي وروسته لومړی د جمعې لمونځ د بحرين په جواثي کي د عبدالقيس په جومات کي شوی.

محققين وايي چي جواثي کلی نه بلکي لوی ښار او مشهور تجارتي مرکز وو، په دې ښار کي د جمعې پر لمانځه دا استدلال نشي کېدی چي په کليو کي د جمعې د لمونځ جواز ترې ثابت شي. که په کليو کي د جمعې لمونځ جائز وی نو د مدينې له لرو لرو پرتو کليو به خلك د جمعې د لمانځه لپاره مسجد نبوي ته نه راتلل، د بخاري وروستي روايات په دې خبري ګواهي ورکوي چي په وړو وړو کليو کي د جمعې لمونځ لږ تر لږه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دور کي سابقه نه لري. د جمعې د لمانځه د فرض والي يو لوی حکمت دا دئ چي ډېر خلك راغونډ شي، امام د مسلمانانو د مشرتابه په کفالت وينا وکړي، په مهمو مسائلو بحث وکړي او خلکو ته ضروري لارښووني وکړي، که په

وړو وړو کليو کي د دې لمانځه جواز ورکړی شي دا لوی مصلحت فوت کيږي، غوره دا ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنت مطابق په وړو وړو کليو کي د جمعې د لمانځه اجازه ورنه کړی شي.

494- عن عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا، وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ- قَالَ وَحَسِبْتُ أَنْ قَدْ قَالَ- وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ". (بخاري:893)

494- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي وئې فرمايل: (ستاسو هر يو شپون (څارونکی) دئ، او ستاسو هر يو د خپل رعيت مسئول دئ، امام (خليفه) څارونکی دئ او د خپل رعيت مسئول، او سړی د خپل کور په اړه څارونکی دئ او د خپل رعيت مسئول دئ، ښځه د خپل خاوند په کور کي څارونکې ده او د خپل رعيت مسئوله ده، خادم د خپل مالك د مال په اړه څارونکی دئ او د خپل رعيت مسئول دئ). راوي وايي: فکر کوم چي دا ئې هم وفرمايل: (سړی د خپل پلار د مال په اړه څارونکی دئ او د خپل رعيت مسئول دئ او ستاسو هر يو څارونکی دئ او د خپل رعيت مسئول دئ).

يادونه: له رعيت مراد هر هغه څه دي چي د سړي تر

لاس او اداري لاندي وي.

تکرار: 2409، 2554، 2558، 2751، 5188، 5200، 7138

توپير: په ځينو کي د پورتنيو الفاظو پر ځای دا راغلي: وَالأَمِيرُ رَاعٍ، وَالرَّجُلُ فِى أَهْلِهِ رَاعٍ وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، كُلُّكُمْ رَاعٍ فَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالأَمِيرُ الَّذِى عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهْىَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ، وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ، أَلاَ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ د مفهوم او معنى له پلوه ټول سره ورته دي.

دا روايت د سند له مخي مشهور دئ، په صحابه وو کي تر دريو زيات راويان لري او د متن له پلوه ډېر بليغ او جامع روايت دئ. خو له ترجمة الباب سره هيڅ مناسبت نه لري. هغه څوك چي وايي امام بخاري د هغه چا په ځواب کي په دې روايت استناد کړی چي د جمعې د لمانځه لپاره د امير يا د هغه د نائب امامت ضروري ګڼي، ګواکي د دې روايت له مخي هر څوك راعي او د خپل رعيت مسئول دئ نو د جمعې په لمانځه کي د امير يا د هغه د نائب شتون ضروري نه دئ!! دا کمزورې توجيه او استدلال دئ. تفصيل ئې په مخکني روايت کي وګورئ.

(٩) باب: آيا په هغه چا غسل لازم دئ چي د جمعې لمونځ نشي کولی؟

495 . حديث أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: "نَحْنُ الآخِرُونَ

السَّابِقُونَ"تقدم قريباً وزاد هنا في آخره: ثُمَّ قَالَ: "حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا يَغْسِلُ فِيهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ". (بخاري:897)

495- د ابوهريره رضي الله عنه په روايت دا حديث چې فرمايي: (موږ وروسته راغلي يو، خو له ټولو وړاندي يو) مخکي تېر شو، پدې روايت کي دا زياتونه شته چې بيا ئې وفرمايل: (پر هر مسلمان دا لازمه ده چې په هرو اوو ورځو کي يوه ورځ غسل وکړي، خپل سر او ځان ومينځي).

تکرار: 898، 3487

توپير: په يوه کي حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ او په بل کي لِلَّهِ تَعَالَى عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ حَقٌّ راغلي.

د دې روايت اصلي مطلب د ابن عمر رضي الله عنهما له لوري هم روايت شوی، نورو رواياتو ته په پام سره ويلی شو چې دا مستحب دئ نه فرض، ځکه په وروستني روايت کي د جمعې د ورځي د غسل په اړه الفاظ داسي دي چې ښيي دا مستحب کار دئ.

(١٠) باب: د جمعې لمونځ پر چا فرض دئ؟

496- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِى عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ أَبِى جَعْفَرٍ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُونَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ مَنَازِلِهِمْ وَالْعَوَالِى، فَيَأْتُونَ فِى الْغُبَارِ، يُصِيبُهُمُ الْغُبَارُ وَالْعَرَقُ، فَيَخْرُجُ مِنْهُمُ الْعَرَقُ، فَأَتَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم إِنْسَانٌ مِنْهُمْ وَهْوَ عِنْدِى، فَقَالَ

النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لَوْ أَنَّكُمْ تَطَهَّرْتُمْ لِيَوْمِكُمْ هَذَا". (بخاري: 902)

496- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: خلک به د جمعې په ورځ په نوبت له خپلو کورونو او له برو پرتو سیمو راتلل (یعني کله به ځیني راتلل او کله ځیني نور)، په دوړو کي به راتلل، دوړي به پرې لوېدلې او خولې کېدل به، خولې به ترې بهېدې، له دوی یو تن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته چي زما په کور کي وو راغی، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (کاش دغي ورځي ته مو ځانونه ښه صفا کولی).

497- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ أَنَّهُ سَأَلَ عَمْرَةَ عَنِ الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَتْ قَالَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها كَانَ النَّاسُ مَهَنَةَ أَنْفُسِهِمْ، وَكَانُوا إِذَا رَاحُوا إِلَى الْجُمُعَةِ رَاحُوا فِي هَيْئَتِهِمْ فَقِيلَ لَهُمْ لَوِ اغْتَسَلْتُمْ. (بخاري:903)

497- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: خلک به د خپل ځان لپاره په کارونو لګیا وو او چي د جمعې لمانځه ته به تلل نو په همغه حالت کي (له غسل پرته) به تلل، نو ورته وویل شول: (که غسل وکړئ غوره به وي).

تکرار: 2071

توپیر: په یوه کي كَانَ النَّاسُ مَهَنَةَ أَنْفُسِهِمْ، په بل کي كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عُمَّالَ أَنْفُسِهِمْ، په یوه کي وَكَانُوا إِذَا رَاحُوا إِلَى الْجُمُعَةِ رَاحُوا فِي هَيْئَتِهِمْ، په بل کي وَكَانَ يَكُونُ لَهُمْ أَرْوَاحٌ راغلي، د دغو روایاتو له الفاظو معلومېږي چي غسل مستحب دئ نه فرض.

498- حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّى الْجُمُعَةَ حِينَ تَمِيلُ الشَّمْسُ. (بخاري: 905)

498- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د جمعې لمونځ هغه وخت كاوو چي لمر به كوږ شو، (زوال به شو).

(11)- باب: كه د جمعې په ورځ گرمي زياته وي

499- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِى بَكْرٍ الْمُقَدَّمِىُّ قَالَ حَدَّثَنَا حَرَمِىُّ بْنُ عُمَارَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو خَلْدَةَ- هُوَ خَالِدُ بْنُ دِينَارٍ- قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا اشْتَدَّ الْبَرْدُ بَكَّرَ بِالصَّلاَةِ، وَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلاَةِ، يَعْنِى الْجُمُعَةَ. (بخاري:906)

499- او له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم طريقه دا وه چي كه يخني به زياته شوه نو د جمعې لمونځ به ئې په لومړي وخت كي كاوو او كه به گرمي زياته شوه نو د جمعې لمونځ به ئې وروسته په سوړوالي كي كاوو.

(١٢) باب: د جمعې لمانځه ته تلل

500- حَدَّثَنَا عَلِىُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِى مَرْيَمَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبَايَةُ بْنُ رِفَاعَةَ قَالَ أَدْرَكَنِى أَبُو عَبْسٍ وَأَنَا أَذْهَبُ إِلَى الْجُمُعَةِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِى سَبِيلِ الله حَرَّمَهُ الله عَلَى النَّارِ".

(بخاري:907)
500- له عبايه بن رفاعه روايت دئ چي وايي: په داسي حال كي چي د جمعې لمانځه ته روان وم ابو عبس رضي الله عنه راسره يو ځاى شو او وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: (د چا پښې چي د خداى په لار كي په دوړو شي، الله تعالى ئې د دوزخ پر اور حراموي).

تكرار: 2811

توپير: په يوه كي مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِى سَبِيلِ الله حَرَّمَهُ الله عَلَى النَّارِ او په بل كي مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِى سَبِيلِ الله فَتَمَسَّهُ النَّارُ راغلي.

د بخاري دا روايت تر ټولو زيات غريب دئ، په دريو طبقو كي يو يو راوي لري، خو دا مطلب په نورو رواياتو كي له نورو صحابه وو هم راغلى خو هغوى ټول دا د جهاد مربوط ګڼي او وايي چي د چا پښې په جهاد كي په دوړو شوې الله تعالى ئې د دوزخ پر اور حراموي، كه د قرآن په رڼا كي دې رواياتو ته وګورو نو يقيناً چي له في سبيل الله نه مراد جهاد في سبيل الله دئ، قرآن يوازي جهاد او هجرت ته دا نوم وركړى، انفاق ئې هم په هغه صورت كي انفاق في سبيل الله نومولى چي د جهاد اړوند امورو كي وي.

(١٣) باب: څوک دي خپل ورور نه پاڅوي چي په خپله هلته كښېني

501- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنَا مَخْلَدُ بْنُ يَزِيدَ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ نَافِعًا يَقُولُ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما يَقُولُ نَهَى

النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ أَخَاهُ مِنْ مَقْعَدِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ. قُلْتُ لِنَافِعٍ الْجُمُعَةَ قَالَ الْجُمُعَةَ وَغَيْرَهَا. (بخاري:911)

501- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې نه نهي کړې ده چي څوک خپل ورور له ځايه پاڅوي او پخپله ئې پر ځای کښېني، وويل شول آيا د جمعې په ورځ؟ وئې ويل: د جمعې ورځ وي او که بله.

تکرار: 6269، 6270

توپير: په يوه کي نَهَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ أَخَاهُ مِنْ مَقْعَدِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ، په بل کي أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ آخَرُ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا او په بل کي لاَ يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ، ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ راغلي، د ټولو مطلب دا دئ چي څوك به په جومات او مجلس کي داسي نه کوي چي بل څوك له خپل ځايه پورته کړي چي په خپله په کي کښېني، بلکي په تش ځای کي به کښېني.

(١٤) باب: د جمعې د ورځي اذان

502- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إِذَا جَلَسَ الإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ رضي الله عنه وَكَثُرَ النَّاسُ زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ. (بخاري:912)

502- له سائب بن يزيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم، ابوبکر رضي الله عنه او

عمر رضي الله عنه په زمانه کي به د جمعې لومړی اذان هغه وخت کېدو چي امام به پر منبر کښېناست، او کله چي د عثمان رضي الله عنه د خلافت دوره شوه او د خلکو شمېر زيات شو نو درېيم اذان زيات شو چي پر (زوراء) به کېدو.

له درېيم اذان مراد هغه اذان دئ چي د عثمان رضي الله عنه په دور کي په لومړنيو دوو (اذان او اقامت) اضافه شو، دا به د جمعې په ورځ د ظهر له داخلېدو سره سم کېدو، له زوراء نه مراد هغه لوړ ځای دئ چي ځيني ئې د نبوي جومات خوا ته ګڼي او ځيني ئې د مدينې په ښار کي.

تکرار: 913، 915، 916

توپير: په يوه کي وَكَانَ التَّأْذِينُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ حِينَ يَجْلِسُ الإِمَامُ، په بل کي إِنَّ الاذان يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ أَوَّلُهُ حِينَ يَجْلِسُ الإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ، په بل کي دا هم راغلي أَمَرَ عُثْمَانُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالاذان الثَّالِثِ، فَأُذِّنَ بِهِ عَلَى الزَّوْرَاءِ، فَثَبَتَ الأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ.

دا روايت موږ ته لارښوونه کوي چي تر عثمان رضي الله عنه مخکي به د جمعې د ورځي اذان هغه مهال کېدو چي امام به پر منبر کښېناست، بيا به د لمانځه لپاره اقامت ويل کېدو، خو د عثمان رضي الله عنه په دور کي دا اذان هم پرې اضافه شو چي د ظهر له داخلېدو وروسته به کېدو، ټولو صحابه وو پر دې توافق کړی، هيچا دې ته د بدعت په سترګه نه دي کتلي او اعتراض ئې نه دئ کړی، همداراز ټولو صحابه وو د شل رکعته تراويح په اړه اجماع کړې او له هغوی تر نن پوري په تواتر سره موږ ته رسېدلې، که دا د سنت مطابق نه وی يا جائز نه وی نو صحابه وو به څنګه

دا كار كولو؟!! ډېره عجيبه ده چي نن څو مغرور كمعقله پر دې اعتراض كوي او ځان تر صحابه وو هم زيات په سنت عمل كوونكي گڼي!!

(١٥) باب: د جمعې په ورځ د يوه مؤذن اذان

503- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِى سَلَمَةَ الْمَاجِشُونُ عَنِ الزُّهْرِىِّ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ الَّذِى زَادَ التَّأْذِينَ الثَّالِثَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رضي الله عنه حِينَ كَثُرَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ، وَلَمْ يَكُنْ لِلنَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم مُؤَذِّنٌ غَيْرَ وَاحِدٍ، وَكَانَ التَّأْذِينُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ حِينَ يَجْلِسُ الإِمَامُ، يَعْنِى عَلَى الْمِنْبَرِ. (بخاري:913)

503- او له سائب رضي الله عنه په روايت كي راغلي چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له يوه مؤذن پرته بل مؤذن نه درلود، او د جمعې په ورځ به اذان هغه وخت كېدو چي امام به پر منبر كښېناست.

يادونه: دلته د راوي مطلب دا دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه مؤذن به اذان كاوو، كه نه نو رسول الله صلى الله عليه و سلم درې مؤذنان درلودل چي نومونه ئې دادي: بلال رضي الله عنه، ابن مكتوم رضي الله عنه او سعد قرظي رضي الله عنه.

تكرار: 912، 915، 916

توپير: په مخكني روايت كي څېړل شوى.

(١٦) باب: امام دي د اذان ځواب وركوي

504- حَدَّثَنَا ابْنُ مُقَاتِلٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ

عُثْمَانَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ عَنْ أَبِى أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِى سُفْيَانَ، وَهُوَ جَالِسٌ عَلَى الْمِنْبَرِ، أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ قَالَ الله أَكْبَرُ الله أَكْبَرُ. قَالَ مُعَاوِيَةُ الله أَكْبَرُ الله أَكْبَرُ. قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. فَقَالَ مُعَاوِيَةُ وَأَنَا. فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله. فَقَالَ مُعَاوِيَةُ وَأَنَا. فَلَمَّا أَنْ قَضَى التَّأْذِينَ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّى سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى هَذَا الْمَجْلِسِ حِينَ أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ يَقُولُ مَا سَمِعْتُمْ مِنِّى مِنْ مَقَالَتِى. (بخاري:914)

504- له أَبِى أُمَامَةَ رضي الله عنه روايت دئ چي له معاويه بن ابي سفيان رضي الله عنه مي هغه مهال واورېدل چي پر منبر ناست وو، مؤذن اذان پيل کړ، الله اكبر، الله اكبر ئې وويل، معاويه رضي الله عنه هم وويل الله اكبر، الله اكبر، بيا چي مؤذن وويل: (اشهد ان لا إله إلا الله)، معاويه رضي الله عنه وويل او زه هم (شهادت وركوم)، مؤذن چي وويل اشهد ان محمداً رسول الله، معاويه رضي الله عنه هم وويل: او زه هم (پر دې خبري گواهي وركوم)، مؤذن چي اذان بشپړ کړ، معاويه رضي الله عنه وويل: اې خلکو! ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم چي پرهمدې ځای ناست وو اورېدلي چي مؤذن اذان کاوو نو همغه څه ئې فرمايل چي اوس مو له ما واورېدل.

تکرار: 612، 613

توپير: د بخاري په پورتنيو رواياتو کي څېړل شوی.

(١٧) باب: پر منبر خطبه

505 . حَدِيْثُ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رضي الله عنه في أمر الْمِنْبَرِ

تَقَدَّمَ وَذِكْرُ صَلاتِهِ الْقَهْقَرَى، وزاد في هذه: فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا صَنَعْتُ هَذَا لِتَأْتَمُّوا وَلِتَعَلَّمُوا صَلاتِي". (بخاري:917)

505- د سهل بن سعد رضي الله عنه هغه حديث مخکي تېر شو چي د منبر او په لمانځه کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وروسته تګ په اړه وو، پدې روايت کي ئې دا زياتونه راغلې: او کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له لمانځه فارغ شو، خلکو ته ئې مخ واړاوو او وئې فرمايل: (اې خلکو! دا کار مي د دې لپاره وکړ چي په ما پسي اقتداء وکړئ او زما د لمانځه طريقه زده کړئ).

تکرار: 377، 448، 2094، 2569

توپير: شرح ئې په ٢٤٩ روايت کي وګورئ.

506- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَنَسٍ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله قَالَ كَانَ جِذْعٌ يَقُومُ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا وُضِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ سَمِعْنَا لِلْجِذْعِ مِثْلَ أَصْوَاتِ الْعِشَارِ حَتَّى نَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ. قَالَ سُلَيْمَانُ عَنْ يَحْيَى أَخْبَرَنِي حَفْصُ بْنُ عُبَيْدِ الله بْنِ أَنَسٍ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا. (بخاري:918)

506- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د خطبې په وخت د وني يوه برغنډ (ستې) خوا ته ودرېدو، کله چي منبر ورته کېښودی شو نو له هغه برغنډ نه مو د لس مياشتنۍ بلاربي اوښي په څېر ږغ واورېد، تر هغه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له منبر نه راکوز شو او لاس ئې پرې کېښود.

تکرار: 449، 2095، 3584، 3585

توپير: په يوه کي كَانَ جِذْعٌ يَقُومُ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا وُضِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ سَمِعْنَا لِلْجِذْعِ مِثْلَ أَصْوَاتِ الْعِشَارِ، په بل کي فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِى كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتَّى كَادَتْ أَنْ تَنْشَقَّ حَتَّى نَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ، په بل کي كَانَ الْمَسْجِدُ مَسْقُوفًا عَلَى جُذُوعٍ مِنْ نَخْلٍ فَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا خَطَبَ يَقُومُ إِلَى جِذْعٍ مِنْهَا، په بل کي كَانَ يَقُومُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَى شَجَرَةٍ أَوْ نَخْلَةٍ... فَنَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم حَتَّى أَخَذَهَا فَضَمَّهَا إِلَيْهِ، فَجَعَلَتْ تَئِنُّ أَنِينَ الصَّبِيِّ الَّذِى يُسَكَّتُ حَتَّى اسْتَقَرَّتْ قَالَ "بَكَتْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ، په بل کي فَسَمِعْنَا لِذَلِكَ الْجِذْعِ صَوْتًا كَصَوْتِ الْعِشَارِ، په بل کي فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ صِيَاحَ الصَّبِيِّ، ثُمَّ نَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَضَمَّهُ إِلَيْهِ تَئِنُّ أَنِينَ الصَّبِيِّ، الَّذِى يُسَكَّنُ راغلي. پر دې توپيرونو سربېره دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي تر مطلق غريب اوښتی او په څلورو طبقو کي يوازي يو يو راوي لري، د ابن انس په اړه اختلاف دئ چي دا کوم ابن انس دئ، ځيني وايي چي حفص بن عبيد الله بن انس دئ او ځيني وايي چي عبيد الله بن حفص بن أنس دئ، او ځيني ئې مجهول ګڼي، دا روايت له بخاري پرته په بل کتاب کي نه دئ راغلی. البانی هم په خپلو کتابونو کي نه دئ راوړی. عجيبه ده چي د حديثو په يو سل دېرشو کتابونو کي هيچا د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی خو بخاري پنځه ځلي په تکرار سره راوړی، بخاري دا هم نه دي ويلي چي دا کوم ابن انس دئ!! د اصلي نوم له نه يادولو معلومېږي چي امام بخاري هم متيقن نه وو چي دا

كوم ابن انس دئ!! دې ته مو هم پام وي چې په بخاري کې له دې روايت پرته بل داسې روايت نه دئ راغلی چې ابن انس دې له جابر رضي الله عنه روايت کړی وي.

(18) باب: خطبه به په ولاړه وي

507- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ عُمَرَ الْقَوَارِيرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَقْعُدُ ثُمَّ يَقُومُ، كَمَا تَفْعَلُونَ الآنَ. (بخاري:920)

507- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به په ولاړه خطبه ويله، بيا به کښېناست او بيا به ودرېد، همداسې لکه چې تاسو ئې کوئ.

تکرار: 928

توپير: په يوه کې يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَقْعُدُ ثُمَّ يَقُومُ او په بل کې يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ يَقْعُدُ بَيْنَهُمَا راغلي.

(19) باب: په خطبه کې له حمد او ثناء وروسته د اما بعد ويل

508- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ الْحَسَنَ يَقُولُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم أُتِيَ بِمَالٍ أَوْ سَبْيٍ فَقَسَمَهُ، فَأَعْطَى رِجَالاً وَتَرَكَ رِجَالاً فَبَلَغَهُ أَنَّ الَّذِينَ تَرَكَ عَتَبُوا، فَحَمِدَ الله ثُمَّ أَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ "أَمَّا بَعْدُ، فَوَالله إِنِّي لأُعْطِي الرَّجُلَ، وَأَدَعُ الرَّجُلَ، وَالَّذِي أَدَعُ

أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الَّذِى أُعْطِى وَلَكِنْ أُعْطِى أَقْوَامًا لِمَا أَرَى فِى قُلُوبِهِمْ مِنَ الْجَزَعِ وَالْهَلَعِ، وَأَكِلُ أَقْوَامًا إِلَى مَا جَعَلَ اللهُ فِى قُلُوبِهِمْ مِنَ الْغِنَى وَالْخَيْرِ، فِيهِمْ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ". فَوَاللهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ لِى بِكَلِمَةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم حُمْرَ النَّعَمِ. (بخاري: 923)

508- له عمرو بن تغلب رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مال يا اسيران راوړل شول، رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ووېشل، ځينو خلكو ته ئې وركړل او ځينو ته ئې ورنكړل، وروسته خبر شو چي هغه خلك خفه شوي چي څه ئې نه وو وركړي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله حمد او ثناء وويله بيا ئې وفرمايل: (اما بعد، په خداى قسم چي زه چا ته څه وركوم او چا ته ئې نه وركوم، او هغه چي څه نه وركوم تر هغه ډېر راته گران وي چي څه وركوم، خو زه له دې امله هغو وگړو ته څه وركوم چي د دوى د زړونو بې صبري او تلوسه گورم، او ځيني وگړي هغه قناعت او ښېگڼي ته سپارم چي الله تعالى د دوى په زړونو كي ايښى دئ، او لدې جملې عمرو بن تغلب دئ)، عمرو بن تغلب رضي الله عنه وايي: په الله قسم چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا دومره راته گرانه ده چي نه غواړم په بدل كي ئې سره اوښان زما په برخه شي.

تكرار: 3145، 7535

توپير: په يوه كي أَعْطَى رِجَالاً وَتَرَكَ رِجَالاً فَبَلَغَهُ أَنَّ الَّذِينَ تَرَكَ عَتَبُوا، په بل كي أَعْطَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَوْمًا وَمَنَعَ آخَرِينَ، فَكَأَنَّهُمْ عَتَبُوا عَلَيْهِ، په يوه كي إِنِّى أُعْطِى قَوْمًا أَخَافُ ظَلَعَهُمْ وَجَزَعَهُمْ، په بل كي إِنِّى لأُعْطِى الرَّجُلَ،

وَأَدَعُ الرَّجُلَ، وَالَّذِى أَدَعُ أَحَبُّ إِلَىَّ مِنَ الَّذِى أُعْطِى وَلَكِنْ أُعْطِى أَقْوَامًا لِمَا أَرَى فِى قُلُوبِهِمْ مِنَ الْجَزَعِ وَالْهَلَعِ راغلي.

509- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ قَالَ أَخْبَرَنِى عُرْوَةُ عَنْ أَبِى حُمَيْدٍ السَّاعِدِىِّ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَامَ عَشِيَّةً بَعْدَ الصَّلاَةِ، فَتَشَهَّدَ وَأَثْنَى عَلَى الله بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ "أَمَّا بَعْدُ". (بخاري:925)

509- له ابو حميد ساعدي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه شپه رسول الله صلى الله عليه و سلم له لمانځه وروسته پاڅېد، د الله تعالى د شأن وړ حمد او ثناء ئې وويله بيا ئې وفرمايل: (اما بعد).

تكرار: 1500، 2597، 6636، 6979، 7174، 7197

توپير: په يوه كي رَجُلاً مِنَ الأَسْدِ، په بل كي رَجُلاً مِنَ الأَزْدِ، په يوه كي فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ هَذَا لَكُمْ، وَهَذَا أُهْدِىَ لِى، په بل كي اسْتَعْمَلَ عَامِلاً فَجَاءَهُ الْعَامِلُ حِينَ فَرَغَ مِنْ عَمَلِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله هَذَا لَكُمْ، وَهَذَا أُهْدِىَ لِى، په يوه كي فَهَلاَّ جَلَسَ فِى بَيْتِ أَبِيهِ أَوْ بَيْتِ أُمِّهِ، فَيَنْظُرَ يُهْدَى لَهُ أَمْ لاَ، په بل كي أَفَلاَ قَعَدْتَ فِى بَيْتِ أَبِيكَ وَأُمِّكَ فَنَظَرْتَ أَيُهْدَى لَكَ أَمْ لاَ، په يوه كي ثُمَّ قَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَشِيَّةً بَعْدَ الصَّلاَةِ فَتَشَهَّدَ وَأَثْنَى عَلَى الله بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ، په بل كي فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ- فَحَمِدَ الله وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "مَا بَالُ الْعَامِلِ نَبْعَثُهُ، فَيَأْتِى يَقُولُ هَذَا لَكَ وَهَذَا لِى، په يوه كي لاَ يَغُلُّ أَحَدُكُمْ مِنْهَا شَيْئًا، إِلاَّ جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى عُنُقِهِ، إِنْ كَانَ بَعِيرًا جَاءَ بِهِ لَهُ رُغَاءٌ، وَإِنْ كَانَتْ بَقَرَةً جَاءَ بِهَا لَهَا خُوَارٌ، وَإِنْ كَانَتْ شَاةً جَاءَ بِهَا تَيْعَرُ راغلي، له دې توپيرونو سره

سره د ټولو مطلب دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يو سړی د زكات په راټولولو وګمارو، هغه راستون شو او وئي ويل: دا زكات دئ او دا هغه هديې دي چي خلكو ما ته راكړې دي، رسول الله صلى الله عليه و سلم منبر ته پورته شو، له حمد او ثناء وروسته ئې د داسي كار په اړه وينا وكړه، لومړی ئې اما بعد وويل او بيا ئې د نورو خبرو په ضمن كي وفرمايل: ځيني داسي دي چي راشي او وايي: دا ستاسو دي او دا ما ته هديه راكړی شوې، هغه دي په خپل كور كي كښېني او ودي ګوري چي څوك ورته هديې راليږي كه نه، څوك چي غدر وكړي د قيامت په ورځ به له هغه څه سره يو ځای د الله تعالى په وړاندي ودريږي چي په غدر سره ئې ترلاسه كړي. پورتنی روايت نيمګړی دئ، تفصيل ئې په نورو كي راغلی.

510- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبَانَ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْغَسِيلِ قَالَ حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ صَعِدَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْمِنْبَرَ وَكَانَ آخِرَ مَجْلِسٍ جَلَسَهُ مُتَعَطِّفًا مِلْحَفَةً عَلَى مَنْكِبَيْهِ، قَدْ عَصَبَ رَأْسَهُ بِعِصَابَةٍ دَسِمَةٍ، فَحَمِدَ الله وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "أَيُّهَا النَّاسُ إِلَيَّ". فَثَابُوا إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ هَذَا الْحَيَّ مِنَ الأَنْصَارِ يَقِلُّونَ، وَيَكْثُرُ النَّاسُ، فَمَنْ وَلِيَ شَيْئًا مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم فَاسْتَطَاعَ أَنْ يَضُرَّ فِيهِ أَحَدًا أَوْ يَنْفَعَ فِيهِ أَحَدًا، فَلْيَقْبَلْ مِنْ مُحْسِنِهِمْ، وَيَتَجَاوَزْ عَنْ مُسِيِّهِمْ". (بخاري:927)

510- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم منبر ته وخوت او دا ئې (پر منبر) وروستی ناسته وه، څادر ئې پر اوږو اچولی وو او

سر ئې په يوې تراړي تړلی وو، د الله تعالی حمد او ثناء ئې وويله بيا ئې وفرمايل: (اې خلکو! رانږدې شئ)، نو خلك هم په تلوار ورنږدې شول، بيا ئې وفرمايل: اما بعد؛ د انصارو دا قبيله يا کلی (مدينه منوره) به کمېږي (د انصارو شمېر به ورو ورو کمېږي او (نور) خلک به زياتېږي، که څوك د محمد صلی الله عليه و سلم د امت د کومي برخي متولي او چارواکی شي او په دې وتوانېږي چي چا ته تاوان ورسوي يا چا ته ګټه ورسوي نو بايد د انصارو د نېکانو ښېګڼي قبولي کړي او د دوی له ګنهګار دي تېر شي).

تکرار: 3628، 3800

توپير: په يوه کي فَإِنَّ هَذَا الْحَيَّ مِنَ الأَنْصَارِ يَقِلُّونَ، وَيَكْثُرُ النَّاسُ، په بل کي فَإِنَّ النَّاسَ يَكْثُرُونَ وَيَقِلُّ الأَنْصَارُ، حَتَّى يَكُونُوا فِى النَّاسِ بِمَنْزِلَةِ الْمِلْحِ فِى الطَّعَامِ، په يوه کي فَمَنْ وَلِىَ شَيْئًا مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم فَاسْتَطَاعَ أَنْ يَضُرَّ فِيهِ أَحَدًا أَوْ يَنْفَعَ فِيهِ أَحَدًا، په بل کي فَمَنْ وَلِىَ مِنْكُمْ شَيْئًا يَضُرُّ فِيهِ قَوْمًا، وَيَنْفَعُ فِيهِ آخَرِينَ او په بل کي فَمَنْ وَلِىَ مِنْكُمْ أَمْرًا يَضُرُّ فِيهِ أَحَدًا أَوْ يَنْفَعُهُ راغلي. د ټولو مهمه برخه دا ده چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپلي وروستۍ خطبې کي د انصارو په اړه سپارښتنه کړې وه، د انصارو ډېر لوړ مقام دئ او پر ټولو مسلمانانو ئې ډېر ډېر حقونه دي، دوی رسول الله صلی الله عليه و سلم او مهاجرينو ته پناه ورکړه، خپل هر څه ئې د الله تعالی په لار کي قرباني کړل، خطرونه او ګواښونه ئې په ورين تندي قبول کړل، د الله دين ئې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو، اکثريت ئې د الله تعالی په لار کي په شهادت ورسېدل، موږ او د قيامت تر

ورځي د نړۍ ټول مؤمنان د انصارو د احسان پوروړي يو، اسلام د دوی په لاس تر موږ رارسېدلی، الله تعالی دي دوی ته په جنت الفردوس کي لوړي لوړي درجې ورکړي، د دوی په اړه د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا سپارښتنه ډېره حکيمانه او پر ځای سپارښتنه ده.

(٢٠) باب: که امام د خطبې په وخت کي د دوه رکعته لمانځه امر وکړي

511- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله قَالَ جَاءَ رَجُلٌ وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ "أَصَلَّيْتَ يَا فُلاَنُ". قَالَ لاَ، قَالَ "قُمْ فَارْكَعْ". (بخاري:930)

511- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په داسي حال کي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د جمعې په ورځ خلکو ته خطبه ويله، يو سړی راغی، وئې فرمايل: (اې فلانيه! لمونځ دي کړی؟) هغه وويل: نه، وئې فرمايل: (پاڅه او لمونځ وکړه).

تکرار: 931، 1166

توپير: په يوه کي جَاءَ رَجُلٌ وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، په بل کي قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَهُوَ يَخْطُبُ، په يوه کي أَصَلَّيْتَ يَا فُلاَنُ، په بل کي أَصَلَّيْتَ، په بل کي إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ- أَوْ قَدْ خَرَجَ- فَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ راغلي.

دا روايت د سند له پلوه ډېر غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي او په تبع تابعينو کي درې راويان

لري، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره تعارض لري چي د خطبې په وخت کي د سکوت او له هر راز وينا د ډډي کولو سپارښتنه کوي، د جومات د تحيې لمونځ مستحب دئ او د خطبې اورېدل واجب، څنګه به د مستحب لپاره واجب ترك کېږي؟!! مالك، ليث، أبو حنيفة، الثوري او اکثرو صحابه وو او تابعينو په دې وخت کي له لمانځه ډډه کوله، له عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم همدا روايت تر لاسه شوی. بنايي هغه سړي ته به رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه مهال دا خبره کړې وي چي لا ئې خطبه نه وه پيل کړې. له ځينو رواياتو هم دغه خبره معلومېږي.

(21):) باب: د جمعې په خطبه کي د باران دعاء

512- حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنِى إِسْحَاقُ بْنُ عَبْدِ الله بْنِ أَبِى طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَصَابَتِ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم فَبَيْنَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ فِى يَوْمِ جُمُعَةٍ قَامَ أَعْرَابِىٌّ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ، فَادْعُ الله لَنَا. فَرَفَعَ يَدَيْهِ، وَمَا نَرَى فِى السَّمَاءِ قَزَعَةً، فَوَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ مَا وَضَعَهَا حَتَّى ثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ، ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ صلى الله عليه و سلم فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذَلِكَ، وَمِنَ الْغَدِ، وَبَعْدَ الْغَدِ وَالَّذِى يَلِيهِ، حَتَّى الْجُمُعَةِ الأُخْرَى، وَقَامَ ذَلِكَ الأَعْرَابِىُّ- أَوْ قَالَ غَيْرُهُ- فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، تَهَدَّمَ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ، فَادْعُ الله لَنَا. فَرَفَعَ يَدَيْهِ، فَقَالَ "اللهمَّ حَوَالَيْنَا، وَلاَ عَلَيْنَا". فَمَا يُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ السَّحَابِ إِلاَّ انْفَرَجَتْ، وَصَارَتِ الْمَدِينَةُ مِثْلَ

الْجَوْبَةِ، وَسَالَ الْوَادِى قَنَاةُ شَهْرًا، وَلَمْ يَجِئْ أَحَدٌ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلاَّ حَدَّثَ بِالْجَوْدِ. (بخاري:933)

512- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي پر خلکو وچکالي راغله، په داسي حال کي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د جمعې په ورځ خطبه ويله، يو باندې وال پاڅېد او وئې ويل: يا رسول الله! زموږ مالونه هلاک او اولادونه مو وږي شول، الله ته زموږ لپاره دعاء وکړه، نو لاسونه ئې لوړ کړل، او موږ دغه مهال په آسمان کي هيڅ قسم وريځ نه ليدله، قسم په هغه ذات چي زما د نفس واک د هغه په لاس کي دئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم لا خپل لاسونه کوز کړي نه وو چي د غرونو په څېر وريځي راپورته شوې، او لا له منبر کوز شوی نه وو چي باران مي وليد د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر ږيره راتوئيږي، په همدې ورځ، په سهار ئې او ور پسې بله ورځ، ان تر بلي جمعې پوري باران راباندي وشو، په بله جمعه همغه باندې وال يا بل کوم يو پورته شو او وئې ويل: يا رسول الله! کورونه مو ړنګ او مالونه مو ډوب شول، الله تعالى ته زموږ لپاره دعاء وکړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم لاسونه پورته کړل او وئې فرمايل: (اې خدايه! باران پر موږ نه بلکي زموږ شا و خوا واوروه، ورپسې به چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل لاس سره هري وريځي ته ګوته نيوله هغه به خوره شوه، او مدينه داسي شوه لکه د اوبو حوض، درې او خوړونه يوه مياشت ډک بهېدل او هر څوک به چي د مدينې له بهر نه راتلل نو يوازي د باران خبري به ئې کولې.

تکرار: 932، 1013، 1014، 1015، 1016، 1017،

1018، 1019، 1021، 1029، 1033، 3582، 6093، 6342

توپير: په يوه کي إِذْ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، هَلَكَ الْكُرَاعُ، وَهَلَكَ الشَّاءُ، فَادْعُ الله أَنْ يَسْقِيَنَا، په بل کي أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ بَابٍ كَانَ وُجَاهَ الْمِنْبَرِ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، هَلَكَتِ الْمَوَاشِى وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ، فَادْعُ الله يُغِيثُنَا، په بل کي أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ الْمَسْجِدَ يَوْمَ جُمُعَةٍ مِنْ بَابٍ كَانَ نَحْوَ دَارِ الْقَضَاءِ، په بل کي فَقَامَ النَّاسُ فَصَاحُوا فَقَالُوا يَا رَسُولَ الله، قَحَطَ الْمَطَرُ وَاحْمَرَّتِ الشَّجَرُ وَهَلَكَتِ الْبَهَائِمُ، فَادْعُ الله يَسْقِينَا، په بل کي أَنَّ رَجُلاً شَكَا إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم هَلاَكَ الْمَالِ وَجَهْدَ الْعِيَالِ، فَدَعَا الله يَسْتَسْقِى، وَلَمْ يَذْكُرْ أَنَّهُ حَوَّلَ رِدَاءَهُ وَلاَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، په يوه کي اللهمَّ أَغِثْنَا، اللهمَّ أَغِثْنَا، اللهمَّ أَغِثْنَا، په بل کي اللهمَّ اسْقِنَا مَرَّتَيْنِ، په يوه کي قَالَ فَمَا خَرَجْنَا مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى مُطِرْنَا، په بل کي لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ، په يوه کي فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، هَلَكَتِ الأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ، فَادْعُ الله يُمْسِكْهَا، په بل کي هَلَكَتِ الأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ الله يُمْسِكْهَا عَنَّا، په يوه کي اللهمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا، اللهمَّ عَلَى الآكَامِ وَالْجِبَالِ وَالآجَامِ وَالظِّرَابِ وَالأَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ، په بل کي يوازي اللهمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا راغلي.

لکه چي ګورئ په دې رواياتو کي کافي توپيرونه او تعارضات تر سترګو کيږي. شديد تعارض ئې په دې کي دئ چي ځيني ئې وايي چي لا رسول الله صلى الله عليه و سلم پر منبر ناست وو چي باران پيل شو، ځيني ئې دا خبره نه کوي او وايي چي لا له جومات وتلي نه وو چي باران پيل شو،

ځيني ئې وايي چي يوه کس شکايت وکړ او ځيني ئې وايي چي ډېرو خلکو دا شکايت وکړ. دغو تعارضاتو ته په پام سره يوازي دومره ويلی شو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چي د باران وريدو دعاء وکړي، دعاء ئې کړې او لا خلك له جومات وتلي نه وو چي باران پيل شوی، تر بلي جمعې وريدلی، بله جمعه له ډېر باران شکايت شوی او رسول الله صلی الله عليه و سلم بيا دعاء کړې چي باران د مدينې شاوخوا ووريږي، الله تعالی ئې دعاء قبوله کړې او همداسي شوي.

(٢٢) باب: د جمعې د خطبې په وخت چوپتيا

513- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنْصِتْ، وَالإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ". (بخاري:934)

513- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (که د جمعې په ورځ او هغه مهال چي امام خطبه وايي تا خپل ملګري ته وويل: چوپ شه، نو لغو او بېهوده کار دي کړی.

له دې روايت معلوميږي چي د خطبې په وخت کي چوپتيا او له هرراز خبرو ډډه کول ضروري دي، که بل چا خبري کولې نو هغه ته به هم نه وايو چي چوپ شه، ځکه دا هم شور او ځوږ زياتوي او له خطبې بل لوري ته د پام اړولو باعث کيږي، دې ته هم د لغو نوم ورکړی شوی، قرآن د مؤمنانو په اړه فرمايي چي دوی له لغو ډډه کوي، دا تأکيد

په دې دلالت کوي چې د خطبې په وخت کې باید له هر هغه کار نه ډډه وشي چې بل لوري ته د انسان پام اړوي.

(۲۳) باب: هغه خاص ساعت چې د جمعې په ورځ کې دئ

514- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم ذَكَرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ "فِيهِ سَاعَةٌ لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ، وَهْوَ قَائِمٌ يُصَلِّى، يَسْأَلُ الله تَعَالَى شَيْئًا إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ". وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا. (بخاري:935)

514- او له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د جمعې د ورځې يادونه وکړه او وئې فرمايل: (د جمعې په ورځ کې داسې يو ساعت يا شېبه شته چې که مسلمان بنده په داسې حال کې ورسره برابر شي چې په لمانځه ولاړ وي، نو هر څه چې له الله تعالى وغواړي، ورته وربه ئې کړي). او په خپل لاس سره ئې (د دې شېبې) لنډوالي ته اشاره وکړه.

تکرار: 5294، 6400

توپير: په يوه کې فِيهِ سَاعَةٌ، په بل کې فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةٌ، په يوه کې فَسَأَلَ الله خَيْرًا او په بل کې يَسْأَلُ الله تَعَالَى شَيْئًا راغلي.

په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ: د جمعې د ورځې تر ټولو غوره ساعت د جمعې د لمانځه وخت دئ، د دعاء د قبلېدو تر ټولو غوره حالت د لمانځه حالت دئ، په نورو رواياتو کې دې ته اشاره شوې او وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وشوه چې دا کوم ساعت دئ؟ وئې

فرمايل: "هي حين تقام الصلاة إلى انصراف منها": د لمانځه له پيل تر هغه چي ترې فارغيږي. الله تعالى د مؤمن بنده هره دعاء، په هر وخت او حالت کي قبلوي، يا همغه څه وركوي چي ترې غواړي ئې، يا ئې غوره عوض وركوي، يا كوم مصيبت ترې دفع كوي او يا ئې د آخرت لپاره ورته ذخيره كوي. هغه روايات كمزوري او د منلو وړ نه دي چي د جمعې د ورځي د كوم بل مجهول ساعت يادونه كوي.

(٢٤) باب: كه د جمعې په ورځ خلک له امام لاړ شي

515- حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِذْ أَقْبَلَتْ عِيرٌ تَحْمِلُ طَعَامًا، فَالْتَفَتُوا إِلَيْهَا حَتَّى مَا بَقِيَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِلاَّ اثْنَا عَشَرَ رَجُلاً، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا). (بخاري:936)

515- له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په داسي حال كي چي موږ له نبي صلى الله عليه و سلم سره لمونځ كاوو چي يو كاروان راغى، خوراكي توكي ئې راوړي وو، خلک ټول ورته متوجه شول او له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يوازي دولس كسان پاته شول، نو دا آيت نازل شو: (وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا: او كله چي كوم تجارت يا لهو ئې تر سترگو شي ورمخه كړي او تا ولاړ پرېږدي).

تكرار: 2058، 2064، 4899

توپير: په يوه کي إِذْ أَقْبَلَتْ عِيرٌ تَحْمِلُ طَعَامًا، په بل کي إِذْ أَقْبَلَتْ مِنَ الشَّأْمِ عِيرٌ، تَحْمِلُ طَعَامًا، په بل کي أَقْبَلَتْ عِيرٌ، وَنَحْنُ نُصَلِّي، په يوه کي فَانْفَضَّ النَّاسُ إِلاَّ اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلاً او په بل کي فَثَارَ النَّاسُ إِلاَّ اثْنَا عَشَرَ رَجُلاً راغلي.

دا روايت په صحابه وو کي يو او په تابعينو کي دوه راويان لري، له روايت دا نه معلوميږي چي دوی په لمانځه ودرېدلي وو يا ودرېدل يا رسول الله صلى الله عليه و سلم لا خطبه ويله او لمونځ نه وو پيل شوی، که څه هم الفاظ داسي دي چي وايي موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لمونځ کاوو، خو دا الفاظ صراحت نه لري، غالب احتمال دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خطبې لپاره ودرېدلی، په همدې وخت کي قافله راغلې، د قافلې له راتګ سره د دريا يا کوم بل څه بڼ هم اورېدل شوی چي د قافلې رارسېدل ترې معلوميدل، خلك له جوماته وتلي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې ولاړ پرېښی او يوازي دولس کسان په جومات کي پاته شوي. په اړوند آيت کي د تجارت او لهو يادونه شوې خو په روايت کي يوازي د قافلې يادونه شوې، له دې معلوميږي چي روايت ناقص دئ او حالت ئې سم نه دئ انځور کړی.

(٢٥) باب: د جمعې له لمانځه مخکي او وروسته لمونځ

516- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ، وَبَعْدَ

الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ لاَ يُصَلِّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّى رَكْعَتَيْنِ. (بخاري:937)

516- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ماسپښين له لمانځه مخکي دوه رکعته او وروسته دوه رکعته او له ماښام لمانځه وروسته دوه رکعته لمونځ پخپل کور کي کاوو، او د ماخستن له لمانځه وروسته ئې دوه رکعته لمونځ کاوو، او د جمعې له لمانځه وروسته به ئې تر هغه پوري لمونځ نه کاوو چي کور ته به ستون شوی نه وو، نو بيا به ئې (په کور کي) دوه رکعته لمونځ وکړ.

تکرار: 1165، 1172، 1180

توپير: په يوه کي كَانَ يُصَلِّى قَبْلَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ فِى بَيْتِهِ، وَبَعْدَ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ لاَ يُصَلِّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّى رَكْعَتَيْنِ، په بل کي صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، په بل کي حَفِظْتُ مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم عَشْرَ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِى بَيْتِهِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِى بَيْتِهِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الصُّبْحِ، وَكَانَتْ سَاعَةً لاَ يُدْخَلُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِيهَا او په بل کي صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَسَجْدَتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ، وَسَجْدَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَسَجْدَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَسَجْدَتَيْنِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ، فَأَمَّا الْمَغْرِبُ وَالْعِشَاءُ فَفِى بَيْتِهِ. قَالَ ابْنُ أَبِى الزِّنَادِ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ بَعْدَ

الْعِشَاءِ فِى أَهْلِهِ راغلي، لکه چي ګورئ په دې رواياتو کي ځيني توپيرونه تر سترګو کيږي، په دريو کي د سحر تر فرض مخکي دوه رکعته لمونځ ته اشاره نه ده شوې، حال دا چي نور روايات په دې اړه ډېر تأکيد کوي، نور روايات د جمعې له فرض مخکي هم د نفل يادونه کوي، له ابو هريره او ابن مسعود رضي الله عنهما راغلي روايات وايي چي د جمعې له لمانځه وروسته څلور رکعته دي او د علي رضي الله عنه روايت وايي چي شپږ رکعته دي، روايات دا دي:

عَن أبي هُرَيْرَة قَالَ: قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: (من كَانَ مِنْكُم مُصَليا بعد الْجُمُعَة فَليصل أَرْبعا)؛ عَن أبي عبد الرَّحْمَن السّلمِيّ، قَالَ: (علمنَا ابْن مَسْعُود، رَضِي الله تَعَالَى عَنهُ، أَن نصلي بعد الْجُمُعَة أَرْبعا، فَلَمَّا قدم علينا عَليّ بن أبي طَالب، رَضِي الله تَعَالَى عَنهُ، علمنَا أَن نصلي سِتا. وَعَن أبي هُرَيْرَة مثله، رَوَاهُ الشَّافِعِي عَن إِبْرَاهِيم شَيْخه. وَفِي (الْأَوْسَط) للطبراني من حَدِيث ابْن عُبَيْدَة عَن أَبِيه (أَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: كَانَ يُصَلِّي قبل الْجُمُعَة أَرْبعا وَبعدهَا أَرْبعا) عمدة القارئ

محققين د جمعې لمونځ د ماسپښين ځای ناستی ګڼي نو ځکه وايي چي نوافل ئې په خپل حال پاته دي، احناف دغو رواياتو ته په پام سره وايي چي د جمعې له فرض مخکي څلور رکعته او له فرض وروسته څلور او بيا دوه رکعته سنت دي. دا هم وايي چي په کور کي د نوافلو کول اولٰی دي.

د وېري د لمانځه کتاب

(1)- باب: د وېري لمونځ

517- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ سَأَلْتُهُ هَلْ صَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَعْنِى صَلاَةَ الْخَوْفِ قَالَ أَخْبَرَنِى سَالِمٌ أَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم قِبَلَ نَجْدٍ، فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ فَصَافَفْنَا لَهُمْ فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى لَنَا فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ تُصَلِّى، وَأَقْبَلَتْ طَائِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ وَرَكَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِمَنْ مَعَهُ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفُوا مَكَانَ الطَّائِفَةِ الَّتِى لَمْ تُصَلِّ، فَجَاءُوا، فَرَكَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِهِمْ رَكْعَةً، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ رَكْعَةً وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ. (بخاري:942)

517- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مي د نجد لوري ته يوې غزا کي ګډون درلود، له دښمن سره مخامخ شوو، ورته ليکي ليکي شوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم پورته شو، لمونځ ئې راکاوو، له موږ يوه ډله په لمانځه ورسره ودرېدله او يوه ډله د دښمن مقابلې ته ودرېدله، رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغو کسانو سره چي په لمانځه ورسره ولاړ وو رکوع او دوې سجدې وکړې، بيا دا کسان د هغو کسانو ځای ته ورغلل چي لمونځ ئې نه وو کړی او هغوی راغلل او رسول الله صلى الله عليه و سلم له دوی سره رکوع او دوې سجدې وکړې، بيا ئې

سلام وګرځاوو، بیا د دواړو ډلو هر یوه له ځان سره یو یو رکعت له یوې رکوع او دوو سجدو سره اداء کړ.

تکرار: 944، 4132، 4133، 4535

توپیر: په یوه کي فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ تُصَلِّی، وَأَقْبَلَتْ طَائِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ وَرَكَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِمَنْ مَعَهُ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفُو، په بل کي وَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، فَكَبَّرَ وَكَبَّرُوا مَعَهُ، وَرَكَعَ وَرَكَعَ نَاسٌ مِنْهُمْ، ثُمَّ سَجَدَ وَسَجَدُوا مَعَهُ، په یوه کي فَجَاءُوا، فَرَكَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِهِمْ رَكْعَةً، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ رَكْعَةً وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، په بل کي ثُمَّ قَامَ لِلثَّانِيَةِ فَقَامَ الَّذِينَ سَجَدُوا وَحَرَسُوا إِخْوَانَهُمْ، وَأَتَتِ الطَّائِفَةُ الأُخْرَى فَرَكَعُوا وَسَجَدُوا مَعَهُ، وَالنَّاسُ كُلُّهُمْ فِى صَلاَةٍ، وَلَكِنْ يَحْرُسُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا او په بل کي صَلَّى بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ، وَالطَّائِفَةُ الأُخْرَى مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ، ثُمَّ انْصَرَفُوا، فَقَامُوا فِى مَقَامِ أَصْحَابِهِمْ، فَجَاءَ أُولَئِكَ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ، ثُمَّ قَامَ هَؤُلاَءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ، وَقَامَ هَؤُلاَءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ راغلي.

د ټولو ګډ مطلب دا دئ چي که د خوف حالت وي، مسلمانان له دښمن سره مخامخ وي خو نښته نه وي پیل شوې او د لمانځه وخت راشي، په دوو ډلو به ووېشل شي، یوه به د دښمن مخي ته د حراست لپاره ودرېږي، بله به له امام سره په لمانځه کي برخه واخلي، کله چي یو رکعت بشپړ شي، د پاته ډلي ځای ته به ولاړ شي، هغوی به راشي، وروستی رکعت به له امام سره وکړي، بل رکعت به له ځان سره وکړي، بیا به د بلي ډلي ځای ته ورشي، د

حراست دنده به پر غاړه واخلي او مخکنۍ ډله به له دې وروسته خپل پاته رکعت وکړي. دا د النساء د سورې د 102 آیت شرح او تفسیر دئ.

(۲) باب: د پلي او سپور لپاره د وېرې لمونځ

518- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقُرَشِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ نَحْوًا مِنْ قَوْلِ مُجَاهِدٍ إِذَا اخْتَلَطُوا قِيَامًا. وَزَادَ ابْنُ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم "وَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَلْيُصَلُّوا قِيَامًا وَرُكْبَانًا". (بخاري:943)

518- او له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په بل روایت کي راغلي چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (که حالات يعني له دښمن سره مقابله او وېره تر دې سخته وه، نو په ولاړه او سپور دي لمونځ وکړي).

تکرار: 942، 4132، 4133، 4535

توپير: په مخکني روايت کي څېړل شوی، دلته دا مطلب پرې اضافه شوی چي که حالت تر دې سخت وو، په جمعه او په کوم ځای کي په ودرېدو سره لمونځ ممکن نه وو نو کولی شي په روانه، ولاړه او د سپرلۍ د پاسه لمونځ وکړي، پرته له دې چي وګوري قبلې ته مخامخ دئ که نه. په دې اړه له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دا روايت راغلی: فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ أَشَدَّ مِنْ ذَلِكَ صَلَّوْا رِجَالاً، قِيَامًا عَلَى أَقْدَامِهِمْ، أَوْ رُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيهَا. قَالَ مَالِكٌ قَالَ نَافِعٌ لاَ أُرَى عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذَلِكَ إِلاَّ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم.

(٣) باب: د هجوم او يا دفاع په حالت کي لمونځ

519- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْمَاءَ قَالَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لَنَا لَمَّا رَجَعَ مِنَ الأَحْزَابِ "لاَ يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلاَّ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ". فَأَدْرَكَ بَعْضُهُمُ الْعَصْرَ فِي الطَّرِيقِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ نُصَلِّى حَتَّى نَأْتِيَهَا، وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ نُصَلِّى لَمْ يُرَدْ مِنَّا ذَلِكَ. فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلَمْ يُعَنِّفْ وَاحِدًا مِنْهُمْ. (بخاري:946)

519- او له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي د احزاب له غزا راستون شو، راته وئې فرمايل: (هيڅوک دي د مازديگر لمونځ له بني قريظه نه پرته بل ځای کي نه کوي). پر ځينو د لاري په اوږدو کي د مازديگر وخت راغی، ځينو ئې وويل: تر هغه چي بني قريظه ته نه وو رسېدلي لمونځ نه کوو، او ځينو نورو وويل: لمونځ همدلته کوو ځکه له موږ دا نه دي غوښتل شوي (چي لمونځ قضاء کړو)، دا خبره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ياده شوه او هغه هيڅ يوه ته عتاب ونکړ.

تکرار: 4119

توپير: دواړه سره ورته دي، مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم پر هغو خلکو اعتراض ونه کړ چي د مازديگر لمونځ ئې د جنگ لپاره وځنډولو.

د اخترونو کتاب

(1)- باب: د اختر په ورځ له نېزو او ډال سره لوبي

520- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَمْرٌو أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَسَدِىَّ حَدَّثَهُ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَىَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَعِنْدِى جَارِيَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِغِنَاءِ بُعَاثَ، فَاضْطَجَعَ عَلَى الْفِرَاشِ وَحَوَّلَ وَجْهَهُ، وَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَانْتَهَرَنِى وَقَالَ مِزْمَارَةُ الشَّيْطَانِ عِنْدَ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ الله- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- فَقَالَ "دَعْهُمَا"فَلَمَّا غَفَلَ غَمَزْتُهُمَا فَخَرَجَتَا. بخاري:949)

520- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي زما خوني ته راغی چې له ما سره دوې نجوني وې او د بعاث جګړي سندري ئې ويلې، رسول الله صلى الله عليه و سلم پر فرش ډډه ووهله او خپل مخ ئې بلي خوا ته وګرځاوو، او ابوبکر رضي الله عنه راغی او زه ئې ورټلم او وئې ويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي دا د شيطان شپېلۍ يا دروی؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ ورواړاوو او وئې فرمايل: (پرې ئې ږده)، کله چې ئې پام بل لوري ته شو ما هغو نجونو ته اشاره وکړه او ووتلې.

تکرار: 952، 987

توپير: په يوه کي دَخَلَ عَلَىَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَعِنْدِى جَارِيَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِغِنَاءِ بُعَاثَ، په بل کي دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَعِنْدِى جَارِيَتَانِ مِنْ جَوَارِى الأَنْصَارِ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاوَلَتِ الأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثَ، په بل کي أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِى أَيَّامِ مِنًى تُدَفِّفَانِ وَتَضْرِبَانِ، وَالنَّبِىُّ

صلى الله عليه و سلم مُتَغَشٍّ بِثَوْبِهِ، په يوه کي فَانْتَهَرَنِى وَقَالَ مِزْمَارَةُ الشَّيْطَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه وسلم، په بل کي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَمَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ فِى بَيْتِ رَسُولِ الله- صلى الله عليه وسلم، په يوه کي فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ الله- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- فَقَالَ (دَعْهُمَا)، په بل کي فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا، وَهَذَا عِيدُنَا او په بل کي دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّهَا أَيَّامُ عِيدٍ راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ: دا دواړه وړې نجلۍ وې، سندرغاړې نه وې، د يوه مشهور جنګ ترانه ئې ويله، سره له دې ابوبکر رضي الله عنه عکس العمل ښودلی او عائشه رضي الله عنها ئې ترټلې، له دې معلومېږي چي صحابه وو له داسي کار نه کرکه درلوده، د دوی په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم معامله بايد داسي تلقي شي لکه چي يوه باندې وال په جومات کي متيازي وکړې، صحابه وو غوښتل هغه ورتې، خو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويل: پرې ئې ږدئ، وروسته ئې امر وکړ چي هغه ځای پاك کړي. او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له وينا معلومېږي چي د عيد په ورځ، د وړو نجونو له لوري داسي کار څه مانع نه لري.

(٢) باب: د وړوکي اختر په ورځ له لمانځه مخکي څه خوړل

521- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ أَبِى بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لاَ يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَأْكُلَ

تَمَرَاتٍ. وَقَالَ مُرَجَّى بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ الله قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا. (بخاري: 953)

521- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د وړوکي اختر په ورځ تر هغه لمانځه ته نه روانېدو چي څو داني کجوري به ئې نه وې خوړلې، او په بل روايت کي ترې راغلي چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به طاق کجوري خوړلې.

دوهم روايت د سند له مخي ډېر غريب دئ په صحابه وو او تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري.

(٣) باب: د قربانۍ په ورځ څه خوړل

522- حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي زُبَيْدٌ قَالَ سَمِعْتُ الشَّعْبِيَّ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ فَقَالَ "إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ مِنْ يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ، ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ، فَمَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا". (بخاري:951)

522- له براء رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي هغه مهال چي خطبه ئې ويله اورېدلي چي فرمايل ئې: (لومړنی کار چي نن ورځ (د قربانی په ورځ) به پيل پرې کوو دا دئ چي لمونځ به کوو، بيا به ستنېږو او قرباني به کوو، چا چي داسي وکړل نو زموږ په سنتو ئې عمل وکړ).

تکرار: 955، 965، 968، 976، 983، 5545، 5556، 5557، 5560، 5563، 6673

توپير: په يوه کي إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ مِنْ يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ، ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ، په بل کي مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا وَنَسَكَ نُسُكَنَا فَقَدْ

أَصَابَ النُّسُكَ، وَمَنْ نَسَكَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَإِنَّهُ قَبْلَ الصَّلاَةِ، وَلاَ نُسُكَ لَهُ، په بل کي وَمَنْ نَحَرَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ قَدَّمَهُ لأَهْلِهِ، لَيْسَ مِنَ النُّسْكِ فِى شَىْءٍ، په بل کي وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّىَ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ عَجَّلَهُ لأَهْلِهِ، په بل کي وَمَنْ نَحَرَ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ يُقَدِّمُهُ لأَهْلِهِ راغلي، دا مطلب هم په ځينو کي په بېلو صيغو راغلی چي يوه کس وويل: عِنْدَنَا عَنَاقًا لَنَا جَذَعَةً هِىَ أَحَبُّ إِلَىَّ مِنْ شَاتَيْنِ، أَفَتَجْزِى عَنِّى: له موږ سره يوه سپرلۍ ده چي لا يوه کلنه شوې نه ده آيا کېدی شي زما له لوري قرباني وګڼل شي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم په ځواب کي ورته وويل: نَعَمْ، وَلَنْ تَجْزِىَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ: هو؛ خو له تا وروسته به د هيچا له لوري قبول نشي.

دې ته مو پام وي چي ځيني خلك نادري او استثنائي خبري ډېري خوښوي او له عامو خبرو هم استثنائي او خلاف عادت خبره او خارق العاده کار جوړوي، دې کس ته دا ځواب ځانګړی ځواب نه دئ، دا ځکه چي دی له دې خبر نه وو چي قرباني به له لمانځه وروسته کېږي، خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم له اعلانه وروسته له بل چا داسي قرباني په دې دليل نه قبلېږي چي ټولو ته د منبر پر سر او په واضح الفاظو لارښوونه وشوه.

523- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنِ الشَّعْبِىِّ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنهما قَالَ خَطَبَنَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم يَوْمَ الأَضْحَى بَعْدَ الصَّلاَةِ فَقَالَ "مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا وَنَسَكَ نُسُكَنَا فَقَدْ أَصَابَ النُّسُكَ، وَمَنْ نَسَكَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَإِنَّهُ قَبْلَ الصَّلاَةِ، وَلاَ نُسُكَ لَهُ". فَقَالَ أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ خَالُ الْبَرَاءِ يَا رَسُولَ اللهِ، فَإِنِّى

نَسَكْتُ شَاتِي قَبْلَ الصَّلاَةِ، وَعَرَفْتُ أَنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ، وَأَحْبَبْتُ أَنْ تَكُونَ شَاتِي أَوَّلَ مَا يُذْبَحُ فِي بَيْتِي، فَذَبَحْتُ شَاتِي وَتَغَدَّيْتُ قَبْلَ أَنْ آتِيَ الصَّلاَةَ. قَالَ "شَاتُكَ شَاةُ لَحْمٍ". قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ، فَإِنَّ عِنْدَنَا عَنَاقًا لَنَا جَذَعَةً هِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ شَاتَيْنِ، أَفَتَجْزِي عَنِّي قَالَ "نَعَمْ، وَلَنْ تَجْزِيَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ". (بخاري:955)

523- او له براء رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د لوی اختر په ورځ له لمانځه وروسته خطبه راته وويله او وئې فرمايل: (څوک چي زموږ په شان لمونځ وکړي او زموږ په شان قرباني وکړي، نو سمه قرباني ئې کړې ده، او څوک چي له لمانځه مخکي قرباني وکړي، نو دا قرباني ئې له لمانځه مخکي ده او قرباني نه ورته شمېرل کېږي). د براء رضي الله عنه ماما ابو برده بن نيار رضي الله عنه وويل: يا رسول الله! ما خو خپل پسه له لمانځه مخکي حلال کړی او فکر مي کاوو چي نن ورځ د خوراک او څښاک ورځ ده او غوره مي وبلله چي زما پسه لومړی پسه وي چي زما په کور کي قرباني کېږي نو خپل پسه مي حلال کړ او مخکي له دې چي لمانځه ته راشم خواړه مي وخوړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ستا پسه د غوښي پسه دئ). هغه وويل: يا رسول الله! يوه سېرلۍ لرم چي لا يوه کلنه شوې نه ده آيا کېدی شي زما له لوري قرباني وګڼل شي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هو، خو له تا وروسته به د هيچا له لوري قبوله نشي).

تکرار: 955، 965، 968، 976، 983، 5545، 5556، 5557، 5560، 5563، 6673

توپیر: په مخکني روایت کي څېړل شوی.

(٤) باب: د لمانځه هغه ځای ته تګ چي منبر ئې نه درلود

524- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي زَيْدٌ عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالأَضْحَى إِلَى الْمُصَلَّى، فَأَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلاَةُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَيَقُومُ مُقَابِلَ النَّاسِ، وَالنَّاسُ جُلُوسٌ عَلَى صُفُوفِهِمْ، فَيَعِظُهُمْ وَيُوصِيهِمْ وَيَأْمُرُهُمْ، فَإِنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ، أَوْ يَأْمُرَ بِشَيْءٍ أَمَرَ بِهِ، ثُمَّ يَنْصَرِفُ. قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَلَمْ يَزَلِ النَّاسُ عَلَى ذَلِكَ حَتَّى خَرَجْتُ مَعَ مَرْوَانَ وَهْوَ أَمِيرُ الْمَدِينَةِ فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ، فَلَمَّا أَتَيْنَا الْمُصَلَّى إِذَا مِنْبَرٌ بَنَاهُ كَثِيرُ بْنُ الصَّلْتِ، فَإِذَا مَرْوَانُ يُرِيدُ أَنْ يَرْتَقِيَهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ، فَجَبَذْتُ بِثَوْبِهِ فَجَبَذَنِي فَارْتَفَعَ، فَخَطَبَ قَبْلَ الصَّلاَةِ، فَقُلْتُ لَهُ غَيَّرْتُمْ وَاللهِ. فَقَالَ أَبَا سَعِيدٍ، قَدْ ذَهَبَ مَا تَعْلَمُ. فَقُلْتُ مَا أَعْلَمُ وَاللهِ خَيْرٌ مِمَّا لاَ أَعْلَمُ. فَقَالَ إِنَّ النَّاسَ لَمْ يَكُونُوا يَجْلِسُونَ لَنَا بَعْدَ الصَّلاَةِ فَجَعَلْتُهَا قَبْلَ الصَّلاَةِ. (بخاري:956)

524- له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به د وړوکي او لوي اختر په ورځ مصلی (د عید لمانځه ځای) ته وتلو، لومړنی کار به ئې د لمانځه اداء کول وو، بیا به ئې مخ راوګرځاوو، د خلکو په وړاندي به ودرېدو، خلک به همداسي په خپلو صفونو کي ناست وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم به ورته وعظ، نصیحت او امر کاوو، که به ئې غوښتل چي کوم

ټولګی د جهاد لپاره رابېل کړي نو هغه به ئې بېلاوو، که به ئې غوښتل چي د کوم کار امر وکړي نو هغه امر به ئې وکړ، بیا به ستنېدو، ابو سعید وایي: خلکو تر هغه په همدې توګه د اختر لمونځ کاوو چي زه له مروان سره چي د مدینې امیر وو، د لوی اختر یا وړوکي اختر په ورځ لمانځه ته لاړم، کله چي د لمانځه ځای ته ورسېدو ومي لیدل چي هلته یو منبر دئ؛ چي کثیر بن صلت جوړ کړی، مروان وغوښتل چي له لمانځه مخکي منبر ته پورته شي (خطبه ووایي) ما له جامو راکش کړ، هغه زه پوري وهلم او منبر ته پورته شو، او له لمانځه مخکي ئې خطبه وویله، ما ورته وویل: په خدای قسم چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت مو بدل کړی، هغه وویل: اې ابو سعیده! هغه څه ولاړل چي ته پرې پوهېدلې، ما وویل: په خدای قسم په څه چي زه پوهېږم هغه تر دې غوره دي چي نه پرې پوهېږم، مروان وویل: خلک له لمانځه وروسته نه راته کښېني؛ نو ځکه مي خطبه له لمانځه مخکي کړه.

(٥) باب: د عید د لمانځه لپاره اذان او اقامت نشته

525- وَأَخْبَرَنِی عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله قَالاَ لَمْ یَکُنْ یُؤَذَّنُ یَوْمَ الْفِطْرِ وَلاَ یَوْمَ الأَضْحَی. (بخاري:960)

525- له ابن عباس رضي الله عنهما او جابر رضي الله عنه روایت دئ چي دواړه وایي: د کمکي او لوی اختر د لمانځه لپاره به اذان نه کېدو.

(٦) باب: خطبه د عید له لمانځه وروسته ده

526- حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَیْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِی الْحَسَنُ

بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ- رضي الله عنهم- فَكُلُّهُمْ كَانُوا يُصَلُّونَ قَبْلَ الْخُطْبَةِ. (بخاري:962)

526- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د اختر لمونځ مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم، ابوبكر رضي الله عنه، عمر او عثمان رضي الله عنهما سره اداء کړی دئ، دوی ټولو به لمونځ له خطبې مخکي اداء کاوو.

تکرار: 98، 863، 964، 975، 977، 979، 989، 1431، 1449، 4895، 5249، 5880، 5881، 5883، 7325

توپير: دا روايت د بخاري په 98، 863 رواياتو کي څېړل شوی.

(٧) باب: د تشريق په ورځو کي د نېکو کارونو فضيلت

527- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ قَالَ "مَا الْعَمَلُ فِي أَيَّامِ الْعَشْرِ أَفْضَلَ مِنَ الْعَمَلِ فِي هَذِهِ". قَالُوا وَلاَ الْجِهَادُ قَالَ "وَلاَ الْجِهَادُ، إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ يُخَاطِرُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ". (بخاري:969)

527- او ابن عباس رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه و سلم روايت کوي چي وئې فرمايل: (په هيڅ لسو ورځو کي هيڅ نېک عمل تر هغه غوره نه دئ چي په دغو ورځو کي ترسره کېږي)، صحابه وو وويل: آيا جهاد هم؟

وئې فرمايل: (حتى جهاد هم، مگر هغه څوك چي خپل ځان او مال ئې په خطر كي اچولي (جهاد ته وتلى وي) او بيا هيڅ شئ بېرته را نه وړي.

يعني مال ئې مصرف شي او پخپله په شهادت ورسيږي).

دا روايت د سند له مخي مطلق غريب دئ او په دريو طبقو كي يو يو راوي لري، له بخاري علاوه يوازي ترمذي راوړى، خو په دې صيغه:

حدثنا هناد حدثنا أبو معاوية عن الأعمش عن مسلم (هو البطين وهو ابن أبي عمران) عن سعيد بن جبير عن ابن عباس: قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ما من أيام العمل الصالح فيهن أحب إلى الله من هذه الأيام العشر فقالوا يا رسول الله ولا الجهاد في سبيل الله؟ فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ولا الجهاد في سبيل الله إلا رجل خرج بنفسه وماله فلم يرجع من ذلك بشيء.

د متن له پلوه د ترمذي روايت د بخاري تر روايت ارجح او اوضح دئ، خو دا چي له دغو لسو ورځو كومي ورځي مراد دي او د دې معنى څه ده چي د هيڅ نورو ورځو هيڅ نېك عمل ورسره برابري نشي كولى؛ بايد ووايو: كه څه هم دا روايت په واضح توگه نه وايي چي له (هذه) نه مراد كومي ورځي دي، خو د نورو رواياتو په رڼا كي معلوميږي چي له لسو ورځو مراد د ذي الحجې لس ورځي دي، په همدې كي د حج اساسي مناسك ترسره كيږي، د حج سترو سترو مناسكو دغو ورځو ته دا فضيلت وركړى، لكه څنگه چي د لمانځه په وخت كي تر ټولو غوره كار لمونځ دئ، د

روژې په میاشت کي تر ټولو افضل کار روژه ده، د حج په موسم کي تر ټولو افضل کار حج دئ، د جهاد په وخت کي تر ټولو افضل کار جهاد دئ، د دې معنی هیڅکله دا نه ده چي په دغو لسو ورځو کي هر نېك عمل د نورو ورځو تر هر نېك عمل غوره او افضل دئ، دا ځکه چي په دغو لسو ورځو کي نوافل د نورو ورځو له فرائضو سره نشي برابرېدی، او حج په مجموع کي له لمونځ، جهاد او زکات افضل نه دئ.

دا هم باید واضح شي چي په قرآن کي د ذي الحجې ځینو ورځو ته د ایام معلومات او ایام معدودات نوم ورکړی شوی، آیا له دې مراد ایام تشریق دي که د ذي الحجې لومړۍ لسیزه؟! آیتونه دا دي:

لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ وَيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۖ فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡبَآئِسَ ٱلۡفَقِيرَ ٢٨ الحج: 28

وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوۡمَيۡنِ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۖ لِمَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٢٠٣ البقره: 203

د دواړو آیتونو له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي مراد ئې یوم النحر (د ذي الحجې لسمه)، او وروسته درې ورځي دي، ځکه همدا د قربانۍ او په منٰی کي د پاته کېدو ورځي دي. هغه رأیه کمزورې ده چي وایي له دې مراد د ذي الحجې لس ورځي دي.

(۸) باب: د منٰی او عرفات په ورځ تکبیر ویل

528- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الثَّقَفِيُّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا وَنَحْنُ غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَاتٍ عَنِ التَّلْبِيَةِ كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ كَانَ يُلَبِّي الْمُلَبِّي لاَ يُنْكَرُ عَلَيْهِ، وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ فَلاَ يُنْكَرُ عَلَيْهِ. (بخاري:970)

528- له انس رضي الله عنه روایت دئ چي د تلبیې په اړه ترې پوښتنه وشوه چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وخت کي به مو څه ډول ویله؟ ده وویل: ځینو به تلبیه ویله، اعتراض به نه پرې کېدو او چا به تکبیر وایو پر هغه به هم اعتراض نه کېدو.

تکرار: 1659

توپیر: په بل کي د پورتنیو الفاظو پر ځای دا راغلي: كَانَ يُهِلُّ مِنَّا الْمُهِلُّ فَلاَ يُنْكِرُ عَلَيْهِ، وَيُكَبِّرُ مِنَّا الْمُكَبِّرُ فَلاَ يُنْكِرُ عَلَيْهِ. مطلب ئې دا دئ چي چا به تکبیرونه ویل: الله اکبر الله اکبر، لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد او چا به تلبیه ویله: لبیك اللهم لبیك، لبیك لاشریك لك لبیك، إن الحمد والنعمة لك والملك لاشریك لك، خو چا به پرې اعتراض نه کولو.

(۹) باب: په مصلی (د عید د لمانځه ځای) کي د قربانۍ حلالول

529- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي كَثِيرُ بْنُ فَرْقَدٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَنْحَرُ أَوْ يَذْبَحُ بِالْمُصَلَّى. (بخاري:982)

529- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د قربانۍ اوښ يا پسه په مصلى (د عيد د لمانځه ځاى) کي حلالولو.

تکرار: 1710، 1711، 5551، 5552

توپير: په يوه کي كَانَ يَنْحَرُ أَوْ يَذْبَحُ بِالْمُصَلَّى، په بل کي كَانَ عَبْدُ الله يَنْحَرُ فِى الْمَنْحَرِ. قَالَ عُبَيْدُ الله يَعْنِى مَنْحَرَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه و سلم او په بل کي كَانَ يَبْعَثُ بِهَدْيِهِ مِنْ جَمْعٍ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ، حَتَّى يُدْخَلَ بِهِ مَنْحَرُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم مَعَ حُجَّاجٍ فِيهِمُ الْحُرُّ وَالْمَمْلُوكُ راغلي.

(١٠) باب: د عيد لمانځه ځاى ته د تګ راتګ لاره بدلول

530- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ يَحْيَى بْنُ وَاضِحٍ عَنْ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ. تَابَعَهُ يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ فُلَيْحٍ. وَحَدِيثُ جَابِرٍ أَصَحُّ. (بخاري:986)

530- له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د عيد په ورځ لاره بدلوله.

يعني په يوې لاري به لمانځه ته تلو او په بلي به ستنيدو.

531- قَالَتْ عَائِشَةُ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَسْتُرُنِي وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَى الْحَبَشَةِ، وَهُمْ يَلْعَبُونَ فِي الْمَسْجِدِ، فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "دَعْهُمْ، أَمْنًا بَنِي أَرْفِدَةَ". (بخاري:988)

531- عائشې رضي الله عنها وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي وليد چي زه ئې پټولم او ما حبشيانو ته په داسي حال كي كتل چي په جومات كي ئې لوبي كولې، عمر رضي الله عنه هغوی ورټل، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د بني ارفده خلک (حبشيان) په امن پرېږده).

تكرار: 454، 455، 950، 2906، 3529، 5190، 5236

توپير: د ٢٨٦ روايت په شرحي كي ئې وگورئ.

١٤ـ د وتر كتاب

(١) باب: د وتر په اړه

532- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ وَعَبْدِ الله بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم عَنْ صَلاَةِ اللَّيْلِ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "صَلاَةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً، تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى". (بخاري: 990)

532- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې د لمانځه په اړه پوښتنه وكړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د شپې لمونځ دوه، دوه ركعته دئ، كه ستاسو كوم يو د سحر له داخلېدو ووېرېد، نو يو ركعت دي وكړي او مخكني ركعتونه دي پرې وتر كړي).

تکرار: 472، 473، 993، 995، 1137

توپیر: توپیرونه او شرح ئې په ۲۹۷ روایت کي وګورئ.

533- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، كَانَتْ تِلْكَ صَلاَتَهُ- تَعْنِى بِاللَّيْلِ- فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ مِنْ ذَلِكَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً قَبْلَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ، وَيَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الْفَجْرِ، ثُمَّ يَضْطَجِعُ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلصَّلاَةِ. (بخاري:994)

533- له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به یوولس رکعته لمونځ کاوو، همدا ئې د شپې لمونځ وو، د دې لمانځه یوه سجده به ئې دومره اوږده وه لکه چي ستاسو کوم یو پنځوس آیتونه لولي، او د سحر له لمانځه مخکي به ئې دوه رکعته کول، بیا به پر ښي اړخ څملاست، تر هغه چي مؤذن به د لمانځه لپاره ورته راغی.

تکرار: 626، 1123، 1160، 1170، 6310

توپیر: په یوه کي كَانَ يُصَلِّى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، په بل کي يُصَلِّى بِاللَّيْلِ ثَلاَثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، په یوه کي وَيَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الْفَجْرِ، په بل کي فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الْفَجْرِ، په بل کي إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ، په بل کي ثُمَّ يُصَلِّى إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، په بل کي فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ

لِلصَّلاَةِ، په بل کي حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلاءقَامَةِ راغلي. لکه چي ګورئ په دې رواياتو کي تعارض دئ، ځيني ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې لمونځ يولس او ځيني ئې دياولس ګڼي، نورو رواياتو ته په پام سره ويلى شو چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تهجد لمونځ اته رکعته او وتر ئې درې رکعته وو. د فجر له اذانه وروسته به ئې دوه رکعته لنډ لمونځ کاوو، بيا به تر هغه په ښي اړخ څملاستو چي مؤذن به د سحر لمانځه ته وبللو.

(٢) باب: د وتر وخت

534- حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُلَّ اللَّيْلِ أَوْتَرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَانْتَهَى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ.

(بخاري:996)

534- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې په هره برخه کي د وتر لمونځ کړی او وتر به ئې د سحر تر پيلېدو د مخه پای ته رسېدو.

(٣) باب: وتر بايد د شپې وروستى لمونځ وي

535- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ الله حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ الله عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "اجْعَلُوا آخِرَ صَلاَتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا". بخاري:998)

535- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د شپې وروستى

لمونځ مو وتر وګرځوئ).

د دې روایت معنی دا ده چې د وتر لمونځ مو د شپې وروستی لمونځ وګرځوئ، هغه مهال ئې وکړئ چې له تهجد فارغ شوي وئ، خو ځیني د روایت له الفاظو داسي ناسمه انتباه اخلي چې ګواکي د شپې وروستی لمونځ باید یو رکعت وي، دا نه یوازي صحیح انتباه نه ده بلکي د هغو روایاتو خلاف ده چې وایي د وتر لمونځ درې رکعته دئ، د ٥٣٢ روایت الفاظ هم دغه مطلب په ګوته کوي ځکه هلته ویل شوي: که ستاسو کوم یو د سحر له داخلېدو ووېرېد، نو یو رکعت دي وکړي او مخکني رکعتونه دي پرې وتر کړي، یعني که د تهجد په وروستیو دوو رکعتو کي دا وېره درسره پیدا شوه چې سحر داخلېږي نو پر دغو دوو رکعتو یو بل اضافه کړه او په دې توګه د وتر درې رکعته ترې جوړ کړه.

امام ابوحنیفه د وتر لمونځ واجب ګڼي او امام أبو یوسف او امام محمد ئې سنت ګڼي. امام محمد په ځیني نورو مواردو کي هم هغه څه ته د سنت په سترګه ګوري چې امام ابوحنیفه د واجب نوم ورکوي. دواړه خواوي ځان ته دلائل لري، خو دې ته په پام سره چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې رخصت ورکړی چې د سحر د داخلېدو د وېرې له امله کېدی شي د وتر یو رکعت د تهجد له دوو رکعتو سره یو ځای کړی شي، او دا د دواړو ورته والی ښیي، ویلی شو چې د امام ابو یوسف او امام محمد رأیه ارجح ده.

(٤) باب: پر سپرلۍ د وتر لمونځ

536- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ

الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ قَالَ فَإِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يُوتِرُ عَلَى الْبَعِيرِ. (بخاري:999)

536- او له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به پر اوښ سپور د وتر لمونځ كاوو.

تكرار: 1000، 1095، 1096، 1098، 1105

توپير: په يوه كي كَانَ يُوتِرُ عَلَى الْبَعِيرِ، په بل كي وَيُوتِرُ عَلَى رَاحِلَتِهِ، په بل كي يُصَلِّى عَلَى رَاحِلَتِهِ وَيُوتِرُ عَلَيْهَا، په بل كي يُصَلِّى فِى السَّفَرِ عَلَى رَاحِلَتِهِ، أَيْنَمَا تَوَجَّهَتْ يُومِئُ، په بل كي يُسَبِّحُ عَلَى الرَّاحِلَةِ قِبَلَ أَيِّ وَجْهٍ تَوَجَّهَ، وَيُوتِرُ عَلَيْهَا، غَيْرَ أَنَّهُ لاَ يُصَلِّى عَلَيْهَا الْمَكْتُوبَةَ او په بل كي كَانَ يُسَبِّحُ عَلَى ظَهْرِ رَاحِلَتِهِ حَيْثُ كَانَ وَجْهُهُ، يُومِئُ بِرَأْسِهِ راغلي. دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سفر په حالت كي وتر د نورو لمونځونو په څېر په روانه او پر سپرلۍ سپور كاوو خو فرض به ئې نه كاوو، ښيي چي وتر له نورو لمونځونو سره ورته دئ. خو په دې اړه له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بل روايت داسي دئ چي وايي: وتر به ئې پر زمكه كاوو. د دغو متعارضو رواياتو له مخي دا پرېكړه گرانه ده چي كوم صورت ئې ارجح دئ، غوره دا ده چي د مسافر حالت ته پرېښودی شي.

(٥) باب: قنوت له ركوع نه مخكي يا وروسته

537- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ أَقَنَتَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِى الصُّبْحِ قَالَ نَعَمْ. فَقِيلَ لَهُ أَوَقَنَتَ قَبْلَ الرُّكُوعِ قَالَ بَعْدَ الرُّكُوعِ يَسِيرًا. (بخاري:

(1001

537- له انس رضي الله عنه پوښتنه وشوه چي آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د سهار په لمانځه کي د قنوت دعاء ويلې ده؟ وئې ويل: هو؛ وويل شول: آيا د قنوت دعاء ئې له رکوع نه مخکي ويلې؟ وئې ويل: لنډه موده ئې له رکوع وروسته ويلې.

تکرار: 1002، 1003، 1300، 2801، 2814، 3064، 3170، 4088، 4089، 4090، 4091، 4092، 4094، 4095، 4096، 6394، 7341

توپير: په يوه کي بَعْدَ الرُّكُوعِ يَسِيرًا، په بل کي قَالَ قَبْلَهُ، په بل کي بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا، په بل کي بَلْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِنَ الْقِرَاءَةِ، په بل کي شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ، په بل کي بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا يَدْعُو عَلَيْهِمْ راغلي.

د انس رضي الله عنه اړوند رواياتو کي تعارض دئ، ځيني قنوت له رکوع مخکي او ځيني ئې وروسته ګڼي، علماء په دې اړه اختلاف لري چي د وتر قنوت له رکوع مخکي دئ که وروسته، امام ابوحنيفه ئې له رکوع مخکي بولي، له عمر، علي، ابن مسعود، أبو موسى الأشعري، البراء بن عازب، ابن عمر، ابن عباس، أنس رضي الله عنهم ترلاسه شوي روايات همدغه خبره کوي، عمر بن عبد العزيز، عبيدة السلماني، حميد الطويل او ابن أبي ليلى هم دا خبره کوي، امام مالك، إسحاق او ابن المبارك هم په همدې رأيي دي.

اما دا چي د نوازلو او پېښو په وخت کي قنوت څنګه او څه وخت ويل کېږي، رواياتو ته په پام سره ويلی شو چي دا

قنوت د سحر په لمانځه کي له رکوع وروسته، په قومه کي له لږ ځنډ وروسته ویل شوی، خو په ځینو روایاتو کي دا برخه چي په خاص مورد کي له څو ورځو وروسته پرېښودل شوی په دې معنی نشو اخیستی چي ګواکي دا مستحب کار منسوخ شوی، بلکي معنی ئې فقط دا ده چي په همغه خاص مورد کي تر یوه وخت ویل شوی بیا متوقف شوی، اوس هم کولی شو چي په نوازلو او سختو پېښو کي د قنوت له لاري له الله تعالی مرسته وغواړو.

بې مناسبته ئې مه ګڼئ که په دې اړه یوه قصه هم وړاندي کړم، د روسانو په ضد د جهاد په دوران کي مو په یوې تربیتي غونډې کي د سحر لمانځه کي د قنوت دعاء ولوسته، له لمانځه وروسته مي پر یوه مولوي صاحب سترګي ولګېدې چي له سلام سره متصل جګ شو او ولاړ، ګمان مي وکړ چي ښايي خپل لمونځ راګرځوي، قنوت خوند نه دئ ورکړی او ګمان ئې کړی چي لمونځ به ئې نه وي قبول شوی نو ځکه تللی چي بیا ئې وکړي، وروسته مي پوښتنه ترې وکړه، وئې ویل: قنوت خو په نوازلو کي ویل کېږي، څه شوي چي تا د قنوت دعاء وکړه؟! ورته ومي ویل: مولوي صاحب! آیا قنوت تر دې په ستر مصیبت کي ویل کېږي، آیا د روسانو برید، د هېواد اشغال او هره ورځ په وینو کي د سلګونو افغانانو رغړېدل په نوازلو کي نه حسابوې؟!!.... مصیبت دا دئ چي د ځینو خلکو علم په کتابونو کي وي په عمل کي ئې له تطبیق نه عاجز وي، په دې پوهېږي چي په نوازلو او پېښو کي قنوت ویل کېدی شي خو نه پوهېږي چي څه ته نوازل ووایي!!

538- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوتِ. فَقَالَ قَدْ كَانَ الْقُنُوتُ. قُلْتُ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَهُ قَالَ قَبْلَهُ. قَالَ فَإِنَّ فُلاَنًا أَخْبَرَنِى عَنْكَ أَنَّكَ قُلْتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ. فَقَالَ كَذَبَ، إِنَّمَا قَنَتَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا- أُرَاهُ- كَانَ بَعَثَ قَوْمًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ زُهَاءَ سَبْعِينَ رَجُلاً إِلَى قَوْمٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ دُونَ أُولَئِكَ، وَكَانَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَهْدٌ فَقَنَتَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم شَهْرًا يَدْعُو عَلَيْهِمْ. (بخاري:1002)

538- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي د قنوت په اړه پوښتنه ترې وشوه ده وويل: قنوت به لوستل کېدو، ورته وويل شول: له رکوع نه مخکي که وروسته؟ ده وويل: مخکي له رکوع نه، ورته وويل شول چي فلانی خو ستا له قوله وايي چي تا ويلي قنوت له رکوع وروسته لوستل کېږي؟ ده وويل: دروغ وايي، رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي يوه مياشت له رکوع وروسته قنوت لوستلی، فکر کوم چي دا هغه وخت وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تقريباً اويا تنه چي قاريان بلل کېدل، د مشرکانو يوې ډلي ته چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې تړون کړی وو، ولېږل (هغوی خيانت وکړ او هغه قاريان ئې ووژل)، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه مياشت قنوت لوست او هغوی ته ئې بنېرې کولې.

تکرار: 1001، 1003، 1300، 2801، 2814، 3064، 3170، 4088، 4089، 4090، 4091، 4092، 4094، 4095، 4096، 6394، 7341

توپير: په مخكني روايت كي څېړل شوى.

539- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ الْقُنُوتُ فِي الْمَغْرِبِ وَالْفَجْرِ. بخاري:1004)
539- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: قنوت به د ماښام او سهار په لمونځونو كي وو.
تكرار: 798
توپير: په ٤٥٨ روايت كي ئې وګورئ.

١٥ـ د استسقاء كتاب

(1)- باب: استسقاء

540- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَسْتَسْقِي وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ. وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ: وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ. (بخاري:1005)
540- له عبدالله بن زيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د استسقاء (د باران وريدو دعاء) لپاره ووت، خپل څادر ئې په بل مخ واړاوو. او په بل روايت كي راغلي چي: دوه ركعته لمونځ ئې وكړ.
تكرار: 1011، 1012، 1023، 1024، 1025، 1026، 1027، 1028، 6343
توپير: په يوه كي يَسْتَسْقِي وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ، په بل كي خَرَجَ

إِلَى الْمُصَلَّى فَاسْتَسْقَى، فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، وَقَلَبَ رِدَاءَهُ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، په بل کي خَرَجَ بِالنَّاسِ يَسْتَسْقِى لَهُمْ، فَقَامَ فَدَعَا الله قَائِمًا، ثُمَّ تَوَجَّهَ قِبَلَ الْقِبْلَةِ، وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ فَأُسْقُوا، په بل کي يَسْتَسْقِى فَتَوَجَّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ يَدْعُو، وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ، په بل کي يَسْتَسْقِى... فَحَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ، وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُو، ثُمَّ حَوَّلَ رِدَاءَهُ، ثُمَّ صَلَّى لَنَا رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ او په بل کي وَأَنَّهُ لَمَّا دَعَا- أَوْ أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ- اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ راغلي. له ټولو په ګډه داسي معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د استسقاء لمانځه لپاره کوم ميدان ته وتلی، دوه رکعته لمونځ ئې په جهر سره کړی، بيا قبلې ته مخامخ ودرېدلی، خپل څادر ئې پر بل مخ اړولی او د باران ورېدو دعاء ئې کړې.

خو دا چي د دې خبري معنی څه ده چي څادر ئې پر بل مخ اړولی؟ آيا څادر ئې عمداً پر بل مخ اړولی که ترې لوېدلی بيا ئې پر خپلو اوږو اچولی او که ئې پيڅي راپورته کړې دي او پر خپلو اوږو ئې اچولې؟ آيا بل ځل ئې هم داسي کړي که نه؟ د روايت له الفاظو واضح مطلب نشو اخيستی، که څوك دا کار وکړي او پر يوه سنت د عمل په نيت نو هله ده چي د نېك عمل په توګه ترې قبول شي او که دا کار ونه کړي هيله ده د دعاء په قبلېدو کي ئې مانع نشي، ځکه نه له دې روايت داسي څه معلومېږي چي د استسقاء لپاره دا کار ضروري دئ او نه له کوم بل قولي روايت. که دا ضروري وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به په هغي دعاء کي هم دا کار کړی وو چي د منبر پر سر ئې د باران ورېدو دعاء وکړه، هغه وخت ئې نه قبلې ته مخ کړی او نه ئې

څادر پر بل مخ اړولی، دعاء ئې هم قبوله شوه او باران ووريدو.

له دې روايت دا هم معلوميږي چې له سنت لمونځ وروسته دعاء شوې، حال دا چې له كوم فرض لمانځه وروسته د داسي دعاء كوم روايت نه مومو، لمونځ په خپله دعاء دئ، د دعاء د قبليدو ښه وخت د لمانځه په منځ كي دعاء ده. د ورځنيو پنځو لمونځونو له فرض يا سنت وروسته په ګډه دعاء لپاره د رسول الله صلى الله عليه و سلم له فعلي او قولي سنت كوم شاهد نه مومو، دا صحيح نه ده چې داسي دعاء د لمانځه يوه ضروري برخه وګڼل شي، خو دې كار ته د ناروا عمل او بدعت په سترګه كتل هم غلو او افراط دئ.

(٢) باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا دعاء چې د يوسف (ع) د قحطۍ كلونه پرې راوله

541- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ يَقُولُ "اللهمَّ أَنْجِ عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، اللهمَّ أَنْجِ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، اللهمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، اللهمَّ أَنْجِ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، اللهمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، اللهمَّ اجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ". وَأَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "غِفَارُ غَفَرَ الله لَهَا، وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا الله". (بخاري:1006)

541- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: كله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم د آخري ركعت له

ركوع نه سر لوړ کړ ويل به ئې: خدايه! عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ وژغورې، خدايه! سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وژغورې، خدايه! وَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وژغورې، خدايه! بې وزلي مؤمنان وژغورې، خدايه! عذاب دي د مُضر پر قبيلې سخت کړې، خدايه! د يوسف عليه السلام د قحطۍ په څېر قحطي پرې مسلطه کړې، او دا چي (رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: د غفار قبيلې ته دي الله تعالى بخښنه وکړي، د سالم قبيله دي الله تعالى سالمه او روغه لري).

تکرار: 797، 804، 2932، 3386، 4560، 4598، 6200، 6393، 6940

توپير: د دې شرح د 455 او 797 رواياتو په شرح کي وګورئ.

542- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ الله فَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا قَالَ "اللهمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ". فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَالْجِيَفَ، وَيَنْظُرَ أَحَدُهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرَى الدُّخَانَ مِنَ الْجُوعِ، فَأَتَاهُ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ تَأْمُرُ بِطَاعَةِ الله وَبِصِلَةِ الرَّحِمِ وَإِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا، فَادْعُ الله لَهُمْ، قَالَ الله تَعَالَى (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ) إِلَى قَوْلِهِ (عَائِدُونَ * يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى) فَالْبَطْشَةُ يَوْمَ بَدْرٍ، وَقَدْ مَضَتِ الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَآيَةُ الرُّومِ. (بخاري:1007)

542- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خلکو

مخالفت او ایمان نه راوړل ولید، وئې فرمایل: (اې خدایه! د یوسف (علیه السلام) د زمانې په څېر اوه کاله وچکالي پرې راوله) نو قریش له داسي وچکالۍ سره مخ شول چي هر څه ئې له منځه لاړل، تر دې چي پوستکي، مړه څاروي او مړزګي ئې خوړلې، او که کوم یوه به آسمان ته وکتل نو له ډېري لوږي به ئې دود تر سترګو کېدو، نو ابو سفیان ورته راغی او وئې ویل: اې محمده! صلی الله علیه و سلم ته د الله تعالی د اطاعت او صله رحمۍ امر کوې، او ستا قوم هلاکېږي، نو د خدای په وړاندي دعاء ورته وکړه، الله تعالی وفرمایل: (د هغي ورځي انتظار وباسه چي آسمان ښکاره دود راولي) د الله تعالی تر دې قوله چي فرمایي: (تاسي به بېرته کفر ته وګرځئ، هغه ورځ چي په ستري نیوني سره به تاسو ونیسو) راوي وایي: ستره نیونه د بدر ورځ وه، او دود هم تېر شو، نیول، د روم آیت او لزام تېر شول، یعني ولیدل شول.

تکرار: 1020، 4693، 4767، 4774، 4809، 4820، 4821، 4822، 4823، 4824، 4825

توپیر: په یوه کي لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا، په بل کي إِنَّ قُرَيْشًا أَبْطَئُوا عَنِ الإِسْلاَمِ، په یوه کي اللهمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په بل کي فَدَعَا عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ- صلی الله علیه وسلم، په بل کي اللهمَّ اكْفِنِيهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په بل کي اللهمَّ أَعِنِّى عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په یوه کي فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَالْجِيَفَ، په بل کي فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَتَّى هَلَكُوا فِيهَا وَأَكَلُوا الْمَيْتَةَ وَالْعِظَامَ، په یوه کي قَالَ الله تَعَالَى (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِى السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ، په بل کي فَقَرَأَ (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِى السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ)، په یوه

كي ثُمَّ عَادُوا إِلَى كُفْرِهِمْ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى) يَوْمَ بَدْرٍ، په بل كي فَسُقُوا الْغَيْثَ، فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ سَبْعًا، وَشَكَا النَّاسُ كَثْرَةَ الْمَطَرِ فَقَالَ "اللهمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا". فَانْحَدَرَتِ السَّحَابَةُ عَنْ رَأْسِهِ، فَسُقُوا النَّاسُ حَوْلَهُمْ، په يوه كي عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُحَدِّثُ فِى كِنْدَةَ فَقَالَ يَجِيءُ دُخَانٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ بِأَسْمَاعِ الْمُنَافِقِينَ وَأَبْصَارِهِمْ، يَأْخُذُ الْمُؤْمِنَ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَأَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ، وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَغَضِبَ فَجَلَسَ فَقَالَ مَنْ عَلِمَ فَلْيَقُلْ، وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ الله أَعْلَمُ، په بل كي قَالَ عَبْدُ الله أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ وَالْبَطْشَةُ الْكُبْرَى يَوْمَ بَدْرٍ، په يوه كي مَضَى خَمْسٌ الدُّخَانُ وَالرُّومُ وَالْقَمَرُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ، په بل كي فَقَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَقَالَ أَحَدُهُمُ الْقَمَرُ وَقَالَ الآخَرُ الرُّومُ. راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام كي ولرئ:

دا روايت له قرآن سره تعارض لري، قرآن وايي چي دا دود به حقيقتاً دود وي او په څرگنده توگه به په آسمان كي راپيدا شي، نه يوازي څرگند دود به وي بلكي په خپل ذات كي به يو عذاب وي، حال دا چي دا روايت وايي چي هغه په حقيقت كي دود نه وو بلكي قحطۍ وهلو وږو قريشو ته به آسمان دودجن ښكارېدو.

د صحابه وو، تابعينو او د لومړني دور مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف تر سترگو كېږي چي په آسمان كي د دود له څرگندېدو مراد څه دئ او دا واقعه به كله رامنځته كېږي، ځيني همدا د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه خبره كوي، مجاهد، قتاده، ابوالعاليه، مقاتل، ابراهيم النخعي، ضحاك او

ځيني نور همدا رأيه لري، خو د دوی په مقابل کي د علي، ابن عمر، ابن عباس، ابوسعيد خدري، زيد بن علي، حسن بصري رضي الله عنهم په څېر شخصيتونه له دې رأيي سره موافق نه دي او وايي چي له دې دود هغه دود مراد دئ چي په موثقو رواياتو کي ورته اشاره شوې ده او د قيامت له علائمو ګڼل شوی. د آيت له سياق و سباق نه هم معلوميږي چي دا د قيامت له علائمو دئ.

عبدالله بن مسعود نه دي ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي فرمايلي، له دې معلوميږي چي دا د ده خپله رأيه ده، ځکه نو نورو صحابه وو ورسره اتفاق نه دئ کړی. د ده له روايت دا هم معلوميږي چي دا رأيه ئې ځکه وړاندي کړې چي د قيامت عذاب ځنډېدونکی نه دئ، او په نوموړو آيتونو کي ويل شوي چي الله تعالى فرمايي: موږ د لنډي مودې لپاره عذاب ځنډوو او تاسو بېرته خپل کفر ته ستنيږئ، خو دا استدلال ځکه صحيح نه برېښي چي مراد ئې د قيامت د عذاب ځنډول نه دي بلکي په دغو آيتونو کي د قريشو او هر کافر او مشرك قوم دا حالت انځور شوی چي کله الهي عذاب پرې راشي نو له الله تعالى سره ژمنه کوي چي ايمان به راوړي او له کفر نه به لاس اخلي، د دوی د دغي ژمني له امله الله تعالى د لنډي مودې لپاره عذاب وځنډوي خو دوی خپلي ژمني تر پښو لاندي کړي او بېرته د کفر په لور ستانه شي، له دې وروسته په 16آيت کي ويل شوي: هغي ورځي ته انتظار وکړه چي موږ به په سختي نيوني سره نيونه کوو، د دې آيت له فحوی او سياق و سباق نه په ډېر وضاحت سره معلوميږي چي بطشة الكبرى يا د

قيامت د ورځي نيونه ده يا هغه نيونه چي د مهلت په پای کي يو کافر قوم ورسره مخامخ کيږي، نه قحطي د دې عذاب مصداق ګڼلی شو او نه د بدر نيونه د بطشة الكبرى مصداق، له آيت وروسته د فرعون نيونه راغلې چي همدا مطلب افاده کوي. همداراز د قرآن له وينا معلوميږي چي (يوم نبطش البطشة الكبرى) د (فارتقب يوم تأتي السماء بدخان مبين) شرح دئ، دا دواړه ورځي او دواړه عذابونه يو دي، نه بېل بېل، د بطشة الكبرى ورځ همغه ورځ ده چي په 16 آيت کي ورته اشاره شوې، يعني هغي ورځي ته انتظار وکړه چي بله ځانګړتيا ئې دا ده چي الله تعالى به په سختي نيوني سره کفار ونيسي. له دې پلوه هم دا روايت له قرآن سره تعارض لري.

لزام په قرآن کي دوه ځلي راغلی، په دواړو ځايونو کي د آيت له فحوى معلوميږي چي مراد ئې حتمي عذاب دئ، نو معلومه نه ده چي په دې روايت کي د لزام له تېرېدو مراد څه دئ او راوي ولي د قحط په څنګ کي راوړی؟!!

543- وَقَالَ عُمَرُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا سَالِمٌ عَنْ أَبِيهِ رُبَّمَا ذَكَرْتُ قَوْلَ الشَّاعِرِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَى وَجْهِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم يَسْتَسْقِي، فَمَا يَنْزِلُ حَتَّى يَجِيشَ كُلُّ مِيزَابٍ. وَأَبْيَضَ يُسْتَسْقَى الْغَمَامُ بِوَجْهِهِ ثِمَالَ الْيَتَامَى عِصْمَةً لِلأَرَامِلِ وَهْوَ قَوْلُ أَبِي طَالِبٍ. (بخاري:1009)

543- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: کله چي به ما هغه مهال د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ ته کتل چي د باران دعاء به ئې کوله او لا به له منبر نه کوز شوی نه وو چي ناوې به په بهېدو شوې، ما ته

به د شاعر هغه وينا راپه ياد شوه چي وايي:
هغه تك سپين چي د مخ (په طفيل) ئې له وريځو باران غوښتل کېږي
د يتيمانو مرستندوی او د کونډو پناه ځی
دا د ابو طالب شعر دئ.
تکرار: 1008
توپير: دواړه سره ورته دي.

د دې روايت په اړه بايد ووايو: په قرآن کي د ګڼ شمېر پيغمبرانو عليهم السلام د هغو دعاګانو يادونه شوې چي الله تعالی قبولي کړې دي، د ډېرو نورو دعاګانو الفاظ هم زموږ مخي ته ايښودل شوي، د قرآن په ټولو دعاګانو کي داسي دعاء نه مومو چي د کوم انسان د مخ په طفيل له الله تعالی څه غوښتل شوي وي او يا څوك ورته شفيع کړی شوی وي، داسي چي يا الله د فلاني په خاطر څه راکړه، يا فلانی درته شفيع کوو چي زموږ دعاء قبوله کړې، د رسول الله صلی الله عليه و سلم په دعاګانو کي هم چي شمېر ئې زيات دئ او په رواياتو کي راغلې دي داسي دعاء نه مومو. صحيح نه ده چي په دې اړه د ابو طالب په شعر استناد وشي.

544- حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الله الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَبْدُ الله بْنُ الْمُثَنَّى عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه كَانَ إِذَا قَحَطُوا اسْتَسْقَى بِالْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ اللهمَّ إِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِينَا وَإِنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا. قَالَ فَيُسْقَوْنَ.

(بخاري:1010)

544- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه به هغه مهال چي قحطي او وچکالي به رامنځته شوه د عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه په وسيلې سره د باران دعاء کوله او ويل به ئې: اې خدايه! موږ به تا ته ستا نبي صلى الله عليه و سلم وسيله ګرځاوو، تا به باران راباندي وراوو، او اوس د خپل نبي صلى الله عليه و سلم تره درته وسيله ګرځوو، نو باران راباندي ووروه، راوي وايي بيا به باران پرې اورېدو.

تکرار: 3710

توپير: دواړه د الفاظو او محتوى له پلوه سره ورته دي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري. د متن له پلوه داسي دئ چي د دقت او احتياط تقاضاء کوي، ځيني خلك دا غلط تعبيروي او غلطه استفاده ترې کوي، او وايي چي د الله تعالى او بنده تر منځ واسطې او وسيلې ته ضرورت دئ، الله تعالى ته به مخامخ دعاء نه کوې، څوك ورته شفيع کړه، خپله دعاء د کوم نازولي په لاس الله ته وړاندي کړه، د الله د کوم نازولي لاس او لمن ونيسه چي دعاګاني دي پرې قبولي کړي، او دا ټول هغه څه دي چي د قرآن له څرګندو لارښوونو سره جدي او ژور تعارض لري، که ومنو چي ښايي عمر رضي الله عنه به داسي کړي وي نو د دې فقط يوه معنى کېدى شي او هغه دا چي مخکي به رسول الله صلى الله عليه و سلم د استسقاء لمونځ راکاوو اوس عباس رضي الله عنه د لمانځه لپاره وړاندي کوو په دې هيله چي زموږ دعاء قبوله کړې. دې ته

مو هم پام وي چي د عمر رضي الله عنه مقام د عباس رضي الله عنه تر مقام او منزلت ډېر لوړ دئ او دې ته هم چي لمانځه ته به اعلم، اقرأ او اتقى وړاندي کوو.

(3) باب: په جامع جومات کي د باران دعاء

545- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو ضَمْرَةَ أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَذْكُرُ أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ بَابٍ كَانَ وُجَاهَ الْمِنْبَرِ، وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَائِمٌ يَخْطُبُ فَاسْتَقْبَلَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَائِمًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ، هَلَكَتِ الْمَوَاشِى وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ، فَادْعُ اللهَ يُغِيثُنَا. قَالَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَدَيْهِ فَقَالَ "اللهمَّ اسْقِنَا، اللهمَّ اسْقِنَا، اللهمَّ اسْقِنَا". قَالَ أَنَسٌ وَلاَ وَاللهِ مَا نَرَى فِي السَّمَاءِ مِنْ سَحَابٍ وَلاَ قَزَعَةً وَلاَ شَيْئًا، وَمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ سَلْعٍ مِنْ بَيْتٍ وَلاَ دَارٍ، قَالَ فَطَلَعَتْ مِنْ وَرَائِهِ سَحَابَةٌ مِثْلُ التُّرْسِ، فَلَمَّا تَوَسَّطَتِ السَّمَاءَ انْتَشَرَتْ ثُمَّ أَمْطَرَتْ. قَالَ وَاللهِ مَا رَأَيْنَا الشَّمْسَ سِتًّا، ثُمَّ دَخَلَ رَجُلٌ مِنْ ذَلِكَ الْبَابِ فِي الْجُمُعَةِ الْمُقْبِلَةِ، وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَائِمٌ يَخْطُبُ، فَاسْتَقْبَلَهُ قَائِمًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ، هَلَكَتِ الأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ، فَادْعُ اللهَ يُمْسِكْهَا، قَالَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ "اللهمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا، اللهمَّ عَلَى الآكَامِ وَالْجِبَالِ وَالآجَامِ وَالظِّرَابِ وَالأَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ". قَالَ فَانْقَطَعَتْ وَخَرَجْنَا نَمْشِى فِي الشَّمْسِ. (بخاري:1013)

545- د انس رضي الله عنه هغه روايت چي په کي راغلي:

رسول الله صلى الله عليه و سلم ولاړ وو، خطبه ئې ويله، يو سړی جومات ته راغی او د باران د دعاء غوښتنه ئې وکړه، مخکې تېر شوی، په دې روايت کې ئې راځي: شپږ ورځې مو لمر ونه ليد، په راتلونکې جمعه کې يو کس له همغې دروازې راغی، رسول الله صلى الله عليه و سلم ولاړ وو، خطبه ئې ويله، دا سړی مخامخ ورته ودرېد او وئې ويل: يا رسول الله! مالونه مو هلاک شول، لاري بندې شوې، الله تعالى ته دعاء وکړه چې باران بند کړي، راوي وايي: بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل لاسونه پورته کړل او وئې ويل: (اې خدايه! باران زموږ پر شا و خوا واوروه نه پر موږ، اې خدايه! پر غونډيو او غرونو، دښتو، خوړونو او ځنګلونو ئې واوروه) راوي وايي: باران ودرېد او له جومات چې ووتلو نو په لمر کې روان وو، يعني آسمان صاف شو.

تکرار: 932، 933، 1014، 1015، 1016، 1017، 1018، 1019، 1021، 1029، 1033، 3582، 6093، 6342

توپير: دا روايت په 512 روايت کې څېړل شوی.

(٤) باب: د جمعې په خطبه کې د باران دعاء

546 . وَعَنْهُ رضي الله عنه: أَنَّه صلى الله عليه و سلم رَفَعَ يَدَيْهِ، فَقَالَ: "اللهمَّ أَغِثْنَا، اللهمَّ أَغِثْنَا، اللهمَّ أَغِثْنَا". (بخاري:1014)

546- د انس رضي الله عنه هغه روايت چې وايي: يو کس په داسې حال کې جومات ته راغی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم خطبه ويله او دعاء ئې ترې وغوښتله زيات تکرار شوی، په دې روايت کې راغلي: رسول الله صلى الله

عليه و سلم خپل لاسونه پورته کړل بيا ئې وفرمايل: (خدايه! پر موږ باران واوروه، خدايه! پر موږ باران واوروه، خدايه! پر موږ باران واوروه).

تکرار: 932، 933، 1013، 1015، 1016، 1017، 1018، 1019، 1021، 1029، 1033، 3582، 6093، 6342

توپير: په 512 روايت کي څېړل شوی.

(5) باب: د استسقاء په لمانځه کي په جهر سره قرائت

547 . حَدِيْثُ عَبْدِاللهِ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنه فِيْ الاسْتِسْقَاءِ تَقَدَّمَ، وَفِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ قَالَ: فَحَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ، وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُو، ثُمَّ حَوَّلَ رِدَاءَهُ، ثُمَّ صَلَّى لَنَا رَكْعَتَيْنِ، جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَة. (بخاري:1024)

547- د استسقاء په اړه د عبدالله بن زيد رضي الله عنه حديث مخکي تېر شو، پدې روايت کي راځي: رسول الله صلى الله عليه و سلم خپله شا خلکو ته واړوله، مخ ئې قبلې ته کړ او دعاء ئې کوله، بيا ئې څادر پر بل مخ واړاوو، بيا ئې موږ ته دوه رکعته لمونځ راکړ او په لوړ ږغ ئې قرائت وکړ.

تکرار: 1005، 1011، 1012، 1023، 1025، 1026، 1027، 1028، 6343

توپير: مخکي په تکرار سره تېر شوی. خو له نورو سره ئې په دې کي دا تعارض دئ چي دا دعاء له لمانځه مخکي ګڼي او هغوی ئې له لمانځه وروسته.

دغو متعارضو رواياتو ته په پام سره ويلی شو چي غوره رأيه دا ده چي که امام د استسقاء په غونډي کي خطبه وايي نو دا دي له لمانځه مخکي کړي، خو دعاء دي په هر صورت کي له لمانځه وروسته وکړي.

(6) باب: امام به په استسقاء کي لاسونه پورته کوي

548- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لاَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِهِ إِلاَّ فِي الاِسْتِسْقَاءِ، وَإِنَّهُ يَرْفَعُ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ. (بخاري:1031)

548- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به له استسقاء پرته په بلي هيڅ دعاء کي خپل لاسونه نه پورته کول او په استسقاء کي به ئې لاسونه دومره پورته کول چي د تخرگونو سپين والی به ئې ښکارېدو.

تکرار: 3565، 6341

توپير: درې واړه سره ورته دي، په يوه کي ئې يوازي دا برخه راغلې: رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ.

دا روايت له هغو گڼ شمېر رواياتو سره تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم په ډېرو مواردو کي لاسونه د دعاء په وخت کي لوړ کړي، د بدر په غزا کي ئې هم دومر لوړ کړي وو چي د تخرگونو سپين والی ئې معلوم شوی وو، ټولو رواياتو ته په پام سره ويلی شو چي په دعاء کي لاسونه لوړول د رسول الله صلى الله عليه و سلم له عملي سنت ثابت دي خو نه په هر حالت کي او په هري

دعاء کي، په خاصو او سختو حالاتو کي ئې دا کار کړی، د دعاء په وخت کي ئې رغوي آسمان ته نيولي او د ښېرا په وخت کي ئې رغوي زمکي ته ګرځولي.

(۷) باب: د باران په وخت څه ويل په کار دي؟

549- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ- هُوَ ابْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ الْمَرْوَزِىُّ- قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ قَالَ "صَيِّبًا نَافِعًا". (بخاري:1032)

549- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: کله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم باران وليد نو فرمايل به ئې: (ګټور او د خير باران دي وي).

(۸) باب: د سيلۍ راتلو پر مهال

550- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِى مَرْيَمَ قَالَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِى حُمَيْدٌ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ كَانَتِ الرِّيحُ الشَّدِيدَةُ إِذَا هَبَّتْ عُرِفَ ذَلِكَ فِى وَجْهِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم. (بخاري:1034)

550- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي به سخته سيلۍ ولګېده، نو اغېز به ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېرې کي راڅرګند شو.

يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم به پرېشانه وو او دا اندېښنه به ورسره راپيدا شوه چي خدای مه کړه دا د کوم الهي عذاب پيلامه نه وي، ځکه ډېر قومونه په داسي سيلۍ هلاك شوي چي دوی د وريځو د راتلو او د باران د وريدو طمع ترې کوله.

(٩) باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا چي په باد سره مي مرسته شوې

551- حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "نُصِرْتُ بِالصَّبَا، وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ". (بخاري:1035)

551- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د صبا په سيلۍ سره زما مرسته شوې ده او عاديان د دبور په سيلۍ سره هلاک شوي).

صبا هغي سيلۍ ته وايي چي له شرقي لوري به راتله او دبور هغي ته چي له غربي لوري به راتله.

تکرار: 3205، 3343، 4105

توپير: د څلورو واړو راويان، الفاظ او مطلب يو شان دي.

(١٠) باب: هغه څه چي د زلزلې او ابتلاءاتو په اړه ويل شوي

552- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ الْحَسَنِ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: قَالَ: "اللهمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَامِنَا وَفِي يَمَنِنَا"قَالَ: قَالُوا: وَفِي نَجْدِنَا. قَالَ: قَالَ: "اللهمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَامِنَا وَفِي يَمَنِنَا"قَالَ: قَالُوا: وَفِي نَجْدِنَا. قَالَ: قَالَ: "هُنَاكَ الزَّلازِلُ وَالْفِتَنُ وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ". (بخاري:1037)

552- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (اې خدايه! زموږ په شام او يمن کي برکت واچوه). اصحابو وويل: او زموږ په نجد کي؟ وئې فرمايل: (اې خدايه! زموږ په شام او يمن کي برکت واچوه)، راوي وايي: اصحابو وويل: او زموږ په نجد کي؟ وئې فرمايل: (هغه د زلزلو او فتنو سيمه ده او هلته به د شيطان ښکرونه (زور يا پلويان) راڅرګندېږي).

يادونه: نجد د مدينې منورې له ختيځي برخي تر عراق پوري اوږد پروت دئ.

تکرار: 7094

توپير: په يوه کي اللهمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَامِنَا وَفِي يَمَنِنَا او په بل کي اللهمَّ بَارِكْ لَنَا فِى شَأْمِنَا، اللهمَّ بَارِكْ لَنَا فِى يَمَنِنَا راغلي. دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په دريو طبقو کي يو يو او په څلورمه کي دوه راويان لري.

(١١) باب: له الله تعالى پرته هيڅوک نه پوهېږي چي باران به کله وريږي

553- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ الله لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِي غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِي الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِى أَحَدٌ مَتَى يَجِىءُ الْمَطَرُ". (بخاري:1039)

553- او له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د غيب کلياني

پنځه دي چي له الله تعالی پرته هيڅوک پرې نه پوهيږي، هيڅوک نه پوهيږي چي سبا به څه کيږي، هيڅوک نه پوهيږي چي د مور په رحم کي څه دي، هيڅوك نه پوهيږي چي سبا به څه کوي، هيڅوک پدې نه پوهيږي چي چيري به مري او هيڅوک پدې نه پوهيږي چي کله به باران وريږي).

تکرار: 4627، 4697، 4778، 7379

توپير: په يوه کي مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ الله، په بل کي مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَأَ (إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ....، په يوه کي لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِى أَحَدٌ مَتَى يَجِىءُ الْمَطَرُ، په بل کي إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ، وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ، وَيَعْلَمُ مَا فِى الأَرْحَامِ، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، إِنَّ الله عَلِيمٌ خَبِيرٌ، په بل کي لاَ يَعْلَمُ مَا فِى غَدٍ إِلاَّ الله، وَلاَ يَعْلَمُ مَا تَغِيضُ الأَرْحَامُ إِلاَّ الله وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى يَأْتِى الْمَطَرُ أَحَدٌ إِلاَّ الله، وَلاَ تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ الله راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

دا روايت د لقمان د سورې د 34 آيت شرح او تفسير دئ چي وايي په پنځو شيانو له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهيږي.

هيڅوك نه پوهيږي چي قيامت به کله وي، څوك چي په دې اړه وړاندويني کوي دروغ وايي، د قيامت د راتلو په نيټې يوازي هغه ذات پوهيږي چي د ټول عالم، زمکي او آسمانونو، ستورو او ستور ليکو په اړه علم لري، دا ځکه

چي قيامت په دې ټولو پوري تړلې پېښه ده.

د باران په اړه وړاندويني يا تخميني دي يا د هغه معلومات له مخي دي چي د وريځو د حرکت سمت او سرعت ته په پام سره په تخميني توګه وايي چي دغه وريځ اوس په دې سيمي باران وروي، سرعت ئې دومره دئ، په هغه لوري روانه ده، فلان ځای ته به په فلان ساعت کي ورسيږي او هلته به باران ووروي، خو دا وړاندويني تخميني دي، کېدی شي ناڅاپي له بل لوري تيز باد راشي او د وريځي لوری او سرعت بدل کړي.

د مور په رحم کي د پرمخ تللو وسائلو په مرسته دا معلومېدی شي چي ماشوم هلك دئ که نجلی، روغ دئ که ناقص الاعضاء، خو د وسائلو په مرسته د څه ليدل په غيب د پوهېدا په معنی نشو تعبيرولی، دا داسي وګڼئ لکه چي څوك ووايي: هيڅوك نه پوهيږي چي د دې دېوال تر شا څه دي، خو که چا د دېوال شا ته کامره لګولې وي او د مونيټور په صفحه کي ګوري چي هلته څه دي نو دا په غيب د پوهېدا په معنی نه دي او په دې سره د هغه ويونکي وينا نه تکذيب کيږي، دې ته مو هم پام وي چي په آيت کي داسي نه دي ويل شوي چي هيڅوك نه پوهيږي د مور په رحم کي هلك دئ که نجلی، بلکي داسي صيغه کارول شوې چي د ماشوم ټولي ځانګړتياوي احتوی کوي او يقيناً چي په ټولو له الله تعالی پرته هيڅوك د هيڅ وسيلې په مرسته نشي پوهېدی. څوك دا ويلی شي چي دا ماشوم به څنګه انسان وي، ښه که بد، صالح که طالح؟!

هيڅوك په يقيني توګه نشي ويلی چي سبا به له کوم

برخليك سره مخامخ كېږي. په دې اړه ئې هر تصميم تخميني او احتمالي دئ.

هيڅوك نه پوهېږي چي كله او چېري به مري، نه د ځان په اړه وړاندوينه كولى شي او نه د بل په اړه، نه ډاكټر په يقيني توگه وړاندوينه كولى شي، نه فرشتې پوهېږي، نه پيغمبران عليهم السلام او نه اولياء الله، چا چي داسي وړاندوينه وكړه دروغ وايي او چا چي له الله تعالى پرته بل چا ته د دې علم منسوب كړ دروغ ئې ويلي.

ځيني ټگماران د خلكو د غولولو لپاره وايي چي دلته الله تعالى د مفتاح او كلي يادونه كړې، او گواكي د دې معنى دا ده چي الله تعالى ځينو ته په دغو خبرو د پوهېدا مفتاح او كلي وركوي نو ځكه پرې پوهېدى شي!! حال دا چي د مفتاح يادونه د دې لپاره شوې چي تا ته ووايي: د دغو امورو علم په داسي ځاى كي دئ چي دروازې ته ئې قفل (كولپ) اچول شوى، په ډاگ پرته خزانه نه ده، كلياني ئې له الله تعالى سره دي، هيڅوك ورننوتى نه شي او پرې پوهېدى نشي.

١٦ـ د كسوف كتاب

(١) باب: د كسوف لمونځ

554- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ يُونُسَ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَانْكَسَفَتِ الشَّمْسُ، فَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَجُرُّ رِدَاءَهُ

حَتَّى دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَدَخَلْنَا فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ، حَتَّى انْجَلَتِ الشَّمْسُ فَقَالَ صلى الله عليه و سلم "إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لاَ يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ، فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمَا فَصَلُّوا، وَادْعُوا، حَتَّى يُكْشَفَ مَا بِكُمْ". وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ صلى الله عليه و سلم: "وَلكِنَّ الله تَعَالى يُخَوِّفُ بِهِمَا عِبَادَهُ". (بخاري:1040و 1048)

554- له ابي بكرة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وو چي (لمر ونيول شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم پاڅېد او په داسي حال كي چي څادر ئې ورپسي كښولو جومات ته ننووت، موږ هم جومات ته ولاړو، دوه ركعته لمونځ ئې راكړ، تر هغه چي لمر ښكاره شو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (لمر او سپوږمۍ د چا د مرگ له امله نه نيول كېږي، كه كله مو كسوف او خسوف وليد، نو تر هغه لمونځ او دعاء كوئ چي هغه (كسوف يا خسوف) رفع شي)، او په بل روايت كي راځي چي فرمايي: (خو الله تعالى په كسوف او خسوف سره خپل بندگان وېروي).

تكرار: 1048، 1062، 1063، 5785

توپير: په يوه كي إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لاَ يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ، په بل كي إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ الله، لاَ يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ، په يوه كي وَلَكِنَّ الله تَعَالَى يُخَوِّفُ بِهَا عِبَادَهُ، په بل كي إِنَّ الله تَعَالَى يُخَوِّفُ بِهِمَا عِبَادَهُ، په يوه كي وَإِذَا كَانَ ذَاكَ فَصَلُّوا وَادْعُوا حَتَّى يُكْشَفَ مَا بِكُمْ، په بل كي فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَصَلُّوا وَادْعُوا الله حَتَّى يَكْشِفَهَا راغلي.

555 . وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رضي الله عنه قَالَ: كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ، فَقَالَ النَّاسُ: كَسَفَتِ الشَّمْسُ لِمَوْتِ إِبْرَاهِيمَ، فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم: "إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلا لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ فَصَلُّوا وَادْعُوا الله". (بخاري:1043)

555 ـ او په يوه روايت کي له مغيره بن شعبه رضي الله عنه راغلي چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي په هغه ورځ چي ابراهيم (د رسول الله صلى الله عليه و سلم زوی) وفات شو، لمر ونيول شو، خلکو وويل: د ابراهيم د مرگ له امله لمر ونيول شو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (لمر او سپوږمۍ د چا د مرگ يا ژوند په سبب نه نيول کيږي، که مو د دوی نيول کېدا وليده، نو لمونځ او دعاء کوئ).

تکرار: 1060، 6199

توپير: په يوه کي إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلا لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ فَصَلُّوا وَادْعُوا الله، په بل کي إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ الله، لاَ يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمَا فَادْعُوا الله وَصَلُّوا حَتَّى يَنْجَلِيَ راغلي.

(2) باب: د کسوف په وخت کي صدقه

556- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ خَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَصَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِالنَّاسِ، فَقَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ، ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ وَهْوَ

دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ، وَهْوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ، ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ، ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الأُولَى، ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ، فَخَطَبَ النَّاسَ، فَحَمِدَ اللهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ، لاَ يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَادْعُوا اللهَ وَكَبِّرُوا، وَصَلُّوا وَتَصَدَّقُوا". ثُمَّ قَالَ "يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ، وَاللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللهِ أَنْ يَزْنِيَ عَبْدُهُ أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهُ، يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ، وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا". (بخاري:1044)

556- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کې لمر ونيول شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم خلکو ته لمونځ ورکړ، اوږد قيام ئې وکړ، بيا ئې رکوع وکړه او اوږده ئې کړه، بيا پورته شو او ډېر ودرېد خو له لومړي قيام نه لنډ، بيا ئې رکوع وکړه، اوږده ئې کړه، خو له لومړۍ رکوع نه لنډه، بيا ئې سجده وکړه، سجدې ئې اوږدې کړې، بيا ئې په دوهم رکعت کې هم د لومړي رکعت په څېر وکړل، بيا له لمانځه په داسې وخت کې فارغ شو چې لمر ښکاره شوی وو (له کسوف وتلی وو)، خلکو ته ئې خطبه وويله، د الله تعالى حمد او ثناء ئې وويله، بيا ئې وفرمايل: (لمر او سپوږمۍ د الله تعالى له نښو دوه نښې دي، د چا د مرګ يا ژوند له امله نه نيول کېږي، کله چې مو نيولى وليد، نو خداى ته دعاء کوئ، تکبير وايئ، لمونځ کوئ او صدقه ورکوئ). بيا ئې وفرمايل: (اې د محمد امته! قسم په خداى چې هيڅوک تر الله تعالى زيات غيرت کوونکى نه دئ، هغه مهال چې مريى يا وينځه ئې زنا کوي، اې د محمد امته! قسم په خداى که

تاسي په هغه څه پوه شئ چي زه پرې پوهېږم، نو لږ به خاندئ او ډېر به ژاړئ).

تکرار: 1046، 1047، 1050، 1056، 1058، 1064، 1065، 1066، 1212، 3203، 4624، 5221، 6631

توپیر: په یوه کي فَقَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ، ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ وَهْوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ، وَهْوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ، ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ، ثُمَّ فَعَلَ فِى الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ مَا فَعَلَ فِى الأُولَى، ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ، په بل کي فَكَبَّرَ فَاقْتَرَأَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قِرَاءَةً طَوِيلَةً، ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً، ثُمَّ قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. فَقَامَ وَلَمْ يَسْجُدْ، وَقَرَأَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً، هِىَ أَدْنَى مِنَ الْقِرَاءَةِ الأُولَى، ثُمَّ كَبَّرَ وَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً، وَهْوَ أَدْنَى مِنَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ، ثُمَّ قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ. ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ قَالَ فِى الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِثْلَ ذَلِكَ، فَاسْتَكْمَلَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِى أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ، وَانْجَلَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ، په بل کي فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً، ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً، وَهْوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً، وَهْوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ فَسَجَدَ، ثُمَّ قَامَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً، وَهْوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهْوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ، ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهْوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهْوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ فَسَجَدَ وَانْصَرَفَ، په بل کي فَصَلَّى بِالنَّاسِ، فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ، وَهْىَ دُونَ قِرَاءَتِهِ الأُولَى، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ دُونَ رُكُوعِهِ الأَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ

قَامَ فَصَنَعَ فِی الرَّکْعَةِ الثَّانِیَةِ مِثْلَ ذَلِكَ، په بل کي صَلَّی بِهِمْ فِی کُسُوفِ الشَّمْسِ أَرْبَعَ رَکَعَاتٍ فِی سَجْدَتَیْنِ، الأَوَّلُ الأَوَّلُ أَطْوَلُ، په بل کي فَقَرَأَ سُورَةً طَوِیلَةً، ثُمَّ رَکَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ اسْتَفْتَحَ بِسُورَةٍ أُخْرَی، ثُمَّ رَکَعَ حَتَّی قَضَاهَا وَسَجَدَ، ثُمَّ فَعَلَ ذَلِكَ فِی الثَّانِیَةِ او په بل کي فَصَلَّی أَرْبَعَ رَکَعَاتٍ فِی رَکْعَتَیْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ راغلي. لکه چي ګورئ په دې روایاتو کي جدي تعارضات تر سترګو کېږي، ځیني د کسوف لمونځ دوه رکعته، څلور رکوع او څلور سجدې ګڼي او ځیني ئې څلور رکوع او دوه سجدې ګڼي، ځیني وایي په هر رکعت کي ئې یوه یوه سجده کړې او ځیني وایي دوه دوه سجدې ئې کړې، ځیني ئې وایي چي په دوو رکعتو کي ئې څلور رکوع ګاني او څلور سجدې کړې دي. نورو روایاتو ته په پام سره ویلی شو چي د کسوف لمونځ دوه رکعته دئ، د نورو لمونځونو په څېر دئ، نه ئې د رکوع ګانو او سجدو شمېر له نورو توپیر لري او نه ئې د تکبیرونو شمېر.

د لاندي روایت له مخي معلومېږي چي دا لمونځ د سحر د فرض لمانځه په څېر وو، ځکه کسوف غرمه واقع شوی، او تر مخکي آخري لمونځ د سحر لمونځ وو او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي چي د کسوف لمونځ مو د وروستي لمونځ په څېر کړئ، روایت دا دئ:

حَدَّثَنَا مُوسَی بْنُ إِسْمَاعِیلَ حَدَّثَنَا وُهَیْبٌ حَدَّثَنَا أَیُّوبُ عَنْ أَبِی قِلاَبَةَ عَنْ قَبِیصَةَ الْهِلاَلِیِّ قَالَ کُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَی عَهْدِ رَسُولِ اللهِ-صلی الله علیه وسلم- فَخَرَجَ فَزِعًا یَجُرُّ ثَوْبَهُ وَأَنَا مَعَهُ یَوْمَئِذٍ بِالْمَدِینَةِ فَصَلَّی رَکْعَتَیْنِ فَأَطَالَ فِیهِمَا الْقِیَامَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَانْجَلَتْ فَقَالَ "إِنَّمَا

هَذِهِ الآيَاتُ يُخَوِّفُ اللهُ بِهَا فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَصَلُّوا كَأَحْدَثِ صَلاَةٍ صَلَّيْتُمُوهَا مِنَ الْمَكْتُوبَةِ". رواه ابو داؤد، نسائي، بيهقي، احمد و غيره

(٣) باب: د کسوف د لمانځه لپاره نداء

557- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ قَالَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ سَلاَّمِ بْنِ أَبِي سَلاَّمٍ الْحَبَشِيُّ الدِّمَشْقِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ الزُّهْرِيُّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ لَمَّا كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم نُودِيَ إِنَّ الصَّلاَةَ جَامِعَةٌ. (بخاري:1045)

557- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کي لمر ونيول شو، نو ږغ وشو چي په جمع لمونځ کيږي.

تکرار: 1051

توپير: په بل کي دا الفاظ پرې اضافه شوي: فَرَكَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم رَكْعَتَيْنِ فِى سَجْدَةٍ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِى سَجْدَةٍ، ثُمَّ جَلَسَ، ثُمَّ جُلِّىَ عَنِ الشَّمْسِ. قَالَ وَقَالَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها مَا سَجَدْتُ سُجُودًا قَطُّ كَانَ أَطْوَلَ مِنْهَا.

(٤) باب: د کسوف په لمانځه کي د قبر له عذابه پناه غوښتل

558- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم

أَنَّ يَهُودِيَّةً جَاءَتْ تَسْأَلُهَا فَقَالَتْ لَهَا أَعَاذَكِ الله مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم أَيُعَذَّبُ النَّاسُ فِي قُبُورِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَائِذًا بِالله مِنْ ذَلِكَ ثُمَّ ذَكَرَتْ حَدِيثَ الْكُسُوْفِ ثُمَّ قَالَتْ فِيْ آخِرِهِ: ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَتَعَوَّذُوا مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (بخاري:1049)

558- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې يوه يهودۍ ښځه ورته راغله، سوال ئې ترې کاوو (څه ئې ترې غوښتل) او عائشې رضي الله عنها ته ئې وويل: الله تعالى دي د قبر له عذابه ساته، بيا عائشې رضي الله عنها له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړه چې آيا خلک به په قبرونو کي تعذيب کيږي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د قبر له عذابه خداى ته پناه وړم، بيا عائشې رضي الله عنها د کسوف حديث نقل کړى چې په پاى کي ئې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم خلکو ته امر وکړ چې د قبر له عذابه پناه وغواړئ.

تکرار: 1055، 1372، 6366

توپير: په يوه کي أَنَّ يَهُودِيَّةً جَاءَتْ تَسْأَلُهَا فَقَالَتْ لَهَا أَعَاذَكِ الله مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، په بل کي أَنَّ يَهُودِيَّةً جَاءَتْ تَسْأَلُهَا فَقَالَتْ أَعَاذَكِ الله مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، په بل کي فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُولَ الله إِنَّ عَجُوزَيْنِ... وَذَكَرْتُ لَهُ، فَقَالَ "صَدَقَتَا، إِنَّهُمْ يُعَذَّبُونَ عَذَابًا تَسْمَعُهُ الْبَهَائِمُ كُلُّهَا، په بل کي دَخَلَتْ عَلَيَّ عَجُوزَانِ مِنْ عُجُزِ يَهُودِ الْمَدِينَةِ فَقَالَتَا لِى إِنَّ أَهْلَ الْقُبُورِ يُعَذَّبُونَ فِى قُبُورِهِمْ، فَكَذَّبْتُهُمَا، وَلَمْ أُنْعِمْ أَنْ أُصَدِّقَهُمَا، فَخَرَجَتَا، په يوه کي فَقَالَ نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ، په بل کي فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم بَعْدُ صَلَّى صَلاَةً إِلاَّ تَعَوَّذَ مِنْ

عَذَابِ الْقَبْرِ راغلي.

لکه چي گورئ په دې روایاتو کي جدي تعارضات لیدل کېږي، ځیني ئې وایي یوه یهودۍ ښځه عائشې رضي الله عنها ته راغله او ځیني ئې وایي چي دوه یهودیاني راغلې.

(٥) باب: د کسوف لمونځ په جمعه اداء کول

559 . عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما ذَكَرَ حَدِيْثَ الْكُسُوْفِ بِطُوْلِهِ ثُمَّ قَالَ: رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ، ثُمَّ رَأَيْنَاكَ كَعْكَعْتَ؟ فقَالَ صلى الله عليه و سلم: "إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ، فَتَنَاوَلْتُ عُنْقُودًا،وَلَوْ أَصَبْتُهُ لأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا، وَأُرِيتُ النَّارَ، فَلَمْ أَرَ مَنْظَرًا كَالْيَوْمِ قَطُّ أَفْظَعَ، وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ". قَالُوا: بِمَ يَا رَسُولَ الله؟ قَالَ: "بِكُفْرِهِنَّ". قِيلَ: يَكْفُرْنَ بِالله؟ قَالَ: "يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، وَيَكْفُرْنَ الإِحْسَانَ، لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ كُلَّهُ، ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا، قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ". (بخاري:1052)

559- ابن عباس رضي الله عنهما د کسوف اوږد حدیث روایت کړی، بیا ئې ویلي: اې رسول الله! ومو لیدلې چي په خپل ځای ولاړ وې څه دي واخیستل، بیا مو ولیدې چي وروسته راغلې؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: (ما جنت ولید، د یوه وږي د رانیولو هڅه مي وکړه، که مي رانیولی وی نو د دنیا تر پایه به مو ترې خوړل، او اور (دوزخ) راوښودل شو او تر نن ورځي مي داسي وېروونکی منظر نه وو لیدلی او ومي لیدل چي ډېری دوزخیان ښځي دي، اصحابو وویل: دا ولي؟یا رسول الله! وئې فرمایل: (د دوی د کفران (ناشکرۍ) له امله) وویل شول: آیا له دې امله چي د خدای کفران او ناشکري کوي؟ وئې فرمایل: (د

خپلو خاوندانو ناشکري کوي، د احسان ناشکري کوي، که له کومي یوې سره ټول عمر نیکي وکړې، خو بیا کله لږ بد درنه ووینې، نو وایي: له تا مي هیڅ خیر نه دئ لیدلی).

تکرار: 29، 431، 748، 3202، 5197

توپیر: شرح ئې په ۲۷ روایت کي وګورئ.

(٦) باب: په کسوف کي د غلام آزادول

560- حَدَّثَنَا رَبِيعُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ لَقَدْ أَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِالْعَتَاقَةِ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ. (بخاري:1054)

560- له اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د کسوف په وخت د غلام آزادولو امر کړی.

تکرار: 86، 184، 922، 1053، 1061، 1235، 1373، 2519، 2520، 7287

توپیر: تفصیل ئې د بخاري په 86، 184، 922 روایاتو کي وګورئ.

(٧) په کسوف کي ذکر

٥٦١- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ الله عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ، فَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَزِعًا، يَخْشَى أَنْ تَكُونَ السَّاعَةُ، فَأَتَى الْمَسْجِدَ، فَصَلَّى بِأَطْوَلِ قِيَامٍ وَرُكُوعٍ وَسُجُودٍ رَأَيْتُهُ قَطُّ يَفْعَلُهُ وَقَالَ "هَذِهِ الآيَاتُ الَّتِي يُرْسِلُ الله لاَ تَكُونُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنْ

يُخَوِّفُ الله بِهِ عِبَادَهُ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ". (بخاري:1059)

٥٦١- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: لمر ونيول شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي په وېره پورته شو لکه چي قيامت کېږي، جومات ته راغى، او لمونځ ئې وکړ په داسي اوږد قيام، اوږدې رکوع او سجدې سره چي په ټول عمر کي مي دومره اوږد لمونځ نه وو ليدلى، او وئې فرمايل: (دا هغه نښي دي چي الله تعالى ئې را لېږي، د چا د مرگ او ژوند له امله ندي، بلکي الله تعالى خپل بندگان پرې وېروي، که مو داسي څه ليدل نو د الله تعالى ذکر، دعاء او استغفار ته بېړه کوئ).

لکه چي گورئ د کسوف په اړه ټول مخکني روايات د هغه کسوف په اړه دي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم زوى په همغه ورځ وفات شوى وو، خو په الفاظو کي ئې بې شمېره توپيرونه او تعارضات تر سترگو کېږي.

(٨) باب: د کسوف په لمانځه کي په لوړ ږغ قرائت

562- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِهْرَانَ قَالَ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ نَمِرٍ سَمِعَ ابْنَ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها جَهَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي صَلاَةِ الْخُسُوفِ بِقِرَاءَتِهِ، فَإِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَتِهِ كَبَّرَ فَرَكَعَ، وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرَّكْعَةِ قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ. ثُمَّ يُعَاوِدُ الْقِرَاءَةَ فِي صَلاَةِ الْكُسُوفِ، أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ. (بخاري:1059)

562- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د خسوف په لمانځه کي

(ترجمة الباب ښيي چې دا کسوف وو) په لوړ ږغ قرائت وکړ، کله چې له قرائت فارغ شو، الله اکبر ئې ووايو او رکوع ئې وکړه، له رکوع چې پورته شو وئې فرمايل: (سمع الله لمن حمده، ربنا ولک الحمد) بيا ئې د کسوف په لمانځه کې بېرته قرائت وکړ، (پدې توګه ئې) په دوو رکعتونو کې څلور رکوع ګاني او څلور سجدې وکړې.

تکرار: 1044، 1046، 1047، 1050، 1056، 1058، 1064، 1066، 1212، 3203، 4624، 5221، 6631

توپير: تفصيل ئې په 556 روايت کې وګورئ.

١٧- د تلاوت د سجدو کتاب

(١) باب: د تلاوت د سجدو او سنتو په اړه ئې

563- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الأَسْوَدَ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ قَرَأَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم النَّجْمَ بِمَكَّةَ فَسَجَدَ فِيهَا، وَسَجَدَ مَنْ مَعَهُ، غَيْرَ شَيْخٍ أَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ وَقَالَ يَكْفِينِي هَذَا. فَرَأَيْتُهُ بَعْدَ ذَلِكَ قُتِلَ كَافِرًا. (بخاري:1067)

563- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په مکه کې د (النجم) سوره ولوسته، نو سجده ئې وکړه، له يوه زاړه سړي پرته نورو ټولو سجده ورسره وکړه، هغه بوډا يو موټی شګې يا خاوري واخيستې او خپل تندي ته ئې پورته کړې او وئې ويل: همدا راته بس ده، ابن مسعود رضي الله عنه وايي:

وروسته مي هغه وليد چي كافر ووژل شو.
تكرار: 1070، 3853، 3972، 4863

توپير: په يوه كي فَسَجَدَ فِيهَا، په بل كي فَسَجَدَ، په بل كي فَسَجَدَ بِهَا، په يوه كي وَسَجَدَ مَنْ مَعَهُ، غَيْرَ شَيْخٍ، په بل كي فَمَا بَقِىَ أَحَدٌ إِلاَّ سَجَدَ، په بل كي فَمَا بَقِىَ أَحَدٌ مِنَ الْقَوْمِ إِلاَّ سَجَدَ، په يوه كي فَأَخَذَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ كَفًّا مِنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ، فَرَفَعَهُ إِلَى وَجْهِهِ وَقَالَ يَكْفِينِى هَذَا، په بل كي إِلاَّ رَجُلٌ رَأَيْتُهُ أَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصًا فَرَفَعَهُ فَسَجَدَ عَلَيْهِ وَقَالَ هَذَا يَكْفِينِى، په بل كي إِلاَّ رَجُلاً رَأَيْتُهُ أَخَذَ كَفًّا مِنْ تُرَابٍ فَسَجَدَ عَلَيْهِ راغلي، د ټولو مطلب دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په مكه كي د النجم سوره ولوسته، سجده ئې وكړه، په غونډي كي چي څوك حاضر ول له يوه سړي پرته ټولو سجده وكړه، هغه يو موټى خاوره، شگه يا وړې تيږي ورپورته كړې او له خپل تندي سره ئې ولگولې او وئې ويل: ما ته همدا كافي ده، چي دا كس په پاى كي كافر مړ شو.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو كي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي له نورو رواياتو سره تعارض لري، په نورو رواياتو كي گورو چي ځيني وايي دا يو كس وروسته مسلمان شوى، ځيني ئې وايي چي د سجدې لپاره ځاى نه موندل كيدو، چا به د بل پر شا سجده كوله او چا به كوم څه راپورته كړ او له خپل تندي سره به ئې ولگولو. دا پېښه د ابن عمر په روايت كي داسي ښودل شوې:

حَدَّثَنَا عُبَيْدٌ الْعِجْلِي، حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الزُّهْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ

بن مُحَمَّدٍ، عَنْ مُصْعَبِ بن ثَابِتٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ: أَنّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَرَأَ النَّجْمَ بِمَكَّةَ فَسَجَدَ النَّاسُ مَعَهُ، حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيَرْفَعُ إِلَى جَبْهَتِهِ شَيْئًا مِنَ الأَرْضِ فَيَسْجُدُ عَلَيْهِ، وَحَتَّى يَسْجُدَ الرَّجُلُ عَلَى الرَّجُلِ.

البته دې ته مو پام وي چي د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کي دا نه دي ويل شوي چي ده دا خبره له چا اورېدلې، ځکه دی خو هغه مهال حاضر نه وو.

دې ته مو هم پام وي چي څوك سجده وکړي نو په دې نه پوهېږي چي څومره نورو خلکو سجده وکړه، او څومرو ونه کړه، په دې اړه هم ډېري پوښتني راولاړي شوې چي کافرانو ولي سجده وکړه؟! په ځواب کي ئې داسي روايات هم مخي ته راځي چي په بشپړه توګه بې بنسټه او موضوعي دي، هغه چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا سوره لوستله، کله چي دې آيت ته راورسېد: (أَفَرَأَيْتُمُ اللاَّتَ وَالْعُزَّى * وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى * النجم: 19-20) نو د مشرکينو دا غږ تر غوږ شو چي: تلك الغرانقة العلى و إن شفاعتهن لترتجى، نو ځکه د سورې په پای کي او هغه مهال چي رسول الله صلى الله عليه و سلم سجده وکړه دوی هم له نورو سره يو ځای سجده وکړه. دا هسي خوشې او مسخره خبري دي چي په يادولو نه ارزي، خو متأسفانه زموږ ځينو ځان په داسي خبرو هم مصروف کړی، خپل او د نورو وخت ئې ضايع کړی. نه د سورې په دغه ځای کي د داسي خبري کولو مجال شته، نه شيطان داسي دئ چي له خلکو سره د دوی په ژبه خبري کوي او داسي خبره په جګ ږغ نورو ته اورولی شي، هغه له دې پرته بل څه نشي کولی چي د خلکو

په زړونو کي وسوسه واچوي او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د داسي خبري نسبت کېدی شي، دلته خو هغه د مشرکینو دروغجن معبودان، لات، عزی او منات غندي او مشرکین د الله تعالی عبادت ته رابلي، د سختو غندلو په ترڅ کي به څنګه دا خبره کېږي چي دا بتان خو د لوړ قدر وړ روحاني مرغان دي چي د شفاعت هیله ئې کېدی شي، اورېدونکي به څنګه د کلکو غندونو په ترڅ کي دا خبري مني؟!!

دا روایت د قرائت د سجدې په اړه راغلی، په دې کي اختلاف دئ چي د تلاوت سجدې څو دي، ځیني ئې لس، ځیني یولس، ځیني دولس، ځیني څورلس، ځیني ئې پنځلس ګڼي، احناف ئې څورلس ګڼي، چي د الأعراف 206، د الرعد 15، د النحل 49، د الاسراء 109، د مریم 58، د الحج 80، د الفرقان 60، د النمل 26، د السجدة 15، د ص 24، د فصلت 38، د النجم 62، د الانشقاق 21 او د العلق19، آیتونه دي.

ځیني سجده فرض ګڼي، ځیني ئې واجب او ځیني ئې سنت، احناف ئې واجب ګڼي، دې ته په پام سره چي د دغو آیتونو له فحوی د سجدې امر او سپارښتنه معلومېږي نو دې ته یوازي د سنت نوم ورکول مناسب نه برېښي، په دې کي هم اختلاف دئ چي آیا سجده یوازي پر تلاوت کوونکي لازمه ده که په اورېدونکي هم، او په دې کي هم چي پر کوم اورېدونکي لازمه ده، هغه چي د تلاوت اورېدو اراده ئې کړې او که هغه هم چي په تصادفي او په غیرعمدي توګه ئې اوري، غوره رأیه دا ده چي دا سجده هم پر هر تلاوت

كوونكي لازمه ده او هم پر هر هغه اورېدونكي چي پوه شي د سجدې آيت تلاوت شوى. په دې اړه هم اختلاف دئ چي د سجدې لپاره قبلې ته مخ اړول او اودس درلودل ضروري دي كه نه، څلور ائمه اودس ضروري بولي، امام بخاري په دې اړه صراحت نه دئ كړى خو له دې روايت او له هغه ئې چي وايي عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به له اودسه پرته سجده كوله معلومېږي چي رأيه ئې همدا ده، امام عامر شعبي چي جليل القدره تابعي دئ او نژدې پنځه سوه صحابه ئې ليدلي او د امام ابوحنيفه استاد دئ او ابن جرير طبري هم په دې رأيه دي چي د سجدې لپاره اودس غوره دئ خو واجب نه دئ، ابن حزم ظاهري او ځيني نور په دې رأيي دي چي سجده كه قبلې ته وي او كه نه وي كه په اوداسه وي يا غير اوداسه جائزه ده. د عدم جواز لپاره ئې مضبوط دليل نه ترسترگو كېږي.

(2) باب: د (ص) سورت سجده

564- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ وَأَبُو النُّعْمَانِ قَالاَ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ (ص) لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ، وَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَسْجُدُ فِيهَا. (بخاري: 1069)

564- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د (ص) په سورې كي سجده له حتمي سجدو نده، خو ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چي د (ص) په سورې كي ئې سجده كوله.

تكرار: 3422

توپير: يوازي دا توپير لري چي، په يوه کي وَقَدْ رَأَيْتُ او په بل کي وَرَأَيْتُ راغلي.

له دې روايت معلومېږي چي په ځينو آيتونو کي سجده لازمي او په ځينو کي مستحب ده. که د سجدې ټولو آيتونو ته ځير شو نو دا راته جوته کېږي چي په ځينو کي تأکيد زيات دئ او په ځينو کي لږ.

(3) باب: له مشرکانو سره د مسلمانانو سجده

565- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ- رضي الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ-صلى الله عليه وسلم- سَجَدَ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالإِنْسُ. (بخاري:1071)

565- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د نجم په سورې کي سجده وکړه او له ده سره مسلمانانو، مشرکانو، پېريانو او انسانانو سجده وکړه.

تکرار: 4862

توپير: دواړه د متن له پلوه سره ورته دي. خو دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، او د متن له پلوه له نورو رواياتو سره تعارض لري، نور روايات وايي چي ځينو سجده ونه کړه او دا روايت وايي چي ټولو سجده وکړه!! څو پوښتني راولاړوي: ابن عباس رضي الله عنهما نه دي ويلي چي دا خبره ئې له چا اورېدلې؟ ځکه دی هغه مهال نه وو، چا ورته ويلي چي پېريانو هم سجده وکړه؟

امام بخاري دا روايت د دې لپاره راوړی چي ثابته کړي د تلاوت سجده له اوداسه پرته جائز ده، خو نه پر داسي غريب روايت استناد صحيح دئ او نه د روايت له متن دا معلومېږي چي بې اودسه سجده جائز ده او نه د مشرك پر سجدې استناد صحيح دئ. دا هم بايد په پام کي ولرو چي د سجدې لپاره د اودس کولو په اړه هم صريح حکم نه مومو.

(4) باب: څوک چي دسجدې آيت ولولي او سجده ونکړي

566- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ أَبُو الرَّبِيعِ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ خُصَيْفَةَ عَنِ ابْنِ قُسَيْطٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَأَلَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ رضي الله عنه فَزَعَمَ أَنَّهُ قَرَأَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم (وَالنَّجْمِ) فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا. (بخاري: 1073)

566- له عطاء بن يسار رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له زيد بن ثابت رضي الله عنه مي پوښتنه وکړه او هغه ګمان وکړ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي ئې د (النجم) سوره ولوسته او رسول الله صلى الله عليه و سلم سجده ونکړه.

تکرار: 1073

توپير: په يوه کي فَزَعَمَ أَنَّهُ قَرَأَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم (وَالنَّجْمِ) فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا او په بل کي قَالَ قَرَأْتُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم (وَالنَّجْمِ) فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا راغلي. دا روايت له هغو سره تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم د النجم سورې په لوستلو سره سجده

وکړه.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او د متن له پلوه له نورو سره تعارض لري، له دې نه يوازي دومره معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه مهال د کوم عذر له مخي سجده نه ده کړې.

(٥) د (انشقاق) سورې سجده

567- حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ وَمُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالاَ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَرَأَ (إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ) فَسَجَدَ بِهَا فَقُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، أَلَمْ أَرَكَ تَسْجُدُ قَالَ لَوْ لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَسْجُدُ لَمْ أَسْجُدْ. (بخاري:1074)

567- له ابو سلمه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ابوهريره رضي الله عنه مي وليد چي د (اذا السماء انشقت) سوره ئې ولوسته، نو سجده ئې وکړه، نو ما ورته وويل: آيا ومي نه ليدې چي سجده دي وکړه؟ وئې ويل: که مي رسول الله صلى الله عليه و سلم نه وی ليدلی چي پدې سورې کي ئې سجده کوله نو ما به هم سجده نه کوله.

تکرار: 766، 768، 1078

توپير: په يوه کي فَقُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، په بل کي فَقُلْتُ لَهُ، په بل کي فَقُلْتُ مَا هَذِهِ، په يوه کي لَوْ لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَسْجُدُ لَمْ أَسْجُدْ، په بل کي سَجَدْتُ خَلْفَ أَبِي الْقَاسِمِ صلى الله عليه و سلم فَلاَ أَزَالُ أَسْجُدُ بِهَا حَتَّى أَلْقَاهُ راغلي.

(٦) باب: څوک چې د سجدې لپاره ځای ونه مومي

568- حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ آدَمَ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ السَّجْدَةَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ فَنَزْدَحِمُ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ. (بخاري:1079)

568- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: کله کله به رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي د سجدې آيت ولوستو چې موږ به ورسره وو، نو ده به هم سجده وکړه او موږ به هم ورسره سجده وکړه، نو داسي ازدحام به مو جوړ کړ چې ځينو به مو د خپل تندي لپاره ځای نه موندو چې سجده پرې وکړي.

تکرار: 1075، 1079

توپير: په يوه کي يَقْرَأُ السَّجْدَةَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ، په بل کي يَقْرَأُ عَلَيْنَا السُّورَةَ فِيهَا السَّجْدَةُ، په بل کي يَقْرَأُ السُّورَةَ الَّتِى فِيهَا السَّجْدَةُ، په يوه کي حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا مَكَانًا لِمَوْضِعِ جَبْهَتِهِ، په بل کي حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ، په بل کي حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا مَوْضِعَ جَبْهَتِهِ راغلي.

دې ته مو پام وي چې په لمانځه کي د سجدې د آيت له لوستلو سره سم بايد سجده وشي، خو که له لمانځه بهر ولوستل شي متصل ئې سجده کول غوره دي خو ځنډول ئې مانع نه لري، د تدريس په وخت کي مناسب دا ده چې د درس په پای کي سجده وشي، ځکه که دا آيت څو ځلي نور هم ولوستل شي همدا يوه سجده ورته کافي ده.

۱۸ـ د قصر لمانځه کتاب

(۱) د قصر لمونځ او د اقامت موده

569- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ عَاصِمٍ وَحُصَيْنٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ أَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم تِسْعَةَ عَشَرَ يَقْصُرُ، فَنَحْنُ إِذَا سَافَرْنَا تِسْعَةَ عَشَرَ قَصَرْنَا، وَإِنْ زِدْنَا أَتْمَمْنَا. (بخاري: 1080)

569- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم نولس ورځي (په مکه کي) پاته شو، او پدې موده کي ئې لمونځ قصر کاوو، او موږ به هم چي کله نولس ورځي په سفر ولاړو نو لمونځ به مو قصر کاوو، او که له نولسو ورځو زيات به پاته کېدو نو لمونځ به مو پوره اداء کاوو.

تکرار: 4298، 4299

توپير: په يوه کي أَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم تِسْعَةَ عَشَرَ يَقْصُرُ، په بل کي أَقَمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي سَفَرٍ تِسْعَ عَشْرَةَ نَقْصُرُ الصَّلاَةَ، په بل کي تِسْعَ عَشْرَةَ يَوْمًا يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، په يوه کي وَنَحْنُ نَقْصُرُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ تِسْعَ عَشْرَةَ، فَإِذَا زِدْنَا أَتْمَمْنَا، په بل کي فَنَحْنُ إِذَا سَافَرْنَا تِسْعَةَ عَشَرَ قَصَرْنَا، وَإِنْ زِدْنَا أَتْمَمْنَا راغلي. مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په سفر کي تر نولسو ورځو پوري د سفر لمونځ (قصر) کړی نو موږ به هم دغسي کول.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري او د متن له پلوه له نورو رواياتو سره تعارض لري، ځيني وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم لس ورځي په مکه کي پاته شوى، ځيني وايي چي اولس ورځي، ځيني وايي پنځلس ورځي او ځيني وايي چي اتلس ورځي پاته شوى. ابن عباس ته درې قوله منسوب دي: نولس ورځي، اتلس ورځي او پنځلس ورځي، دې ته مو پام وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دوه سفرونه مکې ته درلودل: يو ئې د مکې د فتحي سفر او بل ئې د حجة الوداع سفر وو، په لومړي سفر کي ئې په مکه کي پنځلس يا نولس ورځي او په دوهم سفر کي ئې لس ورځي تېري کړې دي، چا چي نولس ورځي ګڼلې ښايي د ننوتلو او وتلو ورځي ئې هم په شمېر کي نيولې وي، احنافو د احتياط لپاره هغه روايت ته ترجيح ورکړې چي دا سفر پنځلس ورځي ګڼي، نو ځکه وايي چي تر هغه يو سړى مسافر ګڼل کيږي چي په يوه ځاى کي تر پنځلسو ورځو پوري د اقامت اراده نه لري. امام بخاري نه دا ويلي چي په دې متعارضو رواياتو کي کوم يو ارجح دئ او نه ئې دې ته اشاره کړې چي په دې اړه نور صحيح روايات هم شته چي له دې سره تعارض لري.

570- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ، فَكَانَ يُصَلِّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ. قُلْتُ أَقَمْتُمْ بِمَكَّةَ شَيْئًا قَالَ أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا. (بخاري:

(1081

570- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره له مدينې د مکې په لوري ووتلو، تر هغه چي مدينې ته راستانه شوو دوه دوه رکعته لمونځ به ئې کاوو، راوي وايي: ما ورته وويل: په مکه کي څومره موده پاته شوئ؟ وئې ويل: هلته مو لس شپې وکړې.

تکرار: 4297

توپير: په يوه کي فَكَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ... أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا، په بل کي أَقَمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم عَشْرًا نَقْصُرُ الصَّلاَةَ راغلي.

بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چي دا کوم سفر وو، مبتدئ لوستونکی په اشتباه کي لويږي چي د اقامت موده لس ورځي ده که نولس؟ کوم روايت صحيح دئ؟ خو د انس رضي الله عنه روايت د حجة الوداع د سفر په اړه دئ چي لس ورځي وو.

(۲) باب: په منى کي لمونځ

571- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ الله قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، وَمَعَ عُثْمَانَ صَدْرًا مِنْ إِمَارَتِهِ ثُمَّ أَتَمَّهَا. (بخاري:1082)

571- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مي په منى کي دوه رکعتي (قصر) لمونځ کړی، همدا راز له ابوبکر رضي الله

عنه، عمر رضي الله عنه او د عثمان رضي الله عنه د خلافت په پيل کي، خو وروسته عثمان رضي الله عنه په منٰى کي لمونځ پوره اداء کاوو.

تکرار: 1655

توپير: په يوه کي قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، په بل کي قال صَلَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، په يوه کي صَدْرًا مِنْ إِمَارَتِهِ ثُمَّ أَتَمَّهَا، په بل کي صَدْرًا مِنْ خِلاَفَتِهِ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم، ابوبکر او عمر رضي الله عنهما او د عثمان رضي الله عنه د امارت په لومړيو کي مو په منٰى کي څلور رکعتي لمونځونه دوه دوه رکعته کړي.

572- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ قَالَ صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم آمَنَ مَا كَانَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ. (بخاري:1083)

572- له حارثه بن وهب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي چي بشپړ امنيت ټينګ وو په منٰى کي دوه رکعتي (قصر) لمونځ راکړ.

تکرار: 1656

توپير: په يوه کي آمَنَ مَا كَانَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، په بل کي وَنَحْنُ أَكْثَرُ مَا كُنَّا قَطُّ وَآمَنُهُ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ راغلي.

مطلب ئې دا دئ چي د قصر لمونځ يوازي د خطر او جنګ په حالت کي نه دئ بلکي په منٰى او د بشپړ امنيت په دوران کي د سفر له امله قصر لمونځ شوی.

573- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنِ الأَعْمَشِ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ صَلَّى بِنَا عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رضي الله عنه بِمِنًى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، فَقِيلَ ذَلِكَ لِعَبْدِ الله بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه فَاسْتَرْجَعَ ثُمَّ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّيْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّيْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، فَلَيْتَ حَظِّى مِنْ أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَانِ مُتَقَبَّلَتَانِ. (بخاري:1084)

573- له عبدالرحمن بن يزيد روايت دئ چي وايي: عثمان رضي الله عنه په منٰى کي موږ ته څلور رکعته لمونځ راکړ، دا خبره عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته وشوه، نو هغه (إنا لله و إنا إليه راجعون) وويل، بيا ئې زياته کړه: ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په منٰى کي دوه رکعته کړي، له ابوبکر رضي الله عنه سره مي هم په منٰى کي دوه رکعته کړي او له عمر رضي الله عنه سره مي په منٰى کي دوه رکعته کړي، کاش له څلورو رکعتونو مي برخه دوه قبول شوي رکعتونه وي.

تکرار: 1657

توپير: په يوه کي فَلَيْتَ حَظِّى مِنْ أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَانِ مُتَقَبَّلَتَانِ او په بل کي فَيَا لَيْتَ حَظِّي مِنْ أَرْبَعِ رَكْعَتَانِ مُتَقَبَّلَتَانِ، په يوه کي ثُمَّ تَفَرَّقَتْ بِكُمُ الطُّرُقُ راغلي او په بل کي نه دي راغلي.

دا روايت د سند له پلوه تر مطلق غريب اوښتی، په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ

چې د عثمان رضي الله عنه په څېر ستر شخصیت ته داسې څه منسوبوي چې منل ئې ګران دي، دا روایت په هغه صورت کې د منلو وړ وو چې لږ تر لږه له ټولو هغو کسانو چې په منٰی کې ئې د عثمان رضي الله عنه په امامت کې لمونځ کړی یو کس بل هم داسې موندل شوی وی چې همدا خبره ئې کړې وی. ځینو محققینو په دې اړه داسې توجیهات کړي چې ښیي عثمان رضي الله عنه په دې او هغه دلیل دا کار کړی، خو هغه توجیهات هم زیات وزن نه لري، ځکه دا روایت وایي چې عثمان رضي الله عنه تر دې د مخه دوه رکعته کول او دا لومړی ځل وو چې په منٰی کې ئې څلور رکعته وکړل. غوره توجیه دا ده چې دا روایت د اعتبار وړ نه دئ.

په دې اړه یو وضاحت ضروري دئ او هغه دا چې آیا په عادي سفر کې د قصر لپاره په قرآن کې کوم شاهد مومو؟ ځکه ځیني داسې ګمان کوي چې د قصر په اړه د قرآن آیت یوازې د خوف په حالت کې د قصر خبره کوي، د عادي سفر لپاره له روایاتو پرته بله مرجع نه مومو، خو حقیقت داسې نه دئ، ښه به وي چې د قرآن هغه آیتونه له نظره تېر کړو چې په لمانځه کې د قصر وینا کوي، آیتونه دا دي:

وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنۡ خِفۡتُمۡ أَن يَفۡتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْۚ إِنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمۡ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ١٠١ النساء: 101

او کله چې په زمکه سفر کوئ، نو په دې کې پر تاسو کومه ګناه نشته چې لمونځ رالنډ کړئ، که دا وېره مو وه چې کافران به مو په فتنه کې واچوي، بې شکه چې کافران

ستاسو څرګند دښمنان دي.

دا آیت وایي: د سفر په حالت کي او هغه وخت چي له دښمن مو څه وېره وي، نو کولی شئ خپل لمونځ رالنډ کړئ، څلور رکعته مو دوه رکعته، رکوع او سجده مو مختصر او قرائت او تسبیحات مو رالنډ کړئ. په قصر کي نوري آسانتیاوي هم شاملي دي چي یوه برخه ئې د البقرې د سورې په 239 آیت کي توضیح شوې.

دلته څو پوښتنو ته باید ځواب ومومو:

په سفر کي د قصر حکم له دغه آیت اخیستل شوی که بله مرجع لري؟

دلته قصر د سفر په وجه جائز شوی که د خوف او خطر په وجه؟

له قصر مراد یوازي د رکعتونو په شمېر کي قصر دئ که د لمانځه په هیئت او کیفیت کي هم او مخکي، وروسته کول ئې هم؟

دغو پوښتنو ته د ځواب موندلو په کار کي لاندي خبري مرسته کوي:

- له آیت معلومېږي چي دلته د خوف او خطر په وجه د قصر اجازه ورکړی شوې.

له همدې آیت معلومېږي چي له قصر د لمانځه په کیفیت او هیئت کي قصر کول هم مراد دي، ځکه دلته په لمانځه کي له یوه ځای بل ځای ته د خوځېدو ذکر او د هغه اجازه راغلې.

- پیغمبر علیه السلام په سفر کي په لمونځونو کي قصر

کړی، تل ئې څلور رکعته نیمائي کړي، په داسي حال کي هم چي د هیڅ خطر وېره نه وه.

- د قصر په اړه له دې پرته بل آیت نه مومو.

له دغو خبرو په ډاګه معلومېږي چي د سفر قصر هم له دې آیت اخیستل شوی او د خوف قصر هم او په قصر کي هم د رکعتونو قصر شامل دئ او هم د هیئت او کیفیت قصر.

د احزابو په جنګ کي چي له سفر پرته د خوف او خطر حالت وو، د قصر دوه صورتونه ګورو: له جمعي پرته یوازي یوازي لمونځ او ځنډول ئې او قضائي ئې اداء کول. ورپسې آیت داسي دئ:

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْۖ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ١٠٢

او که ته له دوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې، نو د دوی یوه ډله دي له تا سره ودرېږي او خپلي وسلې دي ورسره واخلي، نو کله چي ئې سجده وکړه بیا دي له تاسو تر شا شي او هغه بله ډله چي لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دي راشي او له تا سره دي لمونځ وکړي او خپل احتیاطي تدابیر دي ونیسي او اسلحه دي ورسره واخلي، کافران دا خوښوي چي تاسو له خپلو وسلو او مال متاع نه غافل شئ نو په یو واري درباندي رامات شي، خو که له بارانه ځوریدئ یا بیمار وئ نو څه ګناه درباندي نشته چي خپله

وسله کېږدئ، خو احتیاطي تدابیر مو ونیسئ، بې شکه چې الله د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی.

په دې آیت کې د صلوة خوف په اړه بحث شوی، له دې معلومېږي چې د دې سورې دا برخه په داسې وخت کې نازله شوې چې حالات سخت بحراني وو، هره شېبه د دې احتمال او وېره وه چې د مسلمانانو په کوم ټولګي له یوې او بلې خوا نه ناڅاپي برید وشي، دا حالت د احد له جګړې وروسته راپیدا شو او د احزابو په جنګ منتج او د دغې جګړې په پای ته رسېدو سره پای ته ورسېد.

په دې آیت کې د صلوة خوف په اړه لاندې لارښوونې شوې:

- د لمانځه لپاره به خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، یوه به په امام پسې اقتداء کوي او بله به پیره کوي.
- لومړۍ ډله به یو رکعت لمونځ وکړي او له سجدې وروسته به د پیرې لپاره تر شا شي. د لمانځه په وخت کې به خپله وسله له ځان سره لري.
- دوهمه ډله به راشي، اقتداء به وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي. دوی ته ویل شوي چې هم به وسله له ځان سره لري او هم به احتیاطي تدابیر مراعاتوي، دا ځکه چې د پیرې کار بل ته حواله کول د احتیاط تقاضاء کوي، هلته باید لمانځه ته راشي چې نورو د پیرې کار پیل کړی وي.
- لومړۍ ډله به هغه وخت خپل پاته لمونځ تکمیل کړي چې دوهمه ډله له لمانځه فارغ شي او د دوی ځای ونیسي.
- لمونځ هم په دوو برخو وېشل شوی او یوازې یو رکعت ئې یوه برخه ګڼل شوې، له دې معلومېږي چې د سفر او

خطر په وخت کي د قصر لمونځ څلور رکعته نه دئ، یا دوه رکعته دئ یا درې. پیغمبر علیه السلام هم په سفر کي یوازي د ماښام لمونځ درې رکعته او د نورو وختونو دوه دوه رکعته لمونځ کړی.

- دلته د خوف متوسط او منځنی حالت بیان شوی، په کم خطر کي یو ځای جماعت کېدی شي او په زیات خطر کي جماعت پرېښودی شي، یوازي یوازي او حتی د قضاء کولو او وروسته اداء کولو اجازت شوی.
- په دې حالت کي یوازي په هغه صورت کي له ځانه د وسلي لرې کولو اجازه شوې چي یا له وریښت په تکلیف وئ او یا دومره بیمار وئ چي د وسلې له حمل عاجز وئ.

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْۚ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ١٠٣

خو کله چي لمونځ اداء کړئ، نو الله په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کي یادوئ، بیا چي کله مطمئن شئ نو همغه لمونځ اداء کړئ، بې شکه چي دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی.

دلته درې اساسي لاربښووني زموږ مخي ته راځي:

- د سفر او خوف په حالت کي هغه په لمانځه کي قصر په دې جبران کړئ چي په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کي الله یادوئ.
- په قصر کي دا هم شامل وو چي لمونځ مخکي یا وروسته کړئ، دا ځکه چي ورپسې ویل شوي چي د قصر د حالت له ختمېدو وروسته او کله چي مطمئن شوئ نو بیا مکمل لمونځ

په خپل خپل وخت کي اداء کړئ. له دې په څرګنده معلومېږي چي د جمع صلاتين رخصت (د دوو لمونځونو په يوه وخت اداء کولو جواز) هم له دې آيت اخيستل شوی.

- په مخکني آيت کي په دې اړه په ډېر صراحت سره ويل شوي وو چي د سفر او خوف په حالت کي قصر کولی شئ، خو دا نه وه واضح شوې چي په بې خوفه سفر کي به قصر کوئ که نه، خو د دې آيت له فحوی معلومېږي چي په سفر کي به هم قصر کوئ، دا ځکه چي د پوره لمانځه لپاره ئې د اطمئنان شرط وضع کړی، که يوازي د خوف منتفي کېدل مراد وی نو د (اطمئنان) په ځای به ئې د (امن) لفظ راووړ، د خوف په مقابل کي د امن لفظ راځي، لکه د بقرې د سورې په 196 آيت کي چي د خوف منتفي کېدو لپاره د امن لفظ راغلی. او ويل شوي: که په امن کي شوئ نو بيا تر حج نه مخکي د عمرې د اداء کولو حکم دا دئ. په سفر کي که هرڅومره آرام او بې تکليفه سفر وي خو انسان په کي لالهانده او پرېشانه وي او زړه ئې نامطمئن، نو ځکه په سفر کي هم قصر جائز دئ.

د لمانځه لپاره اوقات ټاکل شوي، هر لمونځ په خپل خپل وخت اداء کول فرض دي. مخکنی رخصت د يوه ضرورت له مخي موقت رخصت وو، په عادي حالاتو کي به هر لمونځ په خپل ټاکلي وخت ترسره کوئ. خو د سفر او خوف په حالت کي به دا له خپل ټاکلي وخت لمونځ مخکي يا وروسته کول څنګه وي؟ په دې اړه دوه رأيي دي: د ماسپښين او مازديګر لمونځونه، يو ځای او په يوه وخت کي، يو په بل پسي، په يوه اذان او دوه اقامته اداء کول او د ماښام او

ماخستن لمونځونه همداسي، لکه څنګه چي د حج په دوران کي، په عرفات کي د ماسپښين او مازديګر لمونځونه يو ځای او په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځونه يو ځای اداء کېږي، دوهمه رأيه دا ده چي له حج نه پرته په نورو سفرونو کي د دوو لمونځونو يو ځای کول بايد داسي وي چي يو په خپل آخري وخت کي او بل په خپل لومړني وخت کي همداسي يو ځای اداء شي، دې ته صوري او شکلي جمع صلاتين وايي، دا د احنافو رأيه ده، له احنافو پرته نور ټول مخکنی صورت غوره ګڼي او له دې لحاظه د حج او نورو سفرونو ترمنځ په توپير باور نلري، د دې لپاره څو دلائل وړاندي کوي: 1- د لمونځونو صوري جمع تر دې ډېر ګران کار دئ چي هر لمونځ په خپل خپل وخت او بېل بېل اداء شي، دوه لمونځونه يوه وخت ته رابرابرول او هغه هم په سفر کي ګران کار دئ، قصر او جمع صلاتين خو د تخفيف لپاره دي، د هر لمانځه لپاره پراخ وخت ټاکل شوی، صوري جمع دا پراخوالی او سهولت له منځه وړي او په يوه محدود وخت کي ئې راخلاصه کوي. 2- په سفر کي لمونځ رامخکي کول يا وروسته کول داسي دئ لکه چي د مسافر او مريض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چي روژه بل وخت او د کال نورو ورځو ته وځنډوي، روژه د لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او مريض لپاره ئې دا سهولت ورکړی. 3- د حج په موسم کي دوه جمع صلاتين لرو، يو ئې په عرفات کي د ماسپښين او مازديګر لمونځ د ماسپښين په لومړي وخت کي او بل ئې په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځ د ماخستن په وخت کې، که د حج

په حالت کي او د عرفات او مزدلفې په مقام کي جائز وي نو په نورو وختونو کي خو په اولی درجه جائز دئ.

احناف هم جمع صلاتين جائز ګڼي خو داسي چي مخکنی لمونځ به په خپل آخري وخت کي او وروسته لمونځ به په لومړي وخت کي يو په بل پسي اداء کيږي، دې ته جمع صوري وايي، نور مذاهب جمع حقيقي جائز ګڼي.

په داسي حال کي چي د لمانځه د توقيت په اړه دا آيت ډېره واضحه لارښوونه کوي او په داسي حال کي چي د پيغمبر عليه السلام سنت زموږ مخي ته پروت دئ، هغه مبارك نژدې اتلس زره لمونځونه په مدينه منوره کي کړي، د مدينې په سلګونو او زرګونو اوسېدونکو پنځه وخته اذان اورېدلی، د پيغمبر عليه السلام په امامت کي ئې د جماعت لمونځ ليدلی، د اذان او اقامت الفاظ ئې اورېدلي، د ده او اصحابو د لمانځه کيفيت ئې ليدلی او دا ټول د مدينې مسلمانانو يو په بل پسي له يوه نه بل نسل ته انتقال کړي، خو سره له دې ګورو چي ځيني ټول لمونځونه په يوه وخت کي کول هم جائز ګڼي، له سفر او خطر نه پرته په عادي حالت کي د ورځي پنځه لمونځونه په درې وختونو کي ترسره کول هم جائز ګڼي، ځان ته د اذان خاص الفاظ او د لمانځه خاص ترتيب او ترکيب لري او د خپل مسلك په اړه هومره تعصب لري چي په بل کيفيت او هيئت کي لمونځ ورته لمونځ نه ښکاري، د بل مسلك په امام پسي لمونځ کول جائز نه ګڼي، د هغه په اذان روژه نه ماتوي او حتی هغه مسلمان نه ګڼي. ای کاش ټول امت لږ تر لږه په دغسي واضح مسائلو کي له اختلاف نه لري پاته شوی وی، د قرآن

صریح نص، د پیغمبر واضح سنت او د مدینې د مسلمانانو د لمانځه هیئت او کیفیت ئې د ملاك په حیث منلی وی.

(۳) باب: په څومره واټن سفر کي به قصر کوي

574 . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "لا يَحِلُّ لامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لَيْسَ مَعَهَا حُرْمَةٌ". (بخاري:1088)

574- له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمایلي: (په خدای او د آخرت په ورځي مؤمني ښځي ته روا نده چي بې له محرمه درې ورځنی سفر وکړي).

تکرار: 1087

توپیر: په یوه کي ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ او په بل کي ثَلاَثًا راغلي. د روایت مطلب دا دئ چي ښځي به له شرعي محرم پرته په داسي سفر نه وځي چي درې ورځي مزل وي.

خو دا روایت له یوې خوا له ترجمة الباب سره خاص مناسبت نه لري، ځکه ترجمة الباب د قصر خبره کوي او دا روایت له محرم پرته د ښځي د سفر په اړه دئ. له بلي خوا له هغو روایاتو سره تعارض لري چي د سفر اندازه یوه ورځ او یا یوه ورځ او یوه شپه ګڼي. دا چي په څومره واټن سفر کي قصر جائز دئ، په دې اړه نژدې شل قوله زموږ مخي ته راځي، احنافو د احتیاط لوری غوره کړی او وایي چي د شرعي سفر اندازه درې ورځنی مزل د اوښ او پلي انسان دئ، چي اتلس فرسخه (نږدې 78 کیلومتره) کیږي، په صحابه وو او تابعینو کي دغو شخصیتونو همدا رأیه

درلوده: عثمان بن عفان، ابن مسعود، سويد بن غفلة، حذيفة بن اليمان، أبو قلابة، شريك بن عبد الله، ابن جبير، ابن سيرين، الشعبي، النخعي، الثوري او الحسن بن حي.

(٤) باب: د ماښام لمونځ دي په سفر کي هم درې رکعته وکړي

575- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمٌ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي إِذَا أَعْجَلَهُ السَّيْرُ يُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ فَيُصَلِّيهَا ثَلاثًا، ثُمَّ يُسَلِّمُ، ثُمَّ قَلَّمَا يَلْبَثُ حَتَّى يُقِيمَ الْعِشَاءَ، فَيُصَلِّيهَا رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يُسَلِّمُ، وَلا يُسَبِّحُ بَعْدَ الْعِشَاءِ، حَتَّى يَقُومَ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ. (بخاري:1092)

575- له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مي ليدلی چي که په سفر کي به ئې بيړه درلوده نو د ماښام لمونځ به ئې وروسته کاوو، بيا به ئې درې رکعته کول، وروسته به ئې سلام ګرځاوو، بيا به ئې لږ ځنډ کاوو او د ماخستن لمونځ به ئې پيل کاوو او هغه به ئې دوه رکعته کاوو، بيا به ئې سلام ګرځاوو، او له ماخستن وروسته به ئې تر هغه نفل نه کول چي د شپې په زړه کي به لمانځه ته پورته شو.

تکرار: 1092، 1106، 1109، 1668، 1673، 1805، 3000

توپير: په يوه کي إِذَا أَعْجَلَهُ السَّيْرُ يُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ، په بل کي إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ، په يوه کي فَيُصَلِّيهَا ثَلاثًا، ثُمَّ يُسَلِّمُ، ثُمَّ قَلَّمَا يَلْبَثُ حَتَّى يُقِيمَ الْعِشَاءَ، فَيُصَلِّيهَا رَكْعَتَيْنِ، په

بل کي حَتَّى يَجْمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ، په بل کي وَلاَ يُصَلِّى حَتَّى يُصَلِّىَ بِجَمْعٍ، په بل کي جَمَعَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ، كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بِإِقَامَةٍ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا وَلاَ عَلَى إِثْرِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا راغلي. مطلب ئې دا دئ چي د بيړي په سفر کي به رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماښام لمونځ ځنډاوو او له ماخستن سره به ئې يو ځای په دوه اقامته کاوو، تر منځ به ئې نور لمونځ نه کاوو، له ماخستن وروسته به ئې تر هغه لمونځ نه کاوو چي د شپې به د تهجد لپاره پورته شو.

(5) پر سپرلۍ باندي نفلي لمونځ

576- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّى التَّطَوُّعَ وَهْوَ رَاكِبٌ فِى غَيْرِ الْقِبْلَةِ.

(بخاري: 1094)

576- له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به نفلي لمونځ په سپرلۍ او پرته له دې چي قبلې ته مخ کړي کاوو.

تکرار: 400، 1099، 4140

توپير: په يوه کي كَانَ يُصَلِّى التَّطَوُّعَ وَهْوَ رَاكِبٌ فِى غَيْرِ الْقِبْلَةِ، په بل کي يُصَلِّى عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ، په بل کي كَانَ يُصَلِّى عَلَى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ، په بل کي يُصَلِّى عَلَى رَاحِلَتِهِ، مُتَوَجِّهًا قِبَلَ الْمَشْرِقِ مُتَطَوِّعًا، په يوه کي فَإِذَا أَرَادَ الْفَرِيضَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، په بل کي فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّىَ الْمَكْتُوبَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ راغلي. ګډ مطلب ئې دا دئ چي

رسول الله صلی الله علیه و سلم به د سفر په دوران کي نفل د سپرلۍ په حالت کي او پرته له دې چي قبلې ته مخ واړوي کاوو او د فرض لپاره به له سپرلۍ کوز شو او قبلې ته به ئې مخ کړ.

(6) باب: په خره سپور نفلي لمونځ کول

577- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَبَّانُ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ سِيرِينَ قَالَ اسْتَقْبَلْنَا أَنَسًا حِينَ قَدِمَ مِنَ الشَّأْمِ، فَلَقِينَاهُ بِعَيْنِ التَّمْرِ، فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّى عَلَى حِمَارٍ وَوَجْهُهُ مِنْ ذَا الْجَانِبِ، يَعْنِى عَنْ يَسَارِ الْقِبْلَةِ. فَقُلْتُ رَأَيْتُكَ تُصَلِّى لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ. فَقَالَ لَوْلاَ أَنِّى رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم فَعَلَهُ لَمْ أَفْعَلْهُ. (بخاري: 1100)

577- له ابن سیرین روایت دئ چي وایي: انس رضي الله عنه مي په داسي حال کي ولید چي پر خره سپور وو لمونځ ئې کاوو او مخ ئې د قبلې کیڼ لوري ته وو، ورته ومي ویل: ومي لیدې چي له قبلې بلي خوا ته لمونځ کوې؟ وئې ویل: که مي رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وی لیدلی چي داسي کوي، نو مابه داسي نه وو کړي.

(7) باب: څوک چي په سفر کي له فرضو وروسته سنت ونه کړي

578- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِى ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِى عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَنَّ حَفْصَ بْنَ عَاصِمٍ حَدَّثَهُ قَالَ سَافَرَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما فَقَالَ صَحِبْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم فَلَمْ أَرَهُ يُسَبِّحُ

فِي السَّفَرِ، وَقَالَ الله جَلَّ ذِكْرُهُ (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ). (بخاري:1101)

578- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مي په سفر کي ملګرتيا کړې ده، او نه مي دئ ليدلى چي په سفر کي ئې نفلي لمونځ کړى وي، الله تعالى فرمايي: (د الله د رسول صلى الله عليه وسلم په متابعت کي ستاسو لپاره غوره قدوه او بېلګه ده).

تکرار: 1102

توپير: په يوه کي فَلَمْ أَرَهُ يُسَبِّحُ فِى السَّفَرِ، په بل کي فَكَانَ لاَ يَزِيدُ فِى السَّفَرِ عَلَى رَكْعَتَيْنِ، وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ كَذَلِكَ- رضي الله عنهم راغلي. دا روايت له هغو سره تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سفر په دوران کي نوافل د سپرلۍ له پاسه کول. د دې متعارضو رواياتو تلفيق په دې توګه ممکن دئ چي ومنو کله ئې نوافل کړي او کله ئې نه دي کړي. خو د سحر سنت ئې تل کړي.

(8) باب: په سفر کي نفلي لمونځ

579- وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِى يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِى عَبْدُ الله بْنُ عَامِرٍ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى السُّبْحَةَ بِاللَّيْلِ فِى السَّفَرِ عَلَى ظَهْرِ رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ بِهِ. (بخاري: 1104)

579- له عامر بن ربيعه رضي الله عنه روايت دئ چي پلار ئې ورته ويلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مي ليدلى چي د سفر په حالت کي ئې د شپې له مخي پر خپلي اوښي هغه لوري ته نفل لمونځ کاوو چي ورته مخامخ شوې به وه.

تکرار: 1093، 1097

توپیر: توپیر او شرح ئې په پورتنیو روایاتو کي وګورئ.

(9) باب: په سفر کي د ماښام او ماخستن لمونځونه یو ځای کول

580- وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنِ الْحُسَيْنِ الْمُعَلِّمِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَجْمَعُ بَيْنَ صَلاَةِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ إِذَا كَانَ عَلَى ظَهْرِ سَيْرٍ، وَيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ. (بخاري:1107)

580- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سفر د حرکت دوران کي د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه سره جمع کول همدا راز د ماښام او ماخستن لمونځونه هم.

(10) باب: که څوک د کښېناستو توان نلري نو په ډډه دي لمونځ کوي

581- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ عَبْدِ الله عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي الْحُسَيْنُ الْمُكْتِبُ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَتْ بِي بَوَاسِيرُ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم عَنِ الصَّلاَةِ فَقَالَ "صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ". (بخاري:1117)

581- له عمران بن حصین رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: ما د بواسیرو بیماري درلوده، له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه وئې فرمایل: (

په ولاړه لمونځ کوه، که درېدی نه شوای نو په ناسته ئې وکړه او که د کښېناستلو توان دي هم نه درلود نو په ډډه یا اړخ پروت لمونځ کوه).

تکرار: 1115، 1116

توپیر: په یوه کي إِنْ صَلَّى قَائِمًا فَهْوَ أَفْضَلُ، وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ، وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ، په بل کي مَنْ صَلَّى قَائِمًا فَهْوَ أَفْضَلُ، وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ، وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ او په بل کي صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ راغلي.

دې ته مو پام وي چي که څوك د عذر له امله په ولاړه لمونځ نشي کولی نو په ناسته او ملاسته لمونځ به ئې داسي ګڼل کېږي لکه په ولاړه، بشپړ اجر به ترلاسه کوي.

(11) باب: که چا په ناسته لمونځ کاوو، بیا روغ شو

582- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا لَمْ تَرَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى صَلاَةَ اللَّيْلِ قَاعِدًا قَطُّ حَتَّى أَسَنَّ، فَكَانَ يَقْرَأُ قَاعِدًا حَتَّى إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ، فَقَرَأَ نَحْوًا مِنْ ثَلاَثِينَ آيَةً أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً، ثُمَّ رَكَعَ. (بخاري:1118)

582- له ام المؤمنین عائشة رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: هیڅکله مي رسول الله صلى الله عليه وسلم ندی لیدلی چي په ناسته ئې د شپې لمونځ (تهجد) کړی وي، تر هغه چي عمر ئې زیات شو، نو بیا ئې د تهجد لمونځ په ناسته پیل کړ او چي غوښتل به ئې رکوع وکړي نو وبه درېد،

ديرش يا څلوېښت آيتونه به ئې ولوستل بيا به ئې ركوع وكړه.

تكرار: 1119، 1148، 1161، 1168، 4837

توپير: په يوه كي فَكَانَ يَقْرَأُ قَاعِدًا حَتَّى إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَقَرَأَ نَحْوًا مِنْ ثَلاَثِينَ آيَةً أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً، ثُمَّ رَكَعَ، په بل كي كَانَ يُصَلِّى جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهْوَ جَالِسٌ فَإِذَا بَقِىَ مِنْ قِرَاءَتِهِ نَحْوٌ مِنْ ثَلاَثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَهَا وَهْوَ قَائِمٌ، ثُمَّ يَرْكَعُ ثُمَّ يَسْجُدُ، په بل كي فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ، فَقَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ، په يوه كي حَتَّى أَسَنَّ، په بل كي حَتَّى إِذَا كَبِرَ، په بل كي فَلَمَّا كَثُرَ لَحْمُهُ، په يوه كي دا هم راغلي كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ حَتَّى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ لِمَ تَصْنَعُ هَذَا يَا رَسُولَ الله وَقَدْ غَفَرَ الله لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ "أَفَلاَ أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ عَبْدًا شَكُورًا.

583 . وَعَنْهَا رضي الله عنها فِيْ رِوَايَةٍ: ثُمَّ يَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ، فَإِذَا قَضَى صَلاتَهُ نَظَرَ: فَإِنْ كُنْتُ يَقْظَى تَحَدَّثَ مَعِي، وَإِنْ كُنْتُ نَائِمَةً اضْطَجَعَ. (بخاري: 1119)

583- او له عائشې رضي الله عنها په يوه روايت كي راځي: بيا به ئې په دوهم ركعت كي هم داسي كول، او چي لمونځ به ئې بشپړ كړ، وبه ئې كتل كه زه به ويښه وم خبري به ئې راسره وكړې او كه به ويده وم، نو پر اړخ به پرېووت.

۱۹ـ د تهجد کتاب

۱ـ باب: د شپې تهجد

584- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ أَبِي مُسْلِمٍ عَنْ طَاوُسٍ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ قَالَ "اللهمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ، لَكَ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ، وَوَعْدُكَ الْحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، اللهمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ- أَوْ لاَ إِلَهَ غَيْرُكَ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِالله". (بخاري:1120)

584- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چي د شپې له مخي تهجد ته پاڅېد نو فرمايل به ئې: (اې خدايه! ستايني خاص تالره دي، ته د آسمانونو او زمکي او څه چي په هغوی کي دي قائموونکی يې، او ستايني تا لره دي، د آسمانونو، زمکي او څه چي په دوی کي دي واکمني او پاچايي تا لره ده، او ستايني تالره دي، ته د آسمانونو، زمکي او څه چي په دوی کي دی نور يې، او ستايني تالره دي، ته حق يې، وعدې دي حق دي، له تا سره مخامخيدا حق ده، وينا دي حق ده، جنت

حق دئ، دوزخ حق دئ، نبيان حق دي، محمد صلى الله عليه و سلم حق دئ، قيامت حق دئ، اې خدايه! تا ته تسليم يم، پر تا مي ايمان راوړی، پر تا مي توکل دئ، تا ته مي رجوع کړې، ته مي د نورو په وړاندي حجت يې (ستا په مرسته له دښمن سره مجادله کوم)، تا ته د پرېکړي او فيصلې لپاره درځم، نو ما ته زما مخکنۍ او وروستنۍ، پټي او ښکاره ګناهونه راوبخښه، ته مخکي کوونکی يې او ته وروسته کوونکی يې، له تا پرته بل معبود نشته يا بې له تا بل معبود نشته، د الله له مرستي پرته نه له څه د راګرځېدو وس شته او نه د څه کولو توان.

تکرار: 6317، 7385، 7442، 7499

توپير: د ټولو الفاظ او ترکيب ئې سره ورته دئ يوازي، په يوه کي أَنْتَ إِلَهِی او په بل کي وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّی هم راغلي.

٢- باب: د تهجد فضيلت

585- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ. وَحَدَّثَنِي مَحْمُودٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِي حَيَاةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِذَا رَأَى رُؤْيَا قَصَّهَا عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَرَى رُؤْيَا فَأَقُصَّهَا عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَكُنْتُ غُلاَمًا شَابًّا، وَكُنْتُ أَنَامُ فِي الْمَسْجِدِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَرَأَيْتُ فِي النَّوْمِ كَأَنَّ مَلَكَيْنِ أَخَذَانِي فَذَهَبَا بِي إِلَى النَّارِ فَإِذَا هِيَ مَطْوِيَّةٌ كَطَيِّ الْبِئْرِ، وَإِذَا لَهَا قَرْنَانِ، وَإِذَا فِيهَا أُنَاسٌ

قَدْ عَرَفْتُهُمْ فَجَعَلْتُ أَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ- قَالَ- فَلَقِيَنَا مَلَكٌ آخَرُ فَقَالَ لِي لَمْ تُرَعْ. فَقَصَصْتُهَا عَلَى حَفْصَةَ، فَقَصَّتْهَا حَفْصَةُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم، فَقَالَ: "نِعْمَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللهِ لَوْ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ". فَكَانَ بَعْدُ لا يَنَامُ مِنَ اللَّيْلِ إِلاَّ قَلِيلاً. (بخاري:1121)

585- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند کي به چي چا خوب وليد نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به ئې تېراوو، ما هم هيله درلوده چي خوب ووينم چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ئې تېر کړم، زه هغه وخت ځوان وم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي به په جومات کي ويده کېدلم، خوب مي وليد چي دوې فرشتې مي ونيسي او د دوزخ په لوري مي بوځي، داسي وو لکه جوړ شوی کوهی، چي دوه ښکري (ستنې) ئې وې، او داسي خلک په کي ول چي ما پېژندل، نو دا وينا مي پيل کړه: له اور نه خدای ته پناه وړم، وايي: نو له بلي فرشتې سره مخامخ شوو او هغې راته وويل: مه وېرېږه. دا خوب مي حفصې رضي الله عنها ته ووايو، او هغې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تېر کړ، وئې فرمايل: (عبدالله نېک او غوره سړی دئ، کاش د شپې لمونځ ئې کولی). نو له دې وروسته به عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د شپې ډېر لږ ويده کېدو.

تکرار: 440، 1156، 3738، 3740، 7015، 7028، 7030

توپير: د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

دلته د ابن عمر رضي الله عنهما د خوب يوه برخه راوړل

شوې، بشپړ خوب ئې په 607 روایت کې راغلی.

رسول الله صلی الله علیه و سلم د ده د خوب یوې برخې ته په پام سره ویلي چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ښه سړی دئ، هغه برخه ئې دا وه چې په خوب کې ئې داسې شنه ټوټه په خپل لاس کې لیدلې وه چې د جنت هر ځای ته به ده وغوښتل دا ټوټه به وروالوته. د ده د خوب دوهمه برخه ئې داسې تعبیر کړې چې په ده کې څه کمی شته چې دوو فرشتو غوښتل دوزخ ته ئې بوځي، خو درېیمي ترې خلاص کړ او ده ته ئې وویل: مه وېرېږه. له رؤیا معلومېږي چې دا کمی دومره هم ستر نه وو چې دی ئې د دوزخ وړ ګرځاوو، نو ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم دا د شپې لمانځه ته نه پاڅېدل تعبیر کړی. د خوب تفصیل په 607 روایت کې وګورئ.

له ما سره دا پوښتنه وه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خوب کومې برخې ته په پام سره ویلي چې ابن عمر رضي الله عنه ښه سړی دئ؟ ځواب مې نه موندو، خو هغه مهال چې د خوب تفصیل مې ولوست خپلې پوښتنې ته مې ځواب وموند، ستونزه دا ده چې دلته بخاري ټول خوب نه دئ راوړی بلکې نیمایي او ناقصه برخه ئې راوړې او دا هر چا ته پوښتنې راولاړوي!!

۳- باب: ناروغ ته د تهجد لمونځ پرېښودل

586- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَسْوَدِ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا يَقُولُ اشْتَكَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَةً أَوْ لَيْلَتَيْنِ. (بخاري:1124)

586- له جندب بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغ شو، نو يوه يا دوې شپې د تهجد لپاره ونه پاڅېد.

تكرار: 1125، 4950، 4951، 4983

توپير: په يوه كي اشْتَكَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَةً أَوْ لَيْلَتَيْنِ، په بل كي احْتَبَسَ جِبْرِيلُ صلى الله عليه و سلم عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَبْطَأَ عَلَيْهِ شَيْطَانُهُ. فَنَزَلَتْ (وَالضُّحَى * وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى * مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى)، په بل كي- فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، په يوه كي فَجَاءَتِ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي لأَرْجُو أَنْ يَكُونَ شَيْطَانُكَ قَدْ تَرَكَكَ، لَمْ أَرَهُ قَرِبَكَ مُنْذُ لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، په بل كي قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ الله مَا أُرَى صَاحِبَكَ إِلاَّ أَبْطَأَكَ، په بل كي يَا مُحَمَّدُ مَا أُرَى شَيْطَانَكَ إِلاَّ قَدْ تَرَكَكَ، په يوه كي فَنَزَلَتْ (وَالضُّحَى * وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى * مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى، په بل كي فَنَزَلَتْ (مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى، په بل كي فَأَنْزَلَ الله عَزَّ وَجَلَّ (وَالضُّحَى * وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى * مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو كي يو يو راوي لري، مترادف روايات ئې چي په ځينو برخو كي له دې سره تعارض يا توپير لري په دوو او دريو طبقو كي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي څو بې ځوابه پوښتني راولاړوي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مريضي له امله دوه يا درې شپې تهجد پرېښودی وو او كه جبرئيل عليه السلام ورته نه وو راغلی؟ دا ښځه څوك وه او څنگه پوه شوه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دوه يا

درې شپې تهجد ته نه دئ پاڅېدلی؟ څنګه پوه شوه چې مخکې جبرئیل ورته راتلو او دغه دوه یا درې شپې نه دئ ورته راغلی؟ د شپې له لورې خو هیڅ پردی د بل له حاله نه خبرېږي چې تهجد ته پورته شوی که نه، دا ښځه څنګه پوه شوه؟ د الضحی د سورې له متنه خو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم له ډېر سخت او ستونزمن حالت سره مخامخ وو، په دې سوره کې هغه ته ډاډینه ورکړی شوې چې دا سختي ورځي به همغسې تېرې شي لکه مخکنی، لکه چې مخکې الله تعالی ستا لارښوونه وکړه، یتیم وې مأوا ئې درکړه، ناداره وې شتمن ئې کړې، همداسې به الله تعالی بیا هم د روښانه مستقبل دروازې ستا پر مخ پرانیزي، د یوې ښځې د داسې وینا په ځواب کې د دې سورې د نزول انګېرنه قطعاً پر ځای او مناسبه نه برېښي.

٤- باب: تهجد او نفلو ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم هڅونه

587- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ أَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم طَرَقَهُ وَفَاطِمَةَ بِنْتَ النَّبِيِّ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- لَيْلَةً فَقَالَ "أَلاَ تُصَلِّيَانِ". فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله، أَنْفُسُنَا بِيَدِ الله، فَإِذَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَنَا بَعَثَنَا. فَانْصَرَفَ حِينَ قُلْنَا ذَلِكَ وَلَمْ يَرْجِعْ إِلَيَّ شَيْئًا. ثُمَّ سَمِعْتُهُ وَهْوَ مُوَلٍّ يَضْرِبُ فَخِذَهُ وَهْوَ يَقُولُ "(وَكَانَ الإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلاً)". (بخاري:1127)

587- له علي بن ابي طالب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړ، ما او د رسول الله صلى الله عليه و سلم لور فاطمې رضي الله عنها ته راغى، او وئې فرمايل: (آيا تاسو لمونځ نه كوئ؟) ما ورته وويل: يا رسول الله! زموږ ارواح د خداى په لاس كي دي، كله چي وغواړي موږ راپاڅوي نو راپاڅوي مو، كله چي مو دا خبره وكړه بېرته ستون شو او ما ته ئې هيڅ ځواب رانه كړ، بيا مي د ستنيدو پر مهال او په داسي حال كي چي خپل ورون ئې واهو واورېدل چي فرمايل ئې: (وَكَانَ الإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَىْءٍ جَدَلاً: انسان تر ټولو زيات جدل كوونكى دئ).

تكرار: 4724، 7347، 7465

توپير: په يوه كي أَلاَ تُصَلِّيَانِ، په بل كي أَلاَ تُصَلُّونَ، په يوه كي ثُمَّ سَمِعَهُ وَهْوَ مُدْبِرٌ يَضْرِبُ فَخِذَهُ، په بل كي ثُمَّ سَمِعْتُهُ وَهْوَ مُوَلٍّ يَضْرِبُ فَخِذَهُ راغلي. د روايت مطلب دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې له لوري او د تهجد د لمانځه پر مهال د علي رضي الله عنه كور ته ورغلى، دوى ئې له خوبه راويښ كړي او ورته ويلي ئې دي: آيا لمونځ نه كوئ؟ علي رضي الله عنه په ځواب كي داسي څه ورته ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې ناراضه شوى او د وتلو په وخت كي ئې خپل ورون واهو او ويل ئې: انسان ډېر جګړمار دئ، د علي رضي الله عنه د وينا معنى دا وه: كه خداى غوښتي وى نو موږ به ئې راپاڅولي وو.

588- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ

عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لَيَدَعُ الْعَمَلَ وَهْوَ يُحِبُّ أَنْ يَعْمَلَ بِهِ خَشْيَةَ أَنْ يَعْمَلَ بِهِ النَّاسُ فَيُفْرَضَ عَلَيْهِمْ، وَمَا سَبَّحَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم سُبْحَةَ الضُّحَى قَطُّ، وَإِنِّي لأُسَبِّحُهَا. (بخاري:1128)

588- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به ځيني داسې اعمال پرېښودل چې خوښېدل ئې عمل پرې وکړي، لدې وېرې چې خلک به داسې عمل پرې وکړي چې پرې فرض به شي، او رسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅکله هم د څاښت نفل نه دئ کړی، خو زه د څاښت لمونځ کوم.

تکرار: 1177

توپير: په يوه کې وَمَا سَبَّحَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم سُبْحَةَ الضُّحَى قَطُّ، په بل کې مَا رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم سَبَّحَ سُبْحَةَ الضُّحَى راغلي. دا روايت له ډېرو هغو رواياتو سره تعارض لري چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله هم د څاښت لمونځ کړی او نورو ته ئې هم سپارښتنه کړې ده. ځينو دا تعارض په دې توګه ځواب کړی چې عائشې رضي الله عنها دا حالت نه دئ ليدلی. دا پوښتنه راولاړېږي چې نو عائشې رضي الله عنها ولې د څاښت لمونځ کولو؟ دا کار خو به ئې يوازې په هغه صورت کې کولو چې يا رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلې وی او يا ئې پرې ليدلی وی. دا ابهام هم بايد رفع شي چې آيا د نوافلو په مکرر کولو سره پر چا فرض کېږي؟ ځواب دا دئ چې نه، خو انسان په غلطۍ کې پرېوځي او له مستحب شي فرض جوړ کړي، په دې مصيبت ډېر خلك اخته

دي، ډېر داسي دي چي فرعي او مستحب امور تر فرائضو هم مهم ګڼي، فرائض ترې پاته وي خو په فضائلو او مستحباتو باندي به کلك نښتي وي، هغه چا ته به څه نه وايي چي فرائضو ته اعتناء نه لري خو هغه څوك به په څلورو کتابونو کافر ګڼي چي کوم مستحب ترې پاته شي. ټول ژوند به ئې په فروعي مسائلو کي په بېهوده شخړو او خوشو مناظرو تېر شي او هغه چا ته به د ستر او اساسي دښمن په سترګه ګوري چي له ده سره په فروعي مسائلو کي اختلاف لري خو د خدای او دين ستر ستر دښمنان به ترې پاته وي او د هغوی په ضد به د يوې خبري کولو جسارت هم نه کوي!! د اصلي دښمن له پېژندو به عاجز وي، د الله تعالی په لار کي د جهاد خبره به نه کوي، په ټولني کي په ناخوالو، ظلم، فساد او بې عدالتيو به اعتراض نه کوي، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه به ئې هېره کړې وي خو په دې به مکرر ټينګار کوي چي له لمانځه وروسته دعاء څنګه ده، پايڅې به څومره له بېډيو لوړي ساتو... !!

٥- باب: رسول الله رضي الله عنه به دومره تهجد کاوو چي پښې به ئې وپړسېدلې

589- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ زِيَادٍ قَالَ سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ رضي الله عنه يَقُولُ إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لَيَقُومُ لِيُصَلِّيَ حَتَّى تَرِمُ قَدَمَاهُ أَوْ سَاقَاهُ، فَيُقَالُ لَهُ فَيَقُولُ "أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا". (بخاري:1130)

589- له مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت دئ چي

وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د شپې پاڅېدو او دومره لمونځ به ئې كاوو چې پښې يا پونډۍ به ئې وپړسېدلې او چې پدې اړه به خبره ورته وشوه (د دومره عبادت پوښتنه به ترې وشوه) نو فرمايل به ئې: (آيا يو شكر كوونكى بنده ونه اوسم؟).

تكرار: 4836، 6471

توپير: په يوه كي إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لَيَقُومُ لِيُصَلِّيَ حَتَّى تَرِمُ قَدَمَاهُ أَوْ سَاقَاهُ، په بل كي قَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم حَتَّى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ، په بل كي كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي حَتَّى تَرِمَ- أَوْ تَنْتَفِخَ- قَدَمَاهُ، په يوه كي فَيُقَالُ لَهُ فَيَقُولُ أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا، په بل كي فَقِيلَ لَهُ غَفَرَ الله لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ "أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا راغلي. له دې توپيرونو سره سره ئې مطلب يو دئ او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به كله كله د شپې له لوري دومره لمونځ كاوو چې پښې به ئې وپړسېدې، سره له دې چې الله تعالى هغه ته مخكني او وروستني گناهونه بخښلي وو، خو ده غوښتل د خپل رب يو شاكر بنده وي. دا روايت موږ ته ښيي چې شاكر چا ته ويل كيږي، شاكر هغه دئ چې د الله تعالى د پېرزوينو په بدل كي زيات عبادت كوي.

٦- باب: څوک چې په سحر كي ويده شي

590- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ أَنَّ عَمْرَو بْنَ أَوْسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنهما أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ لَهُ

"أَحَبُّ الصَّلاَةِ إِلَى اللهِ صَلاَةُ دَاوُدَ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ، وَكَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ، وَيَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا". (بخاري:1131)

590- له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته فرمايلي: (خداى ته تر ټولو محبوب لمونځ د داؤد (عليه السلام) لمونځ دئ، او تر ټولو غوره او ګرانه روژه ورته د داؤد (عليه السلام) روژه ده، هغه به نيمه شپه خوب کاوو او په دريمه برخه کي به ئې لمونځ کاوو، بيا به ئې په شپږمه برخه کي بېرته ويده کېدو، يوه ورځ به ئې روژه نيوله او يوه ورځ به روژتي نه وو).

تکرار: 1152، 1153، 1974، 1975، 1976، 1977، 1978، 1979، 1980، 3418، 3419، 3420، 5052، 5053، 5054، 5199، 6134، 6277

توپير: په يوه کي لاَ صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ دَاوُدَ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- شَطْرَ الدَّهْرِ، صُمْ يَوْمًا، وَأَفْطِرْ يَوْمًا، په بل کي أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَقُومُ اللَّيْلَ وَتَصُومُ النَّهَارَ "قُلْتُ إِنِّى أَفْعَلُ ذَلِكَ. قَالَ "فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذَلِكَ هَجَمَتْ عَيْنُكَ وَنَفِهَتْ نَفْسُكَ، وَإِنَّ لِنَفْسِكَ حَقٌّ، وَلأَهْلِكَ حَقٌّ، فَصُمْ وَأَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ، په بل کي إِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا". فَقُلْتُ وَمَا صَوْمُ دَاوُدَ قَالَ نِصْفُ الدَّهْرِ، په بل کي قَالَ فَلاَ تَفْعَلْ، صُمْ وَأَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ، فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ بِحَسْبِكَ أَنْ تَصُومَ كُلَّ شَهْرٍ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنَّ لَكَ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرَ أَمْثَالِهَا، فَإِنَّ ذَلِكَ صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ، په بل کي فَشَدَّدْتُ، فَشُدِّدَ عَلَىَّ، قُلْتُ يَا

رَسُولَ الله، إِنِّى أَجِدُ قُوَّةً. قَالَ فَصُمْ صِيَامَ نَبِيِّ الله دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَلاَ تَزِدْ عَلَيْهِ، په بل کي أُخْبِرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَنِّى أَقُولُ وَالله لأَصُومَنَّ النَّهَارَ، وَلأَقُومَنَّ اللَّيْلَ، مَا عِشْتُ. فَقُلْتُ لَهُ قَدْ قُلْتُهُ بِأَبِى أَنْتَ وَأُمِّى. قَالَ فَإِنَّكَ لاَ تَسْتَطِيعُ ذَلِكَ، فَصُمْ وَ أَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ، وَصُمْ مِنَ الشَّهْرِ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَذَلِكَ مِثْلُ صِيَامِ الدَّهْرِ، په بل کي قَالَ فَصُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمَيْنِ". قُلْتُ إِنِّى أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ فَصُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمًا، په بل کي يَا عَبْدَ الله، لاَ تَكُنْ مِثْلَ فُلاَنٍ، كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ راغلي، د ټولو خلاصه دا ده: کله نفلي روژه نيسئ او کله ئې مه نيسئ، په مياشت کي درې، په اونۍ کي دوه، او تر ټولو زيات ئې دا دي چي يوه ورځ روژه ونيسئ او بله ورځ ئې ونه نيسئ، تر دې ئې مه زياتوئ، ټول عمر روژه نيول جائز نه دي، د شپې د لمانځه غوره بڼه دا ده چي د شپې په درېيمي کي لمانځه ته پاڅئ او په شپږمه کي ئې بېرته ويده شئ. تر دې ئې مه زياتوئ، ځکه ستاسو د ځان، د خپلوانو، مېرمني او مېلمنو حقونه دي، د هغوی حق اداء کول دا تقاضاء لري چي په عبادت کي تر دې زياتوالی ونه کړئ.

591- حَدَّثَنِى عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنِى أَبِى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَشْعَثَ سَمِعْتُ أَبِى قَالَ سَمِعْتُ مَسْرُوقًا قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَىُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتِ الدَّائِمُ. قُلْتُ مَتَى كَانَ يَقُومُ قَالَتْ يَقُومُ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ. (بخاري:1132)

591- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تر ټولو ګران او په زړه

پوري عمل هغه وو چي تلپاته او دائمي به وو، عائشې رضي الله عنها ته وويل شول: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د شپې په كومه برخه كي پاڅېدو؟ وئې ويل: هغه مهال چي چرگانو به بانگونه وكړل.

592- وفي رواية: إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ قَامَ فَصَلَّى. (بخاري:1132)

592- او په بل روايت كي راځي چي عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چي د چرگ ږغ واورېد، نو به پاڅېد او لمونځ به ئې وكړ.

تكرار: 6461، 6462

توپير: په يوه كي قُلْتُ فَأَيَّ حِينٍ كَانَ يَقُومُ او په بل كي قُلْتُ مَتَى كَانَ يَقُومُ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د چرگانو له لومړيو بانگونو سره د تهجد لمانځه ته پاڅېدو.

593- وفي رواية عَنْهَا قَالَتْ: مَا أَلْفَاهُ السَّحَرُ عِنْدِي إِلاَّ نَائِمًا تَعْنِي النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم. (بخاري:1133)

593- او په بل روايت كي له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: هيڅ سباوون رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي نه دئ موندلی چي ويده به نه وو.

دا روايت له هغو سره تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم به له تهجد وروسته يوازي مختصر ډډه ولگوله، پرته له دې چي ويده شي، بيا به د مؤذن له اذان سره پاڅېد، د سحر دوه ركعته لنډ لمونځ به ئې وكړ او بيا به جومات ته ولاړ. د دې متعارضو رواياتو تلفيق داسي دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم كله هغسي كړي او

کله داسې خو د عائشې رضي الله عنها له روایت معلومېږي چې اکثراً له تهجد وروسته ویده شوی، بیا د سحر له اذان سره پاڅېدلی، اودس ئې کړی، دوه رکعته لمونځ ئې کړی، تر لمانځه پوري له ویدېدو پرته په ډډه پرېوتی.

۷- باب: په تهجد کي اوږد قیام

594- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً، فَلَمْ يَزَلْ قَائِمًا حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سَوْءٍ. قُلْنَا وَمَا هَمَمْتَ قَالَ هَمَمْتَ أَنْ أَقْعُدَ وَأَذَرَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم. (بخاري:1135)

594- له ابن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: یوه شپه مي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د شپې لمونځ وکړ، دومره ډېر ولاړ وو چې ما د یوه ناوړه کار اراده وکړه، ورته وویل شول: د څه شي اراده دي وکړه؟ وئې ویل: غوښتل مي کښېنم او رسول الله صلى الله عليه وسلم یوازي پرېږدم.

۸- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تهجد لمونځ څنګه وو؟

595- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو جَمْرَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ كَانَ صَلاَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم ثَلاَثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً. يَعْنِي بِاللَّيْلِ. (بخاري: 1138)

595- له ابن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د شپې له لوري دیارلس

ركعته لمونځ كاوو.

596- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ مُوسَى قَالَ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى مِنَ اللَّيْلِ ثَلاَثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنْهَا الْوِتْرُ وَرَكْعَتَا الْفَجْرِ. (بخاري:1140)

596- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د شپې له لوري دیارلس ركعته لمونځ كاوو چي په دوى كي وتر او د سهار دوه ركعته سنت هم دي.

كه څه هم د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت د عائشې رضي الله عنها د روايت په څېر وضاحت نه لري خو له دواړو معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د شپې له لوري اته ركعته تهجد، درې ركعته وتر او دوه ركعته د سحر سنت كول.

۹- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تهجد او خوب څرنگوالى

596- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِى مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا رضي الله عنه يَقُولُ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ حَتَّى نَظُنَّ أَنْ لاَ يَصُومَ مِنْهُ، وَيَصُومُ حَتَّى نَظُنَّ أَنْ لاَ يُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا، وَكَانَ لاَ تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ وَلاَ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ. (بخاري:1140)

596- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به كومه مياشت دومره بې روژې

وو چي موږ به ګمان وکړ دا مياشت هيڅ روژه نه نيسي، او کومه مياشت به ئې دومره روژې نيولې چي موږ به ګمان وکړ چي هيڅکله به بې روژې نه وي، او که به دي نه غوښتل چي د شپې له مخي ئې د لمانځه په حالت کي ووينې، نو د لمانځه په حالت کي به دې ليدو، او که به دي نه غوښتل چي ويده ئې ووينې، نو ويده به دي ليدو.

تکرار: 1972، 1973،

توپير: په يوه کي کَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ حَتَّى نَظُنَّ أَنْ لاَ يَصُومَ مِنْهُ، وَيَصُومُ حَتَّى نَظُنَّ أَنْ لاَ يُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا، په بل کي مَا كُنْتُ أُحِبُّ أَنْ أَرَاهُ مِنَ الشَّهْرِ صَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتُهُ وَلاَ مُفْطِرًا إِلاَّ رَأَيْتُهُ، په يوه کي وَكَانَ لاَ تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ وَلاَ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ، په بل کي وَلاَ مِنَ اللَّيْلِ قَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتُهُ، وَلاَ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتُهُ راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري او د متن له مخي له ډېرو نورو رواياتو سره تعارض لري. نور روايات وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به دوشنبه او پنجشبه روژه نيوله او د ايام بيض روژې به ئې نيولې.

اما دا چي امام بخاري په دې باب کي ليکي چي د المزمل د سورې لومړۍ برخه (له لومړي تر اتم آيت پوري) د سورې په شلم آيت سره منسوخ شوي، او د دې آيتونو له نزول يو کال وروسته د سورې آخري آيت نازل شو چي په ترڅ کي ئې دا آيتونه منسوخ شول، بايد ووايو:

هغه روايات د منلو نه دي چي وايي: د مزمل د سورې د

لومړۍ برخي له نزول يو کال وروسته ناسخه برخه (د المزمل آخري آيت) نازله شوه، ځکه لومړۍ برخه د مکي دور په لومړيو کي او وروستۍ برخه په مدينه کي او د جهاد له فرضېدو وروسته نازله شوې ده، په دوهمي برخي کي جهاد ته اشاره شوې او همدا په جهاد کي د مجاهدينو مشغولتيا د تخفيف يوه وجه ښودل شوې.

د سورې له متنه معلومېږي چي لومړۍ برخه ئې (له لومړي تر نولسم آيت پوري) په مکه کي او هغه وخت نازله شوې چي د پيغمبر عليه السلام د دعوت لمنه پراخه شوې، د ده ورځني مصروفيتونه ئې زيات کړي، دښمن د خطر احساس کړی، د ده او د ده د يارانو په ځورولو ئې لاس پوري کړی، له يوې خوا درنو مصروفيتونو او له بلي خوا د دښمن ورځ په ورځ زياتېدونکو مخالفتونو له ده تقاضاء کوله چي لا زيات صبر وکړي، خپلي اړيکي له خپل مهربان رب سره لازياتي مضبوطي کړي، په قيام الليل، د شپې په زړه کي د قرآن تلاوت، او د الله تعالی په مسلسل ذکر سره خپل زړه لازيات مضبوط کړي، خپل عزم ټينګ، خپله اراده پخه او خپل عزم او همت لا زيات لوړ کړي.

د سورې دوهمه برخه چي وروستی اوږد آيت احتوا کوي، په مدينه منوره کي او په هغه وخت کي نازله شوې چي د مسلحانه جهاد مرحله پيل شوې وه.

که څه هم دلته خطاب پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ خو د دې لپاره چي د مزمل په لفظ سره خطاب عام شوی نو ځکه ويلی شو چي دا خطاب د قرآن هر مخاطب ته هم راجع دئ، د پيغمبر عليه السلام صحابه وو له دې آيته همدا مطلب

اخیستی، د همدې لپاره ئې په قیام اللیل کي د خپل لارښود ملګرتیا کوله، د دې سورې په شلم آیت کي د دې رأیي په تائید کي څه نښي هم ګورو: هلته لولو چي نه یوازي پیغمبر علیه السلام د شپې دوه برخي، نیمایي او درېیمه برخه په قیام اللیل او د قرآن په تلاوت تېروله بلکي د ده یارانو هم په دې سنت عمل کاوو، او په هماغه آیت کي لولو چي اوس ئې درته عفو وکړه او دا اجازه ئې درکړه چي په دې کي تخفیف وکړئ او هومره تلاوت وکړئ چي درته آسانه وي، که په لومړني آیت کي خطاب عام نه وی او ټول مخاطبین ئې نه احتواء کولی نو باید په شلم آیت کي د جمعي د صیغې (فتاب علیکم) پر ځای د مفرد صیغه (فتاب علیك) او (فاقرءوا) پر ځای (فاقرأ) راغلې وی.

څلور لومړني آیتونه د قیام اللیل په اړه لاندي مطالب هم زموږ مخي ته ږدي:

الف: د شپې پاڅه، له لږ برخي پرته ئې په وېښه، لمونځ او د قرآن په تلاوت تېره کړه، داسي نه چي ټوله شپه دې څادر پر ځان غوړولی او په خوب ئې تېره کړې، د اوږدو اوږدو خوبونو دور تېر شوی، نور نو له ځان جوړوني د غفلت او د ټولني د جریاناتو په اړه د بې اعتنائی مرحله پای ته رسېدلې، له خوبه پاڅه، ملا وتړه.

ب: د شپې نیمایي دي د قیام اللیل لپاره وټاکه، کولی شې چي کله څه پرې زیات کړې او کله څه ترې کم.

ج: قرآن په پوره فصاحت، وضاحت او په بشپړ تأمل او دقت تلاوت کوه، ستا د قیام اللیل تر ټولو مهمه برخه په تأمل او دقت سره د قرآن تلاوت دئ.

په پنځم آیت کي موږ ته ویل شوي چي د (قیام اللیل) ګټه څه ده، ولي تاسو ته د دې سپارښتنه شوې چي د شپې یوه برخه د لمانځه او تلاوت لپاره مختص کړئ؛ وایي: د دې سپارښتني موخه دا ده چي په دې سره ته په قول ثقیل (درنه وینا) د پوهېدو جوګه کېږې، کوم دراك استعداد او حساس ذهن چي د ثقیل قول، درنې وینا او ژور کلام په پېچلو، پراخو او ظریفو ابعادو د ښه او دقیق پوهېدا لپاره ضروري دئ، هغه د همدې قیام اللیل په ترڅ کي په انسان کي وده کوي. له (قول ثقیل) نه مراد قرآن مجید دئ چي د آیتونو محتوی او مفهوم ئې لوړ او ژور، وعدې ئې ګراني، انسان ته چي کوم مسئولیتونه سپاري هغه ډېر ستر ستر او درانه، عمل پرې ګران او د لوړ همت او عزم غوښتونکی، د قرآن له القاء نه مراد یا دا دئ چي خطاب متوجه پیغمبر علیه السلام ته دئ او هغه ته ویل شوي چي په قیام اللیل او د قرآن تلاوت سره به د قرآن د نورو درنو درنو برخو ترلاسه کولو ته لازیات چمتو شې، دا درنې برخي به ډېر ژر پر تا نازلي کړو، او یا ئې مراد دا دئ چي د شپې په زړه کي د قرآن په تلاوت سره به ته د قرآن د آیتونو په ژورو او پراخو معانیو او مفاهیمو لا ښه پوه شې، د قرآن د اسرارو دروازې به ستا پر مخ پرانیستی شي.

د شپږم آیت د (ناشئة) لپاره دوه ترجمې او د همدغو ترجمو له مخي د دې آیت لپاره دوه تفسیرونه مومو:

الف: ځینو (ناشئة) په مصدري معنا اخیستې او آیت ئې داسي ترجمه کړی: دا د شپې پاڅېدا سخته ده (د نفس) ترپښو لاندي کولو په سبب، او ښه محکمه ده د وینا کولو

لپاره. یعني د شپې له خوبه راپاڅېدا ګران کار دئ، په نفس پښه ایښودل او د مشقت منلو ته ئې د تیارولو مترادف ده، او د قرآن د ویلو لپاره مناسب وخت دئ.

ب: خو نورو (ناشئة) په خپلي اصلي معنا، (اسم فاعل) نیولې، او د دوی له نظره د آیت ترجمه او تفسیر داسي دئ: بې شکه چي تر پښو لاندي کولو کي د شپې پاڅېدونکی مضبوط وي او په وینا کي تکړه. یعني د شپې پاڅېدونکی د خبرو مغز ته د رسېدو او په ټولو اړخونو ئې د ښه پوهېدو لپاره جوګه وي او د خپل ما في الضمیر په بیانولو کي ښه تکړه وي.

دا دوهم تعبیر په دوه دلیله دقیق او غوره دئ:

د (ناشئة) اصلي معنا په کي مراعات شوې. دا سمه نه ده چي هسي او له کوم دلیل او مجبوریته پرته د لفظ اصلي معنا پرېږدو او محتمل غیر اصلي معنا ئې اختیار کړو.

د دې لفظ مصدري معنا د دې آیت واضح او روښانه مفهوم نه شي افاده کولی، چا چي دا معنا غوره کړې د آیت د واضح مطلب په بیانولو کي له اشکال سره مخامخ شوي او په تکلف سره توانېدلي چي د فهم وړ تعبیر وړاندي کړی شي، خو دوهمه توجیه هم واضح ده او هم دا آیت له مخکنیو سره همغږي کوي.

د (اشد وَطْـأً) په ارتباط هم د مخکني اختلاف رأی په وجه څو تفسیرونه مومو:

قیام اللیل ګران کار دی، د انسان په نفس ګران تمامیږي، د انسان نفس مهاروي او انسان ته د دې مجال ورکوي چي خپل هوس تر پښو لاندي کړي. دا خبري په خپل خپل ځای

کي سمي دي خو د دې آيت الفاظ دا مفاهيم نه افاده کوي، مگر په ډېر تکلف سره او د الفاظو د اصلي معنا په ځای د غيراصلي معاني راوړلو سره.

د شپې پاڅېدونکی انسان کولی شي د خبرو مغز ته ورسېږي او په ټولو اړخونو ئې ښه وپوهېږي، ذهن ئې حساس شي، ځېرکتيا ئې په برخه شي، او په ژورو خبرو د پوهېدو جوگه شي او د خپل ما في الضمير په بيانولو کي ښه تکړه شي. يعني که څوك غواړي د قرآن په دې باعظمت کتاب پوه شي، د شپې له پلوه دي د هغه تلاوت ته ملا وتړي، او که څوك غواړي د خپل ذهن او فکر خبري په اغېزمنه بڼه کي نورو ته انتقال کړي نو د شپې له پلوه دي هغه ترتيب کړي.

که دا آيت له مخکي او وروسته آيتونو سره په گډه وڅېړو نو په واضح توگه پوهېدی شو چي دوهم تعبير دقيق دئ، دا ځکه چي په مخکني آيت کي د (ثقيل قول) د القاء خبره شوې او دا آيت وايي چي ولي شپه د قرآن د تلاوت لپاره وړ او مناسبه ده، څه مزيت لري او څنگه په دې اړه ستا مرسته کولی شي چي په درنو خبرو پوه شې؟ او د ورځي په نسبت څه امتياز لري؟ په شپه کي کولی شې په ثقيل قول ښه پوه شې، په ټولو ابعادو ئې احاطه وکړې او ژورو برخو ته ئې ورسېږې، او بيا د خپلو انتباهاتو د بيان لپاره مناسب، جامع او ښکلي الفاظ پيدا کړې. که په قيام الليل او د شپې له لوري د قرآن په تلاوت عادت شوې نو د قرآن په اسرارو او رموزو د پوهېدو دروازې به دي په مخکي پرانيستی شي، له قرآن خپل دقيق انتباهات به خپل

ذهن ته مضبوط سپارې او د دغو ژورو انتباهاتو ښه او تکړه ویاند به شې.

قیام اللیل څو امتیازات لري:

الف: فضاء ئې آرامه او خاموشه، ټول په خوب ویده، سکوت هري خوا ته سیوری غوړولی، نه مزاحم غږ چي ستا حواس مصروف کړي، نه جالبي صحنې ځان دربښيي چي سترګي دي جلب او ذهن دي مشغول کړي، حواس دي فارغ او د ذهني تمرکز مناسب فرصت درته میسر، دماغي ستړیا دي رفع او د تفکر لپاره مستعد او چمتو، د ورځي په دوران کي د انسان دماغ سخت مصروف وي، هغه بې شمېره غږونه چي په فضاء کي خواره دي په مسلسله توګه او حتی پرته له دې چي انسان ورته متوجه وي، اوري، تجزیه کوي ئې، خطرناك له ناخطرناکه بېلوي، ډول ډول صحنې او مناظر د سترګو له لاري ویني، دقیق انځور ئې، له لوړو ژورو او رنګونو سره په خپلي حافظې کي ساتي، د غذا په هضمولو او د وجود سلول سلول ته د ضروري توکو د رسولو په کار کي مصروف وي، ټول حواس ئې فعال وي او دماغ ئې مشغول کړی وي، خو په شپه کي ستا دماغ له ډېرو دغو مصروفیتونو فارغ او دې ته چمتو وي چي په ژور غور کولو کي ستا مرسته وکړي.

ب: ستا قیام اللیل ستا د اخلاص او جدیت نښه ده او ښيي چي ته په خپل کار کي جدي یې، د مسئولیت احساس راویښ کړی یې، خپل مأموریت ته په درنه سترګه ګورې، د الله تعالی د راضي کولو په موخه دي د یوه مقدس، اوږد او شاق سفر اراده کړې، د الله تعالی مرستي ته ځان اړ ګڼې، د

شپې په خلوت کي له هغه سره راز او نیاز کوې، د نیازمندۍ لاسونه اوچتوې، له خپل مهربان رب غواړې چي ستا لاربښوونه وکړي، خپل توفیق او عنایت ستا په برخه کړي، ستا اضطراب، پرېشاني، تشویشونه او اندېښنې ختمي کړي، د سمې لاري د پېژندو او په هغې د تلو توفیق درکړي، د همدې لپاره دي د قرآن په وړاندي زنګون په زمکه ایښی او په اسرارو کي ئې د غور لپاره دي د شپې زړه انتخاب کړی، چي نه په کي د ریاء او ځان ښودني شائبه شته او نه دي تلاوت عادي تلاوت، بلکي تلاوت دي داسي په اهتمام سره چي د شپې زړه دي ورته غوره کړی او له خوبه ورته راپاڅېدلی یې، نرم او ګرم بستر دي ورته پرېښی، تر ټولو حساس او مناسب وخت دي ورته غوره کړی. سمیع او علیم خدای هم تا ته رانږدې شوی او درته فرمایي: آیا څوك شته چي بخښنه وغواړي چي بخښنه ورته وکړم؟ آیا کوم توبه کوونکی شته چي توبه ئې قبوله کړم؟ آیا کوم دعاء کوونکی شته چي دعاء ئې اجابت کړم؟

د مزمل د سورې اوم آیت دوه مطالب افاده کوي:

الف: د دې سورې د نزول په وخت کي پیغمبر علیه السلام ډېري مصروفي ورځي درلودې، د دعوت لمن خوره شوې وه او هغه ته ئې زیات مصروفیتونه راپیدا کړي وو.

ب: ورځ داسي وي چي هر انسان په کي په یوه او بل ډول مصروف وي، یا ئې لاس پښې، یا ئې زړه او دماغ، او یا ئې سترګي او غوږونه مصروف وي، دا مصروفیتونه ئې نه پرېږدي چي په ذهني تمرکز او پوره غور سره قضایا وڅېړي او تفکر وکړي.

پیغمبر علیه السلام چي څه ته بلنه ورکوي هغه ژور تفکر ته ضرورت لري، د دې لاري لاروی باید خپل لوری په بصیرت، فراست، غور او دقت سره غوره کړي، هر ګام باید په احتیاط او هوښیارۍ سره اوچت کړي، عمل ئې باید شعوري او انتخابي وي، څوك چي غواړي د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا وکړي او د ده په لار روان شي باید په خپل ژوند کي د تعمق، تفکر او غور شېبې ولري، قیام اللیل د دغه غور او تفکر فرصت درته برابروي.

هغه قرآن چي د الله تعالی په لوري ستا د سفر توښه، او د دې لاري په لوړو ژورو کي ستا لارښود او ځلانده مشعل دئ، تعمق ته ضرورت لري، څوك چي غواړي د دې ځلانده مشعل حامل او د هغه په رڼا کي د الله تعالی په لوري حرکت وکړي باید تر ټولو مناسب فرصت (د شپې زړه) د هغه د دقیق او ژور تلاوت لپاره انتخاب کړي. ورځني مصروفیتونه انسان نه پرېږدي چي په ثقیل قول سم او دقیقاً پوه شي.

اتم آیت موږ ته لارښوونه کوي چي دا ورځني مصروفیتونه باید د دې باعث نه شي چي خدای هېر کړئ، که د ورځي له پلوه په پوره تعمق او تدبر سره د قرآن د تلاوت مناسب فرصت نه مومئ او د شپې فارغي شېبې مو د دې لپاره غوره کړې، د ورځي په اړدو کي د مصروفیتونو ترڅنګ الله تعالی یادوئ او هیڅ شېبه ترې مه غافله کېږئ.

له تبتل (انقطاع او پرېکون) یا مراد دا دئ چي د شپې په زړه کي خپلي اړیکي له هر څه او هر چا سره غوڅي کړه او په پوره انهماك او دقت د الله تعالی په ذکر او د قرآن په تلاوت لګیا شه. او یا ئې مراد دا دئ چي له بل هر چا طمع

او توقع غوڅه کړه، د الله تعالی له درشل پرته هیڅا ته طمع او امید مه ساته، اتکاء او اتکال دي باید یوازي او یوازي پر الله تعالی وي او انتظار او امید دي یوازي ده ته.

په نهم آیت کي ویل شوي: ستا تبتل باید د هغه رب په لوري وي چي هم ستا رب دئ او هم د مشرق او مغرب رب، هغه چي لمر د ده په اراده د ورځي راخېژي او د شپې پرېوځي، شپه او ورځ د ده په اراده راځي، په عالم کي هر تحول او بدلون د ده له لوري دئ، له ده پرته بل معبود نشته، باید دی خپل وکیل ونیسي او اتکاء او اتکال دي یوازي پر ده وي.

د سورې آخري آیت په مدینه کي نازل شوی چي داسي دئ:

إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرۡضَىٰ وَءَاخَرُونَ يَضۡرِبُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَبۡتَغُونَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُۚ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗاۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٗا وَأَعۡظَمَ أَجۡرٗاۚ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمُۢ ٢٠

بې شکه چي ستا رب پوهېږي چي ته هم نژدې دوه برخي د شپې، او نیمایي او درېیمه ئې پاڅېږې او ستا د ملګرو یوه ډله هم، او الله شپه او ورځ اندازه کوي، پوه شوی چي هیڅکله ئې نه شئ احاطه کولی، نو تاسو ته ئې بخښنه وکړه، نو اوس د قرآن هومره مقدار تلاوت کړئ چي درته آسانه وي، پوه شوی چي ستاسو ځیني به ناروغه وي، او

نور به په زمکه د الله د فضل په لټه کي په سفر وځي، او نور به د الله په لار کي جنګېږي، نو ځکه هومره قرائت وکړئ چي درته آسانه وي، او لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او الله ته ښه پور په پور ورکړئ، او د ځان لپاره چي د ښېګڼي هر څه مخکي لېږئ او د الله په خوا کي ئې بیاموموئ، دا غوره دئ او د اجر له پلوه ستر، او له الله بخښنه وغواړئ، بې شکه چي الله مهربان بخښونکی دئ.

دا آیت چي د دې سورې وروستی او تر ټولو اوږد آیت دئ څو اساسي مطالب زموږ مخي ته ږدي:

الف: معلومېږي چي دا بېله برخه ده او له لومړۍ برخي ډېره وروسته نازله شوې، په لومړۍ برخي کي د قیام اللیل سپارښتنه شوې وه او دلته ویل شوي چي هو؛ تاسو په دې لارښووني عمل وکړ، کله مو نژدې دوه برخي د شپې، کله نیمایي او کله درېیمه برخه په ویښه او قیام اللیل تېروله، له دې پلوه هم معلومېږي چي دا آیت تر مخکنۍ برخي ډېر وروسته نازل شوی چي اوږدوالی ئې مدني سورتونو ته ورته دئ، د لومړۍ برخي آیتونه لنډ لنډ او د مکي سورتونو په څېر دي او دا آیت اوږد او مدني سورتونو ته ورته دئ.

ب ـ د پیغمبر علیه السلام یارانو د سورې په لومړیو آیتونو کي د قیام اللیل په اړه امر ځان ته هم متوجه ګڼلی، د همدې لپاره دوی هم په قیام اللیل کي د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا کوله، او په دې سنت ئې عمل کاوو.

ج: له دې وینا (فتاب علیکم: تاسو ئې وبخښلئ) معلومېږي چي په ابتداء کي د قیام اللیل لارښوونه لزومي او وجوبي او د قرآن هر باایمانه مخاطب ته راجع وه، خو اوس

او د دې آیت له راتلو وروسته تخفیف په کي راغی.

د: د دې تخفیف لپاره څو دلائل بیان شوي:

د دعوت لمن پراخه شوې، په لیکو کي ځوان، زوړ، روغ او بیمار شته، د ضعفاوو او بیمارانو شته والی د دې تقاضاء کوي چي په مخکني حکم کي د مقدار او مورد له اړخه تخفیف راشي، ځیني ترې مستثنی شي او ځینو ته راکم او مختصر شي.

په مدینه منوره کي ستاسو وضع د مکې په څېر نه ده چي نه مو آزادانه سفر کولی شو او نه تجارت او نه د حلال رزق په لټه کي له یوې سیمي بلي ته تګ راتګ، اوس به ځیني سفرونه کوي، په دې تخفیف کي د دوی مشکلات هم په پام کي نیول شوي.

اوس به له جنګونو سره مخامخ کېږئ، ځیني به د الله په لار کي جهاد ته وځي او په سنګرونو کي به پاته کېږي، دوی ته به په قیام اللیل عمل کول ګران وي، د دوی لپاره دا تخفیف راغلی.

هـ: د قتال او جنګیالیو ذکر صریحاً ښیي چي د سورې دا برخه په مدینه منوره کي نازله شوې، د (قتال في سبیل الله) په اړه بحث د مدني سورتونو ځانګړتیا او خصوصیت دئ، د کلام له فحوا معلومېږي چي دا آیت د قتال د إذن له راتلو وروسته او په عملي توګه د قتال له پیل کېدو د مخه نازل شوی.

و: دغو معاذیرو ته په پام سره، ستاسو د قیام اللیل مقدار ستاسو شرائطو او ظروفو ته او ستاسو خپل انتخاب ته پرېښودل شوی، څومره چي درته مقدور او میسور وي

او درباندي ګران نه تمامېږي؛ د قرآن تلاوت وکړئ. که څه هم د قیام اللیل په ارتباط د لمانځه یادونه نه ده شوې او د هغه په ځای د قرآن تلاوت یاد شوی، خو له قیام مراد د تهجد لمونځ دئ، چي دلته د قرائت په نوم یاد شوی. او دا یا په دې خاطر چي د لمانځه یوه ډېره مهمه او اساسي برخه د قرآن تلاوت دئ، او یا په دې خاطر چي قیام اللیل اصلاً د قرآن د تلاوت لپاره دئ خو د لمانځه په حالت کي د هغه تلاوت لازیات اغېزمن او د ثواب ترلاسه کولو ذریعه ده.

ز: د شپې له لوري د قرآن د تلاوت ترڅنګ باید خپل پنځه وخته لمونځونه په سمه توګه اداء کړئ، د خپل مال زکات ورکړئ، له فرض زکات علاوه هم د خپلو شتمنیو څه برخه د الله تعالی په لار کي انفاق کړئ، دا انفاق که مخلصانه وي، له ریاء او غرض پاك او منزه او مخصوصاً د جهاد په چارو کي وي، نو الله تعالی ئې په خپلي ذمې د قرض او پور په څېر نیسي او هغه حتماً خپل پور اداء کوي او څو برابره به ئې بېرته درګرځوي. دا هر څه به د الله تعالی په خوا کي بیامومئ.

ح: څه چي مو د الله تعالی لوري ته لېږلي او هغه ته مو د حسنه پور په توګه ورکړي او د ده په لار کي انفاق سره مو د ده په خوا کي ساتلي، همدا ستاسو تر ټولو غوره مال، او د ستر اجر ترلاسه کولو وسیله ده.

ط: تل له رب بخښنه وغواړئ، په هیڅ حالت کي دا ګمان مه کوئ چي کمال مطلوب او لوړ معنوي مقام ته رسېدلي یئ، پام چي داسي غلطه انګېرنه مو له مخکي تلو راتم نه کړي، په خپل اوسني ځای مو په ټپه ونه دروي، خوځښت

مو متوقف نه کړي، د الله تعالی په لوري تګ او لوړو لوړو معنوي پوړو ته د رسېدو تکل او هڅه مو ټکنۍ نه کړي، په هر حالت او هر مقام کي، که هر څومره لوړ وي، باید د قصور او وروسته پاته کېدو احساس وکړئ، هره شېبه چي پر تا تېرېږي، که څه هم دا دي د الله تعالی په عبادت کي او حتی په جهاد في سبیل الله کي تېره کړې، باید احساس دي دا وي چي په دې شېبو کي دي تر دې زیات څه کولی شوی، د الله تعالی په لوري دي تر دې زیاته فاصله پلې کولی شوی، تر دې مزید لوړ تلی شوی، دا احساس به تاسو د مغفرت غوښتني ته هڅوي، ستا استغفار په حقیقت کي د دې نښه ده چي په تا کي د مزید معنوي ارتقاء، لازیاتي ځان روزني، روحي او اخلاقي تربیت عزم ژوندی او ځواکمن دئ. بخښنه وغواړئ چي ستاسو رب مهربان بخښونکی دئ، نه یوازي دا چي ګناهونه بخښي، بلکي خپل رحمت او پېرزوینه د هغه ګنهګار بنده په برخه کوي چي بخښنه غواړي. د توبه کوونکي بنده په توبې دومره خوښېږي لکه تاسو چي د داسي یو څه په بیا موندلو خوښېږئ چي ژوند مو ورپوري تړلی دئ.

دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چي د المزمل د سورې یوه برخه د بلي برخي په نزول سره نسخ شوې نه ده بلکي یوه ئې په یوه حالت پوري مربوطه ده او بله ئې په بل حالت پوري. پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د تهجد د فرضیت آیت دا نه بلکي دا آیت دئ: **وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ٧٩** * الاسراء: 79

۱۰- باب: د شیطان غوټه د هغه چا د سر شا ته چي

د شپې لمونځ نه کوي

598- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلاَثَ عُقَدٍ، يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ، فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ الله انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلاَّ أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلاَنَ". (بخاري:1142)

598- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (کله چي څوک ويده شي شيطان ئې د سر په شاتنۍ برخي کي درې غوټې غوټه کړي، له هري غوټي سره وايي: شپه دې اوږده، ويده شه، که دا سړی راويښ شي، د الله تعالى ذکر وکړي، نو يوه غوټه پرانيستل شي او که اودس وکړي بله غوټه پرانيستل شي او چي لمونځ وکړي نو بله غوټه پرانيستل شي او سحر تازه او پاك زړی راپاڅيږي، او که نه نو لټ، پريشانه او بد حاله به راپاڅيږي).

تکرار: 3269

توپير: په يوه کي يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ، په بل کي يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ مَكَانَهَا عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ، په يوه کي فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقَدُهُ كُلُّهَا، په بل کي فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ راغلي. الفاظو ته په پام سره دوهم روايت اوضح دئ، ځکه په کي ويل شوي چي شيطان هره غوټه پر خپل خپل ځای وهي او په لمانځه سره ټولي غوټي پرانيستل

شي. که څه هم دا روايت په صحابه وو کي يو راوي لري خو دا مطلب په نورو رواياتو کي هم له ځينو توپيرونو سره راغلی، نژدې ټولو مهمو کتابونو راوړی، د متن له پلوه داسي دئ چي يوې ژوري علمي موضوع ته اشاره کوي، داسي موضوع چي يوازي يو پيغمبر ئې ويلی شي، نن او له ډېرو علمي تحقيقاتو وروسته معلومه شوې چي د انسان خوب همداسي دئ لکه چي په دې مبارك حديث کي ورته اشاره شوې، که د انسان خوب ته ځير شو نو ګورو چي خوب په تدريجي توګه انسان ته راځي او په تدريجي توګه ترې ځي، داسي لکه چي د بدن د هغو برخو سويچونه ئې ورو ورو او يو په بل پسي وهل کېږي چي د انسان په واك کي دي او د ده له حکم او ارادې سره سم عمل کوي، لکه لاسونه، پښې، سترګي، شونډي او ژبه، دا سويچونه د ويدېدو په وخت کي يو په بل پسي بر وهل کېږي او د ويښېدو په وخت کي لاندي، د خوب پر مهال د انسان دماغ؛ په ويني کي د داسي توکي راپيدا کېدو پرېکړه وکړي چي د خوب باعث کېږي، دا ماده د دماغ هغو برخو ته درومي چي همدا غړي اداره کوي، لومړی سترګي پټي شي، بيا د لاس او پښو د خوزولو برخه خپل کار متوقف کړي، ورو ورو انسان په ژور خوب ويده شي، ويښېدا ئې هم همداسي تدريجي وي. د رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې حديث کي دغي ژوري علمي موضوع ته اشاره شوې.

د حديث شارحينو په دې اړه هم بحثونه کړي چي دلته د عقد معنی څه ده؟ په مجازي معنی راغلې که په حقيقي معنی؟ سمه رأيه دا ده چي دا الفاظ په مجازي معنی راغلي،

چي له يوې خوا د انسان د خوب ځرنګوالی انځوروي او له بلې خوا پر انسان د شيطان اغېز او د هغه له اغېز نه د خلاصون ځرنګوالی، شيطان غواړي انسان له خپل ځان او له خپلو مسئوليتونو غافل شي، په ژور خوب ويده شي، که راپاڅېږي نو لټ، بد زړی او بدخوی وي، طبيعت ئې نيولی او تندی ئې تريو، په اوداسه او لمانځه سره هغه غوټې پرانيستل کېږي چي شيطان ئې د انسان ذهن ته اچوي.

۱۱- باب: شيطان د هغه چا په غوږ کي بولي کوي چي له لمانځه پرته ويده شي

599- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ قَالَ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم رَجُلٌ فَقِيلَ مَا زَالَ نَائِمًا حَتَّى أَصْبَحَ مَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ. فَقَالَ "بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنِهِ". (بخاري:1144)

599- له عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندي د يوه سړي يادونه وشوه، وويل شول چي ان تر سهاره ويده وو او (د سهار او ماخستن) لمانځه ته هم ونه پاڅېد، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (شيطان ئې په غوږ کي متيازي کړې دي).

تکرار: 3270

توپير: دواړه سره ورته دي، په بل کي فِي أُذُنَيْهِ هم راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يو يو راوي لري، د راويانو په

لړۍ کي ئې هم ځيني پوښتني راولاړيږي، لکه دا چي، په يوه کي ابوالاحوص (سلام بن سليم) مخامخ له عبدالله بن مسعود روايت کوي او په بل کي له منصور (ابن معتمر)، هغه له ابو وائل (شقيق) او هغه له ابن مسعود، له ابوهريره رضي الله عنه هم دې ته ورته يو روايت راغلی، د متن له پلوه داسي دئ چي شارحينو ئې د الفاظو په اړه بېل بېل تعبيرونه کړي. اهل ظاهر (بال الشيطٰن) په حقيقي معنی نيسي، نور ئې په مجازي معنی او وايي چي مراد ئې د شيطان له لوري دغه انسان ته د غلطو افکارو او خيالاتو القاء ده. دې ته مو هم پام وي چي په خوب کي د انسان غوږونه خپل کار نه متوقف کوي، سويچ ئې په بشپړه توګه بر نه وي وهل شوی؛ بلکي د تيار سی په حالت کي وي، د هر غيرعادي ږغ په وړاندي عکس العمل ښيي، د شيطان القاء هم د غوږونو له لاري نه وي، بلکي د زړه او دماغ له لاري وي.

۱۲- باب: د شپې په وروستۍ برخه کي دعاء او لمونځ

600- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَأَبِي عَبْدِ الله الأَغَرِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ يَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ". (بخاري:1145)

600- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (زموږ رب (الله تعالى) هره شپه د شپې په وروستۍ درېيمي کي د دنيا آسمان ته راکوزېږي او وايي: څوک شته چي دعاء راته وکړي او زه ئې دعاء قبوله کړم، څوک شته چي څه رانه وغواړي او زه ئې ورکړم، څوک شته چي بخښنه رانه وغواړي او زه ئې وبخښم).

تکرار: 6321، 7494

توپير: درې واړه سره ورته دي. مطلب ئې دا دئ چي الله تعالى د هغه بنده دعاء ژر قبلوي چي د شپې په وروستۍ درېيمي کي دعاء کوي. د دې روايت په اړه مو بايد څو خبرو ته پام وي:

دا روايت د سند له پلوه غريب دئ، په صحابه وو کي يو، په تابعينو کي دوه او په تبع تابعينو کي يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي نه يوازي په قرآن کي کوم شاهد ورته نه مومو، بلکي د قرآن له هغو آيتونو سره تعارض لري چي وايي: الله تعالى بنده ته ډېر نژدې دئ، د غاړي تر رګ هم ورنږدې دئ، په هر ځاى کي ورسره دئ، که يوازي وي او که له نورو سره يو ځاى، همداراز په قرآن کي د الله تعالى د نزول او راکوزېدو انګېرنه مشرکينو ته منسوب شوې لکه چي فرمايي:

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٢١٠ البقره:210

آيا دوى له دې پرته د بل څه انتظار نه لري چي الله تعالى او فرشتې د وريځو په سيوري کي ورته راشي او کار پاى ته ورسېږي؟ حال دا چي کارونه ټول الله ته محول کېږي.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ... الانعام: 158
آيا له دې پرته بل انتظار نه لري چې فرشتې او ستا رب ورته راشي؟

په نورو رواياتو کې هم دې ته ورته مطلب نه تر سترګو کېږي، که څه هم عباده بن صامت رضي الله عنه ته داسې يو روايت منسوب شوی خو په سند کې ئې ضعف دئ.

الله تعالی نه په زمان مقيد دئ او نه په مکان محدود، دا د مخلوق ځانګړتيا ده چې د زمان او مکان تابع وي، نه د زمان له قيد وتلی شي او نه د مکان له محدوديت نه، په يوه وخت کې يوازې په يوه ځای کې وي، نه په دوو ځايونو کې او نه په هر ځای کې، که په بل ځای کې راڅرګندېږي نو مخکنی ځای بايد پرېږدي، خو الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ، نه ئې نزول د مخلوق په څېر دئ چې له لوړې لاندې راکوزېږي، نه په خاص مکان مقيد او محدود دئ چې يو ځای وي او بل ځای نه، نه لري والی او نژدې والي د هغه په اړه مطرح دئ، داسې چې نژدې او لري ليدل او اورېدل ورته توپير ولري.

متأسفانه ځيني خلك دلته هم د دې پر ځای چې د نزول کلمه د نورو مواردو په څېر په مجازي معنی ونيسي هغه په حقيقي معنی نيسي او ګمان کوي چې الله تعالی له عرش نه د دنيا آسمان ته راکوزېږي، داسې لکه کوم مخلوق چې له کومې لوړې لاندې ځای ته راکوزېږي!! دوی ته وايو: 1- الله تعالی خو په هر ځای کې له بنده سره دئ، د غاړې تر رګ ورنږدې دئ، ټيټ او جګ ږغ ئې يو شان اوري، هره دعاء ئې قبلوي، نو د دنيا آسمان ته راکوزېدل يعني څه؟ په

دې دواړو کي به کومه خبره منو؟ له موږ سره يو ځای دئ که له لومړي آسمان زموږ ږغ اوري؟ 2- د شپې درېيمه خو تل د زمکي پر سر موجوده وي، دا ګړۍ دلته، بله ګړۍ په ايران کي، بله ګړۍ په سعودي کي... همداسي تر هغه د نړۍ په ګوټ ګوټ کي پاته وي چي څلرويشت ساعته وروسته بيا پر موږ راشي، نو ستاسو د تعبير له مخي خو د دې معنی دا شوه چي الله تعالی څلرويشت ګنټۍ له عرش نه لري په لومړي آسمان کي وي!! نو د نزول مصداق به څه وي؟ 3- د الله تعالی په اړه متشابه الفاظ په هيڅ مورد کي په متبادره معنی نشو اخيستی، که دا غلطي مو وکړه نو الله تعالی به مو له مخلوق سره تشبيه کړی وي او له داسي پوښتنو سره به مخامخ کېږو چي ځواب ئې نشو ويلی.

که ومنو چي ښايي رسول الله صلی الله عليه و سلم به دا خبره کړې وي نو معنی او مراد ئې دا دئ چي الله تعالی د هغه بنده دعاء ژر قبلوي چي د شپې په درېيمي برخي کي الله تعالی ته دعاء کوي.

ما له تحقيق نه مخکي پر دې روايت ډېر ځلي استناد کړی، خو اوس او له تحقيق وروسته دې نتيجي ته رسېدلی يم چي له دې وروسته به هيڅکله پرې استناد نه کوم، له دې وېري چي مبادا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب نه کړم چي هغه نه دي ويلي!!

١٣- باب: د شپې په سر کي ويدېدا او په وروستۍ برخي کي ئې ويښېدا

601- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. وَحَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنَا

شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رضي الله عنها كَيْفَ صَلاَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِاللَّيْلِ قَالَتْ كَانَ يَنَامُ أَوَّلَهُ وَيَقُومُ آخِرَهُ، فَيُصَلِّى ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى فِرَاشِهِ، فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ وَثَبَ، فَإِنْ كَانَ بِهِ حَاجَةٌ اغْتَسَلَ، وَإِلاَّ تَوَضَّأَ وَخَرَجَ. (بخاري:1146)

601- له اسود روايت دئ چي وايي: له عائشې رضي الله عنها مي پوښتنه وکړه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې لمونځ څنګه وو؟ وئې ويل: د شپې په لومړۍ برخي کي به ويده کېدو او په وروستۍ برخي کي به پاڅېدو او لمونځ به ئې کاوو، بيا به بېرته خپل بستر ته ستنېدو، او کله چي به مؤذن (د سحر) اذان وکړ، له خپل ځايه به پورته شو، که به ئې د غسل کولو ضرورت وو غسل به ئې وکړ که نه نو اودس به ئې وکړ او (د لمانځه لپاره به) بهر ووت.

١٤- باب: په روژه کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې عبادت

602- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رضي الله عنها كَيْفَ كَانَتْ صَلاَةُ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِي رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلاَ فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُصَلِّى أَرْبَعًا فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّى أَرْبَعًا فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّى ثَلاَثًا، قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ. فَقَالَ "يَا عَائِشَةُ، إِنَّ عَيْنَىَّ تَنَامَانِ وَلاَ يَنَامُ قَلْبِى". (بخاري:1147)

602- له ابو سلمة بن عبدالرحمن روايت دئ چي وايي: له عائشې رضي الله عنها مي پوښتنه وکړه چي په روژې کي به د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ څنګه وو؟ وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په روژې او نورو وختونو کي له يولس رکعتونو زيات لمونځ نه کاوو، (مطلب ئې د شپې لمونځ دئ)، لومړی به ئې څلور رکعته داسي لمونځ وکړ چي د غوره والي او اوږدوالي پوښتنه ئې مه کوه، ورپسي به ئې څلور رکعته نور وکړل چي د هغې د غوره والي او اوږدوالي پوښتنه هم مه کوه، بيا به ئې درى رکعته نور وکړل، عائشه رضي الله عنها وايي: ما عرض وکړ: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! آيا له وترو مخکي ويده کيږې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (اې عائشې! زما سترګي ويدې کيږي خو زړه مي نه ويده کيږي).

تکرار: 2013، 3569

توپير: درې واړه د الفاظو او محتوى له پلوه سره ورته دي. يوازي په څلورمي طبقې کي ئې راويان بېل بېل دي. له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د تهجد لمونځ دوه دوه رکعته کول، ښايي له څلورو رکعتو به مراد دا وي چي په دوو سلامونو ئې کول خو له څلورو رکعتو وروسته ئې مختصر دمه کوله، او يا دا چي کله کله ئې څلور رکعتونه په يوه سلام کړي. د دې روايت شرح په ۹۷ روايت کي وګورئ.

دې ته مو پام وي چي صحابه وو په شل رکعته تراويح اجماع کړې، د دوى اجماع تر موږ پوري په تواتر رارسېدلې، د دې معنى دا ده چي همدا د سنت مطابق او د

صحابه وو له منهج سره برابر كار دئ، د تراويح غوره طريقه همدا ده چي په جومات كي، په جمع، شل ركعته او هره شپه يو جزء تلاوت شي، عجيبه ده چي ځيني خلك به په پنځمي طبقې كي د يوه كس له لوري غريب روايت مني او سخت به پرې ټينگار كوي خو د صحابه وو له اجماع سره به مخالفت كوي، هغه غريب روايت مني چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم نه د روژې په مياشت كي او نه په نورو وختونو كي تر اتو ركعتو زيات تهجد او تراويح نه دي كړي، خو دا نه مني چي ټولو صحابه وو په شل ركعته تراويح اجماع وكړه او دا شل ركعته تراويح موږ ته په تواتر رارسېدلي!! كه څوك جومات ته تلى نشي او د تراويح لمونځ يوازي كوي، دا ورته غوره ده چي شل ركعته وكړي او يو جزء د قرآن په كي تلاوت كړي، خو كه ئې تر شل ركعته كم اداء كړل او د قرآن لنډ سورتونه ئې په كي تلاوت كړل مه اعتراض پرې كوئ او مه ئې گنهگار گڼئ.

١٥- باب: په عبادت كي مكروه تشدد

603- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَإِذَا حَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ فَقَالَ "مَا هَذَا الْحَبْلُ". قَالُوا هَذَا حَبْلٌ لِزَيْنَبَ فَإِذَا فَتَرَتْ تَعَلَّقَتْ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ، حُلُّوهُ، لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ". بخاري:1150)

603- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم جومات ته ننوت كه گوري

چې د جومات د دوو ستنو تر منځ يوه رسۍ غزېدلې ده، وئې فرمايل: (دا رسۍ د څه لپاره ده؟) اصحابو (رضي الله عنهم) ورته وويل: دا د ام المؤمنين زينب رضي الله عنها رسۍ ده، کله چې په لمانځه کې ستړې شي، نو بيا پدې ځان تکيه کوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (نه) دا رسۍ خلاصه کړئ، ستاسو هر يو دې تر هغه لمونځ کوي چې تکړه وي، خو کله چې ستړی شي نو کښېني دې).

١٦- باب: څوک چې د شپې قيام کوي پرېښودل ئې ورته مکروه دي

604- حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ الْحُسَيْنِ حَدَّثَنَا مُبَشِّرٌ عَنِ الأَوْزَاعِيِّ. وَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله أَخْبَرَنَا الأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الله بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنهما قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "يَا عَبْدَ الله، لاَ تَكُنْ مِثْلَ فُلاَنٍ، كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ". (بخاري:1152)

604- له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: (اې عبدالله! د فلاني غوندي نه شې چې څه وخت ئې د شپې عبادت کاوو بيا ئې پرېښود).

تکرار: 1131، 1153، 1974، 1975، 1976، 1977، 1978، 1979، 1980، 3418، 3419، 3420، 5052، 5053، 5054، 5199، 6134، 6277

توپير: توپيرونه او شرح ئې په 590 روايت کې وګورئ.

۱۷- باب: په شپه کي د پاڅېدونکي او لمونځ کوونکي فضيلت

605- حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ عَنِ الأَوْزَاعِيِّ قَالَ حَدَّثَنِى عُمَيْرُ بْنُ هَانِئٍ قَالَ حَدَّثَنِى جُنَادَةُ بْنُ أَبِى أُمَيَّةَ حَدَّثَنِى عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ. الْحَمْدُ لِلَّهِ، وَسُبْحَانَ الله، وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، وَالله أَكْبَرُ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِالله. ثُمَّ قَالَ اللهمَّ اغْفِرْ لِى. أَوْ دَعَا اسْتُجِيبَ، فَإِنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى قُبِلَتْ صَلاَتُهُ". (بخاري:1154)

605- له عباده بن صامت رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (څوک چي د شپې له خوبه راويښ شي او ووايي: لا إله إلا الله وحده لا شريک له، له الملک و له الحمد و هو على کل شيءٍ قدير، الحمد لله و سبحان الله و لا إله إلا الله و الله اکبر و لا حول و لا قوه الا بالله)، ورپسې دا دعاء وکړي: (اللهم اغفرلي) (اې خدايه! مغفرت راته وکړه) او يا دعاء وکړي نو قبوله به شي او که اودس وکړي او لمونځ وکړي نو لمونځ به ئې قبول شي.

606- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِى الْهَيْثَمُ بْنُ أَبِى سِنَانٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه وَهُوَ يَقْصُصُ فِى قَصَصِهِ وَهُوَ يَذْكُرُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم إِنَّ أَخًا لَكُمْ لاَ يَقُولُ الرَّفَثَ. يَعْنِى بِذَلِكَ عَبْدَ الله بْنَ رَوَاحَةَ

وَفِينَا رَسُولُ الله يَتْلُو كِتَابَهُ إِذَا انْشَقَّ مَعْرُوفٌ مِنَ الْفَجْرِ سَاطِعُ

أَرَانَا الْهُدَى بَعْدَ الْعَمَى فَقُلُوبُنَا بِهِ مُوقِنَاتٌ أَنَّ مَا قَالَ وَاقِعُ
يَبِيتُ يُجَافِي جَنْبَهُ عَنْ فِرَاشِهِ إِذَا اسْتَثْقَلَتْ بِالْمُشْرِكِينَ الْمَضَاجِعُ

(بخاري: 5511)

606- له الْهَيْثَمُ بْنُ أَبِي سنان رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له ابو هريره رضي الله عنه مي هغه مهال واورېدل چي د خپلو قصو په ترڅ کي ئې د رسول الله صلى الله عليه وسلم يادونه وکړه چي فرمايلي ئې دي: (تاسي داسي يو ورور لرئ چي هيڅ بده خبره په خوله نه راوړي) او اشاره ئې عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ته وه، عبدالله رضي الله عنه وايي:

زموږ خوا کي د الله رسول دئ چي کتاب ئې لولي هغه مهال چي د ځلانده سهار رڼا څرګنده شي
له ړوندوالي وروسته ئې د هدايت لار راوښوده نو زړونه مو ډاډه دي چي څه وايي هغه کيږي
شپه چي پرې راشي اړخ ئې له بستر لري وي حال دا چي مشرکان په درانه خوب ويده وي

تکرار: **6151**

توپير: دواړه سره ورته دي.

607- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ رَأَيْتُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم كَأَنَّ بِيَدِى قِطْعَةَ إِسْتَبْرَقٍ، فَكَأَنِّى لاَ أُرِيدُ مَكَانًا مِنَ الْجَنَّةِ إِلاَّ طَارَتْ إِلَيْهِ، وَرَأَيْتُ كَأَنَّ اثْنَيْنِ أَتَيَانِى أَرَادا أَنْ يَذْهَبَا بِى إِلَى النَّارِ فَتَلَقَّاهُمَا مَلَكٌ فَقَالَ لَمْ تُرَعْ خَلِّيَا عَنْهُ. (بخاري: 1156)

607- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د

رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کي مي داسي خوب وليد چي په لاس کي مي يوه وريښمينه ټوټه وي، ځان داسي ګورم لکه چي د جنت هر ځای ته وغواړم دا ټوټه هملته والوزي، او ومي ليدل چي دوه کسان راته راغلل غوښتل ئې دوزخ ته مي بوځي، نو يوه فرشته ورسره مخامخ شوه، ما ته ئې وويل: مه وېرېږه، دوی ته ئې وويل: پرې ئې ږدئ.

له دې روايت معلومېږي چي په 585 روايت کي راغلی خوب د دې خوب يوه برخه ده، هلته په ناقصه بڼه کي راغلی. شرح ئې هلته وګورئ.

۱۸- باب: استخاره او دوه رکعتي نفل

608- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الْمَوَالِي عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله رضي الله عنهما قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُعَلِّمُنَا الِاسْتِخَارَةَ فِي الأُمُورِ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ "إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ ثُمَّ لِيَقُلِ اللهمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ، اللهمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي- أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ- فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي- أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ- فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي- قَالَ- وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ". (بخاری:1166)

608- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په ټولو کارونو کي د استخارې ښوونه راته کوله، داسي لکه چي د قرآن يوه سوره به ئې رازده کوله، ويل به ئې: که له تاسو چا د کوم کار د تر سره کولو اراده وکړه نو دوه رکعته لمونځ دي وکړي، بيا دي دا دعاء وکړي: اللهم... خدايه! زه ستا په علم سره خير (ښېګڼه) درنه غواړم (هغه ښېګڼه چي ته ښه پرې پوهېږې)، او ستا په قدرت سره توانمني درنه غواړم (ته په خپل قدرت سره ما ته توان او قدرت را)، ستا د لوی کرم او فضل غوښتنه درنه کوم، بې شکه چي ته توانېږي (توانمن يې) او زه ناتوانه، ته پوهېږي او زه نه پوهېږم، او ته په ټولو پټو شيانو بشپړ علم لرې، اې خدايه! که ته دا کار زما په خير بولې، زما د دين، ژوند او وروستي برخليک لپاره (ګټور درته ښکاري)، او يا دي داسي ووايي: که زما د حال او راتلونکې لپاره ئې ګټور شمېرې، نو همدا راته مقدور او ممکن کړه، او راته آسانه ئې کړه، بيا په هغه کي برکت راته واچوه، او که ته دا کار زما په شر او زيان ګڼې، زما د دين، ژوند او وروستي برخليک لپاره (ئې ګټور نه شمېرې)، او يا دي ووايي: که زما د حال او راتلونکې لپاره (ئې مفيد نه بولې)، نو رانه وئې ګرځوه، او ما هم ترې په شا کړه، او خير چي هر ځای او په هر څه کي وي ما ته ئې مقدور او ممکن کړه او بيا مي پرې راضي کړه، وئې فرمايل: بيا دي خپل حاجت (مطلوب کار) ذکر کړي.

تکرار: 6382، 7390

توپير: په يوه کي فِى الأُمُورِ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، په بل کي يُعَلِّمُنَا الاِسْتِخَارَةَ فِى الأُمُورِ كُلِّهَا كَالسُّورَةِ

مِنَ الْقُرْآنِ، په بل کي يُعَلِّمُ أَصْحَابَهُ الاِسْتِخَارَةَ فِى الأُمُورِ كُلِّهَا، په يوه کي إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ، په بل کي إِذَا هَمَّ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ، په يوه کي ثُمَّ لِيَقُلِ، په بل کي ثُمَّ يَقُولُ راغلي.

ځيني داسي ګمان کوي چي ښايي استخاره به د دې لپاره وي چي د يوه کار له پايلو او عواقبو د خوب له لاري خبر کړی شي!! حال دا چي استخاره الله تعالی ته د دغو غوښتنو په اړه دعاء ده: د هغه خير غوښتنه چي الله تعالی ئې د ده په خير ګڼي، د خير په کار کي توفيق او توانمني، د خير پر کارونو رضايت، له ضرري او تاواني کارونو انصراف او ډډه کول، کېدی شي د دې دعاء له امله الله تعالی هغه ته په خوب کي لاربښوونه وکړي، يا ئې په ويښه زړه هغه کار ته متمايل کړي چي د ده د دنيا او آخرت په ګټه وي او له هغه کاره ئې زړه توری کړی چي د ده په ضرر وي. دې ته مو پام وي چي استخاره په داسي کارونو کي ده چي انسان ته ئې ګټه او تاوان معلوم نه وي، نه پوهېږي د دې کار کول به ورته ګټور وي او که پرېښودل ئې، د کومو کارونو په اړه چي شريعت په څرګندو الفاظو وضاحت کړی، په هغوی کي د استخارې ضرورت نشته. د شريعت حلال به حلال ګڼو او حرام حرام، د شريعت په اوامرو به عمل کوو او له نواهيو به ځان لري ساتو. په دې به مو کلك باور وي چي په حرام کي ګټه نشته او په حلال کي تاوان نشته.

١٩- باب: د سهار د دوو ركعتونو التزام او چا چي نفل نومولي دي

609- حَدَّثَنَا بَيَانُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَلَى شَىْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ مِنْهُ تَعَاهُدًا عَلَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ. (بخاري:1163)

609 - له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم په هيڅ نفلي لمونځ باندي دومره التزام نه درلود لكه د سهار په دوو ركعتونو (سنتو) باندي.

نفل په اصل كي اضافي شي ته وايي، په لغوي معنى ټول هغه لمونځونه نفل ګڼل كيږي چي له فرضو علاوه وي، خو فقهاءو د دغو لمونځونو اهميت او د دوى په اړه تأكيد ته په پام سره په نفل، سنت او واجب سره نومولي.

٢٠- باب: هغه چي د سهار په دوو ركعتونو (سنتو) كي لوستل كيږي

610- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَمَّتِهِ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ح وَحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى- هُوَ ابْنُ سَعِيدٍ- عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُخَفِّفُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الصُّبْحِ حَتَّى إِنِّى لأَقُولُ هَلْ قَرَأَ بِأُمِّ الْكِتَابِ. (بخاري:1165)

610- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سهار له فرض لمانځه مخکي دوه رکعته (سنت) دومره لنډ اداء کول چي ما به ويل فاتحه به ئې په کي لوستې وي او که څنګه؟

لکه چي ګورئ دلته بخاري د دې روايت لپاره د راويانو دوه سلسلې بيان کړې دي، دواړه له محمد بن عبدالرحمن رضي الله عنهما وروسته توپير لري، که دا کار ئې نه وی کړی نو دا روايت به ئې هم دوه ځلي راوړی وو، که بخاري دا کار د ټولو رواياتو په اړه کړی وی نو د بخاري د کتاب له اوو برخو به پنځه برخي راکمي شوې وې. دا کار له لوستونکي سره هم مرسته کوي چي پوه شي روايت د سند له مخي څنګه دئ او په هره طبقه کي څومره راويان لري.

۲۱- باب: په کور کي د څاښت لمونځ

611- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْجُرَيْرِيُّ- هُوَ ابْنُ فَرُّوخَ- عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلاَثٍ لاَ أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلاَةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ. (بخاري:1178)

611- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: دوست مي (رسول الله صلى الله عليه وسلم) د دريو شيانو امر راته کړی چي د مرګ تر ورځي به ئې پرېنږدم: هره مياشت درې ورځي روژه، د څاښت لمونځ او له وترو وروسته ويده کېدل.

تکرار: **1981**

توپير: په يوه کي أَوْصَانِى خَلِيلِى بِثَلاَثٍ لاَ أَدَعُهُنَّ حَتَّى

أَمُوتَ صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلاَةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ، په بل کي أَوْصَانِى خَلِيلِى صلى الله عليه و سلم بِثَلاَثٍ صِيَامِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَرَكْعَتَىِ الضُّحَى، وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ راغلي.

۲۲- باب: د ماسپښين له لمانځه مخکي دوه رکعته

612- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ لاَ يَدَعُ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْغَدَاةِ. (بخاري:1182)

612- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم به د ماسپښين له لمانځه مخکي څلور رکعته (سنت) او د سهار له لمانځه مخکي دوه رکعته (سنت) هيڅکله نه پرېږدول (نه پرېښودل).

بخاري تر دې عنوان لاندي دوه روايات راوړي، يو ئې پورتنی روايت دئ او بل ئې د ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ماسپښين له فرضو مخکي دوه رکعته سنت کول. احنافو د عائشې رضي الله عنها روايت ته ترجيح ورکړې.

23- باب: د ماښام له لمانځه مخکي نفل

613- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنِ الْحُسَيْنِ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ حَدَّثَنِى عَبْدُ الله الْمُزَنِىُّ عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "صَلُّوا قَبْلَ صَلاَةِ الْمَغْرِبِ".- قَالَ فِى الثَّالِثَةِ- لِمَنْ شَاءَ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً. (بخاري:1183)

613- له عبدالله مزني رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د ماښام تر لمانځه مخکي لمونځ کوئ، په درېيم ځل ئې وفرمايل: که څوک غواړي. دا خبره ئې د دې لپاره زياته کړه چي هسي نه خلک دا دوه رکعته هم سنت وګڼي.

تکرار: **7368**

توپير: دواړه سره ورته دي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه له هغو نورو رواياتو سره تعارض لري چي وايي له ماښام مخکي دوه رکعته نفل نشته، لکه دغه روايات:

عن عبد الله بن بريدة عن أبيه قال قال رسول الله إن عند كل اذانين ركعتين ما خلا المغرب او دا روايت: حدثنا محمد بن بشار حدثنا محمد بن جعفر حدثنا شعبة عن أبي شعيب عن طاوس قال سئل ابن عمر عن الركعتين قبل المغرب فقال ما رأيت أحدا عن عهد رسول الله يصليهما.... رواه أبو داود

دې ته مو پام وي چي په دې اړه د محدثينو او فقهاءو تر منځ اختلاف دئ چي تر ماښام مخکي نفل مستحب دئ که مکروه، هغو رواياتو ته په پام سره چي وايي: أبو بکر، عمر، عثمان، علي، ابن مسعود، حذيفة، عمار او أبو مسعود رضي الله تعالى عنهم تر ماښام مخکي نفل نه دي کړي، په فقهاءو کي ابوحنيفه، مالك او شافعي هم دغه رأيه لري، غوره دا ده چي له کولو ئې ډډه وشي.

دې ته مو هم پام وي چي بخاري له مازديګر نه مخکي د

څلورو ركعتو نفلو يادونه نه ده كړې، په داسي حال كي چي له ابوهريره رضي الله عنه په دې اړه داسي راغلي:

رحم الله امرأ صلى قبل العصر أربعا: په هغه چا دي الله تعالى ورحمېږي چي د مازديگر له لمانځه مخكي ئې څلور ركعته لمونځ وكړ. رواه أبو داود والترمذي وأحمد.

كتاب: د مكې او مدينې په جوماتونو كي لمونځ

١- باب: د مكې او مدينې په جوماتونو كي د لمانځه فضيلت

614- حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "لاَ تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلاَّ إِلَى ثَلاَثَةِ مَسَاجِدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِ الرَّسُولِ صلى الله عليه و سلم وَمَسْجِدِ الأَقْصَى". (بخاري:1189)

614- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: يوازي دريو جوماتو ته سفر كېدلى شي: مسجد الحرام، نبوي جومات او مسجد الاقصى.

615- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ رَبَاحٍ وَعُبَيْدِ الله بْنِ أَبِي عَبْدِ الله الأَغَرِّ عَنْ أَبِي عَبْدِ الله الأَغَرِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "صَلاَةٌ فِي مَسْجِدِى هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلاَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ ".

(بخاري:1190)
615- او له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: زما په دې جومات کي يو لمونځ له مسجد حرام پرته په نورو ټولو جوماتونو کي له زرو لمونځونو غوره دئ.

۲- باب: د قباء جومات

616- حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ- هُوَ الدَّوْرَقِيُّ- حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما كَانَ لاَ يُصَلِّى مِنَ الضُّحَى إِلاَّ فِى يَوْمَيْنِ يَوْمَ يَقْدَمُ بِمَكَّةَ، فَإِنَّهُ كَانَ يَقْدَمُهَا ضُحًى، فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ يُصَلِّى رَكْعَتَيْنِ خَلْفَ الْمَقَامِ، وَيَوْمَ يَأْتِى مَسْجِدَ قُبَاءٍ، فَإِنَّهُ كَانَ يَأْتِيهِ كُلَّ سَبْتٍ، فَإِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَرِهَ أَنْ يَخْرُجَ مِنْهُ حَتَّى يُصَلِّىَ فِيهِ. قَالَ وَكَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يَزُورُهُ رَاكِبًا وَمَاشِيًا. قَالَ: وَكَانَ يَقُولُ: إِنَّمَا أَصْنَعُ كَمَا رَأَيْتُ أَصْحَابِي يَصْنَعُونَ، وَلا أَمْنَعُ أَحَدًا أَنْ يُصَلِّيَ فِي أَيِّ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ، غَيْرَ أَنْ لا تَتَحَرَّوْا طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلا غُرُوبَهَا.
(بخاري:1191، 1192)
616- له نافع رضي الله عنه روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنهما به له دوو ورځو پرته بل وخت د څاښت لمونځ نه کاوو: په هغه ورځ چي مکې ته به ولاړ او عادت ئې دا وو چي غرمه مهال به ئې هلته ځان رساوو، نو طواف به ئې وکړ، بيا به ئې د مقام ابراهيم شا ته دوه رکعته لمونځ وکړ. او بله هغه ورځ چي د قباء جومات ته به ولاړ، هغه به د هرې شنبې په ورځ هلته تلو، کله چي به جومات ته داخل

شو دا به ورته سمه نه معلومېده چي له لمانځه پرته ترې ووځي، راوي وايي: ويل به ئې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به سپور او پلی دې جومات ته راتلو، او ابن عمر رضي الله عنهما به د حديث راوي ته ويل: زه هغه کار کوم چي ليدلي مي زما ملګري ئې کوي، او هيڅوک د شپې او ورځي په کومه برخه کي له لمانځه نه منع کوم، يوازي دا وايم چي د لمر ختو او لمر لوېدو په مهال د لمانځه اراده مه کوئ.

تکرار: 582، 585، 589، 1193، 1194، 1629، 3273، 7326

توپير: په نورو کي د روايت ځيني برخي راغلې دي. مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به هره شنبه د قباء مسجد ته تلو، نو ابن عمر رضي الله عنهما هم دا کار کولو، هلته به ئې ځکه د نورو ورځو د عادت خلاف دوه رکعته لمونځ کاوو چي له جومات بې لمانځه وتل ورته مناسب نه برېښېدو.

له دې روايت څو خبري معلومېږي: ابن عمر رضي الله عنهما به د څاښت لمونځ نه کولو، له دوو وختونو (لمر لوېدو او لمر ختو) پرته ئې په بل وخت کي خلك له لمانځه نه منع کول، صحابه ئې هم په دې رأيه موندلي. دا روايت له 611 روايت سره تعارض لري، هغه وايي چي ابوهريره رضي الله عنه ته رسول الله صلى الله عليه و سلم د څاښت د لمانځه سپارښتنه کړې وه او دا وايي چي ابن عمر رضي الله عنهما به له دوو وختونو او ځايونو پرته په بل ځای او وخت کي د څاښت لمونځ نه کولو! امام بخاري دا نه دي

ويلي چي په كوم روايت ئې عمل كول غوره دي! دغه او نورو رواياتو ته په پام سره ويلى شو چي د ابن عمر رضي الله عنهما رأيه ارجح ده.

په پورتني روايت كي دا وضاحت هم نه دئ شوى چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د څه لپاره هلته تلو، د خلكو د پوښتني لپاره، هغوى ته د وعظ او نصيحت لپاره، كه يوازي په هغه جومات كي د لمونځ كولو لپاره؟

3- باب: د قبر او منبر تر منځ د ځاى فضيلت

617- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ- رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي". (بخاري:1196)

617- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: زما د كور او منبر تر منځ پرته زمكه د جنت له باغونو يو باغ دئ او زما منبر زما پر حوض (حوض كوثر) باندي دئ.

تكرار: 1888، 6588، 7335

توپير: ټول د الفاظو او محتوى له پلوه يو شان دي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو كي يو يو راوي لري، كه څه هم ابن عمر رضي الله عنهما او ابوسعيد خدري ته هم په دې اړه ځيني روايات منسوب شوي خو په اسنادو كي ئې اضطراب تر سترگو كيږي. د متن له پلوه داسي دئ چي بېل بېل تعبيرونه ترې شوي. اهل الظاهر دلته هم (حوض) او (رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ) په

حقيقي معنى اخلي، خو دا بې دليله او بې بنسټه رأيه ده، نه د جنت باغ دومره ووړ دئ چي سور ئې څو متره وي او نه حوض کوثر دومره ووړ دئ چي تر منبر لاندي ځای شي، نه هلته عملاً باغ شته او نه حوض، نو نه پوهېږو چي دوی څنګه دا الفاظ په متبادره معنى نيسي؟!! دې ته ئې هم پام نه دئ چي د نبوي جومات له جوړېدو مخکي په دې زمکي کي د مشرکينو قبرونه وو، لوړي ژوري وې او د خرما څو وني وې، پر همدې زمکي دا جومات جوړ شوی!! دا او دې ته ورته الفاظ يوازي په مجازي معنى نيولی شو، بېلګي ئې په نصوصو کي زرګونو ته رسېږي، په هيڅ يوه کي داسي الفاظ په متبادري معنى نه شو نيولی. دلته د دې روايت په تشريح کي له دې پرته بل څه نشو ويلی چي له کور نه تر منبر پوري د راتلو په دوران کي رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي احساس کولو لکه د جنت په کوم باغ کي چي روان وي، او د ده منبر داسي دئ لکه د هدايت کومه چينه او حوض چي خلك ترې خړوبه کېږي. له دې پرته هر بل تعبير ستونزمن دئ او داسي پوښتني راولاړوي چي هيڅوك ئې د منلو وړ ځواب نشي ويلی. دا داسي دئ لکه رسول الله صلى الله عليه و سلم چي فرمايلي: جنت د مور تر پښو لاندي دئ، جنت د مجاهدينو د تورو تر سيوري لاندي دئ. يعني د مور د خدمت له لاري جنت ته رسېدی شئ، د جهاد له لاري جنت ته رسېدی شئ.

دې ته مو هم پام وي چي د ترجمة الباب او متن تر منځ هم توافق نشته، ترجمة الباب وايي فَضْلِ مَا بَيْنَ الْقَبْرِ وَالْمِنْبَرِ او روايت وايي: مَا بَيْنَ بَيْتِى وَمِنْبَرِى!! دا وضاحت د

دې لپاره ضروري دئ چي ځينو دا روايت تحريف کړی او داسي ئې جوړ کړی: سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول: ما بين قبري و منبري روضة من رياض الجنة!! حال دا چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د قبر د ځای په اړه پرېکړه صحابه وو کړې، رسول الله صلى الله عليه و سلم هيڅکله نه دي ويلي چي زما قبر به چېري وي، په دې اړه هيڅ صحيح روايت نشته. دا وينا له هغي سره تعارض لري چي وايي مَا بَيْنَ بَيْتِى وَمِنْبَرِى، بخاري دلته د خپل معمول خلاف ترجمة الباب د حديث له متنه نه دئ غوره کړی، هغه روايت ئې هم نه دئ راوړی چي د بيت پر ځای د قبر يادونه کوي، د دې معنی دا ده چي هغه روايت ئې د استناد او راوړو وړ نه دئ ګڼلی!!

۲۱ کتاب: په لمانځه کي عمل او حرکت

۱- باب: په لمانځه کي خبري نه کول

618- حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ فِي الصَّلاَةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا، فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا وَقَالَ "إِنَّ فِي الصَّلاَةِ شُغْلاً". (بخاري:1199)

618- له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي:

موږ به پر رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال کي سلام اچاوو چي پر لمانځه به ولاړ وو او هغه به (په لمانځه کي د سلام) ځواب راکاوو، خو کله چي له نجاشي (د حبشې له پاچا) نه بېرته راستانه شوو او (د لمانځه په حالت کي مو) سلام پرې واچاوو ځواب ئې رانکړ او بيا ئې راته وفرمايل: په لمانځه کي ځانګړی مصروفيت وي.

تکرار: 1216، 3875

توپير: په يوه کي فَيَرُدُّ عَلَيْنَا، په بل کي فَيَرُدُّ عَلَيَّ، په يوه کي فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا، په بل کي لَمَّا رَجَعْنَا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ راغلي.

619- حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عِيسَى- هُوَ ابْنُ يُونُسَ- عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ شُبَيْلٍ عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ قَالَ قَالَ لِي زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ إِنْ كُنَّا لَنَتَكَلَّمُ فِي الصَّلاَةِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، يُكَلِّمُ أَحَدُنَا صَاحِبَهُ بِحَاجَتِهِ حَتَّى نَزَلَتْ (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ) الآيَةَ، فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ. (بخاري:1200)

619- زيد بن ارقم رضي الله عنه وايي: موږ به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي په لمانځه کي يو له بل سره د خپل حاجت په اړه خبري کولې تر هغه چي دا آيت نازل شو: (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ: د لمونځونو حفاظت کوئ...) نو د سکوت (چوپتيا) امر راته وشو. (يعنى په لمانځه کي له خبرو منع شوو).

تکرار: **4534**

توپير: په يوه کي كُنَّا لَنَتَكَلَّمُ فِى الصَّلاَةِ... يُكَلِّمُ أَحَدُنَا صَاحِبَهُ بِحَاجَتِهِ، په بل کي كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِى الصَّلاَةِ يُكَلِّمُ أَحَدُنَا

أَخَاهُ فِى حَاجَتِهِ، په يوه کي حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ، په بل کي حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ راغلي.

له متعددو رواياتو معلوميږي چي په لمانځه کي له داسي خبرو ممانعت شوی چي د لمانځه برخه نه وي، امام ته په لمانځه کي فتح وركول او په انفرادي لمانځه کي خپل غږ داسي لوړول چي مقابل لوری پوه کړې چي لمونځ کوې مانع نه لري، له ضرورته پرته حرکت هم منع دئ، د ضرورت په صورت کي دومره حرکت هم مانع نه لري لکه يو مضر خزنده وژل يا پر اور باندي اوبه اچول او بېرته خپل لمانځه ته راستنېدل او دوام وركول.

۲- باب: په لمانځه کي د وړو تيږو اوارول

620- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِى سَلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِى مُعَيْقِيبٌ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ فِى الرَّجُلِ يُسَوِّى التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ قَالَ "إِنْ كُنْتَ فَاعِلاً فَوَاحِدَةً".

(بخاري:1207)

620- له معيقيب رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه سړي په اړه چي د سجدې د ځای خاوره آواروي فرمايلي: که دا کار کوې نو يو ځل ئې وکړه.

د ترجمة الباب او روايت تر منځ دقيق مناسبت نشته، ځکه ترجمة الباب د (حصى) وړو تيږو يادونه کوي او په روايت کي د (تراب) خاوري يادونه شوې.

٣- باب: كه د لمانځه په وخت كي د چا سپرلۍ تښتي

621 . عَنْ أَبِيْ بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ رضي الله عنه: أَنَّهُ صَلَّى يَوْماً فِيْ غَزْوَةٍ وُّلِجَامُ دَابَّتِهِ بِيَدِهِ، فَجَعَلَتِ الدَّابَّةُ تُنَازِعُهُ وَجَعَلَ يَتْبَعُهَا، فقيل له في ذلك، فقَالَ: إِنِّي غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم سِتَّ غَزَوَاتٍ، أَوْ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، وَثَمَانِيَ، وَشَهِدْتُ تَيْسِيرَهُ، وَإِنِّي إِنْ كُنْتُ أَنْ أُرَاجِعَ مَعَ دَابَّتِي، أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَدَعَهَا تَرْجِعُ إِلَى مَأْلَفِهَا، فَيَشُقُّ عَلَيَّ. (بخاري:1211)

621- له ابو برزه اسلمي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په يوه غزا كي په داسي حال كي په لمانځه ودرېد چي د سپرلۍ پړی ئې په لاس كي نيولی وو، د لمانځه په دوران كي سپرلۍ زور كاوو، نو هغه به ورپسي وړاندي كېدو او كله چي په دې اړه څه ورته وويل شول نو وئې ويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په شپږو يا اوو او يا اتو غزاگانو كي گډون كړی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم آساني مي ليدلې ده، او دا چي زه خپلي سپرلۍ ته ورنږدې كېږم دا تر دې راته ښه ښكاري چي پرې ئې ږدم او خپل څړځای ته ولاړه شي او ما په كړاو كي واچوي.

تكرار: **6127**

توپير: په يوه كي أَنَّهُ صَلَّى يَوْماً فِيْ غَزْوَةٍ وُّلِجَامُ دَابَّتِهِ بِيَدِهِ، په بل كي فَجَاءَ أَبُو بَرْزَةَ الأَسْلَمِيُّ عَلَى فَرَسٍ، په يوه كي فَجَعَلَتِ الدَّابَّةُ تُنَازِعُهُ وَجَعَلَ يَتْبَعُهَا، په بل كي فَصَلَّى وَخَلَّى فَرَسَهُ فَانْطَلَقَتِ الْفَرَسُ، فَتَرَكَ صَلاَتَهُ وَتَبِعَهَا حَتَّى أَدْرَكَهَا، فَأَخَذَهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَضَى صَلاَتَهُ، په يوه كي فقيل له في ذلك، په بل كي وَفِينَا رَجُلٌ لَهُ رَأْيٌ، فَأَقْبَلَ يَقُولُ انْظُرُوا إِلَى

هَذَا الشَّيْخِ تَرَكَ صَلاَتَهُ مِنْ أَجْلِ فَرَسٍ، په يوه کي فَأَقْبَلَ فَقَالَ مَا عَنَّفَنِى أَحَدٌ مُنْذُ فَارَقْتُ رَسُولَ اللهِ- صلى الله عليه وسلم، په بل کي فقَالَ: إِنِّي غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم سِتَّ غَزَوَاتٍ، أَوْ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، وَثَمَانِيَ، وَشَهِدْتُ تَيْسِيرَهُ راغلي، لکه چي ګورئ په دې دواړو کي دومره توپيرونه او تعارضات دي چي تلفيق ئې ممکن نه دئ، لکه چي دوه بېلي بېلي پېښي وي، يو وايي په لمانځه کي ئې خپل آس تر پړي نيولی وو، هغه ترې زور کاوو او دی ورخوځېدو، بل وايي په لمانځه ودرېدلی، آس تللی، ده لمونځ پرېښی او ورپسي تللی، بيا راستون شوی او لمونځ ئې کړی. بخاري دا دواړه متضاد روايات صحيح ګڼلي!! حال دا چي يوازي يو به ئې احتمالاً صحيح وي، همدا راز په داسي روايت دا استناد نشي کېدی چي په لمانځه کي دومره خوځېدا هم څه اشکال نه لري، ځکه چي دا يو استثنائي حالت دئ. دې ته ورته حالت کي هم لمونځ پرېښودل جائز دي او هم حرکت او خوځېدا جائزه ده. د بخاري بل روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنِ الأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كُنَّا عَلَى شَاطِئِ نَهْرٍ بِالأَهْوَازِ قَدْ نَضَبَ عَنْهُ الْمَاءُ، فَجَاءَ أَبُو بَرْزَةَ الأَسْلَمِيُّ عَلَى فَرَسٍ، فَصَلَّى وَخَلَّى فَرَسَهُ، فَانْطَلَقَتِ الْفَرَسُ، فَتَرَكَ صَلاَتَهُ وَتَبِعَهَا حَتَّى أَدْرَكَهَا، فَأَخَذَهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَضَى صَلاَتَهُ، وَفِينَا رَجُلٌ لَهُ رَأْىٌ، فَأَقْبَلَ يَقُولُ انْظُرُوا إِلَى هَذَا الشَّيْخِ تَرَكَ صَلاَتَهُ مِنْ أَجْلِ فَرَسٍ. فَأَقْبَلَ فَقَالَ مَا عَنَّفَنِى أَحَدٌ مُنْذُ فَارَقْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَقَالَ إِنَّ مَنْزِلِى مُتَرَاخٍ فَلَوْ صَلَّيْتُ وَتَرَكْتُ لَمْ آتِ أَهْلِى إِلَى اللَّيْلِ. وَذَكَرَ أَنَّهُ صَحِبَ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم فَرَأَى

مِنْ تَيْسِيرِهِ. (بخاري: 6127)

622 . عَنْ عَائِشَة رضي الله عنها: انَّهَا ذَكَرَتِ حَدِيثَ الخُسُوفِ وَقَالَ فِي هذِهِ الرِّوَايَةِ بَعدَ قَولِهِ: "وَلَقَدْ رَأَيْتُ النَّارَ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا، وَرَأَيْتُ فِيهَا عَمْرَو بْنَ لُحَيٍّ، وَهُوَ الَّذِي سَيَّبَ السَّوَائِبَ". (بخاري:1212)

622- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي د خسوف د حديث يادونه ئې وکړه او پدې روايت کي ئې لدې قول وروسته چي وايي: اور مي وليد چي لمبې ئې يوه بله خوري او په هغه کي مي عمرو بن لحي وليد، او نوموړی هغه کس دئ چي (د بتانو په نامه ئې) د اوښانو نذر رائج کړ.

تکرار: 1044، 1046، 1047، 1050، 1056، 1058، 1064، 1065، 1066، 3203، 4624، 5221، 6631

توپير: تفصيل ئې په 556 روايت او د بخاري په 1044، 1046، 1047، 1050، 1056، 1058، 1064، 1065، 1066رواياتو کي وګورئ.

٤- باب: په لمانځه کي د سلام ځواب نشته

623- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ شِنْظِيرٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله رضي الله عنهما قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِي حَاجَةٍ لَهُ فَانْطَلَقْتُ، ثُمَّ رَجَعْتُ وَقَدْ قَضَيْتُهَا، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ، فَوَقَعَ فِي قَلْبِي مَا الله أَعْلَمُ بِهِ فَقُلْتُ فِي نَفْسِي لَعَلَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم وَجَدَ عَلَيَّ أَنِّي أَبْطَأْتُ عَلَيْهِ، ثُمَّ سَلَّمْتُ

عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ، فَوَقَعَ فِي قَلْبِي أَشَدُّ مِنَ الْمَرَّةِ الأُولَى، ثُمَّ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ عَلَيَّ فَقَالَ "إِنَّمَا مَنَعَنِي أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ أَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي". وَكَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ مُتَوَجِّهًا إِلَى غَيْرِ الْقِبْلَةِ. (بخاري:1217)

623- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل كوم كار پسي ولېږلم، ولاړم او په داسي حال كي راستون شوم چي هغه كار مي كړى وو، بېرته نبي صلى الله عليه وسلم ته راغلم، سلام مي پرې واچاوو خو ځواب ئې رانكړ، نو په زړه كي مي داسي څه تېر شول چي الله تعالى پرې ښه پوهېږي، په زړه كي مي وگرځېدل چي ښايي رسول الله صلى الله عليه و سلم به زما د ځنډېدو له امله ناراضه شوى وي، بيا مي سلام پرې ووايو، خو دا ځل ئې هم ځواب رانكړ، نو پدې سره مي تر لومړي ځل زيات پرېشاني په زړه كي احساس كړه، بيا مي سلام پرې واچاوو او د سلام ځواب ئې راكړ او وئې فرمايل: يوازي دې خبري له ځواب دركولو منع كړى وم چي ما لمونځ كاوو، دا مهال هغه پر خپلي اوښي سپور وو او مخ ئې هم له قبلې بل لوري ته وو.

٥- باب: په لمانځه كي خصر كول

624- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ نُهِيَ عَنِ الْخَصْرِ فِي الصَّلاَةِ. (بخاري:1220)

624- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د لمانځه په حال كي له خصر نه نهي كړې ده.

تکرار: **1219**

توپیر: په یوه کي نُهِيَ عَنِ الْخَصْرِ فِى الصَّلاَةِ، په بل کي نُهِيَ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا راغلي.

د خصر د معنی په اړه د محدثینو تر منځ اختلاف رأی دئ، ځیني وایي معنی ئې لاس پر کوناټي ږدول دي، ځیني وایي په عصاء تکیه کول دي، ځیني وایي په لمانځه کي اختصار او لنډول یا د سورې لنډول او د پای څو آیتونه ئې لوستل دي. د بخاري له ترجمة الباب معلومیږي چي ده د لاس د حرکت او پر کوناټي د ایښودو په معنی اخیستی دئ. له ځینو روایاتو معلومیږي چي یهودانو به همداسي کول او نهي ئې د همدې لپاره راغلې چي له دوی سره شباهت ونه شي.

۲۲ د سهوي سجدو کتاب

۱- باب: که چا پنځه رکعته لمونځ وکړ

625- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا فَقِيلَ لَهُ أَزِيدَ فِي الصَّلاَةِ فَقَالَ "وَمَا ذَاكَ". قَالَ صَلَّيْتَ خَمْسًا. فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ. (بخاري:1226)

625- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: یو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماسپښین لمونځ پنځه رکعته وکړ، ورته وویل شول: آیا لمونځ زیات

شوی؟ نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او دا د څه لپاره؟ سوال کوونکي وویل: پنځه رکعته دي وکړل. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته له هغه چي سلام ئې وګرځاوو دوې سجدې ئې وکړې.

تکرار: 401، 404، 6671، 7249

توپیر: د دې تفصیل په ٢٦٢ روایت او د بخاري په 401 او 404 روایاتو کي وګورئ. دلته یوه پوښتنه بې ځوابه پاته شوې چي له سلام وروسته د دوو سجدو معنی څه ده؟ آیا شپږم رکعت ئې کړی، بیا ئې سلام ګرځولی او بیا ئې دوې سجدې کړې؟ که راوي اشتباه کړې او قصد ئې دا وو چي ووایي: دوه سجدې ئې وکړې او بیا ئې سلام وګرځاوو؟ نورو روایاتو ته په پام سره ویلی شو چي د دې پېښي اړوند روایت په اصل کي داسي دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا مهال بېرته د قبلې لوري ته مخ اړولی، دوه سجدې ئې کړې او بیا ئې سلام ګرځولی.

بخاري تر دې عنوان مخکي بل عنوان لري چي التجرید الصریح للجامع الصحیح نه دئ راوړي، تر هغه لاندي دوه روایات لري چي یو ئې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په یوه لمانځه کي له دوو رکعتو وروسته ناسته ونه کړه او بل رکعت ته پورته شو، د لمانځه په پای کي موږ سلام ته منتظر وو خو له سلام مخکي ئې تکبیر ووایو او دوه سجدې ئې وکړې، بیا ئې سلام وګرځاوو. بل ئې د همدې لمانځه په اړه وایي چي د لمانځه په پای کي ئې دوه سجدې وکړې بیا ئې سلام وګرځاوو.

٢- باب: په لمانځه کي د چا خبره اورېدل او د لاس

په اشارې ځواب ورکول

626 . عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَنْهَى عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ، ثمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا وكان عِنْدِي مِنَ الأَنْصَارِ، فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ، فَقُلْتُ: قُومِي بِجَنْبِهِ فَقُولِي لَهُ: تَقُولُ لَكَ أُمُّ سَلَمَةَ: يَا رَسُولَ الله، سَمِعْتُكَ تَنْهَى عَنْ هَاتَيْنِ وَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا، فَإِنْ أَشَارَ بِيَدِهِ فَاسْتَأْخِرِي عَنْهُ، فَفَعَلَتِ الْجَارِيَةُ، فَأَشَارَ بِيَدِهِ، فَاسْتَأْخَرَتْ عَنْهُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: "يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ، سَأَلْتِ عن الركعتين بعد العصر، وَإِنَّهُ أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِالْقَيْسِ، فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ". (بخاري:1233)

626- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي اورېدلي چي د مازديګر له لمانځه وروسته ئې د دوو ركعتونو نفلو له كولو نهي كوله، بيا مي وليد چي په خپله ئې دا دوه ركعته لمونځ كاوو، بيا په داسي حال كي زما كور ته راغى چي له ما سره د انصارو د بني حرام د قبيلې ځيني مېرمني وې، ما يوه نجلۍ ورولېږله او ورته ومې ويل: لاړه شه، د رسول الله صلى الله عليه وسلم خوا ته ودرېږه او ورته ووايه: يا رسول الله! ام سلمه درته وايي: له تا مي اورېدلي چي لدې دوو ركعتونو دي نهي كوله، خو اوس ئې پخپله كوې؟ كه ئې په لاس اشاره درته وكړه نو ترې تر شا شه، نجلۍ همداسي وكړل، په لاس ئې اشاره ورته وكړه، نو ترې شا ته شوه، او كله چي له لمانځه فارغ شو وئې فرمايل: اې د ابو اميه لورې! تا د مازديګر له لمانځه وروسته د دوو

ركعتونو په اړه پوښتنه وکړه، خبره داسي ده چي ما ته د عبدالقيس قبيلې څه سړي راغلي وو، د ماسپښين لمانځه وروسته دوه ركعته (سنت) نه ئې (په خبرو) مشغول کړم، نو دا همغه دوه ركعته دي.

تكرار: **4370**

توپير: له وړو توپيرونو پرته دواړه سره ورته دي. د روايت اصلي بڼه داسي ده چي عبدالله بن عباس، عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَزْهَرَ او الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ په ګډه كريب رضي الله عنه عائشې رضي الله عنها ته ولېږو چي د مازديګر له لمانځه وروسته د نفل په اړه پوښتنه ترې وکړي، او ورته ووايي چي موږ اورېدلي ته ئې کوې خو رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې ممانعت کړی، ابن عباس او عمر رضي الله عنهم به له دې خلك منع کول، هغې ورته ويلي چي له ام سلمه رضي الله عنها ئې پوښتنه وکړه، ام سلمې رضي الله عنها هغه ځواب ورکړی چي په پورتني روايت کي راغلی.

۲۳- د جنازې كتاب

۱- باب: څوک چي وروستۍ خبره ئې (لا إله إلا الله) وي

627- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ حَدَّثَنَا وَاصِلٌ الأَحْدَبُ عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَتَانِي آتٍ مِنْ رَبِّي فَأَخْبَرَنِي- أَوْ

قَالَ بَشَّرَنِى- أَنَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِى لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ". قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ "وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ". (بخاري:1237)

627- له ابو ذر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: زما د رب له لوري يو راتلونکی راغی او خبر ئې راکړ او يا ئې وفرمايل: زېرى ئې راکړ: د دې خبري چي که زما له امت څوک په داسي حال کي ومري چي له الله تعالى سره ئې هيڅ شريک نه وي نيولی نو جنت ته به داخلېږي، راوي وايي: ما عرض وکړ که څه هم زنا او يا غلا ئې کړې وي؟ وئې وفرمايل: که څه هم زنا او يا غلا ئې کړې وي.

تکرار: 1408، 2388، 3222، 5827، 6268، 6443، 6444، 7487

توپير: په يوه کي أَتَانِى آتٍ مِنْ رَبِّى فَأَخْبَرَنِى، په بل کي أَتَانِى جِبْرِيلُ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ – فَقَالَ، په بل کي قَالَ لِى جِبْرِيلُ، په يوه کي أَنَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِى لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، په بل کي مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، په بل کي مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، أَوْ لَمْ يَدْخُلِ النَّارَ، په يوه کي قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ، په بل کي مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ، إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ. قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ "وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ". قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ "وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ". قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ "وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِى ذَرٍّ"، په بل کي قُلْتُ وَإِنْ فَعَلَ كَذَا وَكَذَا قَالَ "نَعَمْ"، په بل کي ذَلِكَ جِبْرِيلُ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- عَرَضَ لِى فِى جَانِبِ الْحَرَّةِ، قَالَ بَشِّرْ أُمَّتَكَ أَنَّهُ مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، قُلْتُ يَا جِبْرِيلُ وَإِنْ سَرَقَ

وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ. قَالَ قُلْتُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ، وَإِنْ شَرِبَ الْخَمْرَ، په بل کي مَكَانَكَ لاَ تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ، ثُمَّ انْطَلَقَ فِى سَوَادِ اللَّيْلِ حَتَّى تَوَارَى فَسَمِعْتُ صَوْتًا قَدِ ارْتَفَعَ، فَتَخَوَّفْتُ أَنْ يَكُونَ قَدْ عَرَضَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَأَرَدْتُ أَنْ آتِيَهُ فَذَكَرْتُ قَوْلَهُ لِى "لاَ تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ "فَلَمْ أَبْرَحْ حَتَّى أَتَانِى، قُلْتُ يَا رَسُولَ الله لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتًا تَخَوَّفْتُ، فَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ "وَهَلْ سَمِعْتَهُ"، قُلْتُ نَعَمْ، قَالَ "ذَاكَ جِبْرِيلُ أَتَانِى فَقَالَ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ "وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ"راغلي، لکه چي ګورئ په دې روایاتو کي کافي توپیرونه تر سترګو کیږي، ځیني ئې وایي چي دا کلام (وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ) جبریل علیه السلام ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم وینا وه او ځیني ئې وایي چي د ابوذر وینا وه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته، ځیني د جبریل نوم نه اخلي او وایي چي زما د رب له لوري یو راتلونکی راته راغی، ځیني وایي چي د شپې په تیاره کي په داسي حال کي چي ابوذر رضي الله عنه هم ورسره وو جبریل علیه السلام ورته راغی، هغه خبره ئې ورته وکړه او ابوذر رضي الله عنه هم د جبریل غږ اورېدلی، ځیني ئې لنډ دي او یوازي یو مطلب په کي راغلی او ځیني ئې اوږده دي نور مطالب هم په کي راغلي.

څو خبري په پام کي ولرئ: په دغو روایاتو کي هغه د منلو نه دي چي وایي د لا إله إلا الله په ویلو سره به څوك دوزخ ته نه ځي، ځکه دا د قرآن له وینا سره تعارض لري، لا إله إلا الله د جنت د دروازې کیلي ده او هغه څوك به دا دروازه پرانیستلی شي چي دا کیلي ورسره وي، خو هره کیلي څوکي لري، د چا کیلي چي څوکي ونه لري دا دروازه

نشي پرانيستلی. د (لا إله إلا الله) د کيلي څوکي هغه مقتضيات او غوښتني دي چي دا کلمه ئې له انسان نه غواړي. د دې شرح په ۲۱ روايت کي وګورئ.

628- حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا شَقِيقٌ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ". وَقُلْتُ أَنَا مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ. (بخاري:1238)

628- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چي په داسي حال کي ومري چي له الله تعالى سره ئې شريک نيولی وي دوزخ ته به داخل شي راوي وايي: او زه وايم: څوک چي په داسي حال کي مړ شي چي له الله تعالى سره ئې شريک نه وي نيولی جنت ته به ځي.

تکرار: 4497، 6683

توپير: په يوه کي مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ، په بل کي مَنْ مَاتَ وَهْوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ الله نِدًّا دَخَلَ النَّارَ، په بل کي مَنْ مَاتَ يَجْعَلُ لِلَّهِ نِدًّا أُدْخِلَ النَّارَ، په يوه کي وَقُلْتُ أَنَا مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِالله شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، په بل کي وَقُلْتُ أُخْرَى مَنْ مَاتَ لاَ يَجْعَلُ لِلَّهِ نِدًّا أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، په بل کي وَقُلْتُ أَنَا مَنْ مَاتَ وَهْوَ لاَ يَدْعُو لِلَّهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ راغلي.

۲- باب- له جنازې سره د ملګرتيا امر

629- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَشْعَثِ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنِ الْبَرَاءِ رضي الله عنه قَالَ أَمَرَنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِسَبْعٍ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ أَمَرَنَا بِاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ،

وَعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِى، وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ، وَإِبْرَارِ الْقَسَمِ، وَرَدِّ السَّلاَمِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ. وَنَهَانَا عَنْ آنِيَةِ الْفِضَّةِ وَخَاتَمِ الذَّهَبِ وَالْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَالْقَسِّىِّ وَالإِسْتَبْرَقِ. (بخاري:1239)

629- له براء رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته د اوو شيانو د كولو او له اوو شيانو د ځان ساتلو امر كړى: امر ئې راته كړى چي د جنازې ملگرتيا وكړو، د مريض عيادت وكړو، د بلونكي بلنه ومنو، د مظلوم مرسته وكړو، لوړه (ژمنه) ترسره كړو، د سلام ځواب ووايو، د پرنجي ځواب وركړو او له دې ئې منع كړي يو چي د سپينو زرو لوښي وكاروو، طلايي گوتي په گوته كړو، نرۍ وريښميني، ديباج، مخلوط وريښميني، او پريړي وريښميني جامې واغوندو. اوم شي چي په دې روايت كي نه دئ راغلى په بل روايت كي ښودل شوى چي وريښمينه ټوټه ده چي پر زين يا سپرلۍ ئې اچوي.

تكرار: 2445، 5175، 5635، 5650، 5838، 5849، 5863، 6222، 6235، 6654

توپير: په يوه كي أَمَرَنَا بِاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، وَعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِى، وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ، وَإِبْرَارِ الْقَسَمِ، وَرَدِّ السَّلاَمِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، په بل كي امرنا بِسَبْعٍ بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَنَصْرِ الضَّعِيفِ، وَعَوْنِ الْمَظْلُومِ، وَإِفْشَاءِ السَّلاَمِ، وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ، په يوه كي وَنَهَى عَنِ الشُّرْبِ فِى الْفِضَّةِ، وَنَهَانَا عَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ، وَعَنْ رُكُوبِ الْمَيَاثِرِ، وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ، وَالْقَسِّيِّ وَالإِسْتَبْرَقِ، په بل كي وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ، عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ- أَوْ قَالَ حَلْقَةِ الذَّهَبِ- وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ، وَالسُّنْدُسِ، وَالْمَيَاثِرِ، په بل كي نَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، وَلُبْسِ الْحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ،

وَالإِسْتَبْرَقِ، وَعَنِ الْقَسِّيِّ، وَالْمِيثَرَةِ، په بل کي وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِيمِ الذَّهَبِ، وَعَنِ الشُّرْبِ فِى الْفِضَّةِ- أَوْ قَالَ آنِيَةِ الْفِضَّةِ- وَعَنِ الْمَيَاثِرِ وَالْقَسِّيِّ، وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَالإِسْتَبْرَقِ، په بل کي وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِيمِ الذَّهَبِ، وَعَنْ آنِيَةِ الْفِضَّةِ، وَعَنِ الْمَيَاثِرِ، وَالْقَسِّيَّةِ، وَالإِسْتَبْرَقِ وَالدِّيبَاجِ راغلي.

3- باب: له کفن کولو وروسته د مړي کتل

630 الف- حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنِى مَعْمَرٌ وَيُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِى أَبُو سَلَمَةَ أَنَّ عَائِشَةَ رضي الله عنها زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَخْبَرَتْهُ قَالَتْ أَقْبَلَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه عَلَى فَرَسِهِ مِنْ مَسْكَنِهِ بِالسُّنْحِ حَتَّى نَزَلَ، فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَلَمْ يُكَلِّمِ النَّاسَ، حَتَّى نَزَلَ فَدَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ رضي الله عنها فَتَيَمَّمَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ مُسَجًّى بِبُرْدِ حِبَرَةٍ، فَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهِ، ثُمَّ أَكَبَّ عَلَيْهِ فَقَبَّلَهُ ثُمَّ بَكَى فَقَالَ بِأَبِى أَنْتَ يَا نَبِيَّ الله، لاَ يَجْمَعُ الله عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ، أَمَّا الْمَوْتَةُ الَّتِى كُتِبَتْ عَلَيْكَ فَقَدْ مُتَّهَا.

630 الف- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: ابوبکر رضي الله عنه پر خپل آس له خپل هغه کور نه چې په سنح کي وو راغی، کوز شو، جومات ته ننوت، له خلکو سره ئې خبري ونه کړې، تر هغه چې کوز شو او د عائشې رضي الله عنها کور ته ننوت، د رسول الله صلى الله عليه و سلم لوري ته ئې مخه کړه، په داسي حال کي چې پر هغه څادر غوړېدلی وو، مخ ئې ورلوڅ کړ، بیا پرې ورتیټ شو او ښکل ئې کړ، بیا ئې وژړل، وئې ویل: زما پلار دي تر تا جار وي اې د الله رسوله! الله تعالی به پر تا دوه مرګونه نه راجمع کوي، خو هغه مرګ چې تا ته لیکل شوی هغه درپه

برخه شو.
تکرار: 3667، 3669، 4452، 4455،
توپير: په يوه کي فَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهِ، په بل کي فَكَشَفَ عَنْ رَسُولِ اللهِ- صلى الله عليه وسلم، په يوه کي وَهْوَ مُغَشًّى بِثَوْبِ حِبَرَةٍ، په بل کي وَهُوَ مُسَجًّى بِبُرْدِ حِبَرَةٍ، په يوه کي فَقَالَ بِأَبِى أَنْتَ يَا نَبِيَّ اللهِ، په بل کي قَالَ بِأَبِى أَنْتَ وَأُمِّى، په يوه کي لاَ يَجْمَعُ اللهُ عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ أَمَّا الْمَوْتَةُ الَّتِى كُتِبَتْ عَلَيْكَ فَقَدْ مُتَّهَا، په بل کي طِبْتَ حَيًّا وَمَيِّتًا، وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لاَ يُذِيقُكَ اللهُ الْمَوْتَتَيْنِ أَبَدًا راغلي. دا روايت ځيني نوري برخي هم لري او د عمر رضي الله عنه هغه وينا هم رااخلي چي خلکو ته ئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفات شوی نه دئ، خو کله چي ابوبکر رضي الله عنه جومات ته راغی، هغه ئې له وينا منع کړ او خلکو ته ئې د الله تعالى له حمد او ثناء وروسته وويل: چا چي د محمد عليه السلام عبادت کولو هغه دي پوه شي چي محمد عليه السلام وفات شوی او چا چي د الله تعالى عبادت کولو نو الله تعالى ژوندی دئ هيڅکله نه مري.

که څه هم دا روايت د تکفين تر عنوان لاندي راغلی، او دا روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له وفات وروسته په يوه څادر پټ کړی شوی وو او ابوبکر رضي الله عنه د هغه له مخ څادر لري کړ او بخاري د دې کار د جواز لپاره دا روايت راوړی، او له تکفين وروسته د مړي مخ ليدل ئې پرې قياس کړي. له دې روايت دا هم معلومېږي چي د مړي ښکلول مانع نه لري.

630 ب- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ

شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِى خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ أُمَّ الْعَلاَءِ- امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ- بَايَعَتِ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم أَخْبَرَتْهُ أَنَّهُ اقْتُسِمَ الْمُهَاجِرُونَ قُرْعَةً فَطَارَ لَنَا عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُونٍ، فَأَنْزَلْنَاهُ فِى أَبْيَاتِنَا، فَوَجِعَ وَجَعَهُ الَّذِى تُوُفِّىَ فِيهِ، فَلَمَّا تُوُفِّىَ وَغُسِّلَ وَكُفِّنَ فِى أَثْوَابِهِ، دَخَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ رَحْمَةُ الله عَلَيْكَ أَبَا السَّائِبِ، فَشَهَادَتِى عَلَيْكَ لَقَدْ أَكْرَمَكَ الله. فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم "وَمَا يُدْرِيكِ أَنَّ الله قَدْ أَكْرَمَهُ". فَقُلْتُ بِأَبِى أَنْتَ يَا رَسُولَ الله فَمَنْ يُكْرِمُهُ الله فَقَالَ "أَمَّا هُوَ فَقَدْ جَاءَهُ الْيَقِينُ، وَالله إِنِّى لأَرْجُو لَهُ الْخَيْرَ، وَالله مَا أَدْرِى- وَأَنَا رَسُولُ الله- مَا يُفْعَلُ بِى". قَالَتْ فَوَالله لاَ أُزَكِّى أَحَدًا بَعْدَهُ أَبَدًا. (بخاري:1243)

630 ب- له ام علاء رضي الله عنها چي يوه انصاري مېرمن وه او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ئې بيعت کړی وو، روايت دئ چي وايي: مهاجرين له انصارو سره د اوسېدو لپاره په پچه سره ووېشل شول، عثمان بن مظعون رضي الله عنه زموږ په برخه ورسېد (چي له موږ سره هستوګن شي)، هغه ته مو په خپلو خونو کي ځای ورکړ، بيا په هغه مرض مريض شو چي په کي وفات شو، کله چي وفات شو، غسل ورکړ شو او کفن ورواغوستل شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم راغی، ما وويل: الله تعالى دي رحمت دربانديي وکړي يا ابو سائبه! زه شاهدي وايم چي په رښتيا الله تعالى پر تا رحم او کرم کړی، نبي صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: له څه پوه شوې چي الله تعالى کرم پرې کړی؟ ما وويل: پلار مي درنه قربان شه يا رسول الله! که پر ده باندي د الله تعالى کرم نه وي شوی، نو پر چا به شوی

وي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه اوس مړ شوی دئ، قسم په خدای چي زه د خير تمه ورته لرم، او قسم په خدای زه چي د الله تعالی رسول هم يم پدې نه پوهيږم چي له ما سره به څه کيږي. هغي مېرمني وويل: قسم په خدای چي له دې وروسته به د هيچا تزکيه ونکړم.

تکرار: 2687، 3929، 7003، 7004، 7018

توپير: په يوه کي أَخْبَرَتْهُ أَنَّهُ اقْتُسِمَ الْمُهَاجِرُونَ قُرْعَةً فَطَارَ لَنَا عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُونٍ، په بل کي أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ طَارَ لَهُ سَهْمُهُ فِى السُّكْنَى حِينَ أَقْرَعَتِ الأَنْصَارُ سُكْنَى الْمُهَاجِرِينَ، په يوه کي فَأَنْزَلْنَاهُ فِي أَبْيَاتِنَا، په بل کي فَسَكَنَ عِنْدَنَا، په يوه کي فَوَجِعَ وَجَعَهُ الَّذِى تُوُفِّىَ فِيهِ، په بل کي فَاشْتَكَى، فَمَرَّضْنَاهُ حَتَّى إِذَا تُوُفِّىَ، په بل کي فَلَمَّا تُوُفِّىَ وَغُسِّلَ وَكُفِّنَ فِي أَثْوَابِهِ، په بل کي وَجَعَلْنَاهُ فِى ثِيَابِهِ، په يوه کي وَمَا يُدْرِيكِ أَنَّ الله قَدْ أَكْرَمَهُ، په بل کي وَمَا يُدْرِيكِ أَنَّ الله أَكْرَمَهُ، په يوه کي فَقُلْتُ بِأَبِى أَنْتَ يَا رَسُولَ الله فَمَنْ يُكْرِمُهُ الله، په بل کي فَقُلْتُ لاَ أَدْرِى بِأَبِى أَنْتَ وَأُمِّى يَا رَسُولَ الله راغلي.

د دې رواياتو اصلي مطلب دا دئ چي هيڅوك نه پوهيږي الله تعالی به څه معامله ورسره کوي، نه د ځان په اړه پوهيږي او نه د بل په اړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم لوړه کوي او فرمايي چي زه هم نه پوهيږم چي الله تعالی به څه راسره کوي په داسي حال کي چي زه د الله رسول يم!! او دا هغه څه دي چي قرآن ئې وايي، دا روايت له قرآن سره په بشپړه توګه مطابقت لري، عجيبه ده چي د داسي صريح آيتونو او احاديثو سره سره ځيني خلك رسول الله صلى الله عليه و سلم ته علم غيب منسوبوي او داسي روايات راوړي چي هم له قرآن سره تعارض لري او هم له داسي څرګندو

رواياتو سره!!

631- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله رضي الله عنهما قَالَ لَمَّا قُتِلَ أَبِي جَعَلْتُ أَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ أَبْكِي، وَيَنْهَوْنِي عَنْهُ وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لاَ يَنْهَانِي، فَجَعَلَتْ عَمَّتِي فَاطِمَةُ تَبْكِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "تَبْكِينَ أَوْ لاَ تَبْكِينَ، مَا زَالَتِ الْمَلاَئِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رَفَعْتُمُوهُ". (بخاري:1244)

631- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: کله چي زما پلار ووژل شو، مخ مې ورلوڅ کړ او ورته ژړل مي، خلکو ترې منع کولم، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم نه منع کولم، نو ترور مي فاطمه په ژړا سر شوه، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ژاړې او که نه ژاړې، ملائکي تر هغه د خپلو وزرو سيورى پرې کوي چي جنازه ئې پورته کړئ.

تکرار: 1293، 2816، 4080

توپير: په يوه کي لَمَّا قُتِلَ أَبِى، په بل کي جِىءَ بِأَبِى يَوْمَ أُحُدٍ، قَدْ مُثِّلَ بِهِ، په يوه کي جَعَلْتُ أَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ أَبْكِى، په بل کي وَقَدْ سُجِّىَ ثَوْبًا فَذَهَبْتُ أُرِيدُ أَنْ أَكْشِفَ عَنْهُ، په يوه کي وَيَنْهَوْنِى عَنْهُ، په بل کي فَنَهَانِى قَوْمِى، ثُمَّ ذَهَبْتُ أَكْشِفُ عَنْهُ فَنَهَانِى قَوْمِى، په بل کي فَأَمَرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَرُفِعَ، په بل کي وَالنَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم لاَ يَنْهَانِى، په يوه کي فَجَعَلَتْ عَمَّتِى فَاطِمَةُ تَبْكِى، په بل کي فَسَمِعَ صَوْتَ صَائِحَةٍ فَقَالَ "مَنْ هَذِهِ"، په يوه کي قَالَ "فَلِمَ تَبْكِى أَوْ لاَ تَبْكِى فَمَا زَالَتِ الْمَلاَئِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رُفِعَ"، په بل کي فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم "تَبْكِينَ أَوْ

لاَ تَبْكِينَ، مَا زَالَتِ الْمَلاَئِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رَفَعْتُمُوهُ"راغلي.

د جابر پلار رضي الله عنهما د احد په جګړي کي شهيد او د بې رحمو او وحشي دښمنانو په لاس مثله شوی وو، جسد ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخي ته پروت وو، څادر پرې غوړېدلی وو، جابر رضي الله عنه غوښتل چي هغه وګوري، خلکو ترې منع کړ خو رسول الله صلى الله عليه و سلم د ليدو اجازه ورکړه، ده او ترور ئې وژړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم ترې منع نه کړل، له دې معلومېږي چي د مړي ليدل او طبيعي ژړا چي له چيغو پرته وي مانع نه لري.

٤- باب: څوک چي په خپله د مړي خپلوانو ته د هغه د مړيني اطلاع ورکوي

632- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِى مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم نَعَى النَّجَاشِىَّ فِى الْيَوْمِ الَّذِى مَاتَ فِيهِ، خَرَجَ إِلَى الْمُصَلَّى، فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ أَرْبَعًا. (بخاري:1245)

632- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د نجاشي د وفات په ورځ د هغه د مړيني اعلان وکړ، د عيد مصلى ته ووت، اصحاب ئې په صفونو کي ودرول او څلور تکبيره ئې وويل (د جنازې لمونځ ئې وکړ).

تکرار: 1318، 1327، 1328، 1333، 3880، 3881

توپير: په يوه کي أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم نَعَى

النَّجَاشِیَّ فِی الْیَوْمِ الَّذِی مَاتَ فِیهِ، په بل کي نَعَی النَّبِیُّ صلی الله علیه و سلم إِلَی أَصْحَابِهِ النَّجَاشِیَّ، په بل کي نَعَی لَنَا رَسُولُ الله صلی الله علیه و سلم النَّجَاشِیَّ صَاحِبَ الْحَبَشَةِ، یَوْمَ الَّذِی مَاتَ فِیهِ، په بل کي نَعَی النَّجَاشِیَّ فِی الْیَوْمِ الَّذِی مَاتَ فِیهِ، وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَی الْمُصَلَّی فَصَفَّ بِهِمْ، وَکَبَّرَ عَلَیْهِ أَرْبَعَ تَکْبِیرَاتٍ، په یوه کي خَرَجَ إِلَی الْمُصَلَّی، فَصَفَّ بِهِمْ وَکَبَّرَ أَرْبَعًا، په بل کي ثُمَّ تَقَدَّمَ فَصَفُّوا خَلْفَهُ فَکَبَّرَ أَرْبَعًا، په بل کي صَفَّ بِهِمْ بِالْمُصَلَّی فَکَبَّرَ عَلَیْهِ أَرْبَعًا، په بل کي فَقَالَ "اسْتَغْفِرُوا لأَخِیکُمْ"، په بل کي فصَفَّ بِهِمْ فِی الْمُصَلَّی، فَصَلَّی عَلَیْهِ وَکَبَّرَ أَرْبَعًا راغلي.

دا روایت د سند له مخي له مطلق غریب اوښتی، په صحابه وو کي یو، په تابعینو کي د ابو هریره رضي الله عنه دوه دوستان، او په دریو نورو طبقو کي یو یو راوي لري، او د متن له پلوه داسي دئ چي له نورو روایاتو سره توپیر او تعارض لري، جدي توپیر ئې له دې پلوه دئ چي یو ئې وایي رسول الله صلی الله علیه و سلم د نجاشي د مرګ په ورځ د هغه د مړیني اعلان وکړ او بل ئې دا نه وایي چي د هغه د مړیني په ورځ ئې دا اعلان کړی. په دې دواړو کي کوم یو صحیح دئ؟ مجبور یو چي یو به ترې غوره کوو، بخاري په دې اړه څه نه دي ویلي، دې ته مو باید پام وي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره نه ده کړې چي نجاشي همدا نن مړ شوی، دا د راوي خبره ده، دا پوښتنه راولاړیږي چي راوي له کومه او څنګه پوه شوی چي نجاشي همدا نن مړ شوی؟ که احیاناً د مړیني په ورځ د اعلان روایت صحیح وي نو بیا باید دا هم وویل شي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د وحي له لاري د هغه د

مړيني اطلاع ورکړی شوې وه، دا وينا په هغه صورت کي کولی شو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم همداسي ويلي وي او يا داسي روايت ومومو چي ووايي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د وحي له لاري دا اطلاع ورکړ شوې وه، خو داسي روايت نشته، نو ځکه ويلی شو چي دوهم روايت ارجح دئ.

له دې روايت څو خبري معلومېږي: 1- د جنازې تکبيرونه څلور دي. 2- د ميت په غياب کي د هغه لپاره د جنازې لمونځ شوی. 3- له جومات بهر د جنازې لمونځ شوی. که څه هم داسي روايات شته چي ښيي رسول الله صلی الله عليه و سلم په جومات کي هم د جنازې لمونځ کړی، ښايي دا د کوم مجبوريت او ضرورت له امله وو، لکه باران، اولی دا دئ چي د جنازې لمونځ له جومات بهر وشي. 4- د لمانځه لپاره صفونه تړل شوي.

ځيني نور روايات هم مومو چي وايي رسول الله صلی الله عليه و سلم د ميت په غياب کي د هغه لمونځ کړی، خو رسول الله صلی الله عليه و سلم د هر غائب مړي لپاره د جنازې لمونځ نه دئ کړی، د دې تعارض تلفيق په دې توګه دئ چي که د مړي جنازه شوې وي نو همغه جنازه ورته کافي ده او په غياب کي ئې د جنازې ضرورت نشته او که نه وي شوې نو غوره ده چي جنازه ئې وشي، خو دا صحيح نه ده چي په غياب کي جنازه يا ضروري وګڼو يا ئې مکروه.

د جنازې د تکبيرونو د شمېر په اړه هم بېل بېل روايات زموږ مخي ته راځي، احنافو د څلورو تکبيرونو روايت ته ترجيح ورکړې او د نورو په اړه ملاحظات لري. د دغو

شخصيتونو رأيه همدا وه: محمد بن الحنفية، عطاء بن أبي رباح، ابن سيرين، النخعي، سويد بن غفلة، الثوري، أبو حنيفة، مالك، الشافعي، أحمد، أبو مجلز لاحق بن حميد رحمهم الله، له دغو صحابه وو اړوند حديث روايت شوى: عمر بن الخطاب، عبد الله بن عمر، زيد بن ثابت، جابر، ابن أبي أوفى، حسن بن علي، براء بن عازب، أبو هريرة او عقبة بن عامر رضي الله تعالى عنهم.

خو د بخاري ترجمة الباب له دې روايت سره اړخ نه لګوي ځکه په ترجمة الباب کي (اهل الميت) راغلي حال دا چي روايت وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم اصحابو ته د نجاشي د مړيني اطلاع وركړه، نه د نجاشي خپلوانو ته. ځينو دا توجيه وړاندي كړې چي مسلمانان د نجاشي خپلوان ګڼل كيږي.

633- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلاَلٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا عَبْدُ الله بْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ- وَإِنَّ عَيْنَيْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم لَتَذْرِفَانِ- ثُمَّ أَخَذَهَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ مِنْ غَيْرِ إِمْرَةٍ فَفُتِحَ لَهُ " (بخاري:1246)

633- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: بيرغ زيد رضي الله عنه پورته كړ تر هغه چي ولګېد، بيا جعفر رضي الله عنه بيرغ واخيست هغه هم ولګېد، وروسته عبدالله بن رواحه رضي الله عنه بيرغ اوچت كړ او هغه هم ولګېد، پدې وخت كي د

رسول الله صلى الله عليه وسلم له سترګو اوښکي رواني وې. بيا خالد بن الوليد رضي الله عنه پرته له دې چي امير وټاکل شي بيرغ پورته کړ او فتح ئې په برخه شوه.
تکرار: 2798، 3063، 3630، 3757، 4262
توپير: په يوه کي قال قَالَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم، په بل کي قَالَ خَطَبَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم، په بل کي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم نَعَى جَعْفَرًا وَزَيْدًا قَبْلَ أَنْ يَجِيءَ خَبَرُهُمْ، په بل کي نَعَى زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ، په يوه کي ثُمَّ أَخَذَهَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ عَنْ غَيْرِ إِمْرَةٍ فَفُتِحَ لَهُ، په بل کي حَتَّى أَخَذَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ الله حَتَّى فَتَحَ الله عَلَيْهِمْ راغلي.

دا روايت د سند له پلوه مطلق غريب دئ، په دريو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه له نورو سره توپير لري، په ځينو کي ويل شوي چي د دغو دريو جهادي امراوو د شهادت په ورځ ئې د خطبې په دوران کي خلکو ته د دوی د شهادت خبر ورکړ او په ځينو کي يوازي دا ويل شوي چي د دوی د شهادت خبر ئې ورکړ، په ځينو کي د خالد بن وليد نوم نه دئ اخيستل شوی، په ځينو کي اخيستل شوی او په ځينو کي د سيف من سيوف الله په نامه ياد شوی. په دې اړه څو تعبيرونه کېدی شي: 1- دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د جنګ له ميدانه دغه اطلاع ورکړی شوې وه او ده صحابه له دغو پېښو خبر کړل، 2- دا چي د وحي له لاري ده ته خبر ورکړی شوی وو، 3- او دا چي د جنګ په دوران کي، د منبر پر سر او لحظه په لحظه ئې د دوی شهادت په خپلو سترګو ليدو او صحابه ئې پرې خبرول. د احتياط تقاضاء دا ده چي لومړی تعبير غوره کړو، ځکه قرآن موږ

ته ویلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب نه پوهېدو، دوهم تعبیر په هغه صورت کي منلی شو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ویلي وی چي د دغو پېښو په اړه د وحي له لاري ما ته اطلاع راکړی شوه، حال دا چي نه دغه روایت دا خبره کوي او نه بل داسي روایت مومو، دې ته مو پام وي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دي ویلي چي همدا نن دا درې کسان شهیدان شوي، دا راوي ته منسوب شوې خبره ده، دا پوښتنه راولاړیږي چي راوي څنګه پوه شو چي دوی همدا نن او د همدې خطبې په دوران کي شهیدان شوي؟!! په هغه روایت چي وایي د خطبې په دوران کي ئې دا اطلاع ورکړې؛ دوه اعتراضه واردیږي: لومړی دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته علم غیب منسوبوي، حال دا چي قرآن او ګڼ شمېر روایات وایي چي هغه په غیب نه پوهېدو، دوهم دا چي دومره اوږده خطبه چي په ترڅ کي ئې درې قومندانان شهیدان شي او څلورم ئې دښمن ته ماته ورکړي غیر محتمل برېښي. همدا راز که رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره په خطبه کي کړې وی نو باید دې روایت په صحابه وو کي هم په لسګونو راویان درلودی او په وروستنیو طبقو کي هم، څنګه ممکنه ده چي داسي مهمه معجزه دي یوازي له یوه کس روایت شوې وي.

له دې روایت څو مهمي خبري نوري هم معلومېږي: 1- دا غوره ده چي د مسلمانانو مشر جهاد ته د لېږل شوې ډلي لپاره څو احتمالي امراء وټاکي چي د یوه د شهادت په صورت کي بل د هغه ځای ناستی شي، 2- د جنګ په دوران کي که ټاکل شوی امیر په شهادت ورسېږي او د ده ځای

ناستی نه وي ټاکل شوی نو کوم مؤثر شخص کولی شي په خپله راوړاندي شي او په جګړي کي د مجاهدینو قیادت وکړي.

٥- باب: د هغه چا فضیلت چي د اولاد په مړینه صبر وکړي

634- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "مَا مِنَ النَّاسِ مِنْ مُسْلِمٍ يُتَوَفَّى لَهُ ثَلاَثٌ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، إِلاَّ أَدْخَلَهُ الله الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ". (بخاري: 1248)

634- او له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د کوم مسلمان چي دري نابالغ اولادونه مړه شي الله تعالی به ئې پر اولادونو د رحمت له مخي جنت ته داخلوي.

تکرار: **1381**

توپیر: په یوه کي يُتَوَفَّى لَهُ ثَلاَثٌ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، په بل کي يَمُوتُ لَهُ ثَلاَثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ راغلي.

٦- باب: مړي ته په طاق عدد غسل ورکول مستحب دي

635- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رضي الله عنها قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَنَحْنُ نَغْسِلُ ابْنَتَهُ فَقَالَ "اغْسِلْنَهَا ثَلاَثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَاجْعَلْنَ فِي الآخِرَةِ كَافُورًا، فَإِذَا فَرَغْتُنَّ

فَآذِنَّنِي". فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ، فَأَلْقَى إِلَيْنَا حِقْوَهُ فَقَالَ "أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ". (بخاري:1253)

635- له ام عطيه انصاريه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال كي موږ ته راغى چي موږ د ده لور ته غسل وركاوو، راته وئې فرمايل: درې ځلي يا پنځه ځلي او يا تر دې زيات غسل وركړئ، په اوبو او د سدر بوټي پاڼو سره غسل وركړئ او په پاى كي كافور (يو ډول عطرناك توكى) وكاروئ او كله چي له غسل فارغي شئ نو ماته احوال راكړئ. نو كله چي موږ له غسل فارغي شوو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مو خبر وركړ، نو راغى او خپل ځنګ ئې راكړ او وئې فرمايل: دا ئې له كفن لاندي ور واغوندئ.

تكرار: 167، 1253، 1255، 1256، 1257، 1258، 1259، 1260، 1261، 1262، 1263

توپير: په يوه كي اغْسِلْنَهَا ثَلاَثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِى الآخِرَةِ كَافُورًا، په بل كي اغْسِلْنَهَا ثَلاَثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ، په بل كي اغْسِلْنَهَا بِالسِّدْرِ وِتْرًا ثَلاَثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِكَ، په يوه كي أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ، په يوه كي ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا، په يوه كي وَجَعَلْنَا رَأْسَهَا ثَلاَثَةَ قُرُونٍ، په بل كي ثَلاَثَةَ قُرُونٍ نَقَضْنَهُ ثُمَّ غَسَلْنَهُ ثُمَّ جَعَلْنَهُ ثَلاَثَةَ قُرُونٍ، په بل كي فَضَفَرْنَا شَعَرَهَا ثَلاَثَةَ قُرُونٍ وَأَلْقَيْنَاهَا خَلْفَهَا راغلي، په يوه كي دا هم راغلي وَلاَ أَدْرِى أَىُّ بَنَاتِهِ. د ټولو ګډ مطلب دا دئ: د رسول الله صلى الله عليه و سلم كومه لور وفات شوې وه، غسل وركوونكو ته ئې وفرمايل چي درې يا پنځه ځلي غسل وركړئ، ضرورت ته په پام سره كولى شئ

تر دې ئې زيات کړئ، په اوبو کي د سدر پاڼي هم ګډي کړئ، غسل له ښي اړخ او د اوداسه له ځايونو پيل کړئ، عطر د غسل په پای کي پرې ولګوئ، د سر وېښتان ئې په دريو برخو وروېشلي، د سر شا ته ئې وراچولي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم لُنګ ئې تر کفن لاندي وراغوستی. که څه هم په دې رواياتو کي دا نه دي ويل شوي چي دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم کومه لور وه، خو ځيني وايي چي دا زينب رضي الله عنها وه.

دې ته مو پام وي چي په روايت کي دا نه دي ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دوی ته امر کړی وو چي وېښتان ئې درې کوڅې کړئ او د سر شا ته ئې ورواچوئ، غسل ورکوونکو په خپله دا کار کړی، د همدې لپاره احناف د روايت دا برخه د حکم منشأ نه نيسي، د تندي وېښتان په خپل حال پرېښودل او د سر دواړو خواوو ته وېښتان په دوو برخو وېشل او په عادي توګه ئې پر اوږو او سينه اچول کافي ګڼي، استدلال ئې دا دئ چي د مړي سنګارول ضروري نه دي.

۷- باب: غسل بايد د مړي له ښي اړخ پيل شي

636 . وَفِيْ رِوَايَةٍ أُخْرَى أَنَّهُ قَالَ: "ابْدَءُوْا بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا". قَالَتْ: وَمَشَطْنَاهَا ثلاثةَ قُرُونٍ. (بخاري: 1255)

636- په بل روايت کي راځي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: غسل له ښی خوا او د اوداسه له غړو پيل کړئ، ام عطيه وايي: موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لور سر ږمنځ کړ او د دې وېښتان مو درې کوڅې کړې.

تکرار: 167، 1253، 1254، 1256، 1257، 1258،

1259، 1260، 1261، 1262، 1263
توپیر: په 635 روایت کي ئې وګورئ.

۸- باب: د کفن ټوټه سپینه وي

637- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كُفِّنَ فِي ثَلاَثَةِ أَثْوَابٍ يَمَانِيَةٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ مِنْ كُرْسُفٍ، لَيْسَ فِيهِنَّ قَمِيصٌ وَلاَ عِمَامَةٌ. (بخاري:1264)

637- له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله علیه وسلم ته په دریو سپینو یماني سحولیه نومي جامو کي چي له مالوچو جوړې شوې وې کفن ورکړی شو، په هغو دریو جامو کي کمیس او پټکی نه وو.

په دې اړه مختلف روایات دي چي د رسول الله صلى الله علیه و سلم کفن څو او څه رنګ ټوټې وې، محققینو دغه روایت ته ترجیح ورکړې.

۹- باب: په دوو جامو کي کفن کول

638- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ- رضي الله عنهم- قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ إِذْ وَقَعَ عَنْ رَاحِلَتِهِ فَوَقَصَتْهُ- أَوْ قَالَ فَأَوْقَصَتْهُ- قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْنِ، وَلاَ تُحَنِّطُوهُ وَلاَ تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ، فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا". (بخاري:1265)

638- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي:

يو سړی په عرفات کي له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ولاړ وو چي له خپلي اوښي ولوېد او ورمېږ ئې ورمات کړ (مړ شو)، نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په اوبو او سدر سره غسل ورکړئ او دوې جامې ورته کفن کړئ، عطر مه ورباندي وهئ، سر ئې هم مه ورپټوئ، ځکه هغه به د قيامت په ورځ په داسي حال کي راپورته کېږي چي تلبيه به وايي.

تکرار: 1266، 1267، 1268، 1839، 1849، 1850، 1851

توپير: تقريباً همدا پورتنی روايت له معمولي توپير سره په مکرره توګه راوړل شوی، د دې لپاره چي لاندي احکام ترې راوباسي: د محرم کفن دوه ټوټې وي، سر به نه ورپټېږي، عطر به نه ورباندي وهل کېږي، وجه ئې دا ښودلې چي د قيامت په ورځ به د يوه داسي محرم په توګه راپاڅي چي تلبيه به وايي.

د فقهاوو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چي د محرم کفن به څو ټوټې وي، ځيني په همدې روايت استناد کوي او وايي چي د محرم کفن به دوه ټوټې وي، خو نورو رواياتو ته په پام سره ويلی شو چي غوره رأيه دا ده: د هر چا لپاره (که محرم وي يا غير محرم) مسنون کفن درې ټوټې دئ، خو د ضرورت له مخي تر دې کم هم جائز دئ.

۱۰- باب: د مړي کفن

639- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ عَبْدَ الله بْنَ أُبَيٍّ لَمَّا تُوُفِّيَ جَاءَ ابْنُهُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله

أَعْطِنِي قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، وَصَلِّ عَلَيْهِ وَاسْتَغْفِرْ لَهُ، فَأَعْطَاهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم قَمِيصَهُ فَقَالَ "آذِنِّي أُصَلِّي عَلَيْهِ". فَآذَنَهُ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ جَذَبَهُ عُمَرُ رضي الله عنه فَقَالَ أَلَيْسَ الله نَهَاكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ فَقَالَ "أَنَا بَيْنَ خِيرَتَيْنِ قَالَ (اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ الله لَهُمْ)". فَصَلَّى عَلَيْهِ فَنَزَلَتْ (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا).

(بخاري:1269)

639- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ: کله چې عبدالله بن ابی (د منافقانو رئیس) مړ شو، زوی ئې (عبدالله بن عبدالله بن ابی) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! کمیس دي راکړه چې ورته کفن ئې کړم او جنازه ئې هم وکړه او بخښنه ورته وغواړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل کمیس ورکړ او وئې فرمایل: بیا خبر راکړه چې جنازه ئې وکړم، کله چې ئې خبر ورکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده وکړه چې د جنازې لمونځ ئې وکړي، عمر رضي الله عنه راونیو او ورته وئې ویل: آیا الله تعالی پر منافقانو له لمانځه یې منع کړی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته دوه اختیاره راکړل شوي او راته فرمایلي ئې دي: (بخښنه ورته غواړې او که نه، که اویا ځله هم بخښنه ورته وغواړې نو الله تعالی به هیڅکله بخښنه ورته ونه کړي، بیا لاړ او د هغه منافق د جنازې لمونځ ئې وکړ، نو دا آیت نازل شو: (ولا تصل علی احد منهم مات ابداً: له دوی چې څوك مړ شي هیڅکله ئې د جنازې لمونځ مه کوه.

تکرار: 4670، 4672، 5796

توپير: په يوه کي فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ قَمِيصَهُ يُكَفِّنُ فِيهِ أَبَاهُ فَأَعْطَاهُ، ثُمَّ سَأَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ، په بل کي فَقَالَ يَا رَسُولَ الله أَعْطِنِى قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، وَصَلِّ عَلَيْهِ وَاسْتَغْفِرْ لَهُ، فَأَعْطَاه، په يوه کي فَقَالَ "آذِنِّى أُصَلِّى عَلَيْهِ". فَآذَنَهُ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ جَذَبَهُ عُمَرُ رضي الله عنه فَقَالَ أَلَيْسَ الله نَهَاكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ، په بل کي فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لِيُصَلِّيَ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِثَوْبِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله تُصَلِّى عَلَيْهِ وَقَدْ نَهَاكَ رَبُّكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَيْهِ، په يوه کي أَنَا بَيْنَ خِيرَتَيْنِ، په بل کي إِنَّمَا خَيَّرَنِى الله، په يوه کي فَصَلَّى عَلَيْهِ فَنَزَلَتْ، په بل کي فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَأَنْزَلَ الله راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه څو ستونزي لري: روايت له يوې خوا وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابن ابى د جنازې لمونځ وکړ بيا دا آيت نازل شو چي د منافقينو د جنازې لمونځ مه کوه، له بلي خوا وايي چي عمر رضي الله عنه وويل: الله تعالى د منافقينو د جنازې له لمانځه منع کړى يې!! د عمر رضي الله عنه د وينا معنى دا ده چي دا آيت تر دې د مخه نازل شوى!! ځکه له دې پرته بل داسي آيت نشته چي د منافقينو د جنازې له لمانځه ئې ممانعت کړى وي، څوك چي وايي عمر رضي الله عنه په بل آيت استناد کړى ادعاء ئې بې دليله ده ځکه داسي کوم سند نشته چي وښيي د (استغفر لهم او لا تستغفر لهم) او (و لا تصل على احد منهم مات ابداً) آيتونه په بېلو بېلو وختونو کي نازل شوي، دا دواړه د التوبې د سورې 80 او 84 آيتونه دي، د يوه مضمون دوه آيتونه، که دا آيتونه په خپل ځاى

کي ولولئ نو په بشپړه توګه به درته واضح شي چي دواړه په يو وخت او متصل نازل شوي، هيڅ مفسر دا خبره نه ده کړې چي دا دواړه آيتونه په بېلو بېلو وختونو کي نازل شوي، هيڅ روايت هم دا خبره نه کوي، نه نقل دا خبره مني او نه عقل چي دا آيتونه بېل بېل نازل شوي، د دې تصور هم نشي کېدی چي دا آيتونه دي تر دې د مخه نازل شوي وي او بيا دي هم رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابن ابی جنازه کړې وي!! که دا آيتونه د جنازې تر لمانځه مخکي نازل شوي وو نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به هيڅکله د هغه د جنازې لمونځ نه کولو او که وروسته نازل شوي وي نو عمر رضي الله عنه څنګه او ولي او د کوم آيت په استناد د جنازې له لمانځه منع کولو؟!! دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چي دا روايت نه د سند له پلوه زيات وزن لري او نه د متن له پلوه د منلو وړ دئ، دا روايت خلکو ته دا انتباه ورکوي چي ګواکي عمر رضي الله عنه تر رسول الله صلى الله عليه و سلم هم د الله تعالى د حکم په منشأ زيات پوهېدو او زيات ورته منقاد وو، حاشا و کلا.

640- حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرًا رضي الله عنه قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَبْدَ الله بْنَ أُبَيٍّ بَعْدَ مَا دُفِنَ فَأَخْرَجَهُ، فَنَفَثَ فِيهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ. (بخاري: 1270)

640- له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي عبدالله بن ابی دفن شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم راغی هغه ئې له قبر نه راوايست، د خپلو لاړو دم ئې پرې

وکړ او خپل کمیس ئې ور واغوست.
تکرار: 1350، 3008، 5795
توپیر: په یوه کې بَعْدَ مَا دُفِنَ فَأَخْرَجَهُ، په بل کې بَعْدَ مَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ، په یوه کې فَنَفَثَ فِيهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ، په بل کې فَوَضَعَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ، وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ، په بل کې فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ، وَوُضِعَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ، وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ، وَالله أَعْلَمُ، په یوه کې فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبْدِ الله يَا رَسُولَ الله، أَلْبِسْ أَبِي قَمِيصَكَ الَّذِي يَلِي جِلْدَكَ، په یوه کې أَلْبَسَ عَبْدَ الله قَمِيصَهُ مُكَافَأَةً لِمَا صَنَعَ، په بل کې كَانَتْ لَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم يَدٌ فَأَحَبَّ أَنْ يُكَافِئَهُ، په بل کې وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا راغلي.

دا روایت د سند له مخې مطلق غریب دئ، په دریو طبقو کې یو یو راوي لري، د متن له مخې له مخکني سره په بشپړه توګه تعارض لري، هغه وایي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د جنازې له لمانځه مخکې خپل کمیس د ده زوی ته ورکړ او دا وایي چې له قبر نه ئې راوایست او خپل کمیس ئې ورواغوست، که رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه د جنازې لمونځ کړی وي نو د تدفین په مراسمو کې به ئې هم برخه اخیستې وي نو له قبره ئې بېرته رایستل یعني څه؟! آیا کېدی شي په داسې کمزورو او یو له بل سره متعارضو روایاتو استناد وکړو او ووایو چې د دوهم کفن لپاره له قبر نه د مړي راایستل جواز لري؟!! دا دواړه روایات نه یوازې د استناد وړ نه دي بلکې د اسلام له ډېرو بنیادي اصولو سره تعارض لري، د اسلام څرګند او پرېکنده اصول دا دي چې الله تعالی له بنده سره په خپلې محاسبې

کي نه د هغه رنګ ته ګوري، نه حسب او نسب ته او نه جامې او کفن ته، د پیغمبر علیه السلام جامه خو پرېږدئ چې څوك د الله تعالی له مؤاخذې او عذاب نشي ژغورلی بلکي د پیغمبر له وجود جوړ شوی د هغه اولاد هم د الله تعالی له عذابه نشي ژغورل کېدی، دا هغه څه دي چې قرآن ئې موږ ته وایي او هغه څه دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو لونو او خپلوانو ته ویلي، څه چې انسان ژغوري یوازي د ده ایمان او عمل دئ، لیس للاءنسان إلا ما سعی. په ډېر یقین سره ویلی شو چې که د عبدالله بن ابی زوی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې لپاره ورغلی وی چې خپل کمیس دي د تبرك لپاره زما پلار ته راکړه نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ورته ویلي وو چې زما کمیس هیچا ته ګټه نه رسوي، له هر چا سره به د ده د عمل له مخي معامله کېږي. خو که دا کمیس ئې د دې لپاره ترې غوښتی وی چې د کفن لپاره څه نه لري نو یقیناً چې خپل کمیس به ئې ورکړی وو.

په همدې اړه دې ته ورته یو بل روایت هم شته چې راوي ئې واقدي دئ او وایي: ابن ابی په خپله له رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه کمیس غوښتی وو چې ځان ته کفن ترې جوړ کړي او ګواکي رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل کمیس ورکړی وو!! د واقدي په اړه محققین ملاحظات لري، که دا ملاحظات نه وی نو ښایي په بخاري کي به دا روایت هم راوړل شوی وو، پرته له دې چې وویل شي په دې دریو متعارضو روایاتو کي کوم یو ارجح دئ؟!! لوستونکي به حیران ول چې کوم یو ترې غوره کړي او

عمل پرې وکړي.

څوك چي دا روايات صحيح ګڼي څو پوښتني ترې لرو:

په دوی کي کوم يو صحيح دئ؟ په څو متعارضو او متضادو رواياتو کي خو يوازي يو صحيح کېدی شي!!

آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې پوهېدو چي ابن ابی منافق دئ او د ده استغفار، لمونځ او کميس هيڅ ګټه نه وررسوي؟ که داسي وي نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به څنګه او ولي يو بې فائدې کار کولو؟

آيا عمر رضي الله عنه د الله تعالى د حکم له منشأ نه ښه خبر وو که رسول الله صلى الله عليه و سلم؟

روايت خو وايي چي عمر رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: الله تعالى پر منافقينو له لمونځ کولو منع کړی يې، د دې معنى خو يوازي دا کېدی شي چي د منعي اړوند آيت لا د مخه نازل شوی وو، په دې توګه ستا د خبري معنى دا شوه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د صريح الهي حکم مخالفت وکړ!! (نعوذ بالله من ذالك)

دا روايت يوازي په هغه صورت کي د اعتبار وړ ګڼلی شو چي ابن ابی د تبوك له جګړي او د دغه آيت له نزول مخکي مړ شوی وي، په دې صورت کي به هغه روايات صحيح نه ګڼو چي وايي دی د تبوك له جګړي وروسته مړ شوی، دې ته مو هم پام وي چي بخاري په دې اړه يو بل روايت هم راوړی چي له مخکني سره په بشپړه توګه تعارض لري، روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنِى اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ

عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رضي الله عنهم - أَنَّهُ قَالَ لَمَّا مَاتَ عَبْدُ الله بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ دُعِيَ لَهُ رَسُولُ الله - صلى الله عليه و سلم - لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ، فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ الله - صلى الله عليه و سلم - وَثَبْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله، أَتُصَلِّي عَلَى ابْنِ أُبَيٍّ وَقَدْ قَالَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا - أُعَدِّدُ عَلَيْهِ قَوْلَهُ - فَتَبَسَّمَ رَسُولُ الله - صلى الله عليه و سلم - وَقَالَ "أَخِّرْ عَنِّي يَا عُمَرُ". فَلَمَّا أَكْثَرْتُ عَلَيْهِ قَالَ "إِنِّي خُيِّرْتُ فَاخْتَرْتُ، لَوْ أَعْلَمُ أَنِّي إِنْ زِدْتُ عَلَى السَّبْعِينَ فَغُفِرَ لَهُ لَزِدْتُ عَلَيْهَا". قَالَ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ الله - صلى الله عليه و سلم - ثُمَّ انْصَرَفَ، فَلَمْ يَمْكُثْ إِلاَّ يَسِيرًا حَتَّى نَزَلَتِ الآيَتَانِ مِنْ (بَرَاءَةٌ) (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا) إِلَى (وَهُمْ فَاسِقُونَ) قَالَ فَعَجِبْتُ بَعْدُ مِنْ جُرْأَتِي عَلَى رَسُولِ الله - صلى الله عليه و سلم - يَوْمَئِذٍ، وَالله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. (بخاري: 1366)

له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي عبدالله بن ابی بن سلول مړ شو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته بلنه ورکړی شوه چي پر ده د جنازې لمونځ وکړي، کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ودرېدو نو زه ورپورته شوم او ورته ومي ویل: یا رسول الله! آیا د ابن ابی د جنازې لمونځ کوې حال دا چي په دې او هغي ورځي ئې دا او هغه ویلي وو؟! د ده ویناګاني مي ورته تکرارولې، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم موسکی شو او وئې فرمایل: له ما درشا ته شه اې عمره! خو کله چي ما ډېر ټینګار پرې وکړ وئې فرمایل: ما ته اختیار راکړی شوی او یو مي ترې غوره کړ، که پوه شم چي تر اویا ځلي زیات استغفار سره ده ته بخښنه کېږي نو زه به ئې زیات کړم، عمر رضي الله عنه

وايي: نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د جنازې لمونځ وکړ بيا له لمانځه فارغ شو، لنډه موده لا نه وه تېره شوې چې د براءة د سورې دا دوه آيتونه نازل شول: (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا) تر (وَهُمْ فَاسِقُونَ) پورې، نو زه له هغه وروسته حيران وم چې څنګه مې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه هغه جسارت وکړ، الله تعالى او د هغه رسول ډېر ښه پوهېږي.

لکه چې ګورئ دا روايت هغه خبره نه کوي چې په بل روايت کې راغلې او ګواکې عمر رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويلي وو چې څنګه د يوه منافق د جنازې لمونځ کوې حال دا چې الله تعالى ترې منع کړی يې؟!! له دې هم معلومېږي چې د ابن ابى د مړيني په وخت کې دا آيت نه وو نازل شوى او عمر رضي الله عنه دا خبره نه ده کړې.

١١- باب: که د ټول بدن لپاره د کفن ټوټه نه وي نو سر دې پټ کړل شي

641- حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا شَقِيقٌ حَدَّثَنَا خَبَّابٌ رضي الله عنه قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم نَلْتَمِسُ وَجْهَ الله، فَوَقَعَ أَجْرُنَا عَلَى الله، فَمِنَّا مَنْ مَاتَ لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ، وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا. قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ، فَلَمْ نَجِدْ مَا نُكَفِّنُهُ إِلاَّ بُرْدَةً إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلاَهُ، وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ، فَأَمَرَنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ نُغَطِّيَ رَأْسَهُ، وَأَنْ نَجْعَلَ

عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الإِذْخِرِ. (بخاري:1276)

641- له خباب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د الله تعالى د رضاء لپاره مو له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره هجرت وکړ، اجر مو پر الله تعالى شو، خو له موږ ځيني په داسي حال کي وفات شول چي د خپل عمل کومه دنيوي بدله ئې ترلاسه نه کړه، مصعب بن عمير يو له دوی وو، او له موږ ځينو ته په دنيا کي هم د خپل عمل مېوه په برخه شوه چي ټولوي ئې. مصعب رضي الله عنه د احد په غزا کي شهيد شو او د کفن لپاره ئې له يوه څادر پرته بله جامه او ټوټه نه وه، که به مو سر پرې ورپټ کړ نو پښې به ئې لوڅېدې او که به مو پښې ورپټي کړې نو سر به ئې لوڅېدو، نو نبي صلى الله عليه وسلم امر وکړ چي سر ئې ورپټ کړو او پر پښو ئې د ازخر بوټي واچوو.

تکرار: 3897، 3913، 3914، 4047، 4082، 6432، 6448

توپير: په يوه کي- نَلْتَمِسُ وَجْهَ الله، په بل کي نُرِيدُ وَجْهَ الله، په يوه کي فَمِنَّا مَنْ مَاتَ لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا، په بل کي فَمِنَّا مَنْ مَضَى، لَمْ يَأْخُذْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا، په بل کي فَمِنَّا مَنْ مَضَى أَوْ ذَهَبَ لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا، په يوه کي وَتَرَكَ نَمِرَةً، په بل کي فَلَمْ نَجِدْ مَا نُكَفِّنُهُ إِلاَّ بُرْدَةً إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلاَهُ، وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ، په بل کي فَكُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ بَدَتْ رِجْلاَهُ، وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ بَدَا رَأْسُهُ راغلي.

مطلب ئې دا دئ چي د مصعب بن عمير رضي الله عنه کفن يوازي يو څادر وو، نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په امر مو د سر خوا ورپټه کړه او پر پښو مو بوټي

ورواچول.

١٢- باب: په هغه چا نيوکه ونشوه چي ځانته ئې کفن تيار کړی وو.

642- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ رضي الله عنه أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم بِبُرْدَةٍ مَنْسُوجَةٍ فِيهَا حَاشِيَتُهَا- أَتَدْرُونَ مَا الْبُرْدَةُ قَالُوا الشَّمْلَةُ. قَالَ نَعَمْ. قَالَتْ نَسَجْتُهَا بِيَدِى، فَجِئْتُ لأَكْسُوَكَهَا. فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مُحْتَاجًا إِلَيْهَا، فَخَرَجَ إِلَيْنَا وَإِنَّهَا إِزَارُهُ، فَحَسَّنَهَا فُلاَنٌ فَقَالَ اكْسُنِيهَا، مَا أَحْسَنَهَا. قَالَ الْقَوْمُ مَا أَحْسَنْتَ، لَبِسَهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مُحْتَاجًا إِلَيْهَا، ثُمَّ سَأَلْتَهُ وَعَلِمْتَ أَنَّهُ لاَ يَرُدُّ. قَالَ إِنِّى وَالله مَا سَأَلْتُهُ لأَلْبَسَهَا إِنَّمَا سَأَلْتُهُ لِتَكُونَ كَفَنِى. قَالَ سَهْلٌ فَكَانَتْ كَفَنَهُ. (بخاري:1277)

642- له سهل رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوې ښځي يو اوبدل شوی څادر چي پيڅکي يا شملې ئې درلودې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راوړ، پوهيږئ چي (برده) څه ته وايي؟ حاضرينو وويل: برده هغه څادر ته وايي چي ټول بدن پرې پټيږي. سهل رضي الله عنه وويل: هو. همدا برده ده. هغي ښځي وويل: دا څادر مي په خپل لاس اوبدلی، غواړم تا ته ئې درواغوندم. رسول الله صلى الله عليه وسلم چي جامې ته اړ وو ترې وائې خيست، بيا په داسي حال کي موږ ته راووت چي له هغه څادر نه ئې لُنګ جوړ کړی وو، يوه تن دا جامه ډېره وستايله او وئې ويل: څومره ښکلې ده، ما ته ئې د اغوستو لپاره راکړه، خلکو ورته وويل: ښه کار

دي ونه کړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته د اړتيا له امله اغوستى وو، او تا ترې وغوښت، په داسي حال کي چي پوهيږې هغه غوښتنه نه ردوي، هغه وويل: قسم په خداى ما د دې لپاره نه دئ ترې غوښتى چي وائي غوندم، بلکي د دې لپاره مي ترې وغوښت چي زما کفن شي. سهل رضي الله عنه وايي: بيا ئې همدا څادر کفن شو.

تکرار: 2093، 5810، 6036

توپير: توپير: په يوه کي بِبُرْدَةٍ مَنْسُوجَةٍ فِيهَا حَاشِيَتُهَا، په بل کي بِبُرْدَةٍ مَنْسُوجٌ فِى حَاشِيَتِهَا، په يوه کي نَسَجْتُهَا بِيَدِى، فَجِئْتُ لأَكْسُوَكَهَا، په بل کي إِنِّى نَسَجْتُ هَذِهِ بِيَدِى أَكْسُوكَهَا په يوه کي ثُمَّ رَجَعَ فَطَوَاهَا، ثُمَّ أَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ، په بل کي فَجَلَسَ مَا شَاءَ الله فِى الْمَجْلِسِ ثُمَّ رَجَعَ، فَطَوَاهَا ثُمَّ أَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ په يوه کي فَحَسَّنَهَا فُلاَنٌ فَقَالَ اكْسُنِيهَا، په بل کي فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ يَا رَسُولَ الله، اكْسُنِيهَا، په يوه کي فَقَالَ رَجَوْتُ بَرَكَتَهَا حِينَ لَبِسَهَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم لَعَلِّى أُكَفَّنُ فِيهَا، په بل کي فَقَالَ الرَّجُلُ وَالله مَا سَأَلْتُهَا إِلاَّ لِتَكُونَ كَفَنِى يَوْمَ أَمُوتُ راغلي.

له دې روايت دا نه معلوميږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتونکي ته خپله جامه د تبرك لپاره وركړې وي، بلکي دا د غوښتونکي خپله هيله وه. دې ته مو هم پام وي چي دا روايت د سند له مخي تر مطلق غريب اوښتى او په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري.

١٣- باب: له جنازې سره د ښځو ملګرتيا

643- حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ أُمِّ الْهُذَيْلِ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رضي الله عنها قَالَتْ نُهِينَا عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ،

وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا. (بخاري:1278)
643- له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: موږ (ښځي) د جنازې له ملګرتيا منع شوې وو، خو دا نهي جدي نه وه. مطلب دا چي له جنازې سره د ښځو ملګرتيا حرام نه بلکي مکروه عمل دئ.
تکرار: 313، 1279، 5340، 5341، 5342، 5343
توپير: توپيرونه په ۲۱۲ روايت کي وګورئ.

١٤- باب: ښځه چي له خاوند پرته په بل چا وير کوي

644- حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ مُوسَى قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا جَاءَ نَعْيُ أَبِي سُفْيَانَ مِنَ الشَّأْمِ دَعَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ رضي الله عنها بِصُفْرَةٍ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ، فَمَسَحَتْ عَارِضَيْهَا وَذِرَاعَيْهَا وَقَالَتْ إِنِّي كُنْتُ عَنْ هَذَا لَغَنِيَّةً، لَوْلاَ أَنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ، فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا". (بخاري:1281)
644- له زينب بنت ابي سلمه روايت دئ چي وايي: کله چي د ابو سفيان د مړيني خبر راغی نو (د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمني ام حبيبه رضي الله عنها په درېيمي ورځ خپل اننګي او لاسونه رنګ کړل او وئې ويل: زه له دې کار بې نيازه وم، که مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم نه وی اورېدلي چي فرمايل ئې: په الله تعالى او آخرت باندي ايمان لرونکې ښځي ته جائز نه دي چي پر مړي تر دريو ورځو زيات وير وکړي، مګر د مېړه پر مړينه، چي پر هغه به څلور مياشتي او لس ورځي وير کوي. (همدا ئې د عدت

موده ده او د حاملې ښځي عدت د ماشوم زېږېدل دي).
تکرار: 1281، 5334، 5339، 5345
توپير: په يوه کي فَدَعَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ بِطِيبٍ فِيهِ صُفْرَةٌ خَلُوقٌ أَوْ غَيْرُهُ فَدَهَنَتْ مِنْهُ جَارِيَةً، ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا، په بل کي دَعَتْ بِطِيبٍ، فَمَسَحَتْ ذِرَاعَيْهَا، په يوه کي ثُمَّ قَالَتْ وَالله مَا لِى بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ، په بل کي وَقَالَتْ مَا لِى بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ، په يوه کي لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ، په بل کي لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ تُحِدُّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ راغلي.

١٥- باب: د قبر زيارت

645- حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ "اتَّقِى الله وَاصْبِرِى". قَالَتْ إِلَيْكَ عَنِّى، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِى، وَلَمْ تَعْرِفْهُ. فَقِيلَ لَهَا إِنَّهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم. فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ فَقَالَتْ لَمْ أَعْرِفْكَ. فَقَالَ "إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى". (بخاري:1283)

645- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ښځه وليده چي په يوه قبر باندي ژاړي نو وئې فرمايل: له الله تعالى ووېرېږه او صبر کوه، هغي ښځي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ئې نه پېژاندو وويل: له ما درتم شه (پرې مي ږده)، ته زما په مصيبت نه يې اخته شوى، ورته وويل شول چي دا خو نبي صلى الله عليه وسلم وو، نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم دروازې ته راغله او هلته ئې پيره داران او ساتونکي

ونه ليدل، وئې ويل: ما ونه پېژندې، وئې فرمايل: صبر هغه دئ چې د مصيبت په لومړي سر کې وي.
تکرار: 1252، 1302، 7154
توپير: په يوه کې فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِى، په بل کې فَإِنَّكَ خِلْوٌ مِنْ مُصِيبَتِى، په يوه کې فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه وسلم، په بل کې فَجَاءَتْ إِلَى بَابِهِ فَلَمْ تَجِدْ عَلَيْهِ بَوَّابًا، په يوه کې فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ، په بل کې فَقَالَتْ لَمْ أَعْرِفْكَ، په بل کې فَقَالَتْ يَا رَسُولَ الله وَالله مَا عَرَفْتُكَ، په يوه کې إِنَّ الصَّبْرَ عِنْدَ أَوَّلِ صَدْمَةٍ، په بل کې إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى راغلي.

مطلب ئې دا دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يوې ښځې ته چې د قبر خوا ته ئې ژړل وفرمايل: له الله تعالى ووېرېږه او صبر کوه، هغې نه پېژندو او ورته وئې ويل: ته له هغه مصيبته فارغ يې چې زما په برخه شوى، پيغمبر عليه السلام ترې ولاړ او چا دې ښځې ته وويل چې دا خو رسول الله صلى الله عليه و سلم وو، نو دا ئې کور ته ورغله او وئې ليدل چې د کور په دروازه کې ئې ساتونکي نشته، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل چې ما ونه پېژندې، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: صبر هغه دئ چې د مصيبت په لومړي سر کې وي. وروسته خو غم په خپله ورو ورو هېر شي، د صبر ثواب هغه مهال د انسان په برخه کېږي چې د مصيبت په پيل کې له بې صبرۍ ځان وساتي.

د دې روايت په اړه څو خبرو ته پام کوئ:

بخاري دا روايت د دې لپاره راوړى چې وښيي د قبر

لیدو ته د ښځو ورتګ جائز دئ، ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغي ښځي په دې کار اعتراض ونکړ.

رسول الله صلی الله علیه و سلم د دعوت په لومړیو کي د قبرونو له زیارت مسلمانان منع کړي وو، د رسالت په وروستیو کلونو کي ئې اجازه ورکړه، ځیني وروستی حکم د لومړي حکم ناسخ ګڼي، چي دا یوه اشتباه ده، حقیقت دا دئ چي لومړی حکم په یوې مرحلې پوري تړلی دئ او دوهم حکم په بلي مرحلې پوري، هغه مهال چي پر قبرونو ګنبدي ولاړي وې، مجاورین ئې درلودل، خلك به د خپلو حاجتونو لپاره قبرونو ته تلل، شرك او خرافاتو پر ټولني تور وزر خور کړی وو نو رسول الله صلی الله علیه و سلم قبرونو ته له تلو نهي او ممانعت وکړ، خو هغه مهال چي دا حالت ختم شو، نه نور پر قبرونو ګنبدي وې، نه زیارتونه، نه ئې خوا ته مجاورین، د شرك او خرافاتو ټغر ټول شوی وو، اسلامي نظام حاکم وو، خلك د توحید په مدرسه کي ښه روزل شوي وو، نو قبرونو ته په دې موخه د ورتلو اجازه ورکړی شوه چي مرګ ورپه یاد کړي، پند ترې واخلي او مړو ته د مغفرت او بخښني دعاء وکړي. د اسلامي امت اوسنی حالت داسي دئ لکه د رسالت د لومړیو کلونو حالت، اوس باید هر مفتي او عالم خلکو ته همغه څه ووایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت په لومړیو کلنو کي ویلي وو، زیارت ته له تلو هم نارینه منع کړي او هم ښځي، یوازي هغه مهال اجازه ورکړي چي ډاډه وي د قبر خوا ته د ګناه او شرك ارتکاب نه کوي. عجیبه ده چي ځیني جومات ته د ښځو تګ حرام ګڼي خو زیارتونو، مېلو، ودونو او بازارونو

ته ئې پر تګ اعتراض نه لري او پر داسي رواياتو استناد کوي او وايي چي د نه تګ مخکنی حکم منسوخ شوی!!! حقيقت دا دئ چي لومړی حکم منسوخ شوی نه دئ بلکي هغه د يوه حالت لپاره او دا د بل حالت لپاره دئ.

١٦- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا چي مړی د خپلوانو په ځينو ژړاوو تعذيب کيږي

646- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ وَمُحَمَّدٌ قَالاَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ رضي الله عنهما قَالَ أَرْسَلَتِ ابْنَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِلَيْهِ إِنَّ ابْنًا لِي قُبِضَ فَائْتِنَا. فَأَرْسَلَ يُقْرِئُ السَّلاَمَ وَيَقُولُ "إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَى وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ". فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا، فَقَامَ وَمَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَرِجَالٌ، فَرُفِعَ إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم الصَّبِيُّ وَنَفْسُهُ تَتَقَعْقَعُ- قَالَ حَسِبْتُهُ أَنَّهُ قَالَ- كَأَنَّهَا شَنٌّ. فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. فَقَالَ سَعْدٌ يَا رَسُولَ الله مَا هَذَا فَقَالَ "هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا الله فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ، وَإِنَّمَا يَرْحَمُ الله مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ". (بخاري:1284)

646- له اسامه بن زيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم يوې لور رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خبر ورکړ چي يو زوی مي مړ شوی زموږ خوا ته راشه، رسول الله صلى الله عليه وسلم په ځواب کي سلام ور ولېږو او وئې فرمايل: ټول هغه څه د الله تعالى دي چي ورکوي ئې يا ئې بېرته اخلي. هر څه د الله

تعالی خوا ته په ټاکلې نېټه ترسره کېږي، نو صبر دي وکړي او له الله تعالی دي اجر وغواړي، لور ئې بیا څوک ورولېږو او قسم ئې ورکړ چي حتماً ورشي، نو په داسي حال کي پاڅېد چي سعد بن عباده، معاذ بن جبل، ابی بن کعب، زید بن ثابت رضي الله عنهم او څو نور سړي ورسره وو، او ماشوم په داسي حال کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورلوړ کړی شو چي سا ئې د ختو په حال کي وه، راوي وايي فکر کوم چي وئي ویل: داسی دئ لکه شن (وچ شوی ژی). د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سترګو اوښکي وبهېدې، سعد ورته وویل: دا څه دي یا رسول الله! وئې فرمایل: دا هغه رحمت دئ چي الله تعالی د خپلو بندګانو په زړونو کي ایښی دئ او الله تعالی پر خپلو رحم کوونکو بندګانو رحم کوي.

تکرار: 5655، 6602، 6655، 7377، 7448

توپیر: په یوه کي إِنَّ ابْنًا لِی قُبِضَ فَائْتِنَا، په بل کي أَنَّ ابْنَتِی قَدْ حُضِرَتْ فَاشْهَدْنَا، په بل کي أَنَّ ابْنَهَا یَجُودُ بِنَفْسِهِ، په یوه کي مَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ، په بل کي وَعُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ...، په یوه کي إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَمَا أَعْطَی وَکُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهُ مُسَمًّی فَلْتَحْتَسِبْ وَلْتَصْبِرْ، په بل کي إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَی وَکُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّی، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ، په یوه کي فَرُفِعَ إِلَی رَسُولِ اللهِ صلی الله علیه و سلم الصَّبِیُّ، په بل کي فَرُفِعَ الصَّبِیُّ فِی حَجْرِ النَّبِیِّ- صلی الله علیه وسلم، په بل کي فَلَمَّا قَعَدَ رُفِعَ إِلَیْهِ، فَأَقْعَدَهُ فِی حَجْرِهِ، په بل کي فَدُفِعَ الصَّبِیُّ إِلَیْهِ، په یوه کي فَقَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ أَتَبْکِی، په بل کي فَقَالَ سَعْدٌ یَا رَسُولَ اللهِ مَا هَذَا، په یوه کي هَذِهِ رَحْمَةٌ وَضَعَهَا اللهُ فِی قُلُوبِ مَنْ شَاءَ مِنْ عِبَادِهِ، په بل کي هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ فِی قُلُوبِ

عِبَادِهِ، په بل کي وَإِنَّمَا يَرْحَمُ الله مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ، په بل کي وَلاَ يَرْحَمُ الله مِنْ عِبَادِهِ إِلاَّ الرُّحَمَاءَ راغلي.

لکه چي ګورئ په دې رواياتو کي کافي توپيرونه، تعارضات او تضادات تر سترګو کيږي چي ځيني ئې دا دي: يو ئې وايي چي زوی ئې مړ شوی، بل ئې وايي چي لور ئې د سا ختو په حال کي ده، يو ئې وايي چي سعد بن عباده ورسره وو، بل ئې وايي چي عباده بن صامت ورسره وو، په يوه کي قُبض يعني مړ شو راغلي او په بل کي حُضرت يعني د ساختو په حال کي دئ راغلي،... د دې رواياتو له مخي هيڅوك دا نشي ويلی چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم کوم لمسی مړ شوی وو او که کومه لمسۍ ئې د نزع حالت کي وه، په ځينو نورو رواياتو کي راغلي چي دا ماشوم دومره ووړ هم نه وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په غېږ کي ورکړی شي بلکي عمر ئې زيات وو او يو ځل رسول الله صلى الله عليه و سلم پر خپلي سپرلۍ له ځان سره سپور کړی وو!! خو په دې روايت کي چي کوم قول رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب شوی هغه ډېر ښکلی دئ: الله تعالى پر خپلو رحم کوونکو بندګانو رحم کوي. د ماشوم د نزعي پر سخت حالت او د خپل لمسي پر مړيني د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوښکو توئېدا ښيي چي هغه څومره نرم زړی، رؤف او مهربان پيغمبر وو.

647- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ هِلاَلِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ شَهِدْنَا بِنْتًا لِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ وَرَسُولُ الله صلى

الله عليه و سلم جَالِسٌ عَلَى الْقَبْرِ- قَالَ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَدْمَعَانِ قَالَ- فَقَالَ "هَلْ مِنْكُمْ رَجُلٌ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ". فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ أَنَا. قَالَ "فَانْزِلْ". قَالَ فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا. (بخاري:1285)

647- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوې لور په جنازه کي حاضر شوو، رسول الله صلى الله عليه وسلم پر قبر ناست وو، راوي وايي: ومي ليدل چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سترګو اوښکي بهېږي، راوي زياتوي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا ستاسي په منځ کي داسي څوک شته چي تېره شپه ئې له خپلي مېرمني سره جماع نه وي کړې، ابو طلحه وويل: زه يم، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قبر ته ورکوز شه، نو هغه ئې قبر ته ورکوز شو.

تکرار: **1342**

توپير: په يوه کي هَلْ مِنْكُمْ رَجُلٌ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ، په بل کي هَلْ فِيكُمْ مِنْ أَحَدٍ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ، په يوه کي قَالَ "فَانْزِلْ فِي قَبْرِهَا". فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا فَقَبَرَهَا، په بل کي قَالَ "فَانْزِلْ". قَالَ فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا راغلي.

دا روايت د سند له مخي مطلق غريب دئ، په دريو طبقو کي يو يو راوي لري، په صحاح سته کي يوازي بخاري راوړی، د متن له پلوه څو جدي پوښتني راولاړوي: 1- د قبر پر سر دا پوښتنه کول چي چا تېره شپه له خپلي مېرمني سره جماع نه ده کړې؛ نه له وضعيت سره کوم مناسبت لري او نه کوم ضرورت ورته شته، قبر ته کوزېدا له دې سره څه مناسبت او تړاو لري چي تېره شپه چا له خپلي مېرمني

سره جماع کړې که نه؟!! مستحب خو دا ده چې د ښځې جنازه د هغه د نژدې خپلوانو په لاس قبر ته کوزه شي!! دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم کومه لور وه، ولې ئې نوم نه دئ اخيستل شوی؟ دا پوښتنه د دې لپاره کوو چې انس رضي الله عنه ته يو بل روايت هم منسوب شوی چې وايي دا رقيه رضي الله عنها وه، روايت دا دئ:

عَن أَنَس؛ أَن رَسولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم قَالَ لَمَّا مَاتَتْ رُقَيَّةُ: لا يَدْخُلُ الْقَبْرَ رَجُلٌ قَارَفَ اللَّيْلَةَ، فَلَمْ يَدْخُلْ عُثْمَان.

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: کله چې رقيه رضي الله عنها وفات شوه نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: چا چې تېره شپه له خپلې مېرمنې سره نژدېکت کړی وي قبر ته دې نه کوزېږي، نو عثمان بن عفان رضي الله عنه قبر ته داخل نشو!!

لکه چې ګورئ په دې دواړو رواياتو کې تضاد او تناقض دئ، يو وايي: هغه دې قبر ته نه ورکوزېږي چې تېره شپه ئې له خپلې مېرمنې سره نژدېکت کړی وي او بل وايي يوازې هغه دې ورکوز شي چې دا کار ئې نه وي کړی!! که څه هم د دې دواړو خبرو پايله يوه راوځي خو، په يوه کې ممانعت دئ او په بل کې انتخاب او غوراوی، په يوه کې د عثمان رضي الله عنه د نه کوزېدو يادونه شوې او داسې ښيي چې ګواکې د ده په خلاف دا خبره شوې وي!! 2- د دې روايت بل عيب دا دئ چې رقيه رضي الله عنها د بدر جنګ په دوران کې وفات او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په غياب کې دفن شوې وه!! له دوهم روايت معلومېږي چې په لومړي کې هم له وفات شوې لور رقيه رضي الله عنها مراد

وه، څوك چي وايي دا ام كلثوم رضي الله عنها وه هغوی له ځانه او د دې روايت د صحيح ثابتولو لپاره دا خبره كوي. دې خبرو ته په پام سره ويلی شو چي دا دواړه روايات د اعتبار وړ نه دي.

648 . عَنْ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم: "إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ". فَبَلَغَ ذلِكَ عَائِشَةَ رضي الله عنها بَعْدَ مَوْتِ عُمَرَ رضي الله عنه، فَقَالَتْ: رَحِمَ الله عُمَرَ، وَالله مَا حَدَّث رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم: إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ، وَلَكِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ: "إِنَّ الله لَيَزِيدُ الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ"وَقَالَتْ: حَسْبُكُمُ الْقُرْآنُ (وَلا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى). (بخاري:1288)

648- له عمر (رضي الله عنه) روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: مړی د خپلوانو د ژړا له امله په عذابېږي. دا خبره د عمر (رضي الله عنه) له وفات وروسته عائشې (رضي الله عنها) ته ورسېده؛ نو هغې وويل: الله تعالى دي پر عمر (رضي الله عنه) رحم وكړي، قسم په الله تعالى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي ندي فرمايلي چي الله تعالى مؤمن ته لدې امله عذاب وركوي چي خپلوان ئې له مرگه وروسته ورباندي ژاړي، بلكي رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي فرمايلي: الله تعالى د كافر عذاب په هغه باندي د خپلوانو د ژړا له امله زياتوي او بيا عائشې (رضي الله عنها) وويل: پدې اړه د قرآن دا قول درته كافي دئ چي وايي: (وَلا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى): هيڅوک به د بل د گناه پېټی پر خپلو اوږو نه اخلي.

تکرار: **1289، 3978**
توپیر: په یوه کي إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ، په بل کي إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ، په بل کي إِنَّهُ لَيُعَذَّبُ بِخَطِيئَتِهِ وَذَنْبِهِ، وَإِنَّ أَهْلَهُ لَيَبْكُونَ عَلَيْهِ الآنَ، په بل کي إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا، وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا راغلي.

د دې روایت په اړه بېل بېل توجیهات شوي، غوره، دقیقه او د قرآن له وینا سره سمه توجیه د عائشې رضي الله عنها ده، دا ځکه چي الله تعالی هیڅکله یو د بل په ګناه نه نیسي، مړی به یوازي د خپلو ګناهونو سزا ګوري او د ده پر قبر نوحه کوونکي به خپله سزا ګوري، د حدیث معنی دا ده چي خپلوان ئې پرې ژاړي خو دی په عذابونو اخته دئ. وروستی روایت ښیي چي دا وینا د یوې یهودۍ په اړه شوې.

ځیني وایي چي د خپلوانو په ژړا د مړي عذاب د دې لپاره زیاتېږي چي هغه په خپل ژوند کي خپل خپلوان همداسي پوه کړي وو، د دې کار ممانعت به ئې نه کولو بلکي هغوی به ئې دې کار ته هڅول، نو ځکه به نن په داسي ژړاګانو د ده عذاب زیاتېږي، دا توجیه په هغه صورت کي صحیح ګڼل کېدی شوی چي په روایت کي داسي الفاظ وی چي دا معنی ترې راووځي، حال دا چي داسي الفاظ نشته، دا له تکلف نه ډکه توجیه ده.

649- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ عَائِشَةَ رضي الله عنها زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ إِنَّمَا مَرَّ

رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى يَهُودِيَّةٍ يَبْكِي عَلَيْهَا أَهْلُهَا فَقَالَ "إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا، وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا". (بخاري:1289)

649- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوې يهودۍ ښځې له قبر نه تېرېدو چې وئې ليدل خپلوان ئې پرې ژاړي، نو وئې فرمايل: دوی پرې ژاړي او هغې ته په خپل قبر کې عذاب ورکول کېږي.

تکرار: 1288، 3978

توپير: شرح ئې په مخکني روايت کې وګورئ.

١٧- باب: په مړي په چيغو ژړا مکروه ده

650- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ عَنِ الْمُغِيرَةِ رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "إِنَّ كَذِبًا عَلَيَّ لَيْسَ كَكَذِبٍ عَلَى أَحَدٍ، مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ". (بخاري:1291)

650- له مغيره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مې واورېدل چې فرمايل ئې: (په ما پسې دروغ ويل په بل چا پوري د دروغ ويلو په څېر نه دي، چا چې په ما پسې دروغ وويل نو د ځان لپاره دي په دوزخ کې د اوسېدو ځای تيار کړي). او له نبي صلى الله عليه وسلم مې واورېدل چې فرمايل ئې: (په چا پسې چې په چيغو چيغو ژړا (نوحه) وشي، نو د همدې ژړا له امله عذاب ورکول کېږي).

دا روايت د سند له مخې مطلق غريب دئ، د متن له پلوه

همغه ستونزه لري چي مخکني درلوده، ځينو دا توجيه کړې چي ګواکي مړي ته د نورو د نوحې له امله د دې لپاره سزا ورکول کېږي چي ده دا کار جائز ګڼلو يا ئې خپلوانو ته ويلي چي دا کار کولی شي!! خو دا توجيه د دې لپاره کمزورې ده چي د روايت په متن کي د دې لپاره کومه اشاره نه مومو، د روايت الفاظ عام دي، دا توجيه د هغه چا له لوري شوې چي غواړي په هره بيع او په هر صورت کي دا روايت صحيح ثابت کړي، که څه هم روايت له قرآن او بل صحيح روايت سره تعارض ولري!!

١٨- باب: څوک چي خپل مخ وهي له موږ نه دئ

651- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا زُبَيْدٌ الْيَامِيُّ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ الله رضي الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الْخُدُودَ، وَشَقَّ الْجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ". (بخاري: 1294)

651- له عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (هغه څوک زموږ له ډلي نه دئ چي د (وررسېدلي غم) له امله خپل مخ ووهي، ګرېوان څيري کړي او د جاهليت ويناوي (دعاګاني) وکړي).
تکرار: 1297، 1298، 3519
توپير: د ټولو الفاظ او محتوى او په څلورو طبقو کي ئې روايان يو شان دي.

١٩- باب:

د سعد بن خوله په مړينه د رسول الله **صلى الله عليه و**

سلم مرثيه

652- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَعُودُنِي عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ اشْتَدَّ بِي فَقُلْتُ إِنِّي قَدْ بَلَغَ بِي مِنَ الْوَجَعِ وَأَنَا ذُو مَالٍ، وَلاَ يَرِثُنِي إِلاَّ ابْنَةٌ، أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي قَالَ "لاَ". فَقُلْتُ بِالشَّطْرِ فَقَالَ "لاَ "ثُمَّ قَالَ "الثُّلُثُ وَالثُّلْثُ كَبِيرٌ- أَوْ كَثِيرٌ- إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ، وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ الله إِلاَّ أُجِرْتَ بِهَا، حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ". فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله، أُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي قَالَ "إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلاً صَالِحًا إِلاَّ ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً وَرِفْعَةً، ثُمَّ لَعَلَّكَ أَنْ تُخَلَّفَ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ، اللهمَّ أَمْضِ لأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلاَ تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ، يَرْثِي لَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ". (بخاري:1295)

652- له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د حجة الوداع په كال چي سخت مريض شوى وم، زما پوښتني ته راتلو، ورته ومي ويل: مريضي مي راباندي سخته شوې او زه د مال خاوند يم، له يوې لور پرته بل وارث هم نلرم، نو آيا كولى شم چي د خپل مال دوې برخي خيرات كړم؟ وئې فرمايل: (نه)، ومي ويل: نيمايي ئې؟ وئې فرمايل: (نه)، بيا ئې وفرمايل: (درېيمه ئې چي دا درېيمه لويه يا ډېره (صدقه) ده، كه ته خپل وارثان شتمن او مالدار پرېږدې تر دې غوره

دي چي بې وسه او نېستمن ئې پرېږدې چي له خلکو سوال وکړي، او ته چي هر څه د خدای د رضاء لپاره خرڅ کړې اجر او بدله به ئې مومې؛ حتی د هغه څه اجر هم چي ته ئې د خپلي مېرمني په خوله کي ورکوې. ومي وويل: يا رسول الله! زه به له خپلو ملګرو وروسته پاته شم، (يعني زه به نور هم ژوندی پاته شم او څه نوره موده به هم له خپلو هغو ملګرو سره يو ځای نشم چي تر ما مخکي وفات شوي)، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (که ته وروسته پاته شې نو هر نيک عمل چي کوې ستا د درجې او مقام د لوړوالي سبب به کېږي او سر بېره پر دې کېدی شي چي که ته وروسته پاته شې ځيني خلک (مسلمانان) له تا ګټه ترلاسه کړي او ځيني خلك (کافران) ترې تاواني شي، بيا ئې داسي دعاء وکړه: خدايه! اصحاب مي پر هجرت ثابت ساته، پر خپلو پوندو ئې شا ته مه اړوه، (يعني خدايه توفيق ورکړې چي د هجرت لار جاري وساتي) (خو سعد بن خوله خوارکی دئ!).

(راوي وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې امله د سعد بن خوله رضي الله عنه په حال خواشيني وښوده چي هغه په مکه کي (د مشرکينو) په منځ کې) وفات شوی وو).

تکرار: 56، 2742، 2744، 3936، 4409، 5354، 5659، 5668، 6373، 6733

توپير: دا روايت مخکي په 56 شمېره تېر شوی. خو دې ته مو پام وي چي سعد بن ابي وقاص ډېر کلونه نور ژوندی پاته شو او د فارس ډېر فتوحات د ده تر قيادت لاندي د مسلمانانو په برخه شول.

۲۰- باب: نه ښايي د غم په وخت د سر وېښتان وخرېيل شي

653- وَقَالَ الْحَكَمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جَابِرٍ أَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ مُخَيْمِرَةَ حَدَّثَهُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه قَالَ وَجِعَ أَبُو مُوسَى وَجَعًا فَغُشِيَ عَلَيْهِ، وَرَأْسُهُ فِي حَجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ فبكت، فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا، فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم، إِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ وَالْحَالِقَةِ وَالشَّاقَّةِ. (بخاري:1296)

653- له أَبُو بُرْدَةَ روايت دئ چي د ده پلار ابو موسى رضي الله عنهما سخت مريض او بې هوشه شو، سر ئې د خپلې کورنۍ د کومې ښځې په غېږ کې ايښی وو، هغه ښځه په ژړا شوه، ابو موسى رضي الله عنه ونه شو کولی څه ورته ووايي (ترې منع ئې کړي)، نو کله چي په سد شو وئې ويل: زه له هغه چا خپل برائت اعلانوم چي رسول الله صلى الله عليه وسلم برائت ترې اعلان کړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم له چيغې وهونکې، سر خرېيونکې او ګرېوان څيرونکې برائت اعلان کړی.

۲۱- باب: د مصيبت په مهال داسې ناسته چي په څېرې کې د غم نښې ښکاري

654- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى قَالَ أَخْبَرَتْنِي عَمْرَةُ قَالَتْ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ لَمَّا جَاءَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرٍ وَابْنِ رَوَاحَةَ

جَلَسَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ، وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ- شَقِّ الْبَابِ- فَأَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ، وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ، فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ، لَمْ يُطِعْنَهُ فَقَالَ انْهَهُنَّ. فَأَتَاهُ الثَّالِثَةَ قَالَ وَاللهِ غَلَبْنَنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَزَعَمَتْ أَنَّهُ قَالَ "فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ التُّرَابَ". فَقُلْتُ أَرْغَمَ اللهُ أَنْفَكَ، لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم مِنَ الْعَنَاءِ. (بخاري:1299)

654- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ابن حارثه، جعفر او ابن رواحه د شهادت خبر راورسېد نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال كي كښېناست چې د غم نښي ئې په څېرې كي څرگندي وې، ما د وره له چولې ورته كتل، بيا يو سړی ورته راغی او وئې ويل: د جعفر رضي الله عنه د كورنۍ د مېرمنو د ژړا يادونه ئې وكړه، نو امر ئې ورته وكړ چې منع ئې كړي، نو ولاړ بيا دوهم ځل ورته راغی، د ده خبره ئې نه وه منلې، وئې فرمايل: منع ئې كړه، درېيم ځل ورته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! قسم پر خدای چې راباندي برلاسې شوې، عائشه رضي الله عنها گمان كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ځل داسي ورته وفرمايل: ورشه او په خولو كي ئې خاوري وروشينده. ما وويل: پزه دي په خاورو شه، هغه څه دي ونه كړی شو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې امر درته وكړ او رسول الله صلى الله عليه و سلم دي له كړاو نه لرې پرې نښود.

يعني نه په خپله وتوانېدې چې دا كار په سمه توگه تر سره كړې او هغه ښځې له ژړا منع كړې او نه دي رسول

الله صلى الله عليه و سلم ته خپل قصور څرګند کړ چې ستا پر ځای بل څوك ولیږي او له دې کړاو خلاص شي.
تکرار: 1305، 4263
توپیر: په یوه کې وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ، په بل کې وَأَنَا أَطَّلِعُ مِنْ شَقِّ الْبَابِ، په یوه کې فَقَالَ وَالله لَقَدْ غَلَبْنَنِی، په بل کې قَالَ وَالله غَلَبْنَنَا، په یوه کې فَوَالله مَا أَنْتَ بِفَاعِلٍ وَمَا تَرَكْتَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم مِنَ الْعَنَاءِ، په بل کې لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم مِنَ الْعَنَاءِ راغلي.

دا روایت د سند له مخې داسې دئ چې له مطلق غریب هم اوښتی، د متن له پلوه څو ستونزې لري: 1- د روایت الفاظ داسې دي چې ګواکې د جعفر رضي الله عنه د کورنۍ مېرمنې له ژړا منع کړی شوې وې او دوی ډډه نه وه کړې، حال دا چې پر مړي او شهید ژړا نه یوازې څه مانع نه لري بلکې د انسان د ترحم او نرم زړه نښه ده، کېدی شي په دې اړه دا توجیه وړاندې شي چې ښایي راوي نه دئ توانېدلی چې اصلي الفاظ انتقال کړي، بکاء (ژړا) جائزه ده او په چیغو چیغو ژړا حرامه ده، 2- همدا راز جعفر رضي الله عنه د علي رضي الله عنه مشر ورور وو، د موته په جګړې کې شهید شوی، دا هم بعیده معلومېږي چې د ده کورنۍ تر دې دمه پر مړي د چیغو له کراهت خبرې نه وې او یا دا چې درې ځلې د رسول الله صلى الله عليه و سلم قاصد ورغلی خو بیا هم هغوی له چیغو ډډه نه ده کړې!! 3- دا هم ډېره بعیده معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دې په پای کې ویلي وي چې په خولو کې ئې خاوري واچوئ!! زه

خو دا جسارت نه کوم چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه دا خبره ومنم، د هغه شأن تر دې ډېر ډېر لوړ دئ، هغه د لوی زغم خاوند وو، د هري پېښي په اړه ئې په هر حال کي هره وينا داسي وه چي الله تعالى او د هغه دين ئې خوښوې. 4- د قاصد د نوم له نه يادولو انسان داسي انګېرې چي ښايي دا به علي رضي الله عنه وو، که نه نو عائشې رضي الله عنها به حتماً د هغه نوم ښودلی وو!! دې خبرو ته په پام سره ويلی شو چي د دې روايت ځيني برخي د اعتبار وړ نه دي.

٢٢- باب: څوک چي د غم په وخت خواشيني څرګنده نکړي

655- حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْحَكَمِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رضي الله عنه يَقُولُ اشْتَكَى ابْنٌ لأَبِي طَلْحَةَ- قَالَ- فَمَاتَ وَأَبُو طَلْحَةَ خَارِجٌ، فَلَمَّا رَأَتِ امْرَأَتُهُ أَنَّهُ قَدْ مَاتَ هَيَّأَتْ شَيْئًا وَنَحَّتْهُ فِي جَانِبِ الْبَيْتِ، فَلَمَّا جَاءَ أَبُو طَلْحَةَ قَالَ كَيْفَ الْغُلاَمُ قَالَتْ قَدْ هَدَأَتْ نَفْسُهُ، وَأَرْجُو أَنْ يَكُونَ قَدِ اسْتَرَاحَ. وَظَنَّ أَبُو طَلْحَةَ أَنَّهَا صَادِقَةٌ، قَالَ فَبَاتَ، فَلَمَّا أَصْبَحَ اغْتَسَلَ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ، أَعْلَمَتْهُ أَنَّهُ قَدْ مَاتَ، فَصَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ أَخْبَرَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم بِمَا كَانَ مِنْهُمَا، فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "لَعَلَّ الله أَنْ يُبَارِكَ لَكُمَا فِي لَيْلَتِكُمَا". قَالَ سُفْيَانُ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَرَأَيْتُ لَهُمَا تِسْعَةَ أَوْلاَدٍ كُلُّهُمْ قَدْ قَرَأَ الْقُرْآنَ. (بخاري:1301)

655- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي:

د ابو طلحه رضي الله عنه یو زوی مریض او بیا په داسي حال کي مړ شو چي ابو طلحه رضي الله عنه په کور کي نه وو، کله چي د هغه مېرمني ولیدل چي هغه مړ شوی نو څه شی ئې تیار کړ او هغه ئې د کور یوې څنډي ته کړ. کله چي ابو طلحه رضي الله عنه راغی وئې ویل: هلک څنګه دئ؟ مېرمني ئې وویل: اوس ئې ځان سوکه شوی، هیله ده چي په آرام شوی به وي. ابو طلحه رضي الله عنه ګمان وکړ چي هغه رښتیا وایي، نو ویده شو، چي سهار شو غسل ئې وکړ او کله ئې چي د وتلو اراده وکړه؛ مېرمني ئې پوه کړ چي هغه مړ شوی، نو ابو طلحه رضي الله عنه ولاړ او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئې لمونځ وکړ، بیا ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته خپله کیسه وکړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: (هیله ده چي الله تعالی تاسو دواړو ته دغه شپه برکتي کړي).

یو انصاري وایي: وروسته ما ولیدل چي دوی دواړو نه زامن درلودل او ټول د قرآنکریم قاریان ول.

تکرار: **5470**

توپیر: په یوه کي اشْتَكَى ابْنٌ لأَبِي طَلْحَةَ- قَالَ- فَمَاتَ وَأَبُو طَلْحَةَ خَارِجٌ، په بل کي كَانَ ابْنٌ لأَبِى طَلْحَةَ يَشْتَكِى، فَخَرَجَ أَبُو طَلْحَةَ، فَقُبِضَ الصَّبِىُّ، په یوه کي قَالَتْ قَدْ هَدَأَتْ نَفْسُهُ، وَأَرْجُو أَنْ يَكُونَ قَدِ اسْتَرَاحَ، په بل کي قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ هُوَ أَسْكَنُ مَا كَانَ، په یوه کي فَقَرَّبَتْ إِلَيْهِ الْعَشَاءَ فَتَعَشَّى ثُمَّ أَصَابَ مِنْهَا فَلَمَّا فَرَغَ قَالَتْ وَارِ الصَّبِىَّ، په بل کي فَلَمَّا أَصْبَحَ اغْتَسَلَ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ، أَعْلَمَتْهُ أَنَّهُ قَدْ مَاتَ، په یوه کي لَعَلَّ الله أَنْ يُبَارِكَ لَكُمَا فِى لَيْلَتِكُمَا، په بل کي أَعْرَسْتُمُ اللَّيْلَةَ، قَالَ نَعَمْ، قَالَ "اللهمَّ بَارِكْ لَهُمَا "فَوَلَدَتْ غُلاَمًا قَالَ لِى أَبُو

طَلْحَةَ احْفَظْهُ حَتَّى تَأْتِيَ بِهِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَأَتَى بِهِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَأَرْسَلَتْ مَعَهُ بِتَمَرَاتٍ، فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "أَمَعَهُ شَيْءٌ". قَالُوا نَعَمْ تَمَرَاتٌ. فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَمَضَغَهَا، ثُمَّ أَخَذَ مِنْ فِيهِ فَجَعَلَهَا فِى فِى الصَّبِيِّ، وَحَنَّكَهُ بِهِ، وَسَمَّاهُ عَبْدَ الله راغلي.

که څه هم په دواړو روايتونو کي کافي توپيرونه شته خو د متن په اصلي موضوع کي ئې ډېري مهمي لاربښووني تر سترګو کېږي: ښيي چي صحابه وو ته الله تعالی څومره کلك ايمان، لوی زړه او صبر ورکړی وو، د ايمان په مدرسې کي روزل شوې مېرمني څومره هوښياري او د لوړ همت خاونداني وې او څومره ئې د خپلو خاوندانو پروا کوله!!

۲۳- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا چي: (موږ دربانديغمجن يو)

656- حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ حَدَّثَنَا قُرَيْشٌ- هُوَ ابْنُ حَيَّانَ- عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ دَخَلْنَا مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى أَبِى سَيْفٍ الْقَيْنِ- وَكَانَ ظِئْرًا لاءِبْرَاهِيمَ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- فَأَخَذَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِبْرَاهِيمَ فَقَبَّلَهُ وَشَمَّهُ، ثُمَّ دَخَلْنَا عَلَيْهِ بَعْدَ ذَلِكَ، وَإِبْرَاهِيمُ يَجُودُ بِنَفْسِهِ، فَجَعَلَتْ عَيْنَا رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم تَذْرِفَانِ. فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ رضي الله عنه وَأَنْتَ يَا رَسُولَ الله فَقَالَ "يَا ابْنَ عَوْفٍ إِنَّهَا رَحْمَةٌ". ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرَى فَقَالَ صلى الله عليه و سلم "إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ، وَالْقَلْبَ يَحْزَنُ، وَلاَ نَقُولُ إِلاَّ

مَا يَرْضَى رَبُّنَا، وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ". رَوَاهُ مُوسَى عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. (بخاري:1303)

656- او له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوځای د ابو سيف پښ (آهنگر) کور ته ولاړو، د نوموړي مېرمن د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زوی ابراهيم دايه وه، رسول اکرم صلى الله عليه وسلم خپل زوی ابراهيم واخيست، کښل (ښکل) او بوی ئې کړ، له دې وروسته بيا (بل ځل) د ابو سيف کره ورغلو، ومو ليدل چي ابراهيم سا ورکوي، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سترگو اوښکي وبهېدې، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته وويل: يا رسول الله! او ته هم (ژاړې)؟!، وئې فرمايل: د عوف زويه! دا رحمت او زړه سوی دئ (د رحمت اوښکي دي)، ورپسې ئې وفرمايل: (سترگي اوښکې بهوي، زړه غمجن دئ، خو يوازي هغه څه وايو چي الله تعالى پرې راضي کيږي، اې ابراهيمه! موږ دي پر بېلتون خواشيني يو).

٢٤- باب: د ناروغ په وړاندي ژړا

657- حَدَّثَنَا أَصْبَغُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِى عَمْرٌو عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ الأَنْصَارِيِّ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ اشْتَكَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ شَكْوَى لَهُ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَعُودُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَسَعْدِ بْنِ أَبِى وَقَّاصٍ وَعَبْدِ الله بْنِ مَسْعُودٍ- رضي الله عنهم- فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ فَوَجَدَهُ فِى غَاشِيَةِ أَهْلِهِ

فَقَالَ "قَدْ قَضَى". قَالُوا لاَ يَا رَسُولَ الله. فَبَكَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بَكَوْا فَقَالَ "أَلاَ تَسْمَعُونَ إِنَّ الله لاَ يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ، وَلاَ بِحُزْنِ الْقَلْبِ، وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا- وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ- أَوْ يَرْحَمُ وَإِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ". (بخاري:1304)

657- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: يو ځل سعد بن عباده رضي الله عنه ناروغ شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ئې پوښتني ته ورغى، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص او عبدالله بن مسعود (رضي الله عنهم) هم ورسره ملګري ول، کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم کور ته ورننوت وئې ليدل چي خپل خپلوان ئې ترې راتاو دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (آيا وفات شوى؟)، هغوى وويل: نه، يا رسول الله! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژړا شو، کله چي اصحابو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ژړا وليده، ټول په ژړا شول، نو وئې فرمايل: (آيا نه مو دي اورېدلي چي الله تعالى د سترګو په اوښکو او د زړه په غم څوك نه تعذيبوي، خو په دې سره ئې يا تعذيبوي او يا پېرزوينه پرې کوي، خپلي ژبي ته ئې اشاره وکړه، او مړى د خپلوانو د ژړا له امله تعذيبېږي).

٢٥- باب: له ژړا او نوحې نهي او له دې ډډه

658- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رضي الله عنها قَالَتْ أَخَذَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عِنْدَ الْبَيْعَةِ أَنْ لاَ نَنُوحَ، فَمَا وَفَتْ مِنَّا امْرَأَةٌ

غَيْرَ خَمْسِ نِسْوَةٍ أُمِّ سُلَيْمٍ وَأُمِّ الْعَلاَءِ وَابْنَةِ أَبِى سَبْرَةَ امْرَأَةِ مُعَاذٍ وَامْرَأَتَيْنِ أَوِ ابْنَةِ أَبِى سَبْرَةَ وَامْرَأَةِ مُعَاذٍ وَامْرَأَةٍ أُخْرَى. (بخاري:1306)

658- له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيعت پر مهال له موږ نه دا ژمنه واخيسته چي نوحه (په چيغو ژړا) به نه كوو، خو له موږ يوازي پنځو ښځو پر دې ژمني وفا وكړه چي ام سليم، ام العلاء، د ابو سبره لور چي د معاذ مېرمن وه، او دوې نوري ښځي، يا ئې داسي ويلي: د ابو سبره لور، د معاذ مېرمن او يوه بله ښځه.

تكرار: 4892، 7215

توپير: په يوه كي قَالَتْ أَخَذَ عَلَيْنَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم عِنْدَ الْبَيْعَةِ أَنْ لاَ نَنُوحَ، په بل كي قَالَتْ بَايَعْنَا رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَقَرَأَ عَلَيْنَا (أَنْ لاَ يُشْرِكْنَ بِالله شَيْئًا) وَنَهَانَا عَنِ النِّيَاحَةِ، په بل كي فَقَرَأَ عَلَىَّ (أَنْ لاَ يُشْرِكْنَ بِالله شَيْئًا) وَنَهَانَا عَنِ النِّيَاحَةِ، په يوه كي فَقَبَضَتِ امْرَأَةٌ مِنَّا يَدَهَا فَقَالَتْ فُلاَنَةُ أَسْعَدَتْنِى وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَجْزِيَهَا، فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا، ثُمَّ رَجَعَتْ، په بل كي فَانْطَلَقَتْ وَرَجَعَتْ فَبَايَعَهَا راغلي.

٢٦- باب: جنازې ته پورته كېدل (لټېدل)

659- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ جَنَازَةً فَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَاشِيًا مَعَهَا فَلْيَقُمْ حَتَّى يُخَلِّفَهَا، أَوْ تُخَلِّفَهُ أَوْ تُوضَعَ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُخَلِّفَهُ". (بخاري:1308)

659- له عامر بن ربيعه رضي الله عنه روايت دئ چي

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (كه له تاسو چا كومه جنازه وليده نو كه ورسره تلونكى نه وو نو تر هغه دي ورته ودرېږي چي جنازه شا ته پرېږدي او يا جنازه هغه وروسته پرېږدي او يا مخكي له دې پر زمكه كېښودل شي چي دى شا ته پرېږدي). مطلب دا چي تر هغه دي ولاړ وي چي يا جنازه ترې تېره شي او يا پر زمكه كېښودل شي.

تكرار: **1307**

توپير: په بل كي إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا حَتَّى تُخَلِّفَكُمْ أَوْ تُوضَعَ راغلي.

٢٧- باب: څوک چي جنازې ته ولټېږي كله به كښېني

660- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فَأَخَذَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه بِيَدِ مَرْوَانَ فَجَلَسَا قَبْلَ أَنْ تُوضَعَ، فَجَاءَ أَبُو سَعِيدٍ رضي الله عنه فَأَخَذَ بِيَدِ مَرْوَانَ فَقَالَ قُمْ فَوَالله لَقَدْ عَلِمَ هَذَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم نَهَانَا عَنْ ذَلِكَ. فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ صَدَقَ. (بخاري:1309)

660- سعيد المقبري له خپل پلار روايت كوي چي ويل ئې: په يوې جنازي كي وو، ابو هريره رضي الله عنه د مروان لاس ونيولو او د جنازې له ايښودو مخكي كښېناستل، پدې وخت كي ابو سعيد رضي الله عنه راغى او مروان ئې تر لاس ونيو او ورته وئې ويل: پورته شه! قسم په خداى چي دا كس (ابو هريره رضي الله عنه ښه پوهېږي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ له دې كاره منع كړي يو، ابو هريره رضي الله عنه وويل: رښتيا وايي.

يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم د جنازې له ايښودو

مخکي له کښېناستلو منع کړي يو.

تکرار: **1310**

توپير: په بل کي إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا، فَمَنْ تَبِعَهَا فَلاَ يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ راغلي. يعني کله چي جنازه وګورئ ورته ولاړ شئ، او څوك چي ورسره درومي تر هغه دي نه کښېني چي جنازه پر زمکه کېښودی شي.

٢٨- باب: څوک چي د يهودي جنازی ته درېدلی

661- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ مِقْسَمٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله رضي الله عنهما قَالَ مَرَّ بِنَا جَنَازَةٌ فَقَامَ لَهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَقُمْنَا بِهِ. فَقُلْنَا يَا رَسُولَ الله، إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ. قَالَ "إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا". (بخاري:1311)

661- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: يو ځل زموږ له مخي يوه جنازه تېره شوه، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته پاڅېد، او موږ هم ورسره پاڅېدو، نو ومو ويل: يا رسول الله! دا خو د يهودي جنازه ده. وئې فرمايل: (کله چي کومه جنازه وګورئ نو ورته درېږئ).

په همدې اړه په بل روايت کي راغلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د دوی په ځواب کي وفرمايل: "أَلَيْسَتْ نَفْسًا ": آيا يو سا کښې (انسان) نه دئ؟

٢٩- باب: د جنازې وړل د نارينه وو کار دئ نه د ښځو

662- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الله حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رضي الله عنه أَنَّ

رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا وُضِعَتِ الْجِنَازَةُ وَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ، فَإِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ قَدِّمُونِي. وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَةٍ قَالَتْ يَا وَيْلَهَا أَيْنَ يَذْهَبُونَ بِهَا يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ إِلاَّ الإِنْسَانَ، وَلَوْ سَمِعَهُ صَعِقَ". (بخاري:1314)

662- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (کله چي جنازه (په تابوت يا کټ کي) کېښودل شي او سړي ئې پر اوږو پورته کړي، نو که (مړی) صالح وي وايي: ژر مي وړاندي يوسئ، او که ناصالح وي نو وايي: وای! چېري ئې وړئ، ږغ له انسان پرته هر څه (ټول مخلوقات) اوري، که انسان ئې واوري نو بې سده به شي).

تکرار: 1316، 1380

توپير: درې واړه سره ورته دي.

دا روايت د سند له مخي له مطلق غريب اوښتی او په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري.

٣٠- باب: د جنازې په وړلو کي بيړه

663- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَفِظْنَاهُ مِنَ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "أَسْرِعُوا بِالْجِنَازَةِ، فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا { إِلَيْهِ }، وَإِنْ يَكُ سِوَى ذَلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ". (بخاري:1315)

663- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (د جنازې په وړلو کي بيړه کوئ، که نېک او صالح وي نو خير ته ئې

وروړاندي کوئ او که له دې پرته بل څه وي نو يو شر دئ چي له خپلو اوږو ئې کوزوئ).

۳۱- باب: د جنازې د ملګرتيا فضيلت

664 . عن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّه قِيلَ لَهُ: إنَّ أَبَاهُرَيْرَةَ رضي الله عنه يَقُولُ: مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً فَلَهُ قِيرَاطٌ. فَقَالَ: أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَلَيْنَا، فَصَدَّقَتْ عَائِشَةُ أَبَا هُرَيْرَةَ وَقَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُهُ. فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِي الله عَنْهمَا: لَقَدْ فَرَّطْنَا فِي قَرَارِيطَ كَثِيرَةٍ. (بخاري:1323، 1324)

664- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي ورته وويل شول: ابو هريره رضي الله عنه وايي: څوک چي له جنازې سره ملګرى شي د يوه قيراط ثواب ګټي. ابن عمر رضي الله عنهما وويل: ابو هريره رضي الله عنه موږ ته ډېر احاديث روايت کوي (د احاديثو په روايت کولو کي افراط کوي). بيا عائشې رضي الله عنها د ابو هريره رضي الله عنه خبره تصديق کړه او وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي اورېدلي چي همدا خبره ئې کوله، نو ابن عمر رضي الله عنهما وويل: د ډېرو قيراطونو په لاسته راوړلو کي مو سستي کړې ده.

د ابن عمر رضي الله عنهما د وينا مظلب دا وو چي ښايي ابوهريره به اشتباه کړې وي، د احاديثو د زيات روايتولو له امله به ئې سهوه کړې وي، د شك وجه ئې دا وه چي هغه نه وو ويلي ما دا خبره له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلې ده.

٣٢- باب: په قبرونو د جوماتونو جوړولو کراهيت

665- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ مُوسَى عَنْ شَيْبَانَ عَنْ هِلاَلٍ- هُوَ الْوَزَّانُ- عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِى مَاتَ فِيهِ "لَعَنَ الله الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسْجِدًا". قَالَتْ وَلَوْلاَ ذَلِكَ لأَبْرَزُوا قَبْرَهُ غَيْرَ أَنِّى أَخْشَى أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا. (بخاري:1330)

665- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل هغه مرض په مهال چي له امله ئې رحلت وکړ فرمايلي: (الله تعالى دي پر يهودو او نصاراوو لعنت وکړي چي د خپلو نبيانو له قبرونو ئې جوماتونه جوړ کړل). عائشه رضي الله عنها وايي: که دا خبره نه وى نو خلکو به د ده قبر څرګند کړى وى، خو سره لدې زه وېرېږم چي مسجد ترې جوړ نشي.

تکرار: 435، 1390، 3453، 4441، 4443، 5815

توپير: د دې شرح په ٢٧٦ روايت کي وګورئ.

٣٣- باب: د هغي نفاسې ښځي د جنازې لمونځ چي په نفاس کي ومري

666- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ بُرَيْدَةَ عَنْ سَمُرَةَ رضي الله عنه قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا، فَقَامَ عَلَيْهَا وَسَطَهَا. (بخاري:1331)

666- له سمره بن جندب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اقتداء کي مي د

هغي ښځي د جنازې لمونځ وکړ چي د نفاس په موده کي مړه شوې وه او رسول الله صلى الله عليه وسلم د جنازې وسط ته درېدلی وو.
تکرار: 332، 1332
توپير: شرح او توپيرونه ئې په ۲۲۱ روايت کي وګورئ.

٣٤- باب: د جنازې په لمانځه کي د فاتحې لوستل

667- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ طَلْحَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عَوْفٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ قَالَ لِيَعْلَمُوا أَنَّهَا سُنَّةٌ. (بخاري:1335)

667- له طلحه روايت دئ چي وايي: د ابن عباس رضي الله عنهما په اقتداء کي مي د يوې جنازې لمونځ وکړ چي فاتحه (الحمدلله) ئې پکي ولوستله بيا ئې وويل: لدې امله مي فاتحه ولوستله چي خلک پوه شي دا يو سنت دئ.

دا روايت د سند له مخي تر مطلق غريب اوښتی، په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له مخي له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي د جنازې په لمانځه کي قرائت نشته. له صحابه وو عمر بن الخطاب، علي بن أبي طالب، ابن عمر او أبو هريرة رضي الله عنهم او له تابعينو عطاء، طاؤس، سعيد بن المسيب، ابن سيرين، سعيد بن جبير، الشعبي او الحکم په جنازې کي قرائت مکروه ګڼلو.

په روايت کي دا نه دي ويل شوي چي قرائت په جهر سره وو که خفيه، لمونځ د شپې شوی که د ورځي، ځکه

څوك چي په قرائت قائل دي هغوی هم وايي چي که د جنازې لمونځ په ورځ کي وشي بايد قرائت په جهر سره نه وي. د ابن عباس رضي الله عنهما له وينا معلوميږي چي دا کار ئې هسي د تعليم لپاره کړی، خلك ترې خبر نه وو، معمول دا وو چي قرائت به نه کېدو، له دې هم د هغي وينا تأييد ترلاسه کيږي چي وايي په جنازه کي قرائت نشته. د جنازې په لمانځه کي نه سجده شته، نه رکوع او نه ناسته، دا په اصل کي د مړي لپاره دعاء ده، د قرآن لاربښوونه دا ده چي دعاء په ټيټ ږغ او زاريو سره وشي. له دې روايت يوازي دا انتباه اخيستی شو چي کېدی شي فاتحه د دعاء په توګه ولوستل شي نه د تلاوت په توګه.

يادونه: د روسانو په ضد د جهاد په دوران کي د يوه مجاهد د جنازې لمانځه د امامت لپاره يو افغان ملا چي نوی سلفي شوی وو مخکي شو، په لمانځه کي ئې نه يوازي په جهر سره د فاتحې لوستل پيل کړل بلکي ډېر نور داسي څه ئې وکړل چي په افغانانو کي تر هغي ورځي چا نه وو ليدلي، ځينو لمونځ پرېښود، ځينو زړه نازړه لمونځ ته دوام ورکړ، په پای کي لويه لانجه رامنځته شوه، چي ډېري ورځي ئې دوام وکړ!! نه پوهېږم هغه ولي دا کار وکړ، آيا د بخاري دا روايت ئې لوستلی وو او ګمان ئې دا وو چي دا سنت دئ او غوښتل ئې پر يوه سنت عمل وکړي او که غوښتل ئې عربي مرستندويه ټولنو ته وښيي چي دی يو زړه ور سلفي دئ!! خو دې ته ئې پام نه وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په امت کي اختلاف راولاړول نه خوښوي، په ځانګړې توګه په فرعي مسائلو باندي، رسول الله صلى الله عليه و سلم خو

په فرعي مسائلو د لانجو له راولاړولو حتى په داسي امورو كي هم اجتناب وكړ چي د كعبې په څرنگوالي پوري تړلي دي، هغه غوښتل چي كعبه ونړوي او بېرته ئې په ابراهيمي اساس جوړه كړي خو دا كار ئې له دې امله ونه كړ چي خلك لا د دين په حقيقت سم نه دي پوه شوي او حساسيت به وښيي!!

٣٥- باب: مړى د پښو څپا (ږغ) اوري

668- حَدَّثَنَا عَيَّاشٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى حَدَّثَنَا سَعِيدٌ قَالَ وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا ابْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "الْعَبْدُ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ، وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ حَتَّى إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ، أَتَاهُ مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ فَيَقُولاَنِ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ. فَيُقَالُ انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ، أَبْدَلَكَ الله بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ- قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا- وَأَمَّا الْكَافِرُ- أَوِ الْمُنَافِقُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِى، كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ. فَيُقَالُ لاَ دَرَيْتَ وَلاَ تَلَيْتَ. ثُمَّ يُضْرَبُ بِمِطْرَقَةٍ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً بَيْنَ أُذُنَيْهِ، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ إِلاَّ الثَّقَلَيْنِ". (بخاري:1338)

668- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (كله چي بنده په قبر كي كېښودل شي او ملگري ئې ترې ولاړ شي او په داسي حال كي چي د هغوى د څپليو ږغ (څپا) به اوري؛

دوې فرشتې ورته راشي او هغه راکښېنوي، بيا ورته وايي: ته د دې شخص يعنى محمد صلى الله عليه وسلم په اړه څه وايې؟ هغه به وايي: شاهدي وايم چې هغه د الله تعالى بنده او رسول دئ. نو ورته وبه ويل شي: په دوزخ کي دي خپل ځاى ته وګوره چې الله تعالى د جنت په هستوګنځي درته بدل کړى. نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (دواړه به ووينې. خو کافر يا منافق به وايي: نه پوهېږم؛ ما به هغه څه ويل چې نورو خلکو به ويل! نو ورته وبه ويل شي: ته نه پوه شوې او نه په نورو پسې ولاړې، بيا به ئې په اوسپنين څټک سره د غوږونو تر منځ ووهي او داسې چيغه به وکړي چې له انسان او پيرى پرته به ئې شا و خوا ټول شيان واوري).

تکرار: **1374**

توپير: په يوه کي وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ، په بل کي وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ، په يوه کي أَتَاهُ مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ، په بل کي أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ، په يوه کي مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ- صلى الله عليه وسلم، په بل کي مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم، په يوه کي فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ، په بل کي فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ، په يوه کي وَأَمَّا الْكَافِرُ- أَوِ الْمُنَافِقُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِى، په بل کي وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ لاَ أَدْرِى راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسې دئ چې په صحابه وو او

تابعينو كي يو يو راوي لري او په تبع تابعينو كي دوه، ټول راويان ئې د بصرې اوسېدونكي دي، د متن له پلوه داسي دئ چي يوه برخه ئې له قرآن سره تعارض لري، او هغه دا چي قرآن وايي: مړي خبري نه اوري، خو دا روايت وايي چي حتى د ژونديو د ګامونو ږغ هم اوري!! د قرآن آيتونه دا دي:

إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ٨٠ النمل: 80

فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ٥٢ الروم: 52

دا آيتونه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وايي چي ته مړو ته خبره نشې اورولې، يعني نه يوازي دا چي مړي خبره نه اوري او داسي دي لكه كاڼه او ګونګيان؛ بلكي كه هڅه وكړې چي څه ورواوروې نو هڅه به دي څه نتيجه نه لري.

پوښتنه دا ده چي آيا يو غريب روايت چي نه يوازي په قرآن كي كوم شاهد ورته نه مومو بلكي د قرآن له دوو څرګندو آيتونو سره تعارض لري د اعتبار وړ ګڼلى شو؟! دا تعارض به څنګه ځوابوو؟

٣٦- باب: څوک چي په مقدسه خاوره كي ښخېدل خوښوي

669- حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ "أُرْسِلَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى

مُوسَى- عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ- فَلَمَّا جَاءَهُ صَكَّهُ فَرَجَعَ إِلَى رَبِّهِ فَقَالَ أَرْسَلْتَنِى إِلَى عَبْدٍ لاَ يُرِيدُ الْمَوْتَ. فَرَدَّ الله عَلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ ارْجِعْ فَقُلْ لَهُ يَضَعُ يَدَهُ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ، فَلَهُ بِكُلِّ مَا غَطَّتْ بِهِ يَدُهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَنَةٌ. قَالَ أَىْ رَبِّ، ثُمَّ مَاذَا قَالَ ثُمَّ الْمَوْتُ. قَالَ فَالآنَ. فَسَأَلَ الله أَنْ يُدْنِيَهُ مِنَ الأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ". قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "فَلَوْ كُنْتُ ثَمَّ لأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ عِنْدَ الْكَثِيبِ الأَحْمَرِ". (بخاري:1339)

669- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: (ملک الموت (د مرگ فرشته) موسى (عليه السلام) ته ولېږل شوه، کله چي وروررسېده، پر مخ ئې داسي څپېړه ورکړه چي سترگه ئې ړنده شوه، نو خپل رب ته ستنه شوه او وئې ويل: داسي بنده ته دي ولېږلم چي مرگ نه غواړي، الله تعالى ئې سترگه بېرته ورجوړه کړه او ورته وئې فرمايل: ورشه او ورته ووايه: د يوه غوايي پر شا لاس کېږده او تر لاس لاندي راغلي هر وېښته په بدل کي به يو کال عمر ورکړل شي. (موسى (عليه السلام) وويل: يا ربه! بيا به څه کېږي؟! وئې فرمايل: بيا به مرگ وي. موسى (عليه السلام) وويل: نو همدا اوس (مرگ ته تيار يم). نو الله تعالى ته ئې سوال وکړ چي بيت المقدس ته ئې د يوې تيږي د اچولو په اندازه ورلنډ کړي) راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که زه هلته وی، نو د موسى (عليه السلام) قبر به مي درښودلی وو چي د لاري څنگ ته د يوې سره بخوني غونډۍ خوا ته دئ).

تکرار: **3407**

توپیر: په یوه کي فَرَدَّ الله عَلَيْهِ عَيْنَهُ شته، په بل کي نشته، په یوه کي فَلَهُ بِكُلِّ مَا غَطَّتْ بِهِ يَدُهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَنَةٌ، په بل کي فَلَهُ بِمَا غَطَّتْ يَدُهُ بِكُلِّ شَعَرَةٍ سَنَةٌ، په یوه کي تَحْتَ الْكَثِيبِ الأَحْمَرِ، په بل کي عِنْدَ الْكَثِيبِ الأَحْمَرِ راغلي.

دا روایت د سند له پلوه داسي دئ چي په پنځو طبقو کي یو یو راوي لري، ابو هریره هم نه دي ویلي چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي، د متن له مخي دا ستونزي لري:

ملك الموت د روح قبضولو لپاره په څرګنده توګه نه راځي. فرشتې یوازي د وحي راوړلو پر مهال د انسان په بڼه کي لیږل کیږي. ابراهیم علیه السلام، لوط علیه السلام، داؤد علیه السلام... ته د فرشتو ورتګ له دې سره تشبیه کول غلطه تشبیه ده، څوك چي وایي موسی علیه السلام فرشته نه وه پېژندلې نو ځکه ئې پر مخ ګوزار ورکړ!! دا خبره له ځانه او له روایت د دفاع په موخه کوي؛ د فرشتې د وهلو لپاره هیڅ توجیه نشي وړاندي کېدی، هره توجیه د ځواب پر ځای نوري پوښتني راولاړوي!! ځکه روایت وایي چي فرشته د روح قبضولو لپاره ورغلې وه، موسی علیه السلام په دې غصه شوی چي فرشتې غوښتل د ده روح قبض کړي، دغه روایت نورو په دې صیغه راوړی چي فرشتې ورته وویل: د الله پرېکړي ته غاړه کېږده!!

الله تعالی د چا د مرګ نېټه نه بدلوي. آیا دا خبره منلی شو چي موسی علیه السلام له دې حقائقو خبر نه وو؟

ډېره عجیبه ده چي څوك په پنځمي طبقې کي د یوه راوي له داسي وینا د دفاع هڅه کوي چي د الله تعالی یوه جلیل

القدره پیغمبر ته هغه کار او وینا منسوبوي چي له شأن سره ئې نه ښايي، فرشته پر مخ وهل، د الله تعالی پر پرېکړي اعتراض کول او مرګ ته نه تسلیمېدل، هغه څه دي چي له یوه عادي مؤمن بنده سره هم نه ښايي د موسی علیه السلام په څېر پیغمبر خو لري پرېږدئ؟!!

ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي د موسی او هارون علیهما السلام قبرونه هیچا ته معلوم نه دي، که یهودانو ته معلوم وی نو زیارتونه به ئې پرې جوړ کړي وو او د هغوی عبادت به ئې کولو.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لارښوونو معلومېږي چي د مړي انتقال له یوه ځایه بل ځای ته صحیح نه دي، هر څوك باید په همغه ځای کي دفن شي چي روح ئې په کي قبض شوې، رسول الله صلی الله علیه و سلم د احد د هغو شهداوو په اړه چي د دفن لپاره مدینې ته انتقال شوي وو وفرمایل چي بېرته دي احد ته انتقال شي.

آیا دغو خبرو ته په پام سره د دې روایت منل صحیح دي؟!! که چا ته د قیامت په ورځ وویل شي چي ولي دي د دغه راوي خبره ونه منله دا تر دې ډېره آسانه ده چي ورته وویل شي: ولي دي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه داسي ادعاء ومنله چي له حقیقت نه لري وه؟ ولي دي د یوه پیغمبر په اړه داسي خبره ومنله چي د هغه له شأن سره نه ښايي؟ ولي دي داسي خبره ومنله چي په قرآن کي د هغې لپاره هیڅ شاهد نه وو؟

۳۷- باب: د شهید جنازه

670- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِى ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله رضي الله عنهما قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِى ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ "أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ". فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِى اللَّحْدِ وَقَالَ "أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلاَءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِى دِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِمْ. (بخاري:1343)

670- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د احد شهيدان دوه، دوه په يوه جامه (كفن) كي پټول، بيا به ئې فرمايل: د كوم يوه ئې قرآن ډېر زده وو؟ نو له دواړو چي هر يوه ته به گوته ونيول شوه هغه به ئې په لحد كي وړاندي ايښودو، او فرمايل به ئې: (زه به د قيامت په ورځ د دوى شاهد يم). او امر ئې وكړ چي له وينو سره دي دفن شي، نه غسل وركړل شو او نه ئې د جنازې لمونځ ورباندي وكړ.

تكرار: 1345، 1346، 1347، 1348، 1353، 4079

توپير: ټول د معنى او الفاظو له پلوه سره ورته دي، يوازي دومره توپير سره لري چي، په يوه كي فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِى اللَّحْدِ او په بل كي فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى رَجُلٍ قَدَّمَهُ فِى اللَّحْدِ قَبْلَ صَاحِبِهِ راغلي.

دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو كي يو يو راوي لري او د متن له پلوه داسي دئ چي دوه ستونزي لري: لومړى دا چي له يوې خوا وايي كفن نه دئ

ورکړی شوی او په خپلو جامو کي دفن شوي خو له بلي خوا وايي چي دوه دوه په يوه جامه کي کفن شوي، له بلي خوا وايي چي په دوو کي به ئې هغه تر بل وړاندي لحد ته کوزولو چي قرآن به ئې تر بل زيات حفظ کړی وو!! په يوه کفن کي د دوو کسانو له منځه يو کس تر بل څنګه لحد ته وړاندي کوزېدی شي؟ ځينو له روايت د دفاع په موخه ويلي چي له يوې جامې مراد يو قبر دئ، چي دا په هيڅ توګه د منلو وړ توجيه نه ده!! دوهمه ستونزه ئې دا ده چي دا روايت له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: د احد د شهيدانو د جنازې لمونځ شوی. روايات دا دي:

عن أبي بكر بن عياش عن يزيد بن أبي زياد عن مقسم عن ابن عباس قال أتى بهم النبي يوم أحد فجعل يصلي على عشرة عشرة وحمزة وهو كما هو يرفعون وهو كما هو موضوع.

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د احد شهيدان د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخي ته راوړل شول، د لسو لسو د جنازې لمونځ ئې کولو، د حمزه رضي الله عنه جنازه به همداسي پر خپل ځای پرته وه او نور به ترې پورته کېدل.

بل روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت لږ مخکي يو ځل بيا د احد د شهيدانو جنازه کړې ده، روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى

الْمِنْبَرِ فَقَالَ "إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ- أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ- وَإِنِّي وَاللهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا". (بخاري: 1344)

له عقبه بن عامر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه ورځ ووت او د احد پر شهيدانو ئې د مړي د جنازې لمونځ ته ورته لمونځ وکړ، بيا منبر ته را تاو شو او وئې فرمايل: زه ستاسو لپاره مخکي تلونکی يم، او زه پر تاسو گواه يم، او والله چي همدا اوس خپل حوض وينم، او ما ته د زمکي د خزانو کلياني يا د زمکي کلياني راکړی شوې، او والله چي زه له دې پر تاسو نه وېرېږم چي له ما وروسته به شرك وکړئ، خو له دې وېرېږم چي په دې کي به تنافس او سيالي وکړئ.

دا روايت هم په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: 3596، 4042، 4085، 6426، 6590

لکه چي گورئ بخاري د احد د شهيدانو د جنازې په اړه دوه متعارض روايات راوړي، يو ئې اوه ځلي او بل ئې شپږ ځلي، يو روايت ئې دا انتباه انسان ته ورکوي چي شهيد به د جنازې له لمانځه پرته دفن کېږي او بل ئې وايي څو کاله وروسته هم پر شهيد د جنازې لمونځ کېدی شي، خو بخاري دا نه دي ويلي چي په دغو متعارضو رواياتو کي کوم يو ئې صحيح او د عمل وړ دئ!!

دې ته مو پام وي چي په پورتني روايت کي له خزائن الارض نه مراد هغه د حجاز، عراق، شام، روم، فارس او هند خزائن دي چي د مسلمانانو په لاس کي پرېوتې، پيغمبر

علیه السلام ته په رؤیاء کي ښودل شوي وو چي دا به د مسلمانانو په لاس کي پرېوځي، د همدې لپاره ئې دوی ته وویل: له دې وېره نه لرم چي تاسو به بېرته مخکني شرك ته واوړئ بلکي له دې وېرېږم چي دا خزائن ستاسو لاس ته درشي او بیا په خپلو کي تنافس وکړئ، ومو لیدل چي همداسي وشول، عیاش او ظالم اموي او عباسي واکمنان د دغو خزانو پر سر داسي په خپلو کي ونښتل چي د زرګونو مؤمنانو او د ډېرو صحابه وو او تابعینو ویني په کي توی شوې. دا خبره ځکه ضروري ده چي یوه خرافي او د شرك په ډنډ کي پرېوتې ډله وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د زمکي د هر څه واك ورکړی شوی، د الله تعالی د ټولو خزانو کلیاني ده ته ورکړی شوې، د وېش واك ئې د ده په لاس کي دئ، او دا هغه څه دي چي د قرآن له ګڼ شمېر آیتونو سره په بشپړه توګه تضاد او تعارض لري، له هغو آیتونو سره چي وایي: پیغمبر علیه السلام نه یوازي نورو ته د ګټي او تاوان رسولو واك نه لري بلکي ځان ته د ګټي رسولو او ضرر دفع کولو اختیار هم نه دئ ورکړی شوی.

دغو روایاتو ته په پام سره ویلی شو د دې لپاره هیڅ نقلي او عقلي موجه دلیل نه مومو چي پر شهید د جنازې لمونځ کول دي ناجائز وي، دا ډېره کمزورې خبره ده چي شهید یا لمانځه او دعاء ته ضرورت نه لري یا هغه ژوندی دئ او پر ژوندي د جنازې لمونځ صحیح نه دئ!! که پر پیغمبر علیه السلام او پر ماشومانو د جنازې لمونځ کېږي نو پر شهید به ولي نه کېږي؟!!

۳۸- باب: له مسلمانېدو وروسته د ماشوم جنازه او

اسلام ته د ماشوم بلنه

672- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما أَخْبَرَهُ أَنَّ عُمَرَ انْطَلَقَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي رَهْطٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، حَتَّى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ، وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ لِابْنِ صَيَّادٍ "تَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ". فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الأُمِّيِّينَ. فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ فَرَفَضَهُ وَقَالَ آمَنْتُ بِاللهِ وَبِرُسُلِهِ. فَقَالَ لَهُ "مَاذَا تَرَى". قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "خُلِّطَ عَلَيْكَ الأَمْرُ "ثُمَّ قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِنِّي قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا". فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ هُوَ الدُّخُّ. فَقَالَ "اخْسَأْ، فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ". فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه دَعْنِي يَا رَسُولَ اللهِ أَضْرِبْ عُنُقَهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِنْ يَكُنْهُ فَلَنْ تُسَلَّطَ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْهُ فَلاَ خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ". وَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم، وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ إِلَى النَّخْلِ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِنِ ابْنِ صَيَّادٍ شَيْئًا، قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ ابْنُ صَيَّادٍ، فَرَآهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ مُضْطَجِعٌ . يَعْنِي فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا رَمْزَةٌ أَوْ زَمْرَةٌ . فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيّادٍ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم، وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ، فَقَالَتْ لابْنِ صَيَّادٍ: يَا صَافِ، وَهُوَ اسْمُ ابْنِ صَيَّادٍ، هَذَا مُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم، فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ، فَقَالَ

النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ". (بخاري: 1354، 1355)

672- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: عمر رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم او يوې ډلي سره ابن صياد ته ورغى، وئې ليدل چي هغه د بني مغاله (د انصارو يوه كورنۍ) د غونډيو خوا ته له ماشومانو سره لوبي كوي، ابن صياد دغه مهال بلوغ ته نژدې شوى وو، تر هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ورتگ پوه نشو چي په خپل لاس ئې (پر اوږه) وواهو، بيا ئې ابن صياد ته وفرمايل: (آيا په دې گواهي وركوې چي زه د الله رسول يم)؟ ابن صياد ورته وكتل او وئې ويل: شهادت وركوم چي ته د اميانو (نالوستو) رسول يې، بيا ابن صياد رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: آيا ته پدې شاهدي وركوې چي زه د الله رسول يم؟ خبره ئې وررد كړه او وئې فرمايل: (زه په الله تعالى او رسولانو ئې ايمان لرم)، بيا ئې ورته وفرمايل: (ته څه وينې؟) ابن صياد وويل: كله رښتينى او كله دروغجن (خبر) راته راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (خبره دربانديي مغشوشه شوې ده) بيا نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (ما څه درته پټ كړي (په زړه كي مي څه نيولي) ووايه هغه به څه وي)؟، (ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د دخان سورې څه برخه په زړه كي ورته نيولې وه)، ابن صياد ورته وويل: هغه (الدخ) دئ، نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (خوار شې، له خپل حده نشې وتلى)، نو عمر رضي الله عنه وويل: يا رسول الله! اجازه راكړه چي غاړه ئې ووهم، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (كه هغه په رښتيا دجال

وي، نو وس دي نه پرې رسي او که دجال نه وي نو وژل ئې ګټه نه درته لري).

په بل روایت کي دا هم راغلي:

او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي: له دې وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم او ابی بن کعب رضي الله عنه د خرما هغه باغ ته لاړل چي ابن صیاد په کي وو، غوښتل ئې هغه غافل ومومي او په پټه څه ترې واوري، مخکي له دې چه ابن صیاد ئې ووینی، رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه په داسي حال کي ولید چي په خپل څادر کي پروت دئ او زمزمه ترې اورېدل کېږي، د ابن صیاد مور رسول الله صلى الله عليه وسلم ولید چي د خرما د ونو شا ته ځان پټوي، نو ابن صیاد ته ئې وویل: اې صاف! (دا د ابن صیاد اصلي نوم وو)، دا دئ محمد صلى الله عليه وسلم! نو ابن صیاد راپورته شو. بیا رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: (که ئې پرېښی وی نو حال به ئې څرګند شوی وو).

تکرار: 2638، 3033، 3056، 6174

توپیر: په یوه کي انْطَلَقَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ الأَنْصَارِىُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِى فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي انْطَلَقَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم وَأُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ يَأْتِيَانِ النَّخْلَ الَّذِى فِيهِ ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي انْطَلَقَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَمَعَهُ أُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، فَحُدِّثَ بِهِ فِى نَخْلٍ، په یوه کي فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي فَوَثَبَ ابْنُ صَيَّادٍ راغلي.

ځینو د دې روایت په شرحي کي لیکلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې لپاره ابن صیاد ته ورغلي وو

چي پوه شي دی ساحر دئ، که کاهن دئ که دجال، ځکه په ده کي د دجال نښي لیدل شوې وې، یوه سترګه ئې ړنده یا د پړسېدلي انګور په څېر وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ګمان کاوو چي ښایي همدا به دجال وي.

دا روایات د سند له مخي داسي دي چي په دریو طبقو کي یو یو راوي لري او په څلورمي کي درې راویان، د متن له پلوه څو اساسي ستونزي لري:

قرآن وایي چي هیڅوك په غیب نه پوهېږي، نه انسان، نه فرشته، نه پېری، نه کاهن، نه جادوګر، نه دجال او نه بل څوك، رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې حقیقت تر بل هر چا ښه پوهېدو، څنګه به هغه یو ماشوم په دې امتحانولو چي په غیب پوهېږي که نه؟

هیڅوك نشي کولی په دې پوه شي چي بل انسان کومه خبره په زړه کي پټه ساتلې ده، دا روایت وایي چي ابن صیاد دومره پوه شوی وو چي د الدخان پر ځای الدخ ووایي. د قرآن د لارښونو له مخي په پرېکنده توګه ویلی شو چي نه دجال په دې پوهېږي چي د انسان په زړه کي څه دي او نه بل څوك، دا هغه څه دي چي موږ ته رسول الله صلی الله علیه و سلم راښودلي، هغه به څنګه دا ګمان کولو چي که ابن صیاد موعود دجال وي نو په غیب به پوه شي؟!!

زه خو دا جسارت نشم کولی چي د الله تعالی د عظیم الشأن پیغمبر په اړه ووایم یا ئې ومنم چي هغه د بل چا باغ ته د هغه له اجازې پرته ورننوتی، په ونو کي پټ پټ مخکي تللی، چي ابن صیاد ته ځان ورسوي او پوه شي چي هغه تر خپل ځادر لاندي څه کوي او څه وایي!! که احیاناً دا ومنو

چي په داسي مواردو کي دا دواړه کارونه (د بل له اجازې پرته د هغه باغ ته ننوتل او تجسس کول) جائز دي، نو آيا د ابن صياد د نه خبرېدو په صورت کي به کوم حقيقت جوت شوی وو؟! هغه به څه وو؟ آيا عمر رضي الله عنه ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا چي که هغه دجال وي نو ته پرې غالبېدی نشې او که نه وي وژل ئې تا ته څه ګټه نه لري، په دې معنی نه ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغه ملاقات وروسته هم ابن صياد ونه پېژندو چي دی همغه موعود دجال دئ که نه؟!! آيا دا وينا د منلو وړ ده؟! که د ابن صياد قصه رښتيا وی نو له لسګونو صحابه وو به دا خبره روايت شوې وه، ولي يوازي يوه کس ته منسوب شوې؟!

673- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ- وَهْوَ ابْنُ زَيْدٍ- عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ غُلاَمٌ يَهُودِىٌّ يَخْدُمُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَقَالَ لَهُ "أَسْلِمْ". فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهْوَ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ صلى الله عليه و سلم. فَأَسْلَمَ، فَخَرَجَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ يَقُولُ "الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ". (بخاري:1356)

673- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه يهودي ځوانکي به د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت کاوو، يو وخت مريض شو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ئې پوښتني ته ورغی او سر ته ئې کښېناست او ورته وئې فرمايل: (مسلمان شه!)، هغه خپل پلار ته چي خوا ته

ئې وو وکتل، پلار ئې ورته وویل: د ابو القاسم صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړه، نو په اسلام مشرف شو، بیا رسول الله! په داسي حال کي ترې ووت چي فرمایل ئې: (ټولي ستاینې هغه الله لره دي چي دا ځوان ئې له اور نه وژغورو).

تکرار: **5657**

توپیر: په یوه کي كَانَ غُلاَمٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صلی الله علیه و سلم فَمَرِضَ، په بل کي أَنَّ غُلاَمًا لِيَهُودَ كَانَ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صلی الله علیه و سلم فَمَرِضَ، په یوه کي يَعُودُهُ فَقَالَ "أَسْلِمْ"، په بل کي يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَقَالَ لَهُ "أَسْلِمْ "راغلي، د پورتني روایت وروستی برخه، په بل کي نه ده راغلې.

674- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ، هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ". ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ- رضي الله عنه (فِطْرَةَ الله الَّتِى فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ الله ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ). (بخاري:1359)

674- له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (هیڅ زېږېدونکی (ماشوم) داسي نه دئ چي په روغ فطرت پیدا نشي، بیا ئې مور او پلار له هغه یا یهودی جوړوي یا نصراني یا مجوسي، داسي لکه څاروي چي بشپړ پیدا کېږي، آیا په

دوی کي داسي بچي مومئ چي غوږونه یا لکۍ ئې غوڅ شوي وي؟ ورپسې ابو هریره رضي الله عنه دا آیت تلاوت کړ: (فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفاً فِطرَت الله الَّتى فَطرَ النَّاس عَلَيهَا لا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ الله ذَلِك الدِّينُ الْقَيِّمُ وَ لَكِنَّ أَكثرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ * الروم:30: خپل مخ په بشپړه توګه دین ته برابر کړه، الهي فطرت ته، هغه چي الله تعالی خلك پرې پیدا کړي، الهي خلقت او پیدایښت بدلون نلري، همدا مضبوط او صحیح دین دئ).

تکرار: 1358، 1385، 4775، 6599

توپیر: ټول سره ورته دي یوازي دومره توپیر لري چي، په یوه کي مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، په بل کي كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ راغلي.

مطلب ئې دا دئ چي الله تعالی انسانان له داسي جوړښت او فطرت سره پیدا کړي چي که صدمه ونه ګوري او د مور، پلار او ټولني له لوري کوږ نشي نو حق دین ته به غاړه ږدي او له کفر، شرك او انحراف نه به ځان ساتي، آیت هم دغه لارښوونه لري او وایي: د الله تعالی له لوري لیږل شوی دین غوره کړئ، هغه دین چي د انسان له هغه فطرت او جوړښت سره سمون لري چي الله تعالی ورپه برخه کړی، دا فطرت بدلون نه مومي، تل ئې غوښتني همغه دي چي یوازي په الهي دین کي ترسره کېدی شي، الله تعالی انسان له داسي روغ رمټ فطرت سره پیدا کوي چي که خپلي مخي ته پرېښودی شي نو همغه لار به غوره کوي چي الهي دین ئې لارښوونه کوي، دا مور، پلار او ټولنه ده چي د ده سالم او روغ فطرت کوږ او په غلطو لارو ئې روان کړي، مثال ئې داسي دئ لکه د څارویو بچي چي روغ رمټ پیدا کیږي

خو خلك ئې غوږونه يا لكۍ ورلندوي.

٣٩- باب: كه مشرک د مرگ په وخت (لا إله إلا الله) ووايي

675- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِى أَبِى عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِى سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ، وَعَبْدَ الله بْنَ أَبِى أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لأَبِى طَالِبٍ "يَا عَمِّ، قُلْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ الله". فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ الله بْنُ أَبِى أُمَيَّةَ يَا أَبَا طَالِبٍ، أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ، وَيَعُودَانِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ، حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ هُوَ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَمَا وَالله لأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ، مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ". فَأَنْزَلَ الله تَعَالَى فِيهِ (مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ) الآيَةَ. (بخاري: 1360)

675- د سعيد بن مسيب رضي الله عنه له پلار روايت دئ چې وايي: كله چې د ابو طالب د ځنكدن (ساختو) وخت شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته راغى او د هغه خوا ته ئې ابو جهل بن هشام، عبدالله بن ابي اميه بن مغيره وموندل، رسول الله صلى الله عليه وسلم ابو طالب ته وويل: (اې تره! (لا إله إلا الله) ووايه، چې په همدې كلمې سره به د الله تعالى په وړاندي ستا لپاره شهادت وړاندي كړم)، نو ابو جهل او عبدالله بن ابي اميه ورته وويل: ابو طالبه! آيا د

عبدالمطلب دين پرېږدې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم تر هغه دا (د شهادت کلمه) او هغوی دواړو خپله وينا وړاندي کوله چي ابو طالب خپله وروستۍ خبره داسي ورته وکړه: دی (ابو طالب) د عبدالمطلب په دين دئ او د (لا إله إلا الله) له ويلو ئې ډډه وکړه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (په الله قسم تر هغه به د مغفرت دعاء درته کوم چي ترې منع شم)، نو الله تعالى دا آيت نازل کړ: (ما كان للنبي...).

تکرار: 3884، 4675، 4772، 6681

توپير: په يوه کي فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ، وَعَبْدَ الله بْنَ أَبِى أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، په بل کي وَعِنْدَهُ أَبُو جَهْلٍ، په يوه کي يَا عَمِّ، قُلْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ الله، په بل کي أَىْ عَمِّ، قُلْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. كَلِمَةً أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ الله، په يوه کي فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ، وَيَعُودَانِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ، په بل کي فَلَمْ يَزَالاَ يُكَلِّمَانِهِ حَتَّى قَالَ آخِرَ شَىْءٍ كَلَّمَهُمْ بِهِ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، په يوه کي أَمَا وَالله لأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ، مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ، په بل کي لأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْهُ، په يوه کي وَنَزَلَتْ (إِنَّكَ لاَ تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ، په بل کي مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ والذين أمنوا أن يستغفروا للمشركين... راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

کله چي انسان د احتضار (ځنکدن او سا ختو) حالت ته ورسيږي نه ئې توبه قبليږي او نه ايمان، روايت وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابو طالب د احتضار په حالت کي د هغه خوا ته ورغلی، ابو جهل او ملګري ئې د هغه خوا ته موندلي او له خپل تره ئې غوښتي چي لا إله إلا

الله ووايي!! دا په داسي حال کي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې پوهېدو چي په دې حالت کي دا کلمه ويل هيڅ ګټه نه لري.

- يو روايت وايي چي د القصص د سورې دغه آيت نازل شو: إِنَّكَ لا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَ لَكِنَّ الله يهْدِى مَن يَشاءُ وَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ: القصص:56، بل وايي چي د البراءة د سورې 80 آيت نازل شو، بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چي په دې دواړو خبرو کي کومه يوه صحيح ده، د القصص سوره د مکي دور په منځنيو کلونو کي نازله شوې او په دغه آيت کي پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي دا ستا په واك کي نه ده چي څوك له هدايته برخمن کړې او د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه کړې، ستا دنده ايمان او سمي لاري ته د دوی بلنه ده، دا پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي چي چا ته په سمي لاري د تلو توفيق ورکوي او څوك ترې محروموي. خو کوم آيت ته چي په پورتني روايت کي اشاره شوې هغه د التوبه سورې 80 آيت دئ، د **سورې له متنه په ډېر صراحت سره معلوميږي چي د سورې دا برخه د تبوك له جګړي وروسته نازله شوې، د دې سورې ځيني برخي د مکې له فتحي لږ مخکي او ځيني ترې وروسته، ځيني په نهم هجري کال کي، ځيني د حنين له جګړي وروسته او ځيني د تبوك له جګړي مخکي او وروسته نازلي شوې او په هغو قضاياوو بحث کوي چي مسلمانان پر مکې له تسلط وروسته ورسره مخامخ ول.** که څه هم ځينو درنو مفسرينو د دې آيتونو لپاره خاص خاص شأن نزولونه بيان کړي، هر يوه په ځانګړي روايت استناد کړی، ځينو د دغه روايت په

استناد د ابوطالب په اړه ګڼلی، خو دا حکم عام دئ او د خاصولو هیڅ دلیل ئې نه تر سترګو کیږي. دا ډېره عجیبه ده چي څوك ووایي: دا آیتونه د ابوطالب په اړه نازل شوي!! د ابو طالب خبره چېري او د دې آیت د نزول نېټه چېري؟!! ابوطالب په مکه کي د بعثت لسم کال شاوخوا وفات شوی او دا آیتونه د پیغمبر علیه السلام له رحلت لږ مخکي نازل شوي.

ځیني دا عادت لري چي د آیت مصداق د شأن نزول په نامه یادوي چي دا صحیح نومونه نه ده، خلك په اشتباه کي اچوي، شأن نزول یوه معنی لري او مصداق ئې بله معنی، څوك چي مصداق ته د شأن نزول نوم ورکوي مغالطه کوي، شأن نزول د نزول د وخت خاص حالت دئ چي په بل وخت ئې اطلاق نشي کېدی او مصداق ئې د نزول له ورځي وروسته تر قیامته پوري ورته موارد دي. څوك چي د التوبه سورې د کومي برخي شأن نزول د مکي دور حوادث ګڼي رأیه ئې په دې دلیل بې بنسټه ده چي التوبه د مدني دور په وروستیو ورځو کي نازله شوې، او هیڅ داسي صحیح روایت نه مومو چي وښیي د دې سورې یوه برخه نژدې دیارلس کاله مخکي په مکه کي نازله شوې یا د بدر له جګړي سره متصل. د یوه روایت د عدم صحت لپاره دا دلیل کافي دئ چي د نن نازل شوي آیت لپاره لس او شل کاله مخکي حادثه شأن نزول ګڼي. له مشرکینو د برائت موضوع په هغو آیتونو کي راغلې چي د مکې په فتحي پوري تړاو لري، د دې لپاره چي مسلمانان له قریشو سره د خپلوۍ له مخي چلند ونه کړي بلکي ایمان او عقیده اصلي معیار وګڼي،

داسي لارښوونه په ځانګړې توګه هغه مهال زيات اهميت پيدا کوي چي دښمن وسله پر زمکه کېږدي او تسليم شي، دغه وخت بايد ډېر احتياط وشي چي د خپلوئ له مخي نه د چا بې ځايه حمايت وشي او نه سپارښتنه.

دا آيت د سورې د داسي رکوع يو آيت دئ چي په هغې کي د تبوك د جګړي يوې اړوند موضوع ته اشاره شوې، چي هغه له دې غزوې د دريو مخلصو مؤمنانو د پاته کېدو او د هغوی د توبې د قبلېدو موضوع ده او دا ښيي چي د سورې دا برخه او په ځانګړې توګه دغه رکوع د تبوك له غزوې وروسته نازله شوې.

دا ټول آيتونه د يوه بشپړ مضمون نه بېلېدونکې برخي دي، د بېل بېل نازلېدو تصور ئې هم نشي کېدی.

همداراز که دا آيت په مکه کي نازل شوی وی نو پيغمبر عليه السلام او ټولو صحابه وو به له خپلو مشرکو خپلوانو خپل برائت اعلاناوو نه دا چي د هغوی په حمايت کي به اوسېدل!! دې ته مو هم پام وي چي ابراهيم عليه السلام د خپل پلار په ژوند کي د هغه لپاره مغفرت غوښتو نه د هغه له مرګه وروسته، کله چي پوه شو پلار ئې د خدای دښمن دئ نو خپل برائت او بې زاري ئې ترې اعلان کړه، د دې معنی دا ده چي د آيت اصلي موخه مسلمانانو ته دا لارښوونه ده چي په ژوند کي له خپلو هغو مشرکو خپلوانو سره خپلوي او دوستي ونه پالي او د مغفرت هيله ئې ونه کړي چي شرك او کفر ئې ورته څرګند شوی. ځکه د هغه چا په اړه د قرآن حکم ډېر واضح او صريح دئ چي کافر او مشرك ومري، الله تعالی هيڅکله هغوی ته بخښنه نه کوي،

رسول الله صلى الله عليه و سلم او مؤمنان د قرآن له دې صريح حكم خبر ول، د دې هيڅ امكان نشته او تصور ئې هم نشي كېدى چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به ابوطالب ته او مؤمنانو به خپلو مشركو پلرونو او خپلوانو ته د دوى له مړيني وروسته د مغفرت دعاء كړې وي.

ځينو له دې روايت د دفاع په موخه ويلي چي له (حَضَرَت) نه مراد د مرگ علائم دي نه ځنكدن!! خو يقيناً چي دا په تكلف ولاړه توجيه ده، په عربي كي دا كلمه د ځنكدن لپاره راځي نه د مرگ د نښو او علائمو لپاره. كه د ځنكدن حالت نه وى نو ابوجهل او ملگري ئې د ابوطالب په خوا كي څه ته راغونډ شوي وو؟!! روايت خو په واضح توگه وايي چي هغه د ځنكدن په حالت كي وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم هم د ده ځنكدن ته په پام سره ورته ويلي چي دا كلمه ووايه!!

٤٠- باب: د قبر پر سر وعظ او خلک ورته کښېناستل

676- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِى جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِى عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ كُنَّا فِى جَنَازَةٍ فِى بَقِيعِ الْغَرْقَدِ، فَأَتَانَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم فَقَعَدَ وَقَعَدْنَا حَوْلَهُ، وَمَعَهُ مِخْصَرَةٌ فَنَكَّسَ، فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهِ ثُمَّ قَالَ "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ، مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلاَّ كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، وَإِلاَّ قَدْ كُتِبَ شَقِيَّةً أَوْ سَعِيدَةً". فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ الله، أَفَلاَ نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ، فَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ، وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ

فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ قَالَ "أَمَّا أَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ، وَأَمَّا أَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ"، ثُمَّ قَرَأَ (فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى) الآيَةَ. (بخاري:1362)

676- له علي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ په بقيع الغرقد کي (غرقد يو ډول اغزنه ونه ده)، په يوې جنازې کي برخه اخستې وه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم راغى، بيا کښېناست او موږ ئې شا و خوا کښېناستلو، له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوه لکڼه يا عصاء وه، سر ئې ښکته کړ، بيا ئې په داسي حال کي چي زمکه ئې پر خپلي لکني ټومبله وفرمايل: (له تاسو هيڅوك او هيڅ پيدا شوى نفس (انسان) داسي نشته چي ځاى ئې په جنت او دوزخ کي نه وي ټاکل شوى، او نه وي ورته ليکل شوي چي بدمرغه دئ که نېکمرغه. يوه سړي وويل: يا رسول الله! نو آيا پر خپلي ليکني (مقدراتو) ويسا او توکل ونه کړو او عمل پرېښږدو؟ ځکه څوک چي له نېکمرغو وي د نيکمرغۍ عمل ته به مخه کوي او څوک چي له بدمرغو وي د بدمرغۍ عمل ته به مخه کوي؟ وئې فرمايل: (نېکمرغه ته د نيکمرغۍ عمل آسان کړى کېږي او بدمرغه د بدمرغۍ عمل ته سوق کېږي). بيا ئې دا آيت تلاوت کړ: (فاما من اعطى واتقى... الآيه).

تکرار: 4945، 4946، 4947، 4948، 4949، 6217، 6605، 7552

توپير: په يوه کي وَمَعَهُ مِخْصَرَةٌ فَنَكَّسَ، فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهِ، په بل کي فَأَخَذَ عُودًا يَنْكُتُ فِى الأَرْضِ، په بل کي فَأَخَذَ شَيْئًا فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِهِ الأَرْضَ، په بل کي فَجَعَلَ يَنْكُتُ الأَرْضَ بِعُودٍ، په بل کي وَمَعَهُ عُودٌ يَنْكُتُ فِى الأَرْضِ، په يوه

كي مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ، مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلاَّ كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، وَإِلاَّ قَدْ كُتِبَ شَقِيَّةً أَوْ سَعِيدَةً، په بل كي مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ أَوْ مِنَ الْجَنَّةِ، په يوه كي فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ الله، أَفَلاَ نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ، په بل كي. فَقُلْنَا يَا رَسُولَ الله أَفَلاَ نَتَّكِلُ، په بل كي قَالُوا يَا رَسُولَ الله أَفَلاَ نَتَّكِلُ، په يوه كي أَمَّا أَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ، وَأَمَّا أَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ، په بل كي اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ، په بل كي قَالَ لاَ، اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ، په بل كي اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ، په بل كي أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ، وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ، په بل كي لَيْسَ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ فُرِغَ مِنْ مَقْعَدِهِ مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ راغلي.

لكه چي ګورئ په دې رواياتو كي كافي توپيرونه تر سترګو كيږي، ځيني ئې وايي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لكنه يا عصاء وه، ځيني ئې وايي چي يو خلكى ئې راواخيست، ځينى وايي كوم شي ئې راواخيست او زمكه ئې پرې كيندله، ځيني ئې يوازي دا وايي چي د هر انسان ځاى په جنت او دوزخ كي ټاكل شوى، ځيني دا هم پرې علاوه كوي چي په مقدراتو كي ئې دا هم ليكل شوي چي نېكمرغه دئ كه بدمرغه. د ټولو اصلي مطلب دا دئ چي نېكمرغه به د نېكمرغۍ عملونو توفيق ترلاسه كوي او بدمرغه به د بدمرغۍ عملونو توفيق.

دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په دريو طبقو كي يو يو او په څلورمي كي درې راويان لري. ټول راويان ئې د كوفې اوسېدونكي دي، د متن له پلوه داسي دئ چي وضاحت غواړي، په دې اړه څو خبري په پام كي ولرئ:

• په **674** روایت کي مو ولېدل چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: هر انسان له روغ او سالم فطرت سره پیدا کېږي، داسي چي که مور او پلار ئې یهودي، نصراني او مجوسي نکړي نو مسلم او مؤمن به ستر کېږي، قرآن وایي چي د بني آدمو په خټه کي دا ایښودل شوي چي الله تعالی به خپل رب ګڼي، وَ إِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِی ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَ أَشهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَ لَست بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شهِدْنَا..* الاعراف:172: او کله چي ستا رب د بني آدمو له ملاګانو د دوی اولاد واخیست او دوی ئې پر خپل ځان شاهد وګرځول (او ورته وئې ویل) آیا زه مو رب نه یم؟ وئې ویل: هو؛ شهادت ورکوو...

د دې معنی دا ده چي الله تعالی هیڅوك له مور نه شقي، بدمرغه او دوزخي نه پیدا کوي. که خبره داسي وي نو آیا دا روایت له هغه سره تعارض لري؟ موږ وایو: نه؛ ځیني ئې غلط تعبیروي او په دواړو کي تعارض رامنځته کوي، د دې روایت معنی دا ده چي هر چا ته په جنت او دوزخ کي د هغه هستوګنځی ټاکل شوی، دې هستوګنځیو ته د رسېدو لاري بېلي بېلي دي، که په یوې لار وخوځېدې یوه هستوګنځي ته رسېږې او که په بلي وخوځېدې بل ته رسېږې، نېکمرغه هغه دئ چي په سمي لاري روان شي او جنت ئې په برخه شي او بدمرغه هغه دئ چي په کږې لار سر شي او په دوزخ کي پرېوځي. ایمان او نېك عمل به ئې په جنت کي خپل هستوګنځي ته بیایي او شرك، کفر او ګناهونه به ئې په دوزخ کي خپل ټاکلي هستوګنځي ته رسوي، له مرګ وروسته به دواړه ځایونه وروښودل شي او ورته وبه ویل شي: له دغو دوو ځایونو دي یو په برخه شو.

الله تعالى د هر انسان او هر مخلوق برخليك له مخكي ټاكلى، دا برخليك نه بدلېدونكى دئ، هيڅوك او هيڅ څه نشي كولى په دې كي بدلون راولي. خو د انسان برخليك او مقدرات دوې برخي لري: هغه برخه چي د انسان په اختيار او واك پوري تړلې ده، او هغه چي د انسان له واك او اختيار نه بهر ده، لومړى برخه هغه امور احتوى كوي چي انسان ئې په خپل اختيار ترسره كوي، دا اختيار د ده د مقدراتو يوه برخه ده، الله تعالى انسان داسي پيدا كړى چي كولى شي له دوو لارو يوه غوره كړي او پرې ولاړ شي، له دوو ممكنو كارونو يو انتخاب او ترسره كړي، دا هغه مطلب دئ چي د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كي ورته اشاره شوې او دوهمه برخه ئې هغه امور احتوى كوي چي د انسان د واك او اختيار له دائرې بهر دي، لكه دا چي څه وخت دنيا ته راځي، څه وخت ترې درومي، په څنګه محيط كي پيدا كېږي، له كومو پېښو سره مخامخ كېږي.

انسان يوازي هغه څه كولى شي چي الله تعالى ورته مقدر كړي، الله تعالى ئې وغواړي او ده ته ئې د كولو توفيق وركړي. خو د دې معنى نه دا ده چي انسان په خپل انتخاب كي بې واك او بې اختيار دئ او نه دا چي د هر څه كولو توان او اختيار لري، بلكي د ده واك او اختيار محدود او د الهي مقدراتو تابع دئ. الله تعالى فرمايلي چي: فَمَن شاءَ فَلْيُؤْمِن وَ مَن شاءَ فَلْيَكْفُرْ: څوك چي غواړي نو ايمان دي راوړي او څوك چي غواړي كافر دي شي، يعني الله تعالى د انسان په اړه دا پرېكړه كړې ده چي كولى شي د ايمان او كفر تر منځ يو غوره كړي، كه د ايمان لار ئې غوره كړه الله

تعالی په همدې لار د تلو توفیق ورکوي او که ئې د کفر لار اختیار کړه الله تعالی په همدې لار د تلو توان ورکوي.

د عالم له پیدایښته تر قیامته پوري چي کومي پېښي رامنځته کېږي، په لوح محفوظ کي لیکل شوې، هره پېښه به په خپل ټاکلي وخت او خپل ثابت ځای کي واقع کېږي. لوح محفوظ د الله تعالی د کامل علم مظهر دئ، په دې کي هغه څه هم لیکل شوي چي انسان ئې له الهي مقدراتو سره سم او له خپل اختیار او واك نه په استفادې سره کوي، د لوح محفوظ لیکني د ده اختیار نه سلبوي او مجبور مخلوق نه ترې جوړوي.

کم علمه او د سطحي نظر خاوندانو ته په دې خبرو کي اشکال په نظر ورځي، ګمان کوي چي د دې عقیدې له مخي باید انسان داسي بې واکه، محکوم او مجبور مخلوق وګڼو چي په خپله خوښه او اختیار نه ښه کار کولی شي او نه بد، د خپلي دغي غلطي انګېرني په اساس اعتراض کوي چي که د انسان برخلیك او مقدرات له مخکي ټاکل شوي وي او په دې مقدراتو کي هیڅ ډول تغییر نشي راتلی، نو ولي به انسان د ښه یا بد عمل په سبب مکافات او مجازات کېږي؟!!

په مسلمانانو کي هم ځیني داسي دي چي د (تقدیر) تر څنګ د (اختیار) منل ورته ګران برېښي او کله کله په دې اړه د داسي مغالطې مرتکب شي چي له هغې وتل او سمه لار موندل ورته محال شي. ځیني په هغو نصوصو استناد او استدلال کوي چي وایي: انسان خپله لار په خپله خوښه غوره کوي، د ده نېك او بد عمل د ده خپل انتخاب دئ، خوښه ئې د کفر لار او د شیطان ملګرتیا غوره کوي او که د

ایمان لار او د الله تعالی بندګي، یوه ئې دوزخ ته بیایي او بله جنت ته، جنت د ده د نېکو عملونو بدله او دوزخ د ده د بدو عملونو سزا ده. او ځیني په هغو نصوصو تکیه کوي چې انسان د مقدراتو په وړاندي خاضع او تسلیم ګڼي او مقدرات ثابت او تغییر نه منونکي.

- په پورتني روایت کې ګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغو خلکو انتباه تصحیح کړه چې ویل ئې: نو آیا پر خپلي لیکني (مقدراتو) ویسا او توکل ونه کړو او عمل پرېښږدو؟ ځکه څوک چې له نېکمرغو وي د نیکمرغۍ عمل ته به مخه کوي او څوک چې له بدمرغو وي د بدمرغۍ عمل ته به مخه کوي؟ وئې فرمایل: (نېکمرغه ته د نیکمرغۍ عمل آسان کړی کېږي او بدمرغه د بدمرغۍ عمل ته سوق کېږي). بیا ئې د قرآن هغه آیتونه تلاوت کړل چې همدا مطلب افاده کوي، آیتونه دا دي:

إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ٧ وَأَمَّا مَنۡ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ٨ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٩ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ١٠ الليل: 4-10

بې له شکه چې ستاسو هڅې بېلابېلي دي، نو هغه چې لورېینه او ځان ساتنه ئې وکړه. او غوره پایله ئې رښتیا وګڼله. نو ژر به ئې آساني (لار) ته آسان کړو. او چا چې استغناء او بخل وکړ او غوره پایله ئې دروغ وګڼله. نو ژر به ئې آ ګراني (لار) ته آسان کړو.

د دې آیتونو معنی دا ده چې د انسانانو د کړو وړو ترمنځ توپیر دومره ژور دئ چې یو د بل ضد او مقابل، د شپې او ورځې ترمنځ د توپیر په څېر او حتی تر دې هم زیات، یو ایثار کوي، د خپل همنوع د لاس نیوي لپاره خپل مال وقف

کوي، له بخل او حرص نه ځان ساتي، د بل په حق تېری نه کوي، له هغه څه ډډه کوي چې ده یا د ده همنوع ته تاوان رسوي. (حسنی) تائیدوي، چې څو تعبیرونه ئې شوي: د عمل په ښې بدلې باور لري، په ښایسته جنت باور لري، موحد دئ ښه عقیده لري او تر ټولو غوره تعبیر ئې دا چې: ښایست پېژني او اعتراف پرې کوي، د ښه او بد، ښایسته او نابښایسته تر منځ د تفکیك توان لري، له ټولو سره ورته چلند نه کوي، د انسان تر ټولو غوره او ښکلی عمل، له هغه بېلولی شي چې تر ټولو بد او کرکجن دئ، ټول یو شانته او برابر نه ګڼي، د دې انسان عمل د ورځې په څېر ښکلی او ښایسته دئ، الله تعالی به ئې هغې آساني لاري ته هدایت کړي چې د ده د روغ او سالم فطرت مقتضاء ده، په دې لار تګ به ورته آسانه کړي.

قرآن له یوې خوا د ایمان لار (سهل) او آسانه ګڼي او له بلې خوا ئې ګرانه، سخته او (عقبه)، دا ځکه چې ځینو ته آسانه وي او ځینو ته ګرانه او سخته برېښي. دا لار ستا لپاره (فطري) لار ده، په هغې کې به د زړه ډاډ او د روح تسکین ترلاسه کړې، وجدان به دې راضي او عقل به دې قانع وي، که څه هم په دې لار کې لوړې ژوري او کږلېچونه شته، له ډول ډول ابتلاءاتو سره توأم ده، د شر او فساد له ځواکونو سره ټکرونه په کې دي، له ګواښونو سره مخامخېدل، زندان ته تګ، قرباني ورکول، هجرتونه، شهادتونه، محرومیتونه او محاصرې له ځان سره لري، هم آسانه ده او هم ګرانه.

د لومړۍ ډلې په مقابل کې بله ډله داسې ده چې بخل

کوي، د بې وزلي انسان او د خپل همنوع ورور د لاس نيوي لپاره د خپل وخت، شتمنيو او امکاناتو له مصرفولو ډډه کوي او د داسي کار هيڅ ضرورت نه احساسوي، نورو ته له اعتناء او التفاته ځان بې نيازه ګڼي او بې پروائي کوي، فضائل او ښېګڼي تکذيبوي، د (کرکجن) او (ښه) عمل ترمنځ د تفکيك استعداد نه لري، معنوي ښکلا او ښايست نفي کوي او د عملونو په نېکي بدلې باور نه لري. د دوی عملونه د توري شپې په څېر تك تور وي، نه چا ته رڼا ورکوي او نه تودوخه، الله تعالی به دا خلك پرېږدي چي د خپل سالم انساني فطرت مغايري لاري باندي وخوځېږي، همدا غيرفطري او ګرانه لار ورته آسانه او ښايسته وبرېښي او په شور او شوق سره پرې روان وي. کوم څوك چي د لومړي ځل لپاره د ګناه اراده کوي، سخت مشوش وي، وېرېږي، داسي احساس کوي چي يوه ژور ګړنګ ته ځان اچوي، خو ورو ورو ئې دا احساس کمزوری کېږي او خبره هغه ځای ته ورسېږي چي همدغه ګناه ورته عادي برېښي، څوك چي د لومړي ځل لپاره دروغ وايي، خولې پرې راماتي شي، وېرېږي، دا وېره او اندېښنه ئې په څېرې او حرکاتو کي له ورايه معلومېږي، خو ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چي دروغ ويل ورته آسانه شي، په دروغو کي داسي مهارت تر لاسه کړي چي نه ئې په څېرې کي کوم خاص تغيير راځي او نه ئې په حرکاتو کي، دروغ ورته کمال برېښي او د هوښيارۍ نښه ئې ګڼي!! ګورئ چي د انسان عملونه هم د کيفيت له لحاظه توپيرونه لري او هم د پايلو او عاقبت له پلوه.

عجيبه ده چي څوك د بخاري دا روايت داسي تعبيروي چي ګواكي سعيد له موره سعيد دنيا ته راځي او شقي له موره شقي، ځيني د جنت لپاره پيدا شوي هرومرو به جنت ته درومي او ځيني د دوزخ لپاره پيدا شوي چي حتماً به دوزخ ته درومي!! يوازي هغه څوك داسي تعبير كولى شي چي هم د قرآن ګڼ شمېر آيتونه تكذيب كړي او هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم ګڼ شمېر احاديث.

٤١- باب: د قاتل النفس (ځان وژونكي) په اړه

677- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ غَيْرِ الإِسْلاَمِ كَاذِبًا مُتَعَمِّدًا فَهُوَ كَمَا قَالَ، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ عُذِّبَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ". (بخاري:1363)

677- له ثابت بن ضحاک رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (څوک چي قصدًا له اسلام پرته په بل دين د دروغو قسم ياد كړي، نو همغسي دئ چي ويلي ئې دي (مثلاً ووايي: زه دي يهودي وم كه به مي دا كار كړى وي)، او چا چي په كومي اوسپني (توري، چاړې، ټوپک او...) سره ځان وواژو، په همغه اوسپني سره به په دوزخ كي تعذيب كيږي).

تكرار: 4171، 4843، 6047، 6105، 6652

توپير: په يوه كي مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ غَيْرِ الإِسْلاَمِ كَاذِبًا مُتَعَمِّدًا فَهُوَ كَمَا قَالَ، په بل كي مَنْ حَلَفَ عَلَى مِلَّةٍ غَيْرِ الإِسْلاَمِ فَهْوَ كَمَا قَالَ، په يوه كي وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ عُذِّبَ بِهِ فِى نَارِ جَهَنَّمَ، په بل كي وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَىْءٍ فِى الدُّنْيَا عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ

الْقِيَامَةِ، په بل کي وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عُذِّبَ بِهِ فِى نَارِ جَهَنَّمَ، په يوه کي وَلَيْسَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَذْرٌ فِيمَا لاَ يَمْلِكُ، په بل کي وَمَنْ لَعَنَ مُؤْمِنًا فَهْوَ كَقَتْلِهِ، وَمَنْ قَذَفَ مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهْوَ كَقَتْلِهِ هم راغلي.

678- وَقَالَ حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنِ الْحَسَنِ حَدَّثَنَا جُنْدَبٌ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "كَانَ بِرَجُلٍ جِرَاحٌ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ الله بَدَرَنِى عَبْدِى بِنَفْسِهِ حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ". (بخاري:1364)

678- له جندب رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (يو سړی ټپي شوی وو، نو (د درد له امله ئې) ځان پخپله وواژو، الله تعالى وفرمايل: دې بنده مخکي لدې چي زه ئې مړ کړم پخپله ځان وواژو نو ما جنت پرې حرام کړ).

تکرار: **3463**

توپير: په يوه کي كَانَ بِرَجُلٍ جِرَاحٌ فَقَتَلَ نَفْسَهُ، په بل کي كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ، فَجَزِعَ فَأَخَذَ سِكِّينًا فَحَزَّ بِهَا يَدَهُ، فَمَا رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ، په يوه کي فَقَالَ الله بَدَرَنِى عَبْدِى بِنَفْسِهِ حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ، په بل کي قَالَ الله تَعَالَى بَادَرَنِى عَبْدِى بِنَفْسِهِ، حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ راغلي.

679- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "الَّذِى يَخْنُقُ نَفْسَهُ يَخْنُقُهَا فِى النَّارِ، وَالَّذِى يَطْعُنُهَا يَطْعُنُهَا فِى النَّارِ". (بخاري:1365)

679- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي

صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (څوک چي ځان زندۍ کړي نو په اور کي به هم ځان زندۍ کوي او څوک چي ځان په نېزه وهي او وژني ئې، نو هغه به په دوزخ کي هم ځان په نېزه وهي).

تکرار: **5778**

توپير: په بل کي دغه الفاظ راغلي: مَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ، فَهُوَ فِى نَارِ جَهَنَّمَ، يَتَرَدَّى فِيهِ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ تَحَسَّى سَمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ، فَسَمُّهُ فِى يَدِهِ، يَتَحَسَّاهُ فِى نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ، فَحَدِيدَتُهُ فِى يَدِهِ، يَجَأُ بِهَا فِى بَطْنِهِ فِى نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا.

دې ته مو پام وي چي په دې رواياتو کي هغي ځان وژني ته ګوته نيول شوې او ځان وژونکی د دوزخ مستحق بلل شوی چي د يأس،يا درد له امله ځان وژني، ځيني غرضي او مرضي مفتيان دا ځان وژنه له هغو شهادت طلبانه عملياتو سره تشبيه کوي چي د الله د لاري مخلص مجاهدين ئې د الله تعالی او د هغه د دين د دښمنانو په ضد تر سره کوي، په دې رواياتو او د البقرې د سورې په آيت چي وايي: و لا تلقوا بايدكم إلى التهلكة: په خپل لاس ځان په هلاکت کي مه غورځوئ.. په غلطه سره دا استدلال کوي چي له زورور دښمن سره مقابله، په خطر کي ځان اچول، له کم عدد او عدة سره د ځواکمن او په وسلو سنبال دښمن مخي ته ودرېدل، ځان په هلاکت کې غورځول دي او قرآن هغه تحريم کړي او يا دا چي شهادت طلبانه عمليات روا نه دي، دا ډېر ډېر ناروا او غلط استدلال دئ، د قرآن په دې آيت کي عدم انفاق او له قربانۍ نه ډډه کول د هلاکت باعث معرفي

شوي، له دې دا مفهوم اخيستل چې د زورور او ځواکمن دښمن له مقابلې بايد ډډه وشي او يا په دې سره د شهادت طلبانه عملياتو په ضد استدلال کول ډېر غلط او شرمناك استدلال دئ، نه د ايمان خاوند داسي استدلال کولی شي او نه د عقل او پوهي خاوند، که داسي وی نو قرآن به يو مسلمان د لسو کافرانو په مقابلې نه مکلف کولو، د مسلمانانو د ترغيب لپاره به ئې د ابراهيم عليه السلام هغه قصه نه بيانوله چې په يوازي سر ئې د نمروديانو بتان رانسکور کړل، دا به ئې نه ويل چې: کم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ الله وَ الله مَعَ الصبرِينَ * د الله په إذن سره څومره لږکي ټولګي په لوی ټولګي غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ. د بې صبرئ په وجه ځان وژنه او له الله سره د کلکي ميني په وجه شهادت طلبانه عمليات کول يو له بل ډېر ډېر توپير لري، يو له الله نه د يأس او ناامیدئ په سبب دا کار کوي او بل په الله او آخرت د کلك باور او د الله له دين د دفاع په لار کي د سر قرباني کولو په جذبه دا کار کوي، يو کس چې د لسو مقابله کوي په حقيقت کي شهادت طلبانه عمليات کوي، د ده او هغه چا ترمنځ هيڅ فرق نه شته چې بمونه په ځان پسي تړي او د دښمن هغه ځای ته ځان رسوي او داسي ګوزار ورکوي چې له بلي لاري ورته ممکن نه وي.

٤٢- باب: د خلکو له لوري د مړي ستاينه

680- حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رضي الله عنه يَقُولُ مَرُّوا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا

خَيْرًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "وَجَبَتْ". ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا فَقَالَ "وَجَبَتْ". فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه مَا وَجَبَتْ قَالَ "هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَهَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ الله فِي الأَرْضِ". (بخاري:1367)

680- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه جنازه ئې تېره کړه، خلکو ئې ستاينه وکړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (واجب شو)، بيا ئې بله تېره کړه خلکو بد پرې وويل، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (واجب شو)، عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه: څه واجب شول؟ نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (هغه چي تاسو ئې نوم په نيکۍ ياد کړ؛ د هغه لپاره جنت واجب شو او هغه چي په بدۍ مو ياد کړ د هغه لپاره دوزخ واجب شو، تاسو د زمکي پر مخ د الله تعالى شاهدان ياست.

تکرار: **2642**

توپير: په يوه کي مَرُّوا بِجَنَازَةٍ، په بل کي مُرَّ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِجَنَازَةٍ، په يوه کي ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى، په بل کي ثُمَّ مُرَّ بِأُخْرَى، په يوه کي فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه مَا وَجَبَتْ، په بل کي فَقِيلَ يَا رَسُولَ الله، قُلْتَ لِهَذَا وَجَبَتْ، وَلِهَذَا وَجَبَتْ، په يوه کي قَالَ هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَهَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ الله فِي الأَرْضِ، په بل کي قَالَ شَهَادَةُ الْقَوْمِ، الْمُؤْمِنُونَ شُهَدَاءُ الله فِي الأَرْضِ راغلي.

لکه چي ګورئ په دې رواياتو کي توپيرونه او تعارض تر سترګو کېږي، يو ئې وايي چي يوه ته جنت او بل ته دوزخ

واجب شو او بل ئې وايي چي د مؤمنانو شهادت او گواهي د دوی په اړه واجب شوه، يعني د چا چي ستاينه شوې وه د ستايني وړ ومنل شو او څوك چي په بد نوم ياد شوی وو په همدې نامه وپېژندل شو. د رواياتو اصلي مطلب دا دئ چي الله تعالی د هر چا په اړه د مؤمنانو قضاوت ته اعتبار وركوي.

خو د ې ته مو پام وي چي ذكر شوی آيت داسي دئ:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ... (البقره: 143)

او همداراز مو تاسو غوره امت وگرځولئ، چي پر خلكو شاهدان وئ او پيغمبر پر تاسو شاهد وي.

يعني له دې وروسته به د هدايت ډيوې ستاسو په لاس كې وي، ستاسو د كړو وړو له مخي به خلك په دې پوهيږي چي حقيقت څه ته ويل كيږي، حقيقي دين كوم دئ، د الله په اړه مو عقيده څنگه وي او څنگه د ده عبادت وكړو او څنگه د يوه واقعي مخلص بنده په څېر ژوند وكړو؟ مسلمانان او د دوی فكر او عقيده او د دوی عملي ژوند به د نورو لپاره د شاهد حيثيت لري او د مسلمانانو لپاره به پيغمبر شاهد وي.

681- عَنْ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "أَيُّمَا مُسْلِمٍ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ، أَدْخَلَهُ الله الْجَنَّةَ". فَقُلْنَا وَثَلاثَةٌ؟ قَالَ: "وَثَلاثَةٌ". فَقُلْنَا: وَاثْنَانِ؟ قَالَ: "وَاثْنَانِ". ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ. (بخاري:1368)

681- له عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (هر مسلمان چي

څلور کسان ئې په نیکۍ شاهدي ووایي الله تعالی به ئې جنت ته داخل کړي) موږ وویل: او که درې وي؟ وئې فرمایل: (او که درې وي، بیا مو وویل: که دوه وي؟ وئې فرمایل: او که دوه وي، بیا مو د یوه په اړه ترې ونه پوښتل.
تکرار: **2643**

توپیر: په بل کي عمر رضي الله عنه د جنازو په اړه ویلي (وجبت)، چا ترې پوښتنه کړې چي څه واجب شول؟ ده پورتنی روایت تکرار کړ.

٤٣- باب: د قبر د عذاب په اړه چي څه راغلي

682- حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا أُقْعِدَ الْمُؤْمِنُ فِي قَبْرِهِ أُتِيَ، ثُمَّ شَهِدَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله، فَذَلِكَ قَوْلُهُ (يُثَبِّتُ الله الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ)". حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ بِهَذَا وَزَادَ (يُثَبِّتُ الله الَّذِينَ آمَنُوا) نَزَلَتْ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ. (بخاري:1369)

682- له براء بن عازب رضي الله عنه روایت دئ چي نبي صلى الله عليه وسلم فرمایلي: (مؤمن چي په قبر کي کېښودل شي، (دوې فرشتې) ورته راشي، بیا هغه دا شاهدي ورکړي چي له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله تعالی رسول دئ، همدا د الله تعالی د هغه قول مصداق دئ چي فرمایي: (یثبت الله الذین آمنوا بالقول الثابت).
تکرار: **4699**

توپیر: په یوه کي الْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِى الْقَبْرِ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، په بل کي إِذَا أُقْعِدَ الْمُؤْمِنُ فِى قَبْرِهِ أُتِىَ، ثُمَّ شَهِدَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ راغلي.

دا روایت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي یو یو راوي او پنځمي کي دوه راویان لري، د متن له پلوه دا ستونزه لري چي ذکر شوی آیت د قبر په اړه نه دئ، د دنیایي ژوند او آخرت په اړه دئ؛ آیت داسي دئ:

يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ٢٧ ابراهيم: 27

الله تعالی مؤمنان د دنیا په ژوند کي هم په ثابت قول ټینګ او ثابت ساتي او په آخرت کي هم، او ظالمان بې لاري کوي، او الله چي څه غواړي همغه کوي.

بخاري چي په ترجمة الباب کي په کومو آیتونو استناد کړی له هغوی یوازي یو آیت د قبر د عذاب په اړه دئ چي هغه دا آیت دئ:

فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ 45 النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ46 غافر

دا آیت ښیي چي تر قیامت مخکي به فرعونیان په پر له پسې توګه له عذاب سره مخامخ کیږي. دا په ټول قرآن کي یوازینی آیت دئ چي د قبر عذاب ترې استنباط کیږي.

د بخاري دوه نور آیتونه دا دي:

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمۡ يُوحَ إِلَيۡهِ شَيۡءٞ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثۡلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ

تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ 93 الانعام

دا د روح قبضېدو حالت ته اشاره لري نه د قبر عذاب ته.

وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ١٠١ التوبه

دا په دنيا کي د منافقينو مکرر عذاب او په آخرت کي د دوی ستر عذاب ته اشاره کوي نه د قبر عذاب ته.

683- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ صَالِحٍ حَدَّثَنِي نَافِعٌ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما أَخْبَرَهُ قَالَ اطَّلَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَلَى أَهْلِ الْقَلِيبِ فَقَالَ "وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا". فَقِيلَ لَهُ تَدْعُو أَمْوَاتًا فَقَالَ "مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لاَ يُجِيبُونَ". (بخاري:1370)

683- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه وسلم د بدر په غزا کي وژل شوو مشرکينو ته چي په يوه کنده کي اچول شوي وو ورغی او وئې فرمايل: آيا هغه څه مو حق وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ ورته وويل شول: آيا مړو ته غږ کوې؟ وئې فرمايل: (تاسو تر دوی ښه اورېدونکي نه يئ خو دوی ځواب نشي ورکولی).

تکرار: 3980، 4026

توپير: په يوه کي وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا، په بل کي هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ثُمَّ قَالَ إِنَّهُمُ الآنَ يَسْمَعُونَ مَا أَقُولُ، په يوه کي فَقِيلَ لَهُ تَدْعُو أَمْوَاتًا، په بل کي يَا رَسُولَ الله تُنَادِى نَاسًا أَمْوَاتًا، په يوه کي مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا قُلْتُ مِنْهُمْ، په بل

کي مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لاَ يُجِيبُونَ راغلي.

دا روايت دوه برخي لري يوه ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه وينا ده چي د بدر له جګړي وروسته ئې د قريشو مړو ته وکړه او بله ئې د هغي پوښتني ځواب دئ چي په دې اړه ترې وشوه، لومړۍ برخه ئې په نورو رواياتو کي هم راغلې، خو له دوهمي برخي سره ئې د عائشې رضي الله عنها په څېر په دين پوه شخصيت اختلاف کړی او هغه ئې له قرآن سره متعارض ګڼلې، ځکه قرآن وايي چي مړي څه نه اوري، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په ځانګړې توګه وايي چي ته مړو ته خبره نشې اورولی. د عائشې رضي الله عنها روايت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِالْقَلِيبِ فَطُرِحُوا فِيهِ، فَوَقَفَ عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا أَهْلَ الْقَلِيبِ، هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا؟ فَإِنِّي وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي رَبِّي حَقًّا» فَقَالَ أَصْحَابُهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تُكَلِّمُ أَقْوَامًا مَوْتَى؟ فَقَالَ: «لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّ مَا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقٌّ»

المستدرك على الصحيحين للحاكم

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم امر وکړ چي (د قريشو د جنګياليو مړي) په کندي کي واچوي، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د کندي خوا ته ودرېدو او وئې فرمايل: اې په کندي کي پرتو! آيا هغه څه مو رښتيني وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه، ما خو په يقين سره هغه څه رښتيني وموندل چي زما رب ئې وعده راسره کړې وه، يارانو ئې

وويل: آيا له مړو سره خبري كوې؟ نو وئې فرمايل: يقيناً چي دوى اوس پوه شوي چي هغه څه حق دي چي ستاسو رب ئې وعده درسره كړې.

لكه چي گورئ په دې روايت كي دا نه دي ويل شوي چي مړي زما خبري اوري، عائشه رضي الله عنها د هغه چا وينا په كلكه ردوي چي وايي مړي خبري اوري، دا وينا د قرآن خلاف بولي. د بخاري بل روايت هم وايي:

684 . عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: إِنَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "إِنَّهُمْ لَيَعْلَمُونَ الآنَ أَنَّ مَا كُنْتُ أَقُولُ حَقٌّ، وَقَدْ قَالَ الله تَعَالَى: [إِنَّكَ لا تُسْمِعُ الْمَوْتَى]". (بخاري:1371)

684- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي فرمايلي چي (دوى يعني په بدر كي وژل شوي مشركين اوس پدې پوهېږي چي څه مي ورته ويل هغه حق وو). الله تعالى فرمايي: (انک لا تسمع الموتى: يقيناً چي ته مړو ته څه نشې اورولى).

تكرار: 3979، 3981

توپير: په يوه كي إِنَّهُمْ لَيَعْلَمُونَ الآنَ أَنَّ مَا كُنْتُ أَقُولُ حَقٌّ، په بل كي إِنَّهُمُ الآنَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّ مَا كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ حَقٌّ، په بل كي إِنَّهُمُ الآنَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّ الَّذِى كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ هُوَ الْحَقُّ، په يوه كي وَقَدْ قَالَ الله تَعَالَى: [إِنَّكَ لا تُسْمِعُ الْمَوْتَى]، په بل كي ثُمَّ قَرَأَتْ (إِنَّكَ لاَ تُسْمِعُ الْمَوْتَى) (وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِى الْقُبُورِ) راغلي.

لكه چي گورئ عائشې رضي الله عنها د قرآن پر دوو آيتونو استدلال وكړ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ته نه مړي ته خبره اورولى شې او نه

هغه چا ته چي په قبرونو کي دي.

خو بخاري دا نه دي ويلي چي په دغو متضادو رواياتو کي کوم يو صحيح او د منلو وړ دئ، ابن عمر رضي الله عنهما ته منسوب روايت که عائشې رضي الله عنها ته منسوب روايت؟ د شرك په مرض اخته متصوفين د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت استناد کوي، قبرونو ته درومي او له مړو غواړي چي د دوی حاجتونه تر سره کړي او يا ئې دعاء الله تعالی ته وړاندي کړي او پرې وئې مني. خو د ابن عمر رضي الله عنهما له روايت هم معلومېږي چي دا يو استثنائي کار وو، صحابه داسي روزل شوي وو چي پوهېدل مړي خبري نه اوري، نو ځکه ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه وکړه چي آيا له مړو سره خبري کوې؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم هم داسي ځواب نه دئ ورکړی چي هو مړي خبري اوري، بلکي فرمايلي ئې دي چي اوس دوی په حقيقت پوه شوي، ډېره عجيبه ده چي د دغو آيتونو او رواياتو سره سره څوك ګمان وکړي چي مړي خبري اوري!! مړ خو پرېږدئ حتی ژوندی کونړ هم څه نه اوري، ډېر ځله ويده هم څه نه اوري، په داسي حال کي چي روح ئې په بشپړه توګه ترې تللې نه وي، نو هغه مړی به څنګه څه اوري چي روح ئې يا عليين ته تللې يا سجين ته.

685- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِى يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِى عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِى بَكْرٍ رضي الله عنهما تَقُولُ قَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم خَطِيبًا فَذَكَرَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ الَّتِى يَفْتَتِنُ فِيهَا الْمَرْءُ، فَلَمَّا ذَكَرَ ذَلِكَ ضَجَّ

الْمُسْلِمُونَ ضَجَّةً. (بخاري:1373)
685- له اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبې ته پورته شو، په خطبه کي ئې د هغي فتنې يادونه وکړه چي انسان په قبر کي ورسره مخ کيږي، کله چي ئې دا فتنه ياده کړه، مسلمانانو په زوره چيغي کړې.
تکرار: 86، 184، 922، 1053، 1054، 1061، 1235، 2519، 2520، 7287
توپير: شرح ئې په ٧٦ روايت کي وګورئ.

٤٤- باب: د قبر له عذابه نجات غوښتل

686- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي عَوْنُ بْنُ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ- رضي الله عنهم- قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَقَدْ وَجَبَتِ الشَّمْسُ، فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ "يَهُودُ تُعَذَّبُ فِي قُبُورِهَا". (بخاري:1375)
686- له ابو ايوب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال کي راووت چي لمر لوېدلی وو، يو ږغ ئې واورېد نو وئې فرمايل: (دا يهودان دي چي په خپلو قبرونو کي تعذيب کيږي).
دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي په قرآن کي کوم شاهد ورته نه مومو، د قرآن په هيڅ آيت کي صراحتاً يا اشارتاً نه دي ويل شوي چي مړي چيغي وهي او چيغي ئې اورېدل کېدی شي، د قرآن د وينا له مخي د

مؤمنانو روح عليين ته او د كافرانو روح سجين ته درومي، دواړه خپله سزا او جزا هملته ګوري. د دې شرح په 688 روايت كي وګورئ.

687- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَدْعُو "اللهمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ". (بخاري:1377)

687- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به داسي دعاء كوله: (اې خدايه! د قبر له عذابه، د دوزخ له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د دجال له فتنې تا ته پناه درووړم).

٤٥- باب: مړي ته سهار او ماښام خپل هستوګنځی وربښودل کيږي

688- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ الله يَوْمَ الْقِيَامَةِ". (بخاري:1379)

688- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (له تاسو چي څوک مړ شي هستوګنځی ئې سهار او ماښام وربښودل کيږي، که جنتي وي د جنتيانو ځای او که دوزخي وي د

دوزخيانو ځای او ورته ويل کيږي: دا ستا ځای دئ، تر هغه چي الله تعالی دي د قيامت په ورځ راژوندی کړي).
تکرار: 3240، 6515
توپير: په يوه کي إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، په بل کي فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى تُبْعَثَ، په بل کي إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ غُدْوَةً وَعَشِيًّا، په بل کي إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَإِنَّهُ يُعْرَضُ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، په يوه کي فَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، په بل کي إِمَّا النَّارُ وَإِمَّا الْجَنَّةُ، په يوه کي فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ الله يَوْمَ الْقِيَامَةِ، په بل کي ◌َيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى تُبْعَثَ راغلي.

د روايت په الفاظو کي په دې اړه ستونزه تر سترګو کيږي چي د (حتى يبعثك الله) ارتباط له (هذا مقعدك) سره څنګه دئ، محققينو بېل بېل توجيهات کړي، يوازي په يوه صورت کي دا ستونزه حل کېدی شي چي (حتى) د (بعد ما) په معنی واخيستل شي.

په دې اړه هم د محققينو تر منځ اختلاف شته چي له سبا او ماښام مراد زموږ د شپې ورځي سبا او ماښام دئ، که بل څه، خپل هستوګنځی يو ځل ورښودل کيږي که مکرر، د مړی جسد ئې ګوري او که د ده روح؟، دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو:

- د برزخ عذاب حق دئ، هم د قرآن له وينا معلوميږي او هم ګڼ شمېر روايات دا خبره کوي.
- دا خبره يقيني ده چي احساس د روح کار دئ نه د جسد، که په جسد کي روح نه وي د درد او عذاب احساس نشي

کولی، حتی هغه مهال هم درد نه احساسوي چي د بدن د دردمني برخي رابطه له دماغ سره قطع شي، نه یوازي له روح پرته هیڅ څه نشي درك کولی بلکي ګورئ چي د عصبي مزو په بې حسه کېدو سره درد نه احساسوي، پښه ترې اره کېږي خو دی پرې نه پوهېږي، نس ئې څیري کېږي د درد احساس هم نه کوي، د عملیاتو په دوران کي نه پوهېږي چي جراح له ده سره څه کوي!!

- کله چي روح له کالبوته ووځي نو یا علیین ته وړل کېږي یا سجین ته، نو پوښتنه دا ده چي مړی د قبر راحت او عذاب څنګه احساسوي؟ آیا دا معامله د ده له روح سره کېږي که د ده له بدن سره که له دواړو سره؟ له دواړو سره خو یوازي په هغه صورت کي ممکنه ده چي د روح رابطه له بدن سره پاته وي، که د عصب د یوه مزي په قطع کېدو یا بې حسه کېدو سره زموږ روح د اړوند غړي درد او عذاب نشي احساسولی نو له ټول بدنه د روح د وتلو په صورت کي به عذاب څنګه درك کوي؟ اما روح له بدنه پرته هم درد او خوشحالي احساسوي، د انسان خوب ئې یوه بېلګه ده، په خوب کي د انسان روح لري لري سفرونه کوي، له ښکلو منظرو خوند اخلي او له بدو ځورېږي، هیبتناکي او وېرونکي منظرې ئې دومره وارخطا کړي چي زړه ئې په چاودېدو شي، او خوشحالوونکي منظرې ئې دومره ښاد کړي چي په جامو کي نه ځائېږي او زړه ئې غواړي والوزي، خو بدن ئې په خپلي خوا کي او د بړستني څنګ ته ډېر جریانات نه احساسوي. د دې معنی دا ده چي روح له بدن نه لري او بېل هم احساس لري خو بدن له روح پرته له

احساس محروم شي.

- د انسان بدن د روح لپاره فقط يو کالبوت دئ، له مرگ وروسته بدن وروست شي، په خاورو کي تجزيه شي، د بدن برخي ئې د نورو ژوو، حيواناتو او نباتاتو خوراك شي، خو روح ئې سالمه او روغه پاته وي، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي چي د شهيد روح ته د شنو مرغانو په څير کالبوت ورکړی شي، جنت ته درومي او مېوې ئې خوري، له دې معلومېږي چي د مؤمنانو او کافرانو روح ته هم داسي مناسب کالبوت ورکول کېږي چي د قبر راحت او عذاب احساس کړي.

قرآن په دغو آيتونو کي موږ ته دا حقيقت داسي انځور کړی:

أَوۡ كَٱلَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرۡيَةٖ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحۡيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٖ ثُمَّ بَعَثَهُۥۖ قَالَ كَمۡ لَبِثۡتَۖ قَالَ لَبِثۡتُ يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۖ قَالَ بَل لَّبِثۡتَ مِاْئَةَ عَامٖ فَٱنظُرۡ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمۡ يَتَسَنَّهۡۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجۡعَلَكَ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡعِظَامِ كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ 259 البقره: 259

او يا لکه هغه چي په يوه داسي کلي تېر شو چي په خپلو بامونو راپرېوتی وو، وئې ويل: الله به دا له خپلي داسي مړيني وروسته څنګه بيارازوندي کوي، نو الله هغه په سل کلن مرگ مړ کړ، بيا ئې بېرته راژوندی کړ، ورته وئې ويل: څومره وخندېدې، وئې ويل: يوه ورځ ځندېدلی يم او يا خو د يوې ورځي يوه برخه، وئې فرمايل: داسي نه ده، بلکي سل کاله ځندېدلی يې، نو خوراك او څښاك ته دي وګوره چي نه

دي ګنده شوي او خره ته دي وګوره او دا د دې لپاره چي تا د خلکو لپاره یوه نښه وګرځوو او هډوکو ته ځیر شه چي څنګه ئې خوځوو او بیا ئې په غوښي پټوو، نو کله چي ورته څرګنده شوه، وئې ویل: (اوس) ښه پوهېږم چي الله په هر څه ښه قادر دئ.

دا د الله کوم مؤمن بنده وو، (که څه هم په یوه روایت کي عزیر ګڼل شوی، هغه چي یهودانو د الله زوی ګڼلو) په سفر روان وو، د خوراك او څښاك لپاره څه توښه ورسره وه، په یوه وران او نسکور شوي زاړه کلي تېرېدو، هرې خوا ته ئې د کلیوالو وراسته هډوکي تر سترګو شول، ناڅاپه ئې دا خبره په زړه کي راتېره شوه چي الله تعالی به دا وراسته هډوکي څنګه بیا راژوندي کوي، الله تعالی غوښتل هم د ده دا پوښتنه ځواب کړي او هم د ده په واسطه هغه خلك قانع کړي چي بیاژوندون ئې نه منلو، د همدې لپاره ئې هغه په سل کلن مرګ محکوم کړ، سل کاله وروسته ئې بیا راژوندی کړ، پوښتنه ئې ترې وکړه، دلته څومره وځنډېدې؟ ځواب ئې ورکړ: نه پوهېږم، ښایي یوه ورځ یا خو د یوې ورځي یوه برخه، الله تعالی ورته وفرمایل: نه؛ دلته سل کاله ځنډېدلی یې، د سورلۍ ورستو هډوکو ته وګوره، خو خوراك او څښاك ته دي سترګي واړوه چي روغ رمټ پاته دي، وګوره چي څنګه دا وراسته هډوکي خوځوم، غوښه ورباندي راټوکوم او بیا ئې راژوندی کوم، دغه مؤمن بنده د دې صحنې په لیدو سره د خپلي پوښتني ځواب ترلاسه کړ او وئې ویل: اوس ښه پوه شوم چي الله په هر څه قادر دئ. قرآن په دې قصې کي موږ ته لارښوونه کوي چي د برزخ

ژوند دې ته ورته وي، دا کس سل کاله په دې حالت کي تېر کړل خو نه په يخنۍ پوه شو، نه په تودوخي، نه په شپې، نه په ورځي، نه لوږي او تندي، سل کاله ئې داسي ګڼلي لکه يوه ورځ يا نيمايي ئې. د قيامت په ورځ به کافران هم د دې پوښتني په ځواب کي چي څومره په قبرونو کي پاته شوئ، وايي: يوه ورځ يا د يوې ورځي يوه برخه، ورته وبه ويل شي: د قيامت تر ورځي هلته وئ، او دا ده د قيامت همغه ورځ راورسېده چي تاسو انکار ترې کاوو او لري مو ګڼله!!

قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ١١٢ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ١١٣ قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١٤ المؤمنون: 112-114

وئې ويل: په زمکي کي څو کلونه پاته شوئ؟ وئې ويل: يوه ورځ يا د يوې ورځي يوه برخه پاته شوو، نو شمېرونکي وپوښته، وئې ويل: يوازي لږ (لنډه موده) پاته شوي يئ؛ کاش تاسو پوهېدی.

په دې قصې کي د بياژوندون او برزخ په اړه څو بنيادي او اساسي خبرو ته ځواب ويل شوی دئ:

- يوه له هغو خبرو چي د بيا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سيوري لاندي نيسي او باور کول ورته ګرانوي، د اوږدې زماني تېرېدل دي، که په يوه مړي يوه دوه ورځي تېري شوې وي بياژوندی کېدل ئې ورته دومره ګران نه برېښي لکه د هغه چي اوږده موده ورباندي تېره شوې وي، د د غي قصې په ترڅ کي ويل شوي چي زمانه نسبي امر دئ، له يوه نه تر بل او له يوه حالت تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي،

هغه زمانه چي يوه ته په يوه حالت کي بې انتهاء برېښي بل ته د څو ثانيو او دقيقو وي، کومه فاصله چي مېږي ته بې انتهاء برېښي د يوې مرغۍ لپاره د څو ثانيو وي، که په يوه اطاق کي له يوه ويده او ويښ نه چي ټوله شپه ئې په خوب او ويښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ويښ به درته وايي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته راباندې تېره شوه او ويده به درته وايي زه نه يم پوهېدلی چي شپه څنګه تېره شوه او څومره خوب مي کړی، دې مؤمن بنده ته عملاً وښودی شو چي سل کاله ورته يوه ورځ او حتی تر هغه هم کم، د يوې ورځي څو ګنټې معلوم شول، قرآن همدغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کي هم اشاره کړې او فرمايي: د الله لپاره يوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو يئ چي کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيورى پروت دئ چي په مړو باندي د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنګه بيا راژوندي کېږي. د نسبيت په اړه د قرآن دغه خبره دولس پېړۍ وروسته، د المان يوه ساينس پوه انشټين، د ساينس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزيك د پلار نوم وګاټو.

دوهم څه چي په دې اړه د انسان ذهن ته راځي هغه دا دئ چي په مرګ سره د انسان ټول بدن په خاورو بدل شي، د اوږدې زمانې په تېرېدو سره ئې له غوښي او هډوکو هيڅ اثر پاته نشي، دا به څنګه بېرته راژوندی کېږي؟ په دې قصې کي هغه مؤمن بنده ته وښودی شو چي د انسان وجود دوه برخي لري، جسد او روح، په مرګ سره ئې يوه برخه له منځه ځي خو بله برخه ئې روغه رمټه پاته کېږي، دا

داسي وګڼه لکه (ستا سورلۍ) او (خوراك څښاك)؛ يو ختم شوی وو خو بل روغ رمټ پاته وو، ستا جسد د روح لپاره داسي دئ لکه ستا دغه سورلۍ او ستا روح داسي لکه دا خوراك څښاك او ستا د قوت او ځواك منبع، په مرګ سره ستا هر څه له منځه نه ځي، يوه برخه روغه رمټه پاته کېږي، روح له منځه نه ځي، يوازي د روح سورلۍ خپل حالت بدل کړي، غوښه او هډوکي ئې په خاوره کي تجزيه شي، دا بياژوندون داسي وګڼئ لکه چي په مني کي ټول نباتات ومري، وراسته او په خاوره بدل شي، په خاوره کي موږ ته د دوی هيڅ اثر په نظر نه راځي، ټول ژمی ورباندي تېر شي، خو په پسرلي کي په يوه باران سره له زمکي سر رااوچت کړي.

٤٦- باب: د مسلمانانو د اولادونو په اړه

689- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّهُ سَمِعَ الْبَرَاءَ رضي الله عنه قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِنَّ لَهُ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ". (بخاري:1382)

689- له براء رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي ابراهيم (د پيغمبر عليه السلام زوی) وفات شو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (په جنت کي د ده لپاره تی ورکونکې ده).

تکرار: 3255، 6195

توپير: درې واړه سره ورته دي، په دريو طبقو کي ئې راويان يو يو دي. له دې روايت هم معلومېږي چي تی

ورکونکې په جنت کي تی ورکوي نه په قبر کي.

٤٧- باب: د مشرکینو د اولادونو په اړه

690- حَدَّثَنَا حِبَّانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ- رضي الله عنهم- قَالَ سُئِلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَنْ أَوْلاَدِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ "الله إِذْ خَلَقَهُمْ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ". (بخاري:1383)

690- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم د مشرکینو د اولادونو په اړه پوښتنه وشوه، نو وئې فرمایل: (کله چي الله تعالى هغوی پیدا کول په هغه څه ښه پوه وو چي دوی به ئې کوونکي وي).

تکرار: **6597**

توپیر: په یوه کي الله إِذْ خَلَقَهُمْ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ، په بل کي الله أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ راغلي.

دا روایت د سند له مخي داسي دئ چي په دریو طبقو کي یو یو راوي لري، د متن له پلوه له هغو روایاتو سره توپیر لري چي په همدې اړه راغلي، له ابوهریره رضي الله عنه هم دې ته ورته روایت راغلی، ځیني روایات وایي چي د مشرکینو اولاد به له دوی سره په دوزخ کي وي، ځیني وایي چي الله تعالى ښه پوهیږي چي دوی به د ژوندي پاته کېدو په صورت کي څه کول. ځیني روایات داسي دي چي وایي دوی به په جنت کي وي، هغه محققین چي دغو روایاتو ته ترجیح ورکوي، د پورتني روایت په اړه وایي چي له (الله أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ) دا نه معلومیږي چي دوی

به دوزخ ته ځي. د مقابل لوري په ځواب کي څو دلائل وړاندي کوي:

د دې مطلب لپاره چي د مشرکينو اولاد به دوزخ ته ځي نه يوازي په قرآن کي کوم شاهد نشو موندلی بلکي د قرآن له ډېرو صريحو لارښوونو سره تعارض لري. په هيڅ آيت کي نه دي راغلي چي د مشرکانو کمعمره اولاد به دوزخ ته ځي. قرآن وايي چي هر چا ته به د هغه د عمل له مخي بدله ورکول کېږي، ماشوم که ئې والدين مؤمن وي يا کافر داسي عمل ئې نه وي کړی چي د عذاب مستحق وګڼل شي، نو ولي به دوزخ ته ځي؟!

قرآن فرمايي چي د هر بني آدم (که کافر وي که مسلمان) اولاد له داسي فطري جوړښت سره پيدا کېږي چي پر الله تعالی ايمان ئې په خټه کي ايښودل شوی وي، له دې پلوه د مؤمن او کافر اولاد سره ورته دي، ولي به د مؤمن اولاد جنت ته درومي او د مشرك اولاد دوزخ ته؟!

رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي چي هر ماشوم له روغ فطرت سره دنيا ته راځي، وروسته ئې والدين بې لاري کړي، د روغ فطرت خاوند به ولي دوزخ ته ځي؟!

همداراز په بل روايت کي راغلي:

عَنْ حَسْنَاءَ بِنْتِ مُعَاوِيَةَ مِنْ بَنِي صُرَيْمٍ قَالَتْ حَدَّثنا عَمِّي قَالَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ فِي الْجَنَّةِ قَالَ النَّبِيُّ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُودُ وَالْوَئِيدُ. رواه احمد إسناده حسن

حسناء بنت معاويه د بني صريم له قبيلې؛ له خپل تره روايت کوي چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته مي

وويل: يا رسول الله! څوك به په جنت كي وي؟ وئې فرمايل: نبي به په جنت كي وي، شهيد به په جنت كي وي، ماشوم به په جنت كي وي، ژوندئ ښخه شوې ماشومه به په جنت كي وي.

بل روايت وايي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَأَلْتُ رَبِّي اللَّاهِينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ الْبَشَرِ أَلَّا يُعَذِّبَهُمْ، فَأَعْطَانِيهِمْ». رواه أبو يعلى إسناده حسن

له انس رضي الله عنه مرفوع حديث دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: له خپل رب مي وغوښتل چي د بشر ماشومان تعذيب نه كړي نو دا ئې راپه برخه كړل (زما دا دعاء ئې قبوله كړه).

د يوه بل روايت په ترڅ كي داسي راغلي:

... فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ قَتْلِ الْأَطْفَالِ، ثُمَّ قَالَ: «اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ» معجم الاوسط للطبراني

... نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماشومانو له وژلو ممانعت وكړ او وئې فرمايل: الله تعالى په هغه څه ښه پوهيږي چي دوى به ئې كوي.

د دې معنى دا ده چي د مشركينو ماشومان له دې امله مه وژنئ چي گواكي دوى به د خپلو پلرونو په څېر مشرك ستر شي، الله تعالى ښه پوهيږي چي دوى به څه كوي، له دې معلوميږي چي د دې وينا موخه د دوى نه وژل دي نه دا چي په دوزخ كي د دوى د پرېوتو وجه او توجيه وي.

دغو خبرو ته په پام سره په قاطع توگه ويلى شو چي

ئول ماشومان به جنت ته ئي.

باب

691- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ كَانَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا صَلَّى صَلاَةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ "مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا". قَالَ فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا، فَيَقُولُ مَا شَاءَ اللهُ، فَسَأَلَنَا يَوْمًا، فَقَالَ "هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رُؤْيَا". قُلْنَا لاَ. قَالَ "لَكِنِّى رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِى فَأَخَذَا بِيَدِى، فَأَخْرَجَانِى إِلَى الأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ، فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ، وَرَجُلٌ قَائِمٌ بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ- قَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا عَنْ مُوسَى إِنَّهُ- يُدْخِلُ ذَلِكَ الْكَلُّوبَ فِى شِدْقِهِ، حَتَّى يَبْلُغَ قَفَاهُ، ثُمَّ يَفْعَلُ بِشِدْقِهِ الآخَرِ مِثْلَ ذَلِكَ، وَيَلْتَئِمُ شِدْقُهُ هَذَا، فَيَعُودُ فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ. قُلْتُ مَا هَذَا قَالاَ انْطَلِقْ. فَانْطَلَقْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ عَلَى قَفَاهُ، وَرَجُلٌ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِهِ بِفِهْرٍ أَوْ صَخْرَةٍ، فَيَشْدَخُ بِهِ رَأْسَهُ، فَإِذَا ضَرَبَهُ تَدَهْدَهَ الْحَجَرُ، فَانْطَلَقَ إِلَيْهِ لِيَأْخُذَهُ، فَلاَ يَرْجِعُ إِلَى هَذَا حَتَّى يَلْتَئِمَ رَأْسُهُ، وَعَادَ رَأْسُهُ كَمَا هُوَ، فَعَادَ إِلَيْهِ فَضَرَبَهُ، قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالاَ انْطَلِقْ. فَانْطَلَقْنَا إِلَى ثَقْبٍ مِثْلِ التَّنُّورِ، أَعْلاَهُ ضَيِّقٌ وَأَسْفَلُهُ وَاسِعٌ، يَتَوَقَّدُ تَحْتَهُ نَارًا، فَإِذَا اقْتَرَبَ ارْتَفَعُوا حَتَّى كَادَ أَنْ يَخْرُجُوا، فَإِذَا خَمَدَتْ رَجَعُوا فِيهَا، وَفِيهَا رِجَالٌ وَنِسَاءٌ عُرَاةٌ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالاَ انْطَلِقْ. فَانْطَلَقْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى نَهَرٍ مِنْ دَمٍ، فِيهِ رَجُلٌ قَائِمٌ عَلَى وَسَطِ النَّهَرِ رَجُلٌ بَيْنَ يَدَيْهِ حِجَارَةٌ، فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ الَّذِى فِى النَّهَرِ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ رَمَى الرَّجُلُ بِحَجَرٍ فِى فِيهِ، فَرَدَّهُ حَيْثُ كَانَ، فَجَعَلَ كُلَّمَا

جَاءَ لِيَخْرُجَ رَمَى فِي فِيهِ بِحَجَرٍ، فَيَرْجِعُ كَمَا كَانَ. فَقُلْتُ مَا هَذَا قَالاَ انْطَلِقْ. فَانْطَلَقْنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ، فِيهَا شَجَرَةٌ عَظِيمَةٌ، وَفِي أَصْلِهَا شَيْخٌ وَصِبْيَانٌ، وَإِذَا رَجُلٌ قَرِيبٌ مِنَ الشَّجَرَةِ بَيْنَ يَدَيْهِ نَارٌ يُوقِدُهَا، فَصَعِدَا بِي فِي الشَّجَرَةِ، وَأَدْخَلاَنِي دَارًا لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا، فِيهَا رِجَالٌ شُيُوخٌ وَشَبَابٌ، وَنِسَاءٌ وَصِبْيَانٌ، ثُمَّ أَخْرَجَانِي مِنْهَا فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلاَنِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ، فِيهَا شُيُوخٌ وَشَبَابٌ. قُلْتُ طَوَّفْتُمَانِي اللَّيْلَةَ، فَأَخْبِرَانِي عَمَّا رَأَيْتُ. قَالاَ نَعَمْ، أَمَّا الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ يُحَدِّثُ بِالْكَذْبَةِ، فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الآفَاقَ، فَيُصْنَعُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَالَّذِي رَأَيْتَهُ يُشْدَخُ رَأْسُهُ فَرَجُلٌ عَلَّمَهُ اللهُ الْقُرْآنَ، فَنَامَ عَنْهُ بِاللَّيْلِ، وَلَمْ يَعْمَلْ فِيهِ بِالنَّهَارِ، يُفْعَلُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي الثَّقْبِ فَهُمُ الزُّنَاةُ. وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي النَّهَرِ آكِلُو الرِّبَا. وَالشَّيْخُ فِي أَصْلِ الشَّجَرَةِ إِبْرَاهِيمُ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهُ فَأَوْلاَدُ النَّاسِ، وَالَّذِي يُوقِدُ النَّارَ مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ. وَالدَّارُ الأُولَى الَّتِي دَخَلْتَ دَارُ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ، وَأَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ، وَأَنَا جِبْرِيلُ، وَهَذَا مِيكَائِيلُ، فَارْفَعْ رَأْسَكَ، فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا فَوْقِي مِثْلُ السَّحَابِ. قَالاَ ذَاكَ مَنْزِلُكَ. قُلْتُ دَعَانِي أَدْخُلْ مَنْزِلِي. قَالاَ إِنَّهُ بَقِيَ لَكَ عُمْرٌ لَمْ تَسْتَكْمِلْهُ، فَلَوِ اسْتَكْمَلْتَ أَتَيْتَ مَنْزِلَكَ " (بخاري:1386)

691- له سمره بن جندب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي به لمونځ وکړ نو خپل مخ به ئې زموږ لوري ته راوګرځاوو او وبه ئې فرمايل: (له تاسو چا نن شپه خوب ليدلی دئ)؟. راوي وايي: که چا به خوب ليدلی وو نو ورته تېر به ئې کړ او

رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه څه وفرمایل چي الله تعالی به غوښتي ول، یوه ورځ ئې وپوښتلو او وئې فرمایل: (آیا له تاسو چا کوم خوب لیدلی دئ؟)، موږ وویل: نه؛ وئې فرمایل: (خو ما نن شپه دوه کسان په خوب کي ولیدل چي راته راغلل، له لاس ئې ونیولم او مقدسي زمکي ته ئې بوتلم، هلته مي ولیدل چي یو سړی ناست دئ او بل سړی ولاړ دئ او په لاس کي ئې یو اوسپنین چنګاك دئ چي د (ناست کس) په وښکي کي ئې ننباسي او شا ته ئې ترې وځي، (په بل روایت کي دا مطلب په بلي بڼي کي راغلی)، بیا ئې له بل وښکي سره همداسي کوي، بل ئې سره ورشي (روغ شي) بیا ورته راستون شي او همغسي ورسره وکړي، ما وویل: دا څه دي؟ هغو دوو کسانو راته وویل: راځه، سره روان شوو، تر هغه چي داسي یوه سړي ته ورسېدو چي پر شا ملاست دئ او بل تن ئې سر ته ولاړ دئ او لویه ګرده تیږه ورسره ده او دی پر سر سر وهي، چي ګوزار پرې وکړي تیږه لري وغورځي (سر ئې ورمات مات کړي)، سړی ورشي چي تیږه بېرته راواخلي، لا بېرته نه وي ورته رارسېدلی چي سر ئې جوړ شي او د مخکي په څېر شي، بیا ورته راشي او په تیږه ئې ووهي، ما وویل: دا څوک دئ؟ هغو دوو کسانو (چي زه ئې بوولی وم) راته وویل: راځه، سره روان شوو، تر هغه چي د تنور په څېر یوې سوړي ته ورسېدو، خوله ئې تنګه او لاندي پراخه وه، اور په کي بل وو، (دلته یوه برخه پاته ده چي په بل روایت کي راغلې ده)، کله چي به د اور لمبه راپورته شوه دوی به دومره راپورته شول چي نژدې وه ترې ووځي، خو چي لمبه به کښېناسته دوی به هم بېرته لاندي ولوېدل، او په

همدې سوړي کي لوڅ لغړ نارينه او ښځي وې، ما وويل: دا څوك دي؟ هغوی راته وويل: راځه، سره روان شوو، تر هغه چي د وينو يوه نهر ته ورسېدو چي يو سړی پکي ولاړ دئ (او د بل روايت له مخي د نهر په څنډه کي يو بل سړی ولاړ دئ چي تيږې ورسره دي)، هغه سړی چي د نهر په منځ کي ولاړ دئ را روان شي او کله چي وغواړي راووزي نو هغه بل ئې په خوله په تيږه وولي او بېرته ئې خپل ځای ته وروغورځوي، هر وار چي د راوتلو هڅه وکړي پر خوله ئې په تيږه وولي او بېرته خپل ځای ته ورولوېږي، ما وويل: دا څه دي؟ هغوی راته وويل: راځه، روان شوو، تر هغه چي يوه شنه باغ ته ورسېدو چي يوه لويه ونه پکي ولاړه ده، لاندي ئې يو بوډا او څو ماشومان دي او هلته ونې ته نژدې يو بل سړی دئ چي په لاس کي ئې اور دئ چي بلوی ئې، هغو دوو کسانو زه ونې ته وخېژولم (په بل روايت کي ويل شوي چي بل باغ ته ننوتو)، او هلته ئې يوه داسي کور ته داخل کړم چي تر هغه ښکلی کور مي هيڅکله نه وو ليدلی، په هغه کي خلك وو، سپين ږيري، ځوانان، ښځي او ماشومان، بيا ئې له هغه کوره راوايستلم او په ونه کي ئې نور هم پورته وخېژولم (په بل روايت کي ويل شوي چي بل باغ ته ئې بوتلم)، او هلته ئې بل کور ته ننه ايستم چي له لومړني کور نه ډېر ښکلی او غوره وو، په هغه کي سپين ږيري او ځوانان وو. ما هغه دوو کسانو ته وويل: نن شپه مو زه دلته او هلته بوتلم نو څه چي مي وليدل هغه راته بيان کړئ. هغوی راته وويل: سمه ده، هغه شخص چي ودې ليد وښکي ئې ورڅيرل کېدل هغه دروغجن وو، داسي دروغ به ئې ويل چي خوله په خوله به ترې نقلېدل او تر

لري لري پوري به خوريدل، او ده ته به تر قيامته همدا سزا وركول كيږي. او هغه چي ودي ليد سر ئې ورماتاوو او ټوټې ټوټې كېدو هغه داسي يو سړی وو چي الله تعالی د قرآن علم وركړی وو، خو هغه به د شپې هم غافل ترې ويده كېدو او د ورځي به ئې هم عمل نه پرې كاوو، ده ته به هم تر قيامته همدا سزا وركول كيږي. او هغه كسان چي د اور په سوړه كي دي وليدل؛ هغوی زنا كاران وو، او هغه د وينو په نهر كي ولاړ سړي چي دي وليدل هغوی سودخواره وو او تر وني لاندي هغه سپين ږيری ابراهيم (عليه السلام) وو او هغه ماشومان د خلكو زامن وو او هغه سړی چي اور ئې بلاوو هغه د دوزخ ساتونكی وو او لومړني كور ته چي ننوتې هغه د عامو مسلمانانو كور وو او دا كور (دوهم) دا د شهيدانو كور دئ او زه جبريل او دا ملگری مي ميكائيل (عليهما السلام) دئ او اوس دي سر پورته كړه، ما چي سر پورته كړ داسي څه مي وليدل لكه وريځ، دوی دواړو راته وويل: دا ستا هستوگنځی دئ، ما وويل: اجازه راكړئ خپل هستوگنځي ته ننوځم، هغوی راته وويل: تر اوسه لا ستا عمر پاته دئ، چي وخت دي پوره شي نو خپل منزل ته به راشې).

تكرار: 845، 1143، 2085، 2791، 3236، 3354، 4674، 6096، 7047

توپير: په يوه كي فَأَخَذَا بِيَدِی، فَأَخْرَجَانِی إِلَی الأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ، په بل كي وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِی، وَإِنَّهُمَا قَالاَ لِی انْطَلِقْ. وَإِنِّی انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا، په يوه كي قُلْتُ مَا هَذَا، په بل كي سُبْحَانَ الله مَا هَذَانِ، په يوه كي عَلَی رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ عَلَی قَفَاهُ، په بل كي عَلَی رَجُلٍ مُسْتَلْقٍ لِقَفَاهُ، په يوه كي يُدْخِلُ ذَلِكَ

الْكَلُّوبَ فِى شِدْقِهِ، حَتَّى يَبْلُغَ قَفَاهُ، يه بل كي وَإِذَا هُوَ يَأْتِى أَحَدَ شِقَّىْ وَجْهِهِ فَيُشَرْشِرُ شِدْقَهُ إِلَى قَفَاهُ وَمَنْخِرَهُ إِلَى قَفَاهُ وَعَيْنَهُ إِلَى قَفَاهُ، يه يوه كي فَانْطَلَقْنَا إِلَى ثَقْبٍ مِثْلِ التَّنُّورِ، يه بل كي فَأَتَيْنَا عَلَى مِثْلِ التَّنُّورِ فَإِذَا فِيهِ لَغَطٌ وَأَصْوَاتٌ فَاطَّلَعْنَا فِيهِ فَإِذَا فِيهِ رِجَالٌ وَنِسَاءٌ عُرَاةٌ، وَإِذَا هُمْ يَأْتِيهِمْ لَهَبٌ مِنْ أَسْفَلَ مِنْهُمْ، فَإِذَا أَتَاهُمْ ذَلِكَ اللهبُ ضَوْضَوْا، يه يوه كي عَلَى نَهَرٍ مِنْ دَمٍ فِيهِ رَجُلٌ قَائِمٌ عَلَى وَسَطِ النَّهَرِ رَجُلٌ بَيْنَ يَدَيْهِ حِجَارَةٌ، يه بل كي أَحْمَرَ مِثْلِ الدَّمِ، وَإِذَا فِى النَّهَرِ رَجُلٌ سَابِحٌ يَسْبَحُ، وَإِذَا عَلَى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ حِجَارَةً كَثِيرَةً، وَإِذَا ذَلِكَ السَّابِحُ يَسْبَحُ مَا يَسْبَحُ، ثُمَّ يَأْتِى ذَلِكَ الَّذِى قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ الْحِجَارَةَ فَيَفْغَرُ لَهُ فَاهُ فَيُلْقِمُهُ حَجَرًا فَيَنْطَلِقُ يَسْبَحُ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَيْهِ، يه يوه كي حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ، فِيهَا شَجَرَةٌ عَظِيمَةٌ، وَفِى أَصْلِهَا شَيْخٌ وَصِبْيَانٌ، يه بل كي فَأَتَيْنَا عَلَى رَوْضَةٍ مُعْتَمَّةٍ فِيهَا مِنْ كُلِّ نَوْرِ الرَّبِيعِ، وَإِذَا بَيْنَ ظَهْرَىِ الرَّوْضَةِ رَجُلٌ طَوِيلٌ لاَ أَكَادُ أَرَى رَأْسَهُ طُولاً فِى السَّمَاءِ، وَإِذَا حَوْلَ الرَّجُلِ مِنْ أَكْثَرِ وِلْدَانٍ رَأَيْتُهُمْ قَطُّ، يه يوه كي فَأَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ كَرِيهِ الْمَرْآةِ كَأَكْرَهِ مَا أَنْتَ رَاءٍ رَجُلاً مَرْآةً، وَإِذَا عِنْدَهُ نَارٌ يَحُشُّهَا وَيَسْعَى حَوْلَهَا، يه يوه كي فَانْطَلَقْنَا فَانْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ عَظِيمَةٍ لَمْ أَرَ رَوْضَةً قَطُّ أَعْظَمَ مِنْهَا وَلاَ أَحْسَنَ.- قَالَ- قَالاَ لِى ارْقَ فِيهَا. قَالَ فَارْتَقَيْنَا فِيهَا فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَدِينَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ وَلَبِنِ فِضَّةٍ، فَأَتَيْنَا بَابَ الْمَدِينَةِ فَاسْتَفْتَحْنَا فَفُتِحَ لَنَا، فَدَخَلْنَاهَا فَتَلَقَّانَا فِيهَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ، وَشَطْرٌ كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ- قَالَ- قَالاَ لَهُمُ اذْهَبُوا فَقَعُوا فِى ذَلِكَ النَّهَرِ. قَالَ وَإِذَا نَهَرٌ مُعْتَرِضٌ يَجْرِى كَأَنَّ مَاءَهُ الْمَحْضُ فِى الْبَيَاضِ، فَذَهَبُوا فَوَقَعُوا فِيهِ، ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ، فَصَارُوا فِى أَحْسَنِ صُورَةٍ- قَالَ- قَالاَ لِى هَذِهِ

جَنَّةُ عَدْنٍ، وَهَذَاكَ مَنْزِلُكَ. قَالَ فَسَمَا بَصَرِى صُعُدًا، فَإِذَا قَصْرٌ مِثْلُ الرَّبَابَةِ الْبَيْضَاءِ- قَالَ- قَالاَ هَذَاكَ مَنْزِلُكَ. قَالَ قُلْتُ لَهُمَا بَارَكَ اللهُ فِيكُمَا، ذَرَانِى فَأَدْخُلَهُ. قَالاَ أَمَّا الآنَ فَلاَ وَأَنْتَ دَاخِلُهُ. قَالَ قُلْتُ لَهُمَا فَإِنِّى قَدْ رَأَيْتُ مُنْذُ اللَّيْلَةِ عَجَبًا، فَمَا هَذَا الَّذِى رَأَيْتُ قَالَ قَالاَ لِى أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ وَأَمَّا الرَّجُلُ الطَّوِيلُ الَّذِى فِى الرَّوْضَةِ فَإِنَّهُ إِبْرَاهِيمُ صلى الله عليه و سلم وَأَمَّا الْوِلْدَانُ الَّذِينَ حَوْلَهُ فَكُلُّ مَوْلُودٍ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ". قَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْمُسْلِمِينَ يَا رَسُولَ اللهِ وَأَوْلاَدُ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "وَأَوْلاَدُ الْمُشْرِكِينَ. وَأَمَّا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَانُوا شَطْرٌ مِنْهُمْ حَسَنًا وَشَطَرٌ مِنْهُمْ قَبِيحًا، فَإِنَّهُمْ قَوْمٌ خَلَطُوا عَمَلاً صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا، تَجَاوَزَ اللهُ عَنْهُمْ راغلي.

لکه چي ګورئ د دې روايت په متن کي هم د ترکيب او الفاظو له پلوه ډېري ستونزي شته او هم له نورو رواياتو سره جدي تعارض لري، دا ستونزي هغه مهال ښې جوتي کېږي چي دا روايت د بخاري له 7047 روايت سره مقايسه کړئ، هغه له هره پلوه تر دې جامع او دقيق دئ، ځيني ستونزي ئې دا دي: د بخاري پورتنی روايت وايي چي فرشتو رسول الله صلى الله عليه و سلم وني ته خېژولی، او په وني کي ئې باغونه او بنګلې ليدلې دي، خو 7047 روايت دا خبره نه کوي او وايي چي د ابراهيم عليه السلام له مېشت ځای بڼ نه نورو ته يو په بل پسي تللی، په نهر کي د يوه کس په ځای د دوو خبره کوي چي يو ئې د سيند منځ کي او بل ئې د سيند څنډي کي ليدلی، د ابراهيم عليه السلام د عظمت په اړه هم په دې روايت کي واضح وينا مومو خو، په بل کي نشته، د دروغجن د خولې څيرلو په اړه هم د دغه روايت وينا د بل په پرتله کمزورې برېښي، کلوب

(چنګاك) په خوله کي ننايستل او شا ته ترې وتل رکاکت لري خو په چنګاك سره وښکي دومره کشول چي تر څټ ورسيږي صحيح وينا ده، او دې ته ورته نور تعارضات، دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چي د بخاري تر بحث لاندي روايت ناقص دئ، خو له دې رواياتو څو اساسي مطالب تر لاسه کيږي:

رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل خوب کي د دروغجنو، زناکارانو، سودخورو او بې عمله عالمانو بدي پايلي ليدلې دي چي د قيامت تر ورځي به په سخت عذاب اخته وي. ابراهيم عليه السلام ئې په جنت کي داسي ليدلی چي د عظمت سر ئې دومره لوړ وو چي سترګي نه وررسيدلې، د هغه خوا کي ئې د خلکو ماشومان ليدلي، د مؤمنانانو او مشرکانو واړه ماشومان چي ښيي دوی به ټول جنت ته درومي، دوه جنتونه ئې نور ليدلي چي، په يوه کي ئې عام مؤمنان او په بل کي ئې انبياء او شهداء ليدلي، خپل هستوګنځی ئې دومره لوړ ليدلی لکه د زمکي له سر نه چي وريځي ترسترګو کيږي، غوښتل ئې خپل هستوګنځي ته داخل شي خو ورته ويل شوي لا ئې وخت نه دئ رارسيدلی، داسي کسان ئې ليدلي چي ښه او بد عملونه ئې ګډ وډ کړي وو خو الله تعالی بخښلي او له سزا وروسته د جنت مستحق ګڼل شوي.

بخاري دا روايت په دې ارتباط دلته راوړی چي وښيي ټول ماشومان به جنت ته درومي. خو تر دې مخکي روايت ئې داسي دئ چي ګواکي د مشرکينو ماشومان د دوی په څېر دي او دوزخ ته به درومي!! دا ئې نه دي ويلي چي له دغو

دواړو رواياتو كوم يو صحيح او ارجح دئ.

٤٨- باب: ناڅاپي مرګ

692- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها. أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِنَّ أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا، وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ "نَعَمْ". (بخاري:1388)

692- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: يوه سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: مور مي په ناڅاپي توګه مړه شوه، او زه ګمان كوم كه د خبرو امكان ئې پيدا كړی وی نو څه صدقه او خيرات به ئې كړی وو، نو كه زه د هغې په ځای صدقه وركړم هغې ته ئې اجر وركول كيږي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (هو).

تكرار: **2760**

توپير: په يوه كي وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، په بل كي وَأُرَاهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، په يوه كي أَفَأَتَصَدَّقُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ، تَصَدَّقْ عَنْهَا، په بل كي فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ راغلي.

٤٩- باب: د رسول اكرم صلى الله عليه و سلم د قبر په اړه

693- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ هِشَامٍ وَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا أَبُو مَرْوَانَ يَحْيَى بْنُ أَبِي زَكَرِيَّاءَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لَيَتَعَذَّرُ فِي مَرَضِهِ "أَيْنَ أَنَا الْيَوْمَ أَيْنَ أَنَا غَدًا "اسْتِبْطَاءً لِيَوْمِ عَائِشَةَ، فَلَمَّا كَانَ

يَوْمِى قَبَضَهُ الله بَيْنَ سَحْرِى وَنَحْرِى، وَدُفِنَ فِى بَيْتِى. (بخاري:1389)

693- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خپل ژوند د وروستي مرض په مهال په اعتذار سره فرمايل: (نن به چېري وم، سبا به چېري وم (د كومي مېرمني په كور كي) په دې موخه چي پوه شي كله به د عائشې رضي الله عنهاپه كور كي وي، او كله چي زما د وار ورځ وه نو الله تعالى ئې روح په داسي حال كي قبض كړه چي زما د مرۍ او سږي تر منځ ئې (سر ايښى) وو، او زما په كور كي دفن شو.

تكرار: 890، 3100، 3774، 4438، 4446، 4449، 4450، 4451، 5217، 6510

توپير: په يوه كي أَيْنَ أَنَا الْيَوْمَ أَيْنَ أَنَا غَدًا، اسْتِبْطَاءً لِيَوْمِ عَائِشَةَ، په بل كي أَيْنَ أَنَا غَدًا أَيْنَ أَنَا غَدًا. حِرْصًا عَلَى بَيْتِ عَائِشَةَ، په بل كي فِى مَرَضِهِ الَّذِى مَاتَ فِيهِ يَقُولَ "أَيْنَ أَنَا غَدًا أَيْنَ أَنَا غَدًا "يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ، فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ يَكُونُ حَيْثُ شَاءَ، فَكَانَ فِى بَيْتِ عَائِشَةَ حَتَّى مَاتَ عِنْدَهَا، په يوه كي تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِى بَيْتِى، وَفِى نَوْبَتِى، وَبَيْنَ سَحْرِى وَنَحْرِى، وَجَمَعَ الله بَيْنَ رِيقِى وَرِيقِهِ، په بل كي فَلَمَّا كَانَ يَوْمِى قَبَضَهُ الله بَيْنَ سَحْرِى وَنَحْرِى، وَدُفِنَ فِى بَيْتِى، په بل كي وَكَانَتْ تَقُولُ مَاتَ بَيْنَ حَاقِنَتِى وَذَاقِنَتِى، په بل كي وَإِنَّهُ لَبَيْنَ حَاقِنَتِى وَذَاقِنَتِى، په بل كي تُوُفِّيَ فِى بَيْتِى وَفِى يَوْمِى، وَبَيْنَ سَحْرِى وَنَحْرِى، وَأَنَّ الله جَمَعَ بَيْنَ رِيقِى وَرِيقِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ، په يوه كي فَأَخَذْتُ السِّوَاكَ فَقَصَمْتُهُ وَنَفَضْتُهُ وَطَيَّبْتُهُ، ثُمَّ دَفَعْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَاسْتَنَّ بِهِ، په بل كي دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمَنِ وَبِيَدِهِ السِّوَاكُ وَأَنَا مُسْنِدَةٌ رَسُولَ الله

صلى الله عليه و سلم فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، وَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ آخُذُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ، فَتَنَاوَلْتُهُ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ وَقُلْتُ أُلَيِّنُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ، فَلَيَّنْتُهُ، په يوه کي رَفَعَ يَدَهُ أَوْ إِصْبَعَهُ ثُمَّ قَالَ فِى الرَّفِيقِ الأَعْلَى، په بل کي فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِى الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ يَقُولُ "لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ". ثُمَّ نَصَبَ يَدَهُ فَجَعَلَ يَقُولُ "فِى الرَّفِيقِ الأَعْلَى". حَتَّى قُبِضَ وَمَالَتْ يَدُهُ راغلي.

694. حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ حَدَّثَنَا حُصَيْنُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الأَوْدِىِّ قَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه قَالَ يَا عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ، اذْهَبْ إِلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ رضي الله عنها فَقُلْ يَقْرَأُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَلَيْكِ السَّلاَمَ، ثُمَّ سَلْهَا أَنْ أُدْفَنَ مَعَ صَاحِبَىَّ. قَالَتْ كُنْتُ أُرِيدُهُ لِنَفْسِى، فَلأُوثِرَنَّهُ الْيَوْمَ عَلَى نَفْسِى. فَلَمَّا أَقْبَلَ قَالَ لَهُ مَا لَدَيْكَ قَالَ أَذِنَتْ لَكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَ مَا كَانَ شَىْءٌ أَهَمَّ إِلَىَّ مِنْ ذَلِكَ الْمَضْجَعِ، فَإِذَا قُبِضْتُ فَاحْمِلُونِى ثُمَّ سَلِّمُوا ثُمَّ قُلْ يَسْتَأْذِنُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. فَإِنْ أَذِنَتْ لِى فَادْفِنُونِى، وَإِلاَّ فَرُدُّونِى إِلَى مَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ، إِنِّى لاَ أَعْلَمُ أَحَدًا أَحَقَّ بِهَذَا الأَمْرِ مِنْ هَؤُلاَءِ النَّفَرِ الَّذِينَ تُوُفِّىَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ، فَمَنِ اسْتَخْلَفُوا بَعْدِى فَهُوَ الْخَلِيفَةُ، فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا. فَسَمَّى عُثْمَانَ وَعَلِيًّا وَطَلْحَةَ وَالزُّبَيْرَ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ وَسَعْدَ بْنَ أَبِى وَقَّاصٍ، وَوَلَجَ عَلَيْهِ شَابٌّ مِنَ الأَنْصَارِ فَقَالَ أَبْشِرْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ بِبُشْرَى الله، كَانَ لَكَ مِنَ الْقَدَمِ فِى الإِسْلاَمِ مَا قَدْ عَلِمْتَ، ثُمَّ اسْتُخْلِفْتَ فَعَدَلْتَ، ثُمَّ الشَّهَادَةُ بَعْدَ هَذَا كُلِّهِ. فَقَالَ لَيْتَنِى يَا ابْنَ أَخِى وَذَلِكَ كَفَافًا لاَ عَلَىَّ وَلاَ لِى أُوصِى

الْخَلِيفَةَ مِنْ بَعْدِى بِالْمُهَاجِرِينَ الأَوَّلِينَ خَيْرًا، أَنْ يَعْرِفَ لَهُمْ حَقَّهُمْ، وَأَنْ يَحْفَظَ لَهُمْ حُرْمَتَهُمْ، وَأُوصِيهِ بِالأَنْصَارِ خَيْرًا الَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالإِيمَانَ أَنْ يُقْبَلَ مِنْ مُحْسِنِهِمْ، وَيُعْفَى عَنْ مُسِيئِهِمْ، وَأُوصِيهِ بِذِمَّةِ اللهِ وَذِمَّةِ رَسُولِهِ صلى الله عليه و سلم أَنْ يُوفَى لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ، وَأَنْ يُقَاتَلَ مِنْ وَرَائِهِمْ، وَأَنْ لاَ يُكَلَّفُوا فَوْقَ طَاقَتِهِمْ. (بخاري:1392)

694- له عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الأَوْدِيِّ روايت دئ چي وايي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه مي وليد چه وئې ويل: اې عبدالله (ابن عمر)! ام المؤمنين عائشې ته ورشه او ورته ووايه: عمر بن الخطاب دربانديي سلام وايي، بيا ترې وغواړه چي زه د خپلو دوو ملګرو خوا ته دفن شم، عائشې رضي الله عنها وويل: دا مي د ځان لپاره غوښتلو، خو اوس ايثار کوم او ده ته پر ځان ترجيح ورکوم، کله چي بېرته راستون شو وئې پوښتو: څه درسره دي؟ وئې ويل: اې امير المؤمنينه! اجازه ئې درکړه، وئې ويل: هيڅ شی تر دې مضجع (پر اړخ پرېوتو ځای: ګور)، راته مهم نه وو، کله چي ومرم نو جنازه مي انتقال کړئ، (هلته مي ورورئ)، سلام پرې واچوئ، ورته ووايئ: عمر بن الخطاب اجازه درنه غوښتله، که ئې اجازه درکړه هملته مي دفن کړئ که نه نو د نورو مسلمانانو په هدېرې کي مي دفن کړئ. زه د امارت لپاره هيڅوك تر دغو کسانو مستحق نه ګڼم چي رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال کي وفات شو چي لدوی راضي وو، دوی چي څوك د خليفه په توګه غوره کړي هغه به خليفه وي، د هغه خبره واورئ او اطاعت ئې وکړئ، بيا ئې د عثمان، علي، طلحه، زبير، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنهم) نومونه

واخیستل. له انصارو یو ځوان ورته راغی او وئې ویل: اې امیر المؤمنینه! د الله تعالی په زړي خوښ اوسه، په اسلام کي دي مخکي والی او سابقه دومره ده چي ته په خپله پرې پوهېږې، بیا خلیفه وټاکل شوې او عدالت دي وکړ، بیا له دې ټولو وروسته شهادت (درپه برخه شو)، وئې ویل: اې وراره! کاش دا راته برابر وګڼل شي، نه څه راکړی شي او نه مي څه پر اوږو پاته وي، (اجر ئې نه غواړم، دا راته کافي ده چي په ګناه او قصور ونه نیول شم)، له ما وروسته خلیفه ته د لومړنیو مهاجرینو په اړه د ښېګڼي سپارښتنه کوم، چي حق ئې وپېژني، درناوی ئې وکړي، او د انصارو په اړه ورته د ښېګڼي سپارښتنه کوم، هغه چي په دارالاسلام او ایمان کي تر نورو مخکي مېشت شول، چي د دوی له نېکانو ئې ومني او له اشتباه کوونکو ئې تېر شي، او سپارښتنه ورته کوم چي څوك د الله تعالی او د هغه د رسول په ذمه کي وي په خپلو ژمنو او تعهداتو وفا ورته وکړي، دفاع ترې وکړي او له توان نه زیات څه باندي مکلف نشي.

تکرار: 3052، 3162، 3700، 4888، 7207

توپیر: په دې روایاتو کي ځیني ئې د مخکني روایت یوه یوه برخه دي او ځیني ئې د عمر رضي الله عنه د شهادت د څرنګوالي او بیا د عثمان رضي الله عنه د انتخاب په اړه هم مطالب لري او په دې عنوان پوري مربوط مطلب په کي نشته.

ځیني د دې روایت په استناد داسي ګمان کوي چي د وخت خلیفه او امیرالمؤمنین دا حق لري چي خپل ځای ناستی وټاکي او مسلمانان مکلف دي چي هغه به د امیر او مشر په توګه مني او اطاعت به ئې کوي!! د امیر د ټاکني په

اړه داسي رأيه يوازي هغه څوك وركولى شي چي هم په دې اړه د اسلام له څرګندو ضابطو بې خبره وي او هم له تاريخي حقائقو. راشئ وګورو چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت وروسته څلور راشد خلفاء څنګه ټاكل شوى؟ په دې اړه لاندي خبري په پام كي ولرئ:

رسول الله صلى الله عليه و سلم د هيچا په اړه سپارښتنه نه وه كړې، دا ئې امت ته پرېښودل چي په خپله خوښه خپل امير وټاكي. ابوبكر رضي الله عنه د سقيفه بني ساعده د غونډي ګډون كوونكو د امير په توګه غوره كړ، خو هغه د دې غونډي د توافق له مخي د خليفه په توګه نه دئ ټاكل شوى، بلكي هغه مهال د خليفه په توګه غوره شو چي خلكو په جومات كي له ده سره بيعت وكړ، نه په سقيفه بني ساعده كي خاص مشران د اهل حل و عقد په نامه راغونډ شوي او نه په جومات كي، څوك چي د ابوبكر رضي الله عنه انتخاب د اهل حل و عقد له لوري ګڼي بې بنسټه، غيرعلمي او د حقائقو خلاف ادعاء كوي، ډېره ډېره عجيبه ده چي څوك په جومات كي د يوه چا انتخاب ته د اهل حل و عقد له لوري د انتخاب نوم وركوي!!

په دې كي شك نشته چي ابوبكر رضي الله عنه له ډېرو جليل القدره صحابه وو سره له مشورو وروسته او د دوى د تشويشونو له رفع كولو او قناعت ترلاسه كولو وروسته مسلمانانو ته وصيت او سپارښتنه وكړه چي عمر رضي الله عنه د خليفه په توګه غوره كړي، خو پوښتنه دا ده چي عمر رضي الله عنه له همدې سپارښتني وروسته د خليفه په توګه غوره شوى كه په جومات كي د ټولو حاضرو مسلمانانو له

بیعت وروسته؟! حقیقت دا دئ چي د ابوبکر رضي الله عنه سپارښتنه او وصیت ملزمه او واجبي سپارښتنه نه وه، عمر رضي الله عنه د دې سپارښتني په اساس نه دئ خلیفه شوی بلکي له هغه وروسته امیر شو چي د خلکو بیعت ئې ترلاسه کړ، د ابوبکر رضي الله عنه لخوا د ده انتخاب یوازي یو وړاندیز وو.

که احیاناً عمر رضي الله عنه په جومات کي داسي څه ویلي وی چي مسلمانان ترې ناراضه شوي وی او له ده سره ئې بیعت نه وی کړی موږ ته ووایئ چي له دې سره سره به عمر رضي الله عنه قانوني او شرعي خلیفه وو؟ که دا بې بنسټه ادعاء ومنو نو بیا خو به یزید ته هم د قانوني او شرعي خلیفه په سترګه ګورو ځکه چي د موجود امیر لخوا انتصاب شوی وو!! بیا به د هغو صحابه وو دا موقف څنګه توجیه کوو چي له یزید سره ئې بیعت ونه کړ؟! آیا دوی د بیعت نه کولو حق درلود؟ که دا منې بیا خو بیعت کول د خلکو حق دئ، دوی حق لري چي د نومول شوي کس اهلیت ته په پام سره پرېکړه وکړي.

د عمر رضي الله عنه له ټپي کېدو وروسته او له شهادت مخکي ځینو صحابه وو ترې وغوښتل چي د مسلمانانو لپاره خلیفه وټاکي، هغه په ځواب کي ورته وویل: که زه څوك ونه ټاکم او لاړ شم نو د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چي تر ما غوره وو (یعني رسول الله صلی الله علیه و سلم) او که ئې وټاکم د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چي هغه هم تر ما غوره وو (یعني ابوبکر رضي الله عنه)، إراده ئې دا وه چي څوك ونه نوموي، خو د نورو د

اصرار په وجه ئې هغه شپږ کسان ونومول چې د خلافت لپاره تر نورو غوره، رسول الله صلی الله علیه و سلم تر خپل رحلت پورې ترې راضي وو او هر یوه ډېر پلویان درلودل، خپل زوی ته ئې هم وویل چې په دې ډلې کې برخه واخلي خو د امیر کېدو حق به نه لري، دوی ته ئې وویل چې له خپل منځ نه په یوه کس توافق وکړي او بیا دغه کس د بیعت لپاره ولس ته معرفي کړي. له دغو شپږو کسانو درې د دریو نورو په ګټه تېر شول، په پاتو دریو کې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په دې شرط تنازل وکړ چې د پاته دوو په اړه به ده ته د پرېکړې صلاحیت ورکول کېږي، ده د عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه په اړه د مدینې له خلکو؛ د ښځو په شمول؛ تر دریو ورځو مسلسل پوښتني وکړې، د دوی رأیه ئې ځان ته معلومه کړه، په جومات کې ئې دا خبره اعلان کړه چې د مدینې ډېرې خلك د عثمان رضي الله عنه په امارت راضي دي، زه له دوی دواړو تاسو ته عثمان رضي الله عنه غوره کوم، خلکو توافق وکړ، بیعت ترسره شو او له دې وروسته عثمان رضي الله عنه خلیفه شو.

له دې بهیر نه چې کومې نتیجې ترلاسه کېدی شي نو هغه دا دي:

که د امارت لپاره تر یوه نه زیات مستحق کسان موجود ول او هر یوه ئې یو شمېر پلویان درلودل او هغه ئې د امارت لپاره تر نورو غوره ګڼلو، د دوی له منځ نه د یوه انتخاب به داسې ترسره کېږي لکه د عثمان رضي الله عنه انتخاب، یا به د نوماندو (کاندیدانو) تر منځ د توافق او په

یوه کس د اتفاق کولو له لاري ستونزه حل کوو او یا به له خلکو پوښتنه کوو او هغه څوك به راوړاندي کوو چي د مسلمانانو ډېرى ئې تر نورو غوره گڼي.

خو نه د نوماندو خپلمنځى توافق کافي دئ او نه د هیئت له لوري د اکثریت رأیه معلومول او د یوه کس نومول، بلکي وروستۍ پرېکړه به په جومات کي او د عامو مسلمانانو په خوښه او توافق کېږي.

له دې معلومېږي چي د (نومولو) او (ټاکلو) تر منځ فرق دئ، نومول شوي کېدى شي تر یوه زیات وي خو د دوى له منځه د یوه ټاکل به د مسلمانانو په خوښه، په معلني غونډي کي او له بیعت وروسته ترسره کېږي.

د عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته ځیني خلك علي رضي الله عنه ته ورغلل چي بیعت ورسره وکړي؛ هغه په ځواب کي ورته وویل: دا د ټولو مسلمانانو په توافق او خوښي پوري مربوط دئ او پرېکړه ئې باید په جومات کي وشي. همداسي وشول، علي رضي الله عنه په جومات کي او له بیعت وروسته خلیفه شو.

دا بهیر موږ ته ښیي چي بیعت د امارت لپاره شرط دئ، یوازي له بیعت وروسته څوك امیر کېدى شي نه له بیعت مخکي. له دې بهیر نه دا هم معلومېږي چي بیعت څرگند کار دئ نه پټ، د عامو خلکو کار دئ نه د خاصو، په جومات کي تر سره شوى نه په کوم قصر کي، ټول هغه خلك په کي برخه اخیستى شي چي جومات ته ئې په راتلو بندیز نشته.

متأسفانه ځیني خلك د اموي او عباسي حکامو د ټاکلو په طریقې استناد کوي او د غلبې له لاري قدرت تر لاسه کول

هم د امارت لپاره یوه جائزه طریقه ګڼي!! چي دا ډېره ډېره د حیرانتیا او تعجب وړ خبره ده!! دوی وایي: یو داسي تن چي هغه د خلافت د شرائطو درلودونکی (جامع) وي، هغه پر خلکو غلبه ومومي او پر واك قبضه ټینګه کړي، نو په دې توګه هم خلافت جوړېږي، د راشدینو خلفاوو وروسته د ټولو امراوو امارتونه په دې توګه منعقد شوي!!

د دوی په ځواب کي باید ووایو:

دا ډېره د حیرانتیا خبره ده چي تاسو هغه چا ته د (خلیفه) نوم ورکوئ چي پیغمبر علیه السلام د (ملك) نوم ورکړی، هغه چي په زور مسلط شوي، امارت ئې په میراث ترلاسه کړی، په جومات کي نه بلکي په قصرونو کي امیران شوي.

له کومو لارو چي دا امراء واك ته رسېدلي یوه ئې هم شرعي لار نه وه.

د امیرالمؤمنین علي رضي الله عنه په ضد قیام او د هغه شهادت ته جائز او شرعي بڼه ورکول لوی جسارت دئ.

که استیلاء جائز وګڼو بیا خو به د داسي فتنو لپاره لار پرانیزو چي د عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه په شهادت منتج شوې.

د نېك او صالح انسان هغه کار د تقلید او تأیید وړ دئ چي د شریعت مطابق وي، د صحابه وو رضي الله عنهم په خپلمنځیو جګړو او د یزید په څېر امراوو ټاکني باندي استناد کول او دې ته ورته کارونه جائز ګڼل ستره اشتباه ده، هیڅ عالم او فقیه داسي غلطه خبره نه کوي.

په اسلام کي خو د امیر د ټاکلو یوازي یوه لار ده، او هغه

څرګند او له اکراه او جبر نه پرته د مسلمانانو بیعت دئ، نه بل څه.

دا یوه مغالطه او د حقیقت خلاف ادعاء ده چي ابوبکر رضي الله عنه د علماءو، قبائلي مشرانو او فوځي چارواکو له لوري غوره شوی!! حقیقت دا دئ چي ابوبکر رضي الله عنه د سقیفه بني ساعده په یوې عامي او آزادي غونډي کي د امارت لپاره نومول شوی او په جومات کي د امیر په توګه ټاکل شوی. له ده وروسته خلفاء هم په جومات کي او د بیعت له لاري غوره شوي، د دوی د انتخاب ترمنځ یوازي د نومولو په طریقه کي څه توپیر وو؛ نه د ټاکلو په څرنګوالي کي، د ټاکلو لار یوه ده او هغه د مسلمانانو عام او بلااکراه بیعت دئ نه بل څه.

که تاسو په قرآن، حدیث او د صحابه وو د دور په روایاتو او لیکنو کي چېري هم د اهل الحل و العقد اصطلاح او د محدودو مشخصو اشخاصو له لوري په کوم خاص ځای او د تړلو دروازو تر شا د کوم امیر د انتخاب بېلګه وښوده؛ نو ادعاء مو د منلو وړ ده، او که دا اصطلاح د امویانو او عباسیانو د دور زېږنده وي، هغه مهال رامنځته شوې وي چي امارت موروثي شو، اموي او عباسي شو، که داسي وي چي د محدودو اشخاصو له لوري د امیر انتخاب د دې دور بدعت وي، دا اصطلاح سرکاري مفتیانو د موروثي قیادت د توجیه لپاره کارولې وي، بیا خو حقیقتاً چي ټګمارانو یوې عربي اصطلاح ته داسي رنګ ورکړی چي ګواکي دا د کوم آیت یا حدیث برخه ده.

پوښتنه دا ده چي د اسلامي شریعت له مخي ولس د امیر

په ټاکلو کي څه حق او څه وجیبه لري؟ د امارت دنده د چا له لوري چا ته سپارل کېږي؟ د امارت د اهل تشخیص د چا کار دئ؟ آیا د ولس له بیعت او رضایت پرته د چا امارت شرعي مجوز لري؟ آیا د زور او جبر امارت جائز دئ؟ امیر په جومات کي او د عوامو په خوښه ټاکل کېږي که په قصرونو کي او د تړلو دروازو تر شا د خواصو لخوا؟ ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په جومات کي د ټولو لمونځ کوونکو له بیعت وروسته د امیرالمؤمنین په توګه غوره شول که د خاصو اشخاصو له لوري؟

آیا د عمر رضي الله عنه هغه وینا مو اورېدلې چي د سقیفه بنی ساعده په غونډي کي ئې وکړه: "فمن بایع أمیرا عن غیر مشورة المسلمین فلا بیعة له ولا بیعة للذي بایعه تغرة أن یقتلا: که څوك د مسلمانانو له مشورې پرته له کوم امیر سره بیعت وکړي نه د ده بیعت ارزښت لري او نه د هغه چا چي بیعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چي دواړه ووژل شي"!! د عمر رضي الله عنه دا وینا ډېر پرېکنده او قاطع حجت دئ د هغه چا په ضد چي د ټولو مسلمانانو له موافقې او مشورې پرته د څو کسانو بیعت د امارت لپاره کافي ګڼي، دا یوازي د درباري مفتیانو رأیه کېدی شي نه په دین د یوه پوه انسان رأیه. دا رأیه د سلاطینو په خدمت کي بوختو مفتیانو هغه مهال ورکړه چي د امیر انتخاب له جومات قصرونو ته او له عوامو درباري خواصو ته انتقال شو او په نتیجه کي ئې امارت موروثي او خانداني شو او یزید امیرالمؤمنین!! شو.

په دې اړه روایت داسي دئ:

عن ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ انْقَلَبَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ إِلَى مَنْزِلِهِ بِمِنًى فِي آخِرِ حَجَّةٍ حَجَّهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فقَالَ إِنَّ فُلَانًا يَقُولُ لَوْ قَدْ مَاتَ عُمَرُ بَايَعْتُ فُلَانًا. قَالَ عُمَرُ إِنِّي قَائِمٌ الْعَشِيَّةَ فِي النَّاسِ وَأُحَذِّرُهُمْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَغْصِبُوهُمْ أَمْرَهُمْ. قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَقُلْتُ لَا تَفْعَلْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فَإِنَّ الْمَوْسِمَ يَجْمَعُ رَعَاعَ النَّاسِ وَغَوْغَاءَهُمْ وَإِنَّ أُولَئِكَ الَّذِينَ يَغْلِبُونَ عَلَى مَجْلِسِكَ إِذَا أَقَمْتَ فِي النَّاسِ فَيَطِيرُوا بِمَقَالَتِكَ وَلَا يَضَعُوهَا مَوَاضِعَهَا أَمْهِلْ حَتَّى تَقْدُمَ الْمَدِينَةَ فَإِنَّهَا دَارُ الْهِجْرَةِ فَتَخْلُصَ بِعُلَمَاءِ النَّاسِ وَأَشْرَافِهِمْ وَتَقُولُ مَا قُلْتَ مُتَمَكِّنًا وَيَعُونَ مَقَالَتَكَ وَيَضَعُونَهَا مَوَاضِعَهَا. فقَالَ عُمَرُ لَئِنْ قَدِمْتَ الْمَدِينَةَ سَالِمًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَأَ تَكَلَّمَنَّ فِي أَوَّلِ مَقَامٍ أَقُومُهُ.

له ابن عباس رضي الله عنه روايت دئ چي عبدالرحمن بن عوف د عمر رضي الله عنه په وروستي حج کي؛ په منٰی کي خپل ځای ته له راګرځېدو وروسته عمر رضي الله عنه ته وويل: فلانی وايي چي که عمر مړ شو نو له فلاني سره به بيعت کوم،... عمر رضي الله عنه وويل: زه ماخستن خلکو ته وينا کوم او خبرداری ورکوم چي ځيني خلك غواړي په دوی پوري اړوند کار (د دوی حق) ترې غصب کړي، عبدالرحمن وايي ما ورته وويل: اې امير المؤمنينه! دا کار دلته مه کوه، دلته عام خلك راغونډ شوي، ستا د خبري په مطلب به سم پوه نشي، په ناسمه توګه به ئې تعبير او نورو ته انتقال کړي، صبر وکړه او په مدينه کي دا کار وکړه هلته علماءو او مخورو ته خپله خبره وکړه، ستا د خبري په مطلب به پوه شي او پر خپل ځای به ئې کېږدي (سم تعبير به ترې وکړي او عمل به پرې وکړي).... عمر رضي الله عنه وويل:

که مدینې ته روغ ستون شوم نو په لومړۍ وینا کي به دا خبره کوم... همداسي وشول، هغه په مدینه منوره کي د لومړۍ جمعې په خطبه کي د نورو خبرو په ضمن کي وویل:

وَإِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ فُلَانًا، قَالَ: لَوْ قَدْ مَاتَ عُمَرُ، بَايَعْتُ فُلَانًا، فَمَنْ بَايَعَ امْرَأً مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَإِنَّهُ لَا بَيْعَةَ لَهُ، وَلَا لِلَّذِي بَايَعَهُ، فَلَا يَغْتَرَّنَّ أَحَدٌ فَيَقُولُ: إِنَّ بَيْعَةَ أَبِي بَكْرٍ كَانَتْ فَلْتَةً، أَلَا وَإِنَّهَا كَانَتْ فَلْتَةً، إِلَّا أَنَّ اللَّهَ وَقَى شَرَّهَا وَلَيْسَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَنْ تُقْطَعُ إِلَيْهِ الْأَعْنَاقُ مِثْلَ أَبِي بَكْرٍ أَلَا وَإِنَّهُ كَانَ مِنْ خَيْرِنَا يَوْمَ تَوَفَّى اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ....

ما ته دا خبره رسېدلې چي فلانی وايي: قسم په خدای که عمر مړ شو نو له فلاني سره به بیعت کوو، هیڅوك دي په دې نه غولېږي چي ووايي: د ابوبکر بیعت همداسي ناڅاپي او غیرمترقبه وو، هو همداسي وو، خو الله ئې له شره وژغورلو، خو اوس د ابوبکر په څیر داسي څوك نشته چي ټول پرې قانع وي، او دی هغه مهال په موږ کي تر ټولو غوره شخصیت وو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفات شو...

ګورئ چي دلته عمر رضي الله عنه د ځینو کسانو دا وینا غندي چي غواړي د سقیفهٔ بني ساعده په څېر څوك راوړاندي کړي او بیعت ورسره وکړي، دا خطرناکه لوبه ګڼي، غواړي خلکو ته ووايي چي مه پرېږدئ ستاسو حق د ځینو کسانو له لوري غصب شي، د سقیفهٔ بني ساعده غونډه هم یوه ناڅاپي، غیر مترقبه او عجولانه غونډه بولي، وايي چي الله تعالی په خپل فضل سره د هغې له شره

وژغورلو، دا خبره هم کوي چي د ابوبکر په څېر داسي شخصيت نه مومو چي ټول خلك پرې قانع او راضي وي، او په پای کي وايي: که څوك د مسلمانانو له مشورې پرته له کوم امير سره بيعت وکړي نه د ده بيعت ارزښت لري او نه د هغه چا چي بيعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چي دواړه ووژل شي"!!

د امير د انتخاب په اړه د قرآن وينا دومره څرګنده او واضح ده چي هيڅ عقلمن او مؤمن انسان ته د شك او ريب مجال نه پرېږدي، قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ٥٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩ النساء: 59-58

يقيناً چي الله تاسو ته د دې امر کوي چي امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چي د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چي الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصيحت کوي، يقيناً چي الله بصير اورېدونکی دئ. اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کي مو په خپلو کي شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلي له پلوه ډېر ښايسته.

په دغو دوو آيتونو کي د اسلامي نظام په اړه څو داسي اساسي لارښووني شوې چي که په ټول قرآن کي يوازي

همدا آیتونه راغلي وی نو د دې نظام د معرفي لپاره کافي وو. باور وکړئ چي که څوك د دې دوو آیتونو الفاظو ته په دقیقه توګه ځیر شي او داسي ئې وڅېړي لکه ځینو فقهاوو چي د غسل او تیمم آیتونه په تفصیل سره څېړلي نو له شرحي او تفصیل به ئې یو ضخیم کتاب جوړ شي، زه په ایجاز او اختصار سره په دې آیتونو کي راغلي مطالبو ته ستاسو توجه رااړوم:

الله تعالی (ټول اسلامي امت) ته (امر) کوي چي (امانتونه) خپل (اهل) ته وسپاري. د امانت معنی عامه هم کېدی شي او په هر مادي او معنوي امانت ئې هم اطلاق کېدی شي، خو دلته له امانت مراد د واکمنۍ او اقتدار امانت دئ.

د اسلام له نظره اقتدار یو (امانت) دئ او د اقتدار خاوند د خلکو د امانتونو یو (امین).

دا (امانت) به د مسلمانانو لخوا هغه چا ته سپارل کېږي چي (اهلیت) ئې ولري. او دا د ټول اسلامي امت مأموریت او الهي فریضه ده چي د اقتدار امانت او په هغه پوري مربوط ټول امانتونه به داسي چا ته سپاري چي د دې وړتیا او اهلیت په کي وي.

لکه څنګه چي د هر امانت اصلي خاوند دا حق لري چي خپل امانت په کومو شرائطو او د څومره مودې لپاره (امین) ته وسپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي، همداراز دا د خلکو حق دئ چي د امارت امانت چا ته، تر کله وسپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي.

چا ته چي د امارت او واکمنۍ امانت وسپارل شي؛ هغه

به په دې امانت کي د يوه امين په څېر تصرف کوي، نه د يوه مطلق العنان حاکم په څېر.

دا د امانتونو امين په دې مکلف دئ چي د خلکو ترمنځ به ئې هر قضاوت پر عدالت ولاړ وي.

که د دې امين (امير) او د امانت د اصلي خاوندانو (خلکو) ترمنځ په کوم څه کي اختلاف راولاړ شي، نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، وروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخي کېږي.

د قانون په وړاندي ټول برابر دي، هيڅوك دا حق نلري چي ځان له قانون اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړي وروستۍ مرجع وګرځوي.

له دغو مبارکو آيتونو لاندي خبري معلومېږي:

اسلام د امير انتخاب هم د مسلمانانو وجيبه ګڼي او هم ئې حق. د خلکو لخوا (څرګند) او (پخپله خوښه) بيعت ئې د امارت لپاره شرط ګرځولی.

له امير سره د خلکو بيعت داسي نه دئ چي لومړی به هغه له کومي بلي لاري امير کېږي او بيا به خلك د بيعت شکلي مراسم د دې لپاره ترسره کوي چي د ده په وړاندي د خپل اطاعت څرګندونه وکړي، خبره داسي نه بلکي برعکس ده، دا بيعت دئ چي په هغه سره څوك امير کېدی شي، تر هغه چي خلك له چا سره بيعت ونه کړي امارت ئې نه شي مسلم کېدی، امير هغه دئ چي خلك ورسره بيعت وکړي، له بيعت پرته مسلط شوی واکمن يو جابر او غاصب حاکم دئ.

٥٠- باب: مړو ته ښکنځل منع دي

695- حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا". (بخاري: 1393)

695 - له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (مړو ته ښکنځلي مه کوئ، ځکه هغوی د خپلو کړنو په لور تللي).

تکرار: **6516**

توپير: دواړه سره ورته دي. مراد ئې دا دئ چې مړو ته بد و رد مه وايئ، هغوی به د خپلو کړنو له پايلو او سزا سره مخامخ کيږي.

سُبْحَانَكَ اللهمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د لومړي جلد پای

د حمل درېيمه 1389

فهرست
عنوان
صحفه

د ناشر مقدمه..... 1

۹- د لمانځه د وختونو کتاب..... 6
(۱) باب: د لمانځه وختونه او فضیلت ئې 6
(۲) باب: لمونځ کفاره ده 8
(۳) باب: په خپل وخت کي د لمانځه فضیلت..... 15
(٤) باب: پنځګوني لمونځونه کفاره دي 16
(٥) باب: لمونځ کوونکی له خپل رب سره مناجات کوي 17
(٦) باب: په ګرمۍ کي د ماسپښین د لمانځه وروسته کول..... 18
(۷) باب: د ماسپښین د لمانځه وخت د لمر زوال دئ 20
(۸) باب: تر مازدیګره د ماسپښین د لمانځه ځنډول 24
(۹) باب: د مازدیګر وخت..... 25

(١٠) باب: د هغه چا گناه چي د مازديگر لمونځ ترې قضاء شي.....27
(١١) باب: څوک چي د مازديگر لمونځ پرېږدي...27
(١٢) باب: د مازديگر لمانځه فضيلت 29
(١٣) باب: څوک چي د مازديگر يو رکعت له ماښام مخکي ومومي 30
(١٤) باب: د ماښام وخت 35
(١٥) باب: ماښام (المغرب) ته عشاء (ماخستن) ويل 36
(١٦) باب: د ماخستن د لمانځه فضيلت.....37
(١٧) باب: د ماخستن تر لمانځه مخکي ويده کېدل .40
(١٨) باب: د ماخستن لمانځه وخت تر نيمي شپې دئ 41
(19) باب: د سهار د لمانځه وخت.....43
(20)- باب: د سهار د لمانځه فضيلت 44
(٢١) باب: د سهار له لمانځه وروسته تر لمر ختو پوري لمونځ.....45
(٢٢) باب: له لمر لوېدو مخکي بايد د لمانځه لټه ونشي.....48
(٢٣) باب: د مازديگر له لمانځه وروسته د قضائي لمونځونو اداء کول.....48
(٢٤) باب: د وخت له تېرېدو وروسته اذان 50
(٢٥) باب: له وخت تېرېدو وروسته په جمعه

(جماعت) لمونځ.....52
(٢٦) باب: که له چا لمونځ هېر شي کله چي ورپه یاد شي ودې کړي.....53
(27) باب- له مېلمه سره د شپې ناسته.....55

١٠- د اذان کتاب.....59
(1)- باب: د اذان پیل.....59
(٢) باب: د اذان د الفاظو دوه ځلي تکرار.....59
(٣) باب: د اذان کولو فضیلت.....62
(٤) باب: اذان باید په لوړ ږغ وشي.....64
(٥) باب: اذان د ویني تویولو مخنیوی کوي 64
(٦) باب: د اذان په وخت څه باید وویل شي؟.....65
(٧) باب: د اذان په وخت دعاء.....66
(٨) باب: د اذان لپاره پچه.....70
(٩) باب: د ړانده اذان.....71
(10)- باب: له سهار وروسته اذان 72
(١١) باب: له سهار مخکي اذان 72
(١٢) باب: که څوک غواړي د اذان او اقامت تر منځ لمونځ کولی شي.....74
(١٣) باب: په سفر کي اذان.....74
(١٤) باب: د مسافرانو لپاره اذان او اقامت 77
(١٥) باب: د چا دا وینا چي لمونځ مي فوت (قضاء) شو 78

(١٦) باب: مقتديان به څه وخت لمانځه ته پاڅيږي؟79
(17) باب: که له اقامت وروسته امام ته ضرورت پيښ شي؟ 80
(١٨) باب: د جمعي (جماعت) وجوب.....81
(١٩) باب: د جمعي (جماعت) د لمانځه فضيلت....83
(٢٠) باب: د سهار د جمعي فضيلت 83
(٢١) باب: په تودوخي کي د ماسپښين د لمانځه فضيلت 86
(22) باب: جومات ته د تګ ګامونو اجر.....87
(23) باب: د ماخستن د جمعي فضيلت 88
(24) باب: په جومات کي د ناستي او لمانځه ته د انتظار فضيلت 89
(٢٥) باب: جومات ته د تګ راتګ فضيلت 90
(٢٦) باب: چي جمع ودرپږي بيا نو له فرض پرته بل لمونځ نشته 91
(٢٧) باب: کوم رنځور بايد جمعي ته حاضر شي..92
(٢٨) باب: حاضرو کسانو ته لمونځ ورکول او په باران کي خطبه ويل؟ 94
(٢٩) باب: چي خواړه تيار وي او اقامت وويل شي98
(٣0) باب: چي څوک په کوم کار مشغول وي او لمونځ ودرپږي 99
(٣١) باب: څوک چي د تعليم لپاره د خلکو امامت کوي 100

(٣٢) باب: عالم د امامت لپاره غوره دئ 101
(٣٣) باب: څوک چي امامت ته مخکي شي او لومړی امام راشي 105
(٣٤) باب: امام د دې لپاره دئ چي اقتداء ورپسي وشي 108
(٣٥) باب: مقتدي به څه وخت سجده کوي؟ 111
(٣٦) باب: له امام مخکي د سر پورته کولو ګناه . 112
(٣٧) باب: د مريي او آزاد شوي امامت..... 113
38- باب: که امام لمونځ پوره نه کړي او مقتديان ئې پوره کړي 114
(٣٩) باب: که دوه کسان په جمعه لمونځ کوي 115
(40) باب: که امام لمونځ اوږد کړي او څوک ترې ولاړ شي..... 116
(٤١) باب: په قرائت کي تخفيف 118
(42) باب: بشپړ خو مختصر لمونځ..... 119
(٤٣) باب: څوک چي د ماشوم د ژړا له امله لمونځ لنډ کړي 119
(٤٤) باب: د صفونو برابرول..... 120
(٤٥) باب: د صفونو برابرولو وخت کي مقتديانو ته د امام کتل..... 121
(٤٦) باب: که د امام او مقتديانو تر منځ دېوال او يا پرده وي 122
(47) باب: د شپې لمونځ..... 125

د لمانځه د وصف کتاب 126
(۱) باب: له تکبیر اولی سره د لاسونو پورته کول
.....126
(۲) باب: ښی لاس پر کیڼ لاس ږدول (ایښودل).134
(۳) باب: له تکبیر اولی وروسته څه ویل کیږي؟.134
(4) باب:.....136
(٥) باب: په لمانځه کي امام ته کتل 138
(٦) باب: په لمانځه کي آسمان ته کتل.....138
(۷) باب: په لمانځه کي یوې خوا بلي خوا ته کتل 140
(۸) باب: د امام او مقتدي لپاره د قرائت وجوب ..141
(۹) باب: د ماسپښین په لمانځه کي قرائت 153
(۱۰) باب: د ماښام د لمانځه قرائت 154
(۱۱) باب: د ماښام په لمانځه کي په جهر قرائت.156
(۱۲) باب: د ماخستن په لمانځه کي د تلاوت د سجدې
آیت لوستل.....157
(۱۳) باب: د ماخستن د لمانځه قرائت 158
(۱٤) باب: د سهار د لمانځه قرائت.....158
(۱٥) باب: د سهار قرائت په جهر لوستل.....159
(۱٦) باب: په یوه رکعت کي د دوو سورتونو لوستل
.....162
(۱۷) باب: په دوو وروستیو رکعتونو کي یوازي د
(الحمد لله) لوستل.....163
(۱۸) باب: امام به (آمین) په لوړ غږ وایي 165

(19) باب: د آمین ویلو فضیلت 168
(20) باب: صف ته له رسېدو مخکي رکوع کول 169
(۲۱) باب: په رکوع کي د تکبیر بشپړول.....169
(۲۲) باب: له سجدې د پورته کېدو په وخت تکبیر ویل 170
(۲۳) باب: په رکوع کي لاسونه پر زنګنو ایښودل 172
(۲٤) باب: په رکوع کي د شا آوارول 172
(۲٥) باب: په رکوع کي دعاء.....173
(۲٦) باب: د ربنا لک الحمد فضیلت.....175
(۲۷) باب: 176
(۲۸) باب: له رکوع وروسته په آرامه درېدل.....179
(۲۹) باب: په قومه کي دعاء 180
(۳۰) باب: د سجدې فضیلت.....181
(۳۱) باب: په اوو هډوکو سجده.....198
(۳۲) باب: د دوو سجدو تر منځ ځنډ.....200
(33) باب: په سجده کي مړوندونه پر زمکه نه ایښودل 201
(۳٤) باب: څوک چي په طاق رکعتونو کي کښېني بیا پاڅي.....201
(۳٥) باب: له سجدې د پورته کېدو په وخت الله اکبر ویل 202
(۳٦) باب: د تشهد لپاره کښېناستل.....203

(۳۷) باب: څوک چي لومړی تشهد واجب نه بولي
206.....
(۳۸) باب: په وروستۍ قعده کي تشهد 208
(۳۹) باب: تر سلام ګرځولو مخکي دعاء.....210
(٤٠) باب: له تشهد وروسته اختياري دعاګاني....212
(41) باب: سلام ګرځول 212
(42) باب: مقتدي به له امام سره يو ځای سلام
ګرځوي 214
(٤٣) باب: له لمانځه وروسته ذکر 214
(٤٤) باب: امام به له سلام وروسته مخ مقتديانو ته
اړوي 219
(٤٥) باب: چا ته چي د لمانځه د امامت په وخت کي
څه ورپه ياد شي.....221
(46)- له سلامه وروسته په ښي يا کيڼ لوري
راګرځېدل 222
(٤7) باب: د خامي هوږي، پياز او ګندنې په اړه.223
(٤٨) باب: د ماشومانو اودس 225
(٤٩) باب: په شپه کي جومات ته د ښځو تګ.....227

١١- د جُمعې کتاب 229
باب: د جمعې د لمانځه فرضيت.....229
(٢) باب: د جمعې په ورځ عطر وهل 230
(٣) باب: د جمعې فضيلت 230

(٤) باب: د جمعې په ورځ وېښتان غوړول..... 231
(٥) باب: باید د جمعې په ورځ غوره جامې واغوستل شي..... 232
(٦) باب: د جمعې په ورځ مسواک وهل 235
(٧) باب: څه چې د جمعې د ورځې د سهار په لمانځه کې لوستل کېږي 236
(٨) باب: په کلیو او ښارونو کې د جمعې لمونځ.. 238
(٩) باب: آیا په هغه چا غسل لازم دئ چې د جمعې لمونځ نشي کولی؟..... 240
(١٠) باب: د جمعې لمونځ پر چا فرض دئ؟..... 241
(11)- باب: که د جمعې په ورځ ګرمي زیاته وي 243
(١٢) باب: د جمعې لمانځه ته تلل 243
(١٣) باب: څوک دې خپل ورور نه پاڅوي چې په خپله هلته کښېني..... 244
(١٤) باب: د جمعې د ورځې اذان..... 245
(١٥) باب: د جمعې په ورځ د یوه مؤذن اذان..... 247
(١٦) باب: امام دې د اذان ځواب ورکوي 247
(١٧) باب: پر منبر خطبه 248
(18) باب: خطبه به په ولاړه وي 251
(19) باب: په خطبه کې له حمد او ثناء وروسته د اما بعد ویل..... 251
(٢٠) باب: که امام د خطبې په وخت کې د دوه رکعته لمانځه امر وکړي 256

(21):) باب: د جمعې په خطبه کي د باران دعاء. 257
(۲۲) باب: د جمعې د خطبې په وخت چوپتيا 260
(۲۳) باب: هغه خاص ساعت چي د جمعې په ورځ کي دئ 261
(۲٤) باب: که د جمعې په ورځ خلک له امام لاړ شي 262
(۲٥) باب: د جمعې له لمانځه مخکي او وروسته لمونځ 263

د وېري د لمانځه کتاب 266
(1)- باب: د وېري لمونځ 266
(۲) باب: د پلي او سپور لپاره د وېري لمونځ 268
(۳) باب: د هجوم او يا دفاع په حالت کي لمونځ .. 269

د اخترونو کتاب 269
(1)- باب: د اختر په ورځ له نېزو او ډال سره لوبي 270
(۲) باب: د وړوکي اختر په ورځ له لمانځه مخکي څه خوړل 271
(۳) باب: د قربانۍ په ورځ څه خوړل 272
(٤) باب: د لمانځه هغه ځای ته تګ چي منبر ئې نه درلود 275
(٥) باب: د عيد د لمانځه لپاره اذان او اقامت نشته 276

(٦) باب: خطبه د عيد له لمانځه وروسته ده 276
(٧) باب: د تشريق په ورځو کي د نېکو کارونو فضيلت 277
(٨) باب: د منٰى او عرفات په ورځ تکبير ويل.... 280
(٩) باب: په مصلى (د عيد د لمانځه ځاى) کي د قربانۍ حلالول..... 280
(١٠) باب: د عيد لمانځه ځاى ته د تګ راتګ لاره بدلول 281

١٤- د وتر کتاب 282
(١) باب: د وتر په اړه 282
(٢) باب: د وتر وخت..... 284
(٣) باب: وتر بايد د شپې وروستى لمونځ وي 284
(٤) باب: پر سپرلۍ د وتر لمونځ 285
(٥) باب: قنوت له رکوع نه مخکي يا وروسته.... 286

١٥- د استسقاء کتاب 290
(1)- باب: استسقاء..... 290
(٢) باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا دعاء چي د يوسف (ع) د قحطۍ کلونه پرې راوله 292
(3) باب: په جامع جومات کي د باران دعاء 300
(٤) باب: د جمعې په خطبه کي د باران دعاء 301
(5) باب: د استسقاء په لمانځه کي په جهر سره قرائت

302.....
(6) باب: امام به په استسقاء کي لاسونه پورته کوي
303.....
(۷) باب: د باران په وخت څه ویل په کار دي؟...304
(۸) باب: د سیلۍ راتلو پر مهال.....304
(۹) باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا چي په باد سره مي مرسته شوې 305
(۱۰) باب: هغه څه چي د زلزلې او ابتلاءاتو په اړه ویل شوي 305
(۱۱) باب: له الله تعالی پرته هیڅوک نه پوهیږي چي باران به کله وریږي.....306

۱٦- د کسوف کتاب 309
(۱) باب: د کسوف لمونځ 309
(2) باب: د کسوف په وخت کي صدقه 311
(۳) باب: د کسوف د لمانځه لپاره نداء.....315
(٤) باب: د کسوف په لمانځه کي د قبر له عذابه پناه غوښتل 315
(٥) باب: د کسوف لمونځ په جمعه اداء کول 317
(٦) باب: په کسوف کي د غلام آزادول.....318
(۷) په کسوف کي ذکر.....318
(۸) باب: د کسوف په لمانځه کي په لوړ ږغ قرائت
319.....

۱۷- د تلاوت د سجدو کتاب 320
(۱) باب: د تلاوت د سجدو او سنتو په اړه ئې 320
(2) باب: د (ص) سورت سجده 324
(3) باب: له مشرکانو سره د مسلمانانو سجده..... 325
(4) باب: څوک چې دسجدې آیت ولولي او سجده ونکړي..... 326
(٥) د (انشقاق) سورې سجده 327
(٦) باب: څوک چې د سجدې لپاره ځای ونه مومي 328

۱۸- د قصر لمانځه کتاب 329
(۱) د قصر لمونځ او د اقامت موده 329
(۲) باب: په منی کي لمونځ 331
(۳) باب: په څومره واټن سفر کي به قصر کوي . 342
(٤) باب: د ماښام لمونځ دي په سفر کي هم درې رکعته وکړي..... 343
(5) پر سپرلۍ باندي نفلي لمونځ 344
(6) باب: په خره سپور نفلي لمونځ کول 345
(7) باب: څوک چې په سفر کي له فرضو وروسته سنت ونه کړي..... 345
(8) باب: په سفر کي نفلي لمونځ..... 346
(9) باب: په سفر کي د ماښام او ماخستن لمونځونه یو ځای کول 347

(10) باب: که څوک د کښېناستو توان نلري نو په ډډه دي لمونځ کوي 347
(11) باب: که چا په ناسته لمونځ کاوو، بیا روغ شو 348

۱۹- د تهجد کتاب..... 350
۱- باب: د شپې تهجد 350
۲- باب: د تهجد فضیلت 351
۳- باب: ناروغ ته د تهجد لمونځ پرېښودل..... 353
٤- باب: تهجد او نفلو ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم هڅونه..... 355
٥- باب: رسول الله رضي الله عنه به دومره تهجد کاوو چې پښې به ئې وېړسېدلې 358
٦- باب: څوک چې په سحر کې ویده شي 359
۷- باب: په تهجد کې اوږد قیام 363
۸- باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تهجد لمونځ څنګه وو؟ 363
۹- باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تهجد او خوب څرنګوالی..... 364
۱۰- باب: د شیطان غوټه د هغه چا د سر شا ته چې د شپې لمونځ نه کوي 378
۱۱- باب: شیطان د هغه چا په غوږ کې بولي کوي چې له لمانځه پرته ویده شي 381

١٢- باب: د شپې په وروستۍ برخه کي دعاء او لمونځ 382
١٣- باب: د شپې په سر کي ویدېدا او په وروستۍ برخي کي ئې ویښېدا..... 385
١٤- باب: په روژه کي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د شپې عبادت..... 386
15- باب: په عبادت کي مکروه تشدد 388
١٦- باب: څوک چي د شپې قیام کوي پرېښودل ئې ورته مکروه دي..... 389
١٧- باب: په شپه کي د پاڅېدونکي او لمونځ کوونکي فضیلت 390
١٨- باب: استخاره او دوه رکعتي نفل 392
١٩- باب: د سهار د دوو رکعتونو التزام او چا چي نفل نومولي دي 395
٢٠- باب: هغه چي د سهار په دوو رکعتونو (سنتو) کي لوستل کېږي 395
٢١- باب: په کور کي د څاښت لمونځ..... 396
٢٢- باب: د ماسپښین له لمانځه مخکي دوه رکعته397
23- باب: د ماښام له لمانځه مخکي نفل 397

کتاب: د مکې او مدینې په جوماتونو کي لمونځ..399
١- باب: د مکې او مدینې په جوماتونو کي د لمانځه فضیلت 399

۲- باب: د قباء جومات.....400
3- باب: د قبر او منبر تر منځ د ځای فضیلت.....402

۲۱ کتاب: په لمانځه کي عمل او حرکت 404
۱- باب: په لمانځه کي خبري نه کول 404
۲- باب: په لمانځه کي د وړو تیږو اوارول 406
۳- باب: که د لمانځه په وخت کي د چا سپرلۍ تښتي
.....407
٤- باب: په لمانځه کي د سلام ځواب نشته 409
٥- باب: په لمانځه کي خصر کول.....410

۲۲ د سهوي سجدو کتاب.....411
۱- باب: که چا پنځه رکعته لمونځ وکړ 411
۲- باب: په لمانځه کي د چا خبره اورېدل او د لاس په
اشارې ځواب ورکول 412

۲۳- د جنازې کتاب 414
۱- باب: څوک چي وروستۍ خبره ئې (لا إله إلا الله)
وي.....414
۲- باب- له جنازې سره د ملګرتیا امر.....417
3- باب: له کفن کولو وروسته د مړي کتل 419
٤- باب: څوک چي په خپله د مړي خپلوانو ته د هغه د
مړيني اطلاع ورکوي.....424
٥- باب: د هغه چا فضیلت چي د اولاد په مړینه صبر

وکړي 430
٦- باب: مړي ته په طاق عدد غسل ورکول مستحب دي 430
٧- باب: غسل باید د مړي له ښي اړخ پیل شي....432
٨- باب: د کفن ټوټه سپینه وي.....433
٩- باب: په دوو جامو کي کفن کول 433
١٠- باب: د مړي کفن.....434
١١- باب: که د ټول بدن لپاره د کفن ټوټه نه وي نو سر دې پټ کړل شي 442
١٢- باب: په هغه چا نیوکه ونشوه چي ځانته ئې کفن تیار کړی وو.....444
١٣- باب: له جنازې سره د ښځو ملګرتیا 445
١٤- باب: ښځه چي له خاوند پرته په بل چا ویر کوي 446
١٥- باب: د قبر زیارت.....447
١٦- باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا چي مړی د خپلوانو په ځینو ژړاوو تعذیب کیږي 450
١٧- باب: په مړي په چیغو ژړا مکروه ده.....457
١٨- باب: څوک چي خپل مخ وهي له موږ نه دئ458
١٩- باب:.....458
د سعد بن خوله په مړینه د رسول الله صلی الله علیه و سلم مرثیه.....458
٢٠- باب: نه ښایي د غم په وخت د سر وېښتان

وخرپيل شي..... 461
۲۱- باب: د مصيبت په مهال داسي ناسته چي په
څېرې کي د غم نښي ښکاري..... 461
۲۲- باب: څوک چي د غم په وخت خواشيني څرګنده
نکړي..... 464
۲۳- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا
چي: (موږ دربانديي غمجن يو)..... 466
۲٤- باب: د ناروغ په وړانديي ژړا 467
۲٥- باب: له ژړا او نوحې نهي او له دې ډډه 468
۲٦- باب: جنازې ته پورته کېدل (لټېدل)..... 469
۲۷- باب: څوک چي جنازې ته ولټېږي کله به کښېني
..... 470
۲۸- باب: څوک چي د يهودي جنازى ته درېدلى. 471
۲۹- باب: د جنازې وړل د نارينه وو کار دئ نه د
ښځو 471
۳۰- باب: د جنازې په وړلو کي بيره 472
۳۱- باب: د جنازې د ملګرتيا فضيلت 473
۳۲- باب: په قبرونو د جوماتونو جوړولو کراهيت
..... 474
۳۳- باب: د هغي ښځي د جنازې لمونځ چي په نفاس
کي ومري 474
۳٤- باب: د جنازې په لمانځه کي د فاتحې لوستل 475
۳٥- باب: مړى د پښو څېا (ږغ) اوري..... 477

٣٦- باب: څوک چي په مقدسه خاوره کي ښخېدل خوښوي.....479
٣٧- باب: د شهيد جنازه 483
٣٨- باب: د ماشوم جنازه او اسلام ته د ماشوم بلنه 486
٣٩- باب: که مشرک د مرګ په وخت (لا إله إلا الله) ووايي.....494
٤٠- باب: د قبر پر سر وعظ او خلک ورته کښېناستل 499
٤١- باب: د قاتل النفس (ځان وژونکي) په اړه....508
٤٢- باب: د خلکو له لوري د مړي ستاينه.....511
٤٣- باب: د قبر د عذاب په اړه چي څه راغلي ...514
٤٤- باب: د قبر له عذابه نجات غوښتل 520
٤٥- باب: مړي ته سهار او ماښام خپل هستوګنځی وربښودل کېږي 521
٤٦- باب: د مسلمانانو د اولادونو په اړه.....528
٤٧- باب: د مشرکينو د اولادونو په اړه 529
باب 532
٤٨- باب: ناڅاپي مرګ.....540
٤٩- باب: د رسول اکرم صلی الله عليه و سلم د قبر په اړه 540
٥٠- باب: مړو ته ښکنځل منع دي 557

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷